# داسې پېغله او ځوان شه



ژباړه او راټولونه: حبیب الله «سجاد»

بسم الله الرحمن الرحيم

CS CamScanner

# ډالۍ

- هغې چاته چې زما د فکر سمون د هغه هیله ده، زما گرانې مور ته!
- هغې چاته چې د پلار د روزنې او سیوري سره یې د ژوند په لومړیو کې مخه ښه وکړه، خو بیا هم د خلکو د لوښو له پاللو لاس په سر نشوه، زما د ژوند ملگرې ته!
- هغې افغانې مور، خور، لور او پېغلې ته چې د معاصرو بې‌حیایو ښکار نشوه، نه یې په پتلون او برجس کې له چا سره سیالي وکړه، نه یې پرونې ولوېد او نه د تلیفوني اړیکو ښکار شوه.
- هغې ځوان ته چې پر ځان یې د چا د ناموس پور پرېښنبود!

ح.س

په ورک حکمت پسې دې ګام د ځار اخیستی نه دی
د خدای له عناصرو نه دې کار اخیستی نه دی

د بل په وزرو الوزې چې زړه دې هوا وکړي
په خپله دې په خپلو اوږو بار اخیستی نه دی

چیچي دې پرې، امسا دې د موسی ده ورکه کړې
د وخت له فرعونیانو نه دې مار اخیستی نه دی

پراته درته زخمونه دي آشنا رغول غواړي
تراوسه دې په ستنه کې لا تار اخیستی نه دی

له شنه آسمان ګلې دي راوریږي راوریږي
خبر دې د خپلې لاله زار اخیستی نه دی

په عرب عجم یې څه نو، که د سرو زرو مرغان شي
چې درد یې د دې ځمکې د بیمار اخیستی نه دی

مشال د اندلس دې د غفلت په شمال مړ کړ
د دې مشال دې نوم په خوله دوبار اخیستی نه دی

عظیم بری خدای درکړ خو په خپله دې برباد کړ
څوک وایي تا د دې بري ازار اخیستی نه دی

منم چې ماتولی شې بښیښې د نظامونو
آرمان له دې بښیښو نه دې غبار اخیستی نه دی

راځه په عاجزۍ د خدای بنده په خدای مین شه
لا اوس هم درنه چا د مینې وار اخیستی نه دی

پیر محمد کاروان

## پر کتاب باندې د نړیوال بلونکي او د هېواد تکړه لیکوال استاد عبدالغفار جبیر څو کرښې

الحمد لله الذی ارسل رسوله بالهدی و دین الحق الی العالمین بشیراً و نذیراً و داعیاً الی الله باذنه و سراجاً منیراً، لیخرجهم من الظلمات الی النور، و اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له و اشهد ان محمد رسول الله صلی الله علیه و علی آله و صحبه وسلم تسلیماً کثیراً.

الحمد لله ډېر خوشحاله سوم چې د دروند ورور ډاکتر حسیب الله سجاد صاحب یو بل ښکلی او معلوماتي کتاب (داسې پېغله او ځوان شه!) مې وکتئ، د دې کتاب مواد او مندرجات چې ما ولوستل، دا بې مثله کتاب تر (۲۰۰) پاڼو اوړي، په دې کتاب کې سجاد صاحب د ملغلرو په شان سرلیکونه او لیکنې راټولې کړې او بیا یې غورچاڼ او ژباړلې دي؛ دا کتاب د ځوان قشر او نسل لپاره د هدایت یوه ښه ټولګه او ډالی ده، ددې کتاب د متن او بطن څخه دا جوتیږي چې ژباړن یې څومرې کوښښ کړی دئ، داسې مواد یې پکښې راټول کړیدي چې د یوه مسلمان ورور او یوې مسلمانې خور د سالمي، اسلامي، فکري او اخلاقي روزنې لپاره نه یواځې کفایت کوي بلکې ضمانت یې هم کوي.

زه دا کتاب ښکه یو اړ او وړ کتاب بولم، چې په دې ښکلې تحفه کې د اسلامي حقایقو، پوره بصیرت، وسیع فکر، پوره اخلاص، متانت، وضاحت او منفعت څخه کار اخستل سوی دی، و بل لور ته د ښاغلي سجاد صاحب د ژباړې سبک ښکلی، ساده او اصول یې پوره مراعات کړي دي.

يقيناً چې د دې كتاب هر سرليك يو دائرة المعارف دی چې په پوره دلائلو سره واضح او توضيح سوی دی، و ځوان قشر ته د سوكالۍ ساحل او گودر په گوته سوی دی، پر دې هم رڼا اچول سوې ده چې څنگه كفري نړۍ كوښښ كوي چې د اسلامي اُمت دغه ځوانه طبقه گمراه، په شيطاني او طاغوتي جالونو كي راگير او د جهنم خوراك كړي؛ علاوه له دې څخه په دې كتاب كي ټولي هغه انساني لارښووني شتون لري چي هم په دنيا كې او په آخرت كې د سوكالۍ او خوښۍ سبب گرځي.

زه دا كتاب د هر مسلمان لپاره اړين بولم، بايد هر ورور، خور او كورنۍ ورڅخه استفاده وكړي او خپله گټه ترې واخلي، په ټولنه كي يې خپور او نشر كړي، ترڅو د سعادت دارين سبب وگرځي.

الله جل جلاله دې و ښاغلی ډاكتر سجاد صاحب ته جنت نصيب كړي چې تل د اسلام خدمت عبادت گڼي او لوی څښتن جل جلاله دې وكړي چې پر حركت يې بركت او پر محنت يې منفعت ولوروي، ان شآء الله.

په اسلامي پاكه مينه
ستاسو ورور عبدالغفار جُبير
سه شنبه/۰۸/جمادی الأول/۱۴۴۲

## د ژباړن سريزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ وَ عَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَ مَنْ وَالَاهُ.

د الله تعالى ډېر ډېر شکر ادا کوم چې د فتنو په دغه دور کې يې ما عاجز او ګنهګار بنده ته د دې توفيق راکړ ترڅو د پېغلو او ځوانانو لپاره يو داسې کتاب راټول او ژباړه کړم چې هم دوخت ضرورت وي اوهم دپېغلو اوځوانانو د ژوند هر اړخيزه څېړنه پکښې شوې وي. دا چې سريزه اوږده نشي که څه هم په دغه کتاب کې علماوو په خپل علمي قلم ټول هغه څه څېړلې دي چې پېغلې اوځوانان بايد پرې پوه شي او د عمل جامه ورواغوندي، خو زموږ ټولنې ته په کتو زه هم غواړم دلته په څلورو موضوع ګانو لنډې خبرې وکړم:

۱) **ځوانان بايد څنګه وي:** که چېرې لومړی قرآن ته سر ورښکته کړو نو په ابراهيم ﷺ غوندې ځوان باندې به مو سترګې ولګېږي، چې په يوازې ځان يې د وخت بوتان ټوټې ټوټې کړل، بيا ښکته راځو له يو بل ځوان سره ليدنه کوو چې په ډېرکم عمرکې قربانۍ ته تياريږي دا ځوان اسماعيل ﷺ دی، له هغې نور هم ښکته راځو نو د عفت او پاکې لمنې په دنګ چنار يعنې يوسف ﷺ مو سترګې لګيږي چې په تازه ځوانۍ او ټولو شته امکاناتو سره يې ځان له بدلمنۍ څخه وژغوره او زندان ته يې پر بدلمنۍ لومړيتوب ورکړ، بيا نور هم د قرآن پاڼې لټوو چې په يو بل ځوان موسترګې لګيږي چې دوخت تر ټولو ستر طاغوت (فرعون) ته د الله تعالى د وحدانيت بلنه ورکوي، دا ځوان موسى ﷺ دی.

راځو له قران وروسته د محمدﷺ د ژوند څخه یې په ځینو ځوانانو چکر وهو، له هغې څخه یو کور ته ځو چې هغه د ارقمؓ کور دی، دلته موږ وینو چې د اسلام لومړني سپاهیان او داعیان هم ټول ځوانان دي.

که د اسلام د خپراوي، د علم خپرولو، جهاد، دعوت او مبارزې ټول ډگرونه ولټوو نو ځوانان مو ډېر تر سترگو کېږي. نو که په لنډو ټکو کې ووایو د اسلام مقدس دین د ځوانانو ستر مقام او ارزښت موږ ته ښودلی دی او دغه سپېڅلی دین ښه او واقعي ځوان هغه څوک په گوته کوي چې هغه له هر ډول فکري انحراف او کږوالي، علمي، عملي او اخلاقي فساد څخه ځان ساتي. د خپل فکري او علمي قوت څخه د خپل دین، ټولنې او خپلو خلکو د خدمت لپاره کار اخلي. د خپلو ویاړلو اسلافو له زرین ژوند څخه ځان خبروي او د قراني لارښونو په رڼاکې خپل ځان د پیاوړتیا او تلپاتې نېکمرغی خاوند وگرځوي، د راتلونکو نسلونو د روزنې لپاره یوه نمونه وي او خپل حیثیت په نېمگړو فلسفو ، فاسدو تمدني فکرونو او د بې‌دینی په معاصرو سیلابونو لمنځه یونسي او تل دا په نظرکې ونیسي چې د اسلام دین او قراني لارښوونې د هغه د دواړو جهانونو د هر اړخیز بریالیتوب سبب گرځي او بس.

۲) **پیغلې باید څنگه وي:** راځئ چې ولاړ شو او په تاریخ کې لومړی د ابراهیمؑ مېرمن سارهؓ له نږدې وځارو، دا هغه مېرمن ده چې د خپلې پاک لمنی د ساتلو لپاره یې په یوازې ځان او د الله تعالی په مرسته د وخت د پاچاسره شخړه وکړه، پورته شوه اودس یې وکړ او په لمانځه کې یې الله تعالی ته دعا وکړه چې د هغې ساتنه وکړي، همغه وو چې الله تعالی هغه کافر ځای پرځای وچ کړ، د تاریخ بله پاڼه

ګورو چې یوه بله مېرمن یعنې د فرعون د لور سینګاروونکې هم د الله تعالی په وحدانیت سره ځان قرباني کوي، د فرعون د شکنجو څخه خوند اخلي او خپل ماشومانو ته د ورتګ شیبې شماري. بله پانه اړوو ترڅو د مزاحم لور او د فرعون ښځه او د هغې استقامت وګورو چې د الله تعالی له منلو وروسته په آسیې خوراک اوڅښاک بندیږي، لمرونو ته ورکول کېږي، په دغه حال کې چې کله عذابونه ویني الله تعالی ته پناه وړي او وایي اې زما ربه! زما لپاره د خپل ځان سره په جنت کې یو کور جوړ کړه...

اوس د تاریخ په دغه تګ کې ښکته راځو او د بي بي فاطمې رضي الله عنها له ژوند حال اخلو، دغه د جنت د ښځو سرداره، د ختو په کور کې اوسېدله، د خرما له پوستکي څخه ډک شوي بالښت باندې یې خوب کولو، په لاسي ژرنده به یې غله اوړوله، اې هغه پېغلې چې د خپل مېړه له خدمت څخه ځان غړوې، د فاطمې رضي الله عنها له ژوند زده‌کړه وکړه. راځو ترڅو د علم سپوږمۍ عایشه مطهره هم له نږدې وګارو، دا هغه مېرمن ده چې څمکه یې په علم سره پټه کړه، ترډې چې امام زهري د هغې په اړه وایي: که چېرې د عایشې رضي الله عنها علم په ټولو ښځو وویشل شي نو د عایشې رضي الله عنها علم به له دوی ګټور، غوره او ډېر وي. ډېر لرې نه ځو او د عبدالمطلب د لور حال ګورو، صفیه رضي الله عنها هغه ځوک ده چې زبیر بن عوام رضي الله عنه یې روزلی دی، د احد او خندق په غزاګانو کې یې خپل ټینګښت او شجاعت ښودلی دی، دا هغه ښځه ده چې د خندق د غزا پر وخت یې د ټولو مسلمانو ښځو ساتنه وکړه او هغه یهودی یې مردار کړ چې غوښتل یې د مسلمانانو بیبیانې له ځان سره یرغملې کړي. له هغې تېرېږو او هغې پېغلې ته ورځو چې د اسلام د

پيغمبر په خوښه سره واده کوي او د هېڅا په خبرو غوږ نه ګروي.

له مکې راځو او دمشق لور ته خپلې سترګې اړوو، ګورو چې يوه ښځه خپل پرېکړې وېښتان د مجاهدينو مشر ابو قدامه ته تسليموي ترڅو په جهاد کې شريکه شي، له دې ښځې په مخه ښه سره له يوې عالمې ښځې سره ليدنه کوو، دغه ښځه د سعيد بن مسيب لور ده، کله بې چې مېړه د درس لپاره کور پرېښودلو ترڅو له خپل استاد څخه زده کړه وکړي نو دغې عالمې مېرمنې ټول هغه څه ورو ښودل چې له خپل پلار څخه يې زده کړي وو، په الله ﷻ قسم داسې عالمانې ښځې وې چې مېړونو او اولادونو ته يې د علم نور خپرولو. راځو ترڅو په بېړه سره د امام احمد د مور سربښندنې د خپل زوی په روزنه کې وګورو ، امام احمد وايي کله چې لس کلن وم مور مې د قرآن حفظ ته وهڅولم، سهار وختي به يې له خوبه پاڅولم، ګرمې اوبه به يې راته تيارولې تردې چې مور به مې ځان په پړوني کې تاو کړ او زه به يې د سهار لمانځه لپاره مسجد ته بوولم او تر نيمې ورځې به له ما سره وه ترڅو علم زده کړم.

همدارنګه موږ په اسلامي تاريخ کې په زرګونو داسې ښځې ګورو چې د علم، دعوت، جهاد، سربښندنې او پاک لمنی په ډګرونو کې بې خپلې کارنامې ثبت کړې دي. دلته به دغه موضوع د حافظ ابراهيم په لاندې شعر سره پای ته ورسوو:

| | |
|---|---|
| الام مدرسـة اذا اعـددتها | اعددت شعباً طيب الاعراق |
| الام روض ان تعهده الحيا | بـالرى اورق ايمـا ايـراق |
| الام استاذ الاساتذة الاولى | شغلت مآثرهم مدى الافاق |

CS CamScanner

مورانې د هغو مدرسو په ډول دي چې د ټولنې زامن تربيه کوي، که چېرې غوره وروزل شي کوم نسل چې دوی روزي نو هغه به يو سپېڅلی او تزکيه شوی نسل وي.

مور هغه بڼ ده که چېرې يې د حيا باران خړوبه کړي نو ډېرې غوره غوټۍ او ګلان غوړوي.

مور هغه لومړنی ښوونځی ده چې غوره کارونو يې ټوله نړۍ نيولې ده.

۳) که خوانان او پېغلې خپل ځان ونه پېژني: جورج هورفټ په خپل کتاب کې داسې وايي: د راتلونکي نسل او نړۍ لپاره تر ټولو خطرناک بم جنسي بم دی چې هره ورځ د چاودېدو په حال کې دی او دغه چاودنه به داسې ناخوالې او ناورين رامنځته کړي چې راتلونکی نسل به له تباهۍ سره مخ کړي.

نن ورځ د جورج هورفټ د خبرې په تاييد سره دغه ډول چاودنې په اسلامي هېوادونو کې هم ډېرې شوې دي. نن چې هر يوه اسلامي هېواد ته سفر کوې له جنسي بمبار سره مخ کېږې، نن چې هره تلويزيوني شبکه تعقيبوې له جنسي بمبار سره مخ کېږې. کفري نړۍ په اسلامي ټولنو کې د دا ډول جنسي بمبار لپاره له انټرنېټ، ټولنيزو شبکو، بې لارو کوونکو سريالونو او موسيقۍ څخه استفاده کوي ترڅو پرې مسلمان ځوانان او پېغلې له خپل مسير څخه بې لارې او د تباهۍ لور ته کش کړي.

تاسې د کفري نړۍ د جنسي بمبار او چاودنو شمېرو ته لږ سر ورښکته کړئ چې څومره کسان يې له تباهۍ سره مخ کړي دي. دلته يې زه يو څو نمونې را اخلم ترڅو موږ زده کړه ترې وکړو ، خپل دين ته

وګرځو او په خپل وياړلي تمدن وویاړو:

۱) په امریکا کې د رسمي شمېرو له مخې په کال کې په ۸۱ میلیونو ښځو جنسي تېرى کېږي.

۲) په امریکا کې د ورځې یوازې په ۱۹۰۰ پېغلو جنسي تېرى کېږي چې په دغه پېښو کې ۲۰سلنه خپل پلرونه ښکېل دي.

۳) په امریکا کې د کال یو میلیون کوچنیان په قصدي ډول سقط او وژل کېږي.

۴) په بریتانیا کې هره اونۍ ۱۷۰ پېغلې د زنا له لارې حامله کېږي.

۵) په هسپانیا کې په کال کې ۵ لکه ښځې د جنسي تیري ښکار کېږي.

دغه شمېرې رسمي شمېرې دي چې غیرې رسمي شمېرې په لسګونو چنده له دې هم زیاتې دي.

دغه یوڅو شمېرې مې ستاسو د پوهاوي لپاره له دې کبله راوړې چې همدغه هېوادونه بیا په اسلامي هېوادونو کې د ښځې د آزادۍ، تمدن او پرمختګ چیغې وهي او زموږ ناپوه مسلمان وروڼه او خویندې په پټو سترګو د هغوی تقلید کوي.

نن ورځ په ډېرى اسلامي کورنیو کې جنسي بمونو (تلویزیونونو، سریالونو او ناروا تلیفوني اړیکو) ځای نیولی او د چاودېدو په حال کې دي. نن ورځ چې مسلمان ځوان او پېغلې خپل ځان نه دی پېژندلی، خپل حیثیت او شرافت یې هېر کړی او د تباهۍ په ډنډ کې غوټې وهي.

نو که مسلمان ځوانان او پېغلې خپل ځان ونه پېژني، خپل دین او

تمدن ته ونه گرځي، ځان په علم سمبال نه کړي، د خپلو دښمنانو له ښکاره او پټو دسیسو او پلانونو ځان خبر نه کړي؛ نو لرې نه ده چې زموږ په ټولنه کې به جنسي چاودنې، طلاق، ناروا تلیفوني اړیکې، گېرل فرینډ، بای فرینډ، اختلاط، زنا، لواط او نورې تباه کوونکې چاودنې رامنځته شي.

په پای کې د ټولنې له مسول علمي قشر، روزونکو، ښوونکو، پلرونو او میندو څخه مې مودبانه او جدي غوښتنه ده چې خپل مسولیت اداکړي، که یې ادا نه کړي نو راتلونکی نسل به مو یوازې او یوازې د جنسي بمونو ښکار شي.

۴) د کتاب ځانگړنې:

- ستاسې په لاس کې کتاب د هغه نهو رسالو ټولگه ده چې ما په دغه کال کې د ځوانانو او پېغلو اړوند ژباړه کړې دي.
- په کتاب کې راغلي قرآني آیاتونه مې له قرآني ژباړې څخه ژباړه کړي دي.
- په کتاب کې د راغلو احادیثو، معقولو او بیتونو ژباړه مې د خپل وس مطابق کړې ده.
- که څه هم د کتاب منځپانگه خورا غني ده خو ما د اړتیا پرمهال زیاتونې پکښې کړې دي.
- «داسې پېغله او ځوان شه!» یو کتاب نه دی بلکې دا به یوه لړی وي چې د الله ﷻ په مرسته به نوره هم ادامه پیدا کوي.
- زه خپله سریزه کې د کتاب بطن ته ډېر نه یم ننوتلی، ځکه د هغه پوره

حق زما لارښود استاذ علامه عبدالغفار جبير حفظه الله په خپل کتنلیک کې ادا کړی دی، ځانګړې مننه ورڅخه کوم او د هڅونې یې پوروړی یم.

- په ژوند کې لوړې او ژورې ډېرې وي که څه هم د دغه کتاب په راټولولو کې اقتصادي ستونزې او مصروفیتونه خورا ډېر وو، خو د خپل ژوند له ملګرې او د عایشې رضي الله عنها د دارالحفاظ او مدرسې له استاذې او روزونکې څخه ځانګړې مننه کوم چې په هرحال کې یې زه د ټولنې خدمت ته هڅولی یم.
- د محترم ورور او خواږه ملګري انجینرصاحب محمدافضل ذاکر څخه هم ځانګړې مننه کوم چې کتاب یې په غوره ډول کمپوز او ډیزاین کړ.
- زه د طب د یو زده‌کړیال په حیث تاسې ته د زړه له تله وړاندیز کوم چې که مو کومه علمي، قلمي او انشایي تېروتنه تر سترګو شوه راسره یې شریکه کړئ.
- له الله ﷻ څخه غواړم چې دغه ژباړه او هڅه مې په خپل دربار کې قبوله کړي.

ستاسو کشر ورور حسیب الله سجاد
میرویس میدان، کابل

## لړ لیک

### لومړی څپرکی

### خورې! ولوله ترڅو چل در نه کړي


اې مسلمانې خورې! ........................................ ۲

اې مسلمانې خورې! ........................................ ۲

اې مسلمانې خورې! ........................................ ۲

خورې! ........................................ ۳

خورې! ........................................ ۳

دوی وایي: ........................................ ۳

او اې مسلمانې خورې! ........................................ ٤

ستا په ایمان تاته خطاب او غږ کوم! ........................................ ۵

اوس اې مسلمانې خورې! ........................................ ٦

پر همدې توګه ........................................ ۸

نو اې مسلمانې خورې! ........................................ ۸

تاته نصیحت کوم ........................................ ۹

درنو خویندو! ........................................ ۱۰

درنو خویندو! ........................................ ۱۰

ګرانو خویندو! ........................................ ۱۰

## دويم څپرکی

## لورې


لورې! ........................................ ۱۴

لورې! ........................................ ۱۵

هو لورې! ........................................ ۱۶

لورې! ........................................ ۱۷

په رښتيا لورې! ........................................ ۱۸

رښتيا! ........................................ ۱۸

لورې! ........................................ ۱۹

لورې! ........................................ ۱۹

لورې! ........................................ ۲۰

ځيني جاهلان! ........................................ ۲۲

لورې! ........................................ ۲۲

لورې! ........................................ ۲۳


## درېيم څپرکی

## مسلمانې خورې د خپل ځان ساتونکې شه!


**پيليزه** ........................................ ۲۶

نو اې خورې! ........................................ ۲۶

خورې! خپل حجاب ته دې پاملرنه وکړه. ........................................ ۲۷

خورې! پرځان ځارونکې شه بازار د انساني لېوانو پټنځای او د کمين مرکز دی. ........................................ ۳۶

خورې! ځان ته دې پاملرنه وکړه؛ ځکه ملګرې انسان د ځان په لورې جذبوي: . ۳۹

خورې! هر مجلس له ځان سره آداب لري. ........................................ ۴۳

## څلورم څپرکی

## خورې! سر دې پورته کړه ته مسلمانه يې!

خورې سر دې پورته کړه ته مسلمانه يې!........................ ۴۸
خورې! ........................................................ ۵۱
خورې! ........................................................ ۵۱
خورې! ........................................................ ۵۲
خورې! ........................................................ ۵۲
خورې! ........................................................ ۵۳
خورې! ........................................................ ۵۳
خورې! ........................................................ ۵۴
خورې! ........................................................ ۵۵
خورې! ........................................................ ۵۵
خورې! ........................................................ ۵۶
خورې! ........................................................ ۵۶
خورې! ........................................................ ۵۷

## پنځم څپرکی

## د ګناه پر سیند کې ډوبې شوې ښځې

ګرانو خویندو او ورونو........................................ ۶۰
هو درنو خویندو!............................................... ۶۰
خورې.......................................................... ۶۰
اې ګرانې خورې!................................................ ۶۲
لوړې ناورین..................................................... ۶۳
ننګ او سپکوالی................................................. ۶۳
دمه............................................................. ۶۳
د شورا له غړو سره.............................................. ۶۳

دویم ناورین ........................ ۶۵
مسلمان خو کافر ........................ ۶۵
ومې لیدل چې له قبر څخه یې اور پورته کېدلو! ........................ ۶۶
دمه ........................ ۶۸
او ته! ........................ ۶۹
دریم ناورین ........................ ۷۰
دمه ........................ ۷۴
بدله جنت دی ........................ ۷۴
څلورم ناورین ........................ ۷۸
د هلکانو پر لاس د لوبولو یوه لوبغاړې ........................ ۷۸
اې پلاره! اې مورې ........................ ۸۰
دمه ........................ ۸۲
غوږ شه!!! ........................ ۸۵
نه جنت ته داخلېدی شي او نه یې بوی تر پوزو کولی شي ........................ ۸۵
پنځم ناورین ........................ ۸۶
دمه ........................ ۸۹
وروستی خبره ........................ ۹۲

## شپږم څپرکی

### د ناروا ټلیفوني اړیکو دردوونکې پایلې

**پر کتاب باندې د عبدالله پاسالارې سریزه** ........................ ۱۰۰
**د لیکوال سریزه** ........................ ۱۰۳
**پښېماني** ........................ ۱۰۵
لومړی تمځای ........................ ۱۰۷
ولې دغه موضوع مطرح کوو او یا یې منخته راوړو؟! ........................ ۱۰۷
لوبې او تفریح ........................ ۱۰۸

دوهم تمځای ........................ ۱۱۰
د ټلیفون څخه د پېښو شوو ناوړه پایلو دلایل ........................ ۱۱۰
وقایه او درملنه: ........................ ۱۱۰
دام!! ........................ ۱۱۵
درېیم تم‌ځای ........................ ۱۱۸
څوک زما سره ملګري کوي...؟ ........................ ۱۱۸
د الله ﷻ رحمت ........................ ۱۲۱
فلم!!! ........................ ۱۲۳
ټولیزې ګټې (۱) ........................ ۱۲۶
ټولیزې ګټې (۲) ........................ ۱۲۸
ښکلی او محبوب ........................ ۱۳۰
تمځای: قدرمنې خورې! له تا څخه دغه سوال کوم: ........................ ۱۳۳
پای ........................ ۱۳۴

## اووم څپرکی

## د ګناه پر سیند کې ډوب شوي سړي

زما خبرې ........................ ۱۳۸
د ډوب شوو حالات: ........................ ۱۴۰
د ډوب شوو حالات ........................ ۱۴۱
د ډوب شوو حالات ........................ ۱۴۳
د ډوب شوو حالات ........................ ۱۴۵
دوی ډوب شوي ........................ ۱۴۷
د ډوب شوو خلکو حال داسې دی! ........................ ۱۴۹
دغه دي د ډوب شوو حالات ........................ ۱۵۲
ګناه له دوی سره څه وکړل؟! ........................ ۱۵۳
ګناه ........................ ۱۵۵

گناه ............................................................. ۱۵۶
گناه ............................................................. ۱۵۶
گناه ............................................................. ۱۵۷
گناه ............................................................. ۱۵۸
خو د هغو ژغورل شوو خلکو خبرې چې د ژغورنې په بېړۍ کې سپاره شوي دي:
............................................................. ۱۶۰
غوړ کېږده............................................................. ۱۶۱
اوس تاسې لوستونکو ته وايم: ........................................ ۱۶۸
آيا د بريالیتوب په هڅه کې يې؟!.................................... ۱۶۹
په پايله کې!!!............................................................. ۱۷۲
شيخ خالد ته ليک ............................................................. ۱۷۳

## اتم څپرکی

## د بازار گرځېدونکو ته خطاب

د بازار ورورە!............................................................. ۱۷۸
پوهېږې چې اوس دې په کوم ځای کې قدم ايښی دی؟!.................. ۱۷۸
د بازار ورورە!............................................................. ۱۷۹
خواب راکړه اې سړيه! ................................................... ۱۸۲
د بازار ورورە!............................................................. ۱۸۳
اې ورورە!............................................................. ۱۸٤
د بازار ورورە!............................................................. ۱۸۵
د بازار ورورە!............................................................. ۱۸۸
د بازار ورورە!............................................................. ۱۸۹

CS CamScanner

## نهم څپرکی
## پر پټ عادت باندې د برياليتوب لار/استمنا

سريزه ............................................ ۱۹۲
والي دې وي ټولو هغو خلکو ته چې دا مسئله ورته مهمه ده او د هغې اړوند اندېښمن دي ............................................ ۱۹۲
يادونه: ............................................ ۱۹۳
د استمنا (خپله ځان خرابولو) په اړه څه پوهېږئ؟ ............................................ ۱۹۴
د دغه عادت پايلې ............................................ ۱۹۵
ښکاره پايلې (د ليدنې او لمس کونې وړ) ............................................ ۱۹۵
۱) جنسي کمزوري (په ګډ ژوند او جنسي اړيکه کې کمزوري او د شهواني قوې له لاسه ورکول) ............................................ ۱۹۵
۲) مراويتوب، ورستېدل، درد او کمزوري ............................................ ۱۹۶
۳) د ذهن ګډوډي او د حافظې کمزوري ............................................ ۱۹۷
۴) له نکاح او ازدواجي اړيکو وروسته په دغه عمل لاس پورې کول ............................................ ۱۹۷
۵) د ډېرې پښېمانۍ احساس ............................................ ۱۹۸
د وړتياوو له کاره لوېدل او له لاسه ورکول ............................................ ۱۹۹
نه ليدونکې ضررونه او نښې ............................................ ۱۹۹
۱) د مغز او حافظې د حجرو ګډوډي او تباهي ............................................ ۱۹۹
۲) د اصولو او ارزښتونو له لاسه ورکول ............................................ ۲۰۱
۳) د پاک لمنۍ، عفت او حيا له منځه تلل ............................................ ۲۰۲
۴) د طلاق زياتېدل او د فحشا ازدواج ............................................ ۲۰۳
ج) راتلونکې پايلې ............................................ ۲۰۴
۱) زده کړه او يوه مناسب کار ته لاسرسی ............................................ ۲۰۴
۲) د کورنۍ او اولادونو ملاتړ او سرپرستي ............................................ ۲۰۶
دغه ژغورنه د لاندې کړنو په وسيله صورت نيسي: ............................................ ۲۰۸
۱) له نفس سره مبارزه او په مسجد کې د پنځه ګونو لمونځونو د ادا کولو

لپاره هڅه کول، په ځانګړې ډول د سهار لمونځ: ............ ۲۰۸
۲) الله ﷻ مور ته دا پوهه راکړې چې ډېرې وخت مور نه پوهیږو څو هغه له مور سره دی: ............ ۲۰۹
۳) باید له الله ﷻ څخه دعا وغواړو په ځانګړې توګه د شپې د آخرې حصې د نفل لمونځونو په سجدو کې: ............ ۲۱۰
له هر فرض لمانځه وروسته باید دغه لاندې دعاګانې ولوستل شي: ............ ۲۱۱
۴) د ملائیکو ملګرتیا ............ ۲۱۲
۵) د شیطاني جنسي وسوسو برلاسي ............ ۲۱۲
۶) وختي واده کول ............ ۲۱۵
۷) د نېکو خلکو له ډلې سره ملګرتیا او ځان نښلول ............ ۲۱۷
۸) د اوزګارتیا او بې کارۍ وختونه ............ ۲۱۸
۹) ډیش انټنونه او ویډیویي فلمونه ............ ۲۱۹
۱۰) غزلې او موسیقي ............ ۲۲٤
وروره او درنې خورې ............ ۲۲۵
د دغه قدمونو غورچاڼ ............ ۲۲۶
الف) کړنې او اعمال ............ ۲۲۶
۱) د الله ﷻ څخه د لاندې لارو په وسیله کومک او مرسته غوښتل ............ ۲۲۶
۲) د پرښتو سره د ملګرتیا لپاره د لارې برابرول په لاندې لارښوونو سره: ۲۲۶
۳) په مغزي حجرو کې د شته چټلتیا پاکول او د مغزي حجرو ساتنه په لاندې لارو سره: ............ ۲۲۷
٤) د ښځو د فتنې پر وړاندې ټینګښت او مقاومت ............ ۲۲۸
۵) د خوب او ویده کېدلو عادتونه؛ هغه څه چې لاندې وړاندې کېږي د عمل جامه ور واغوندئ: ............ ۲۲۹
۶) د ډوډۍ خوړلو پر وخت عادتونه ............ ۲۳۰
۷) د ځان او یا لاس مینځلو پر وخت عادتونه ............ ۲۳۱
۸) د وخت څخه په ګټه اخیستنه کې ............ ۲۳۲

CS CamScanner

۹) ملګرې ...................................................... ۲۳٤
۱۰) ستا د راتلونکې لپاره ............................................ ۲۳۵
که چېرې د تېرو ټولو هغو لارو چې د دغه عمل په درملنه کې وویل شول
بیا هم د هغه پر وړاندې د ماتې سره مخ شوې نو بیا به څه کوې؟....... ۲۳۵
پر له پسې دا په یاد ولره چې:........................................ ۲۳۷
په استمنا باندې روږدي کسانو ته وایم: ................................ ۲٤۲

# لومړی څپرکی

## خورې! ولوله ترڅو چل در نه کړي

**لیکوال: ابوبکر جابر الجزایري**

استاذ جزایري په ۱۹۲۱ زیږدیز کال د الجزایر هېواد په جنوب کې د سکره ساحې اړوند لیوه کلي کې زیږېدلی دی. لومړنی زده کړې، حفظ، ادبیات او د امام مالک فقه یې د خپلې سیمې له علماوو څخه لوستې دي. له دې څخه وروسته هملته استاذ پاتې شوی دی. له څه وخت تدریس وروسته مدینې منورې ته چې هلته یې کورنی وه، ولاړ. هلته یې د علماوو په حلقو او درسونو کې ګډون وکړ. چې له څه وخت وروسته د مدینې منورې په دارالحدیث کې استاذ شو. کله چې په ۱۴۸۰هـ س کال د مدینې منورې اسلامي پوهنتون جوړ شو. استاذ جزایري یې له لومړنیو استاذانو څخه شو، چې بیا تر ۱۴۰۶هـ س کال هلته پاتې شو. استاذ جزایري د نبوي جومات د ۵۰ کلن تدریس سره سره له فکري او دعوتي کارونو ګوښه نشو او خپل دعوت ته یې ادامه ورکړه. مهم کتابونه یې په لاندې ډول دي:

۱) المرأه المسلمه، ۲) نداءات الرحمن لاهل الایمان، ۳) رسایل الجزایري - ۲۳ رسالې دي چې د اسلامي فکر او دعوت اړوند لیکل شوې، ۴) منهاج المسلم - دا کتاب د عقیدې، آدابو، اخلاقو، عباداتو او معاملاتو اړوند لیکل شوی او د انګلیسي ژبې په شمول ګڼ شمېر ژبو ته ژباړل شوی دی، ۵) عقیدة المؤمن - د مؤمن د عقیدې اصول او فروع تر بحث لاندې نیسي، ۶) ایسرالتفاسیر لکلام العلی الکبیر، ۷) الدولة لاسلامیه، ۸) التصوف یا عبادالله، ۹) الضروریات الفقهیه - د امام مالک فقه یې پکښې څېړلې، ۱۰) کمال الامه فی صلاح عقیدتها، ۱۱) هؤلاءهم الیهود، او داسې نور نوموړی استاذ اسلام ته تر ډېرو خدمتونو وروسته د ۹۸ کلونو په عمر په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې خپل روح رب ته وسپاره. الله ﷻ دې پرې ورحمیږي.

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على نبينا محمد و آله و صحبه أجمعين، أما بعد:

**اې مسلمانې خورې!** دغه ورځو کې چټل او فريب ورکوونکې لاسونه ستا لور ته اوږده شوي ترڅو تا د کرامت له لوړې څوکې او د آبرو او عزت له آسمان څخه راوغورځوي او د نېکمرغۍ له دايرې دې بهر وباسي. څو مخکې له دې چې دغه مجرم او ظالم لاسونه خپلو موخو ته ورسيږي هغه لنډ کړه او دغه چټل نفس چې ستا د بې لارې کولو او ستا د عفت د جنت او حجاب له رايستلو څخه يې تاته قيام کړی ورته او الله ﷻ ته پناه ترې يوسه، ځکه دا همغه نفس دی چې غواړي تا د دنيا او آخرت د بدمرغۍ او سرخوړۍ سره مخ کړي.

**اې مسلمانې خورې!** ستا د مسخه کولو او ستا د بدن او شرف سره يې يوه لوبه لوبه په کار اچولې، خپل ځان ته راوګرځه او د دغه شوم شر څخه الله ﷻ ته پناه يوسه او له هغه څخه ملاتړ وغواړه ځکه يوازې الله ﷻ دی چې تا له دغه طوفانونو څخه ژغورلی شي.

**اې مسلمانې خورې!** چټل او تور زړونه او له بدمرغۍ او شرارت څخه ډک زړونه تا، ستا دين، وطن، عزت، شرف او پلرونو او نيکونو ته لوی حسد او کينه په خپلو زړونو کې لري، دغه ډله خلک هغه کسان دي چې زما او ستا له منځه تړوکيدلي، زما او ستا په نومونو سره او زمونږ په ژبه سره خبرې کوي. خورې خپل ځان ته پاملرنه وکړه خپله پاک لمنې او عفت دې وساته او هېڅکله دې دښمنانو ته د دې فرصت مه ورکوه چې تا له دغه محکمې او پياوړې پردې او حجاب څخه بهر کړي او تا له دغه الهي پټنځای څخه وباسي.

**خورې!** آیا ته پوهېږې دا کوم لاسونه دي چې زه تا له هغه څخه لرې کوم؟ دا هغه خبرې دي چې په ظاهر کې ښکلې، ادبي او سحر لرونکې مقالې دي او د اوونيزو او ورځپاڼو د ملا تیر تشکیلوي، د تلويزونونو پردې له هغه ډکې دي، چې هغه ستا د دښمنانو او د آزادی په نامه د بې‌حیایی بلونکو له لوري تاته د چل درکولو په خاطر او ستا د بې لارې کولو په خاطر لیکل کیږي ترڅو ته خپل حجاب بهر وغورځوې او له پاک لمنی او عفت څخه بهر ته راووزې او په پایله کې مسخه او چټله وګرځې. هغه هم داسې چې بیا به نه خپل ځان ته څه ښکمرغي وبښې او نه نورو ته.

**خورې!** اوس مهال دې چې حقیقت وپیژندلو او خپل دښمنان دې هم وپیژندل له دغه ډول خبرو او چیغو خپل مخ وګرځوه، مه خپلې سترګې د هغه د لیدلو او مه خوله د هغه د لوستلو او مه غوږونه د هغه د اوریدلو لپاره خلاصوه، ځکه دا هغه جنایت کار لاسونه دي چې ستا نېکمرغی ته غځېدلي دي او غواړي هغه له منځه یوسي او ستا شرافت ته لاس واچوي، هغه ته سپکاوی وکړي او ستا کرامت د پرمختګ، روڼ اندی او آزادی تر سرلیکونو لاندې په خپلو چټلو پښو له منځه یوسي.

آیا پوهېږې هغه چټل او ناپاک نفس چې تاته د چل او مکر درکولو په غرض بې تاته پښې در اوږدې کړې او زه تا له هغه څخه لرې کوم کوم دی؟ دا همغه خبرې دي چې پر حجاب نیوکه کوي او د هغه په روا والي کې شک لري او د دې هڅه کوي چې ستا د حجاب ارزښت کم کړي او د هغه پرېښودو ته تا وهڅوي ځکه دوی ستا د حجاب د سپېڅلتیا څخه انکار کوي.

**دوی وایي:** (حجاب د وروسته پاتې والي له ښکارندویو څخه دی، ایمان په زړونو کې دی نه د مخ او سینې په پټولو کې، هغه زینت او ښکلا چې د مسلمانې ښځې څخه یې غوښتنه شوې ترڅو هغه پټ کړي له لاسونو

او مخ پرته نور څه دی... او د دغه خبرو په ډول نورې باطلې او بې لارې کوونکې خبرې هم لري او دا ټول هغه څه دي چې تاته ستا په ایمان، حیا او غیرت کې شک در اچوي او ستا د عفت او پاک لمنی پیاوړې قلعه ړنګه او ستا پاکي او استقامت له منځه یوسي، ترڅو د دې په پایله کې ته بربنډه او لوڅه کوڅو او لارو ته راووځې او ستا هغه بدن او ښکلا ته چې الله ﷻ بې ښکاره کول حرام ګرځولي لاس رسی پیدا کړي، خپل خوند ترلاسه او خپلې جنسي غریزې خړوبه کړي. د مینې، محبت او ملګرۍ په خبرو، ناسته ولاړه او له شرم او حیا پرته خپلې موخې ته ورسېږي، تا د شیطان لپاره یوه لوبغاړې او د ابلیس او د هغه د اولادونو لپاره یو پېړی جوړ کړي، ستا په وسیله نور ضعیف ایمانه خلک هم ښکار کړي ترڅو خپل ځان ته یوه دربدره، فاسده او سسته ټولنه جوړه کړي چې نه موخه لري او نه شرف او نه ښه پای، پرته له شهوته بې بل کار نه وي؛ نو د فتنې له دغه دام څخه چې ستا لور ته بې اېښی هوښیاره او لرې اوسه، جامې دې اوږدې کړه، پر حجاب دې پیاوړې منګولې خښې کړه څکه ستا حجاب له الله ﷻ وروسته ستا لپاره یو پیاوړی پټنځای او قوي سپر دی.

**او اې مسلمانې خورې!** آیا پوهېږې چې هغه سترګې د چا دي چې ستا په حیا، پاک لمنی او پاکۍ کینه ورځي او تا په دغه زهري کتنو سره ښکار کوي او بیا د حیرانه او سرګردانه یوازې پرېږدي. آیا اوس حجاب غواړې، څکه حجاب ستا د پالونکي حکم او امر او ستا د دین غوښتنه ده او تر تا مخکې د صالحو ښځو لار او طریقه ده. اوس د ټاکنې حق ستا په لاس کې دی آیا بې‌حجابي او بربنډتوب غواړې چې هغه د نیمې ورځې لار او طریقه ده چې د غرب کلتور پر هغه شروع شوی او په ډېر افسوس سره چې نن د شرقي ټولنې ښځو خپلې سترګې د هغه لور ته اړولې او دوی فکر کوي چې

د ښکمرغۍ تله او د خلاصون لار همدغه ده. په کوم ډول چې د هوی، هوس او شهوت بنده‌ګان دا ادعا لري او له هیڅ کوښښ مخ نه اړوي ترڅو ستا لپاره بربنډتوب او بې‌حجابي ښه وځلوي او هغه دې تر نظره خوښه درولي او حجاب او د ځان پوښل ستا تر نظر بد درولي او تا له هغې څخه بهر راوباسي. دا ټول څه د علم، پرمختګ او آزادۍ تر سرلیکونو لاندې ښه په درب پرمخ بيايي. د دغه حسد لرونکو سترګو له شومو موخو څخه دا هم ده ترڅو دوی تا خپل هدف وګرځوي چې په دغه ډول ډېرې خوینددې او د هغه ملګرې نه یوازې حجاب غورځوي بلکې د هغه څخه کرکه هم کوي او ځینې خو داسې هم شته چې حجاب بې غورځولی او په بربنډ ډول په لارو او کوڅو کې ګرځي او په دغه ډول د هغه کسانو د هیلو غوټۍ ته اوبه وراچوي کوم چې غواړي ښځې خپلې لوبغاړې وګرځوي؛ نو ای مسلمانې خورې! له الله ﷻ وویرېږه او د خپل ایمان، پاک روح، حجاب او حیا په اړه دې له الله ﷻ وویرېږه، خدای مه کړه داسې نه شي چې د دوی غولوونکې، ناپایداره او غوړې خبرې تاته چل در نه کړي ځکه دوی ډېر مکار، دروغجن او چل ورکوونکي دي.

د هغوی خبرو ته په غوږ نه نیولو دوی ورته او په نه پاملرنې سره هغه خوار او ذلیل وګرځوه او په حجاب، عزت او شرف منګولو لګولو، ځان ساتلو او کور پاتې کېدلو سره هغه د افسوس او بې لارۍ په ډنډ کې وروغورځوه، ځکه دوی ستا د شرف او پاک لمنۍ د لمنځه وړلو په لټه او هڅه کې دي.

**ستا په ایمان تاته خطاب او غږ کوم!** او اوس ای مسلمانې خورې! اجازه راکړه چې ستا په ایمان تاته غږ وکړم ترڅو ښایي زما نصیحت قبول کړې، آیا داسې نه ده چې ته په الله ﷻ او رسول ایمان لرې؟ او داسې نه ده چې د الله ﷻ رضا او د آخرت د کور په لټه کې نه یې؟ آیا په هغه څه باور لرې کوم چې

الله ﷻ او د هغه رسول حرام ګرځولي؟ حتماً وايې چې همداسې ده او زه دا باور لرم چې همداسې به ووايې؛ نو اوس په دې هم ښه پوه شه چې په الله ﷻ ایمان او په محمد ﷺ ایمان، د هغه امر منته پرتا واجب ګرځوي، او د الله ﷻ رضا او په آخرت کې خلاصون تا دې ته هوډمنه کوي ترڅو د الله ﷻ د رضا لپاره عمل وکړې، او په الله ﷻ او د هغه پر رسول ایمان پر تا دا واجبوي ترڅو هرڅه چې د الله ﷻ رسول حرام کړي هغه ته حرام ووایې. که په دې پوه شوې نو په دې هم پوه شه چې الله ﷻ او د هغه رسول له حجاب پرته په بربنډه توګه د ښځې ګرځېدل داسې حرام ګرځولي څرنګه یې چې فسق، فجور، بې حیايي او بدکاري حرامه ګرځولې. الله ﷻ او د هغه رسول مؤمنو ښځو ته امر کړی چې خپلې سترګې ښکته واچوي او پاک لمنې غوره کړي همدارنګه نامحرمو ته یې د هر ډول زینت او ښکلا ښکارول منعه کړي او دوی ته یې امر کړی ترڅو سر او سینه په پنډ چادر کې پټ کړي. الله ﷻ فرمايي: [وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ] «النور ٣١» «او پر خپلو سینو دې د خپلو پړونو پلوونه واچوي، هغوی د خپل ځان جوړونه نه ښکاره کوي خو پرته له مېړونو».

**اوس اې مسلمانې خورې!** آیا هغه څه چې ستا پالونکي ستا لپاره خوښ کړي ته پر هغه خوښه یې او تا د هغه نعمت چې اسلام او ستا هدایت دی شکر ادا کړی او ستا په حجاب، حیا او غیرت ساتلو دې د خپل پالونکي امر منته کړې؟ او هغه ټولو شومو چیغو ته چې تا د آزادۍ تر سرلیک لاندې بربنډتوب او فساد ته هڅوي منفي ځواب ورکړی او د مسخرې او ریشخند په ډول د هغوی رټلي او خپله غوسه دې په ډاګه کړې، څکه دوی غواړي ستا شرف ستا له سر څخه وغورځوي، عزت او کرامت دې له منځه یوسي، پاکي دې چټله کړي او دین دې له منځه یوسي...

او یا پر هغه څه چې الله ﷻ درته خوښ کړي نا آرامه یې او هغه څه چې الله ﷻ یې خوښ لري ښه نه ګڼې، د هغه د هدایت د نعمت شکر نه کوې او د هغه دروغ ویونکو په ډنډورو پسې منډې وهې چې ستا د برېنډتوب او ستا د تېر ایستلو بېرغ یې په لاس کې اخیستی، له بده مرغه دوی دې موخې ته هم رسېدلي چې په خپلو دروغجنو ادعاوو سره په ډېری اسلامي هېوادونو کې ډېری مسلمانې خویندې یې بې لارې کړې او هغوی ته یې دا ډاډ او قناعت ورکړی چې د ښځې ښکمرغي ترهغه وخته ناشونې ده ترڅو دوی په لوڅ مخ او د ژوند په ټولو ډګرونو کې د سړیو سره ګډون ونه کړي. چېرته چې سړی وي هلته باید ښځه هم وي او چېرته چې ښځه وي هلته باید سړی وي او یا په بله اصطلاح سړی باید د ښځې په چوکاټ کې حتا په سر شانه کولو او لباس اغوستلو کې هم یو ډول وي. دوی ته یې دا ډاډ ورکړی چې ښځه یوازې په همدغه ډول ښکمرغۍ ته رسېدلې شي، ملت او هېواد یې سرلوړۍ ته رسېدلی شي. له بده مرغه دوی ته یې داسې ډاډ ورکړی او د دوی په فکرونو کې دغه خبرې داسې ښکته شوې چې د دوی د هېواد ثبات او د امت ښکمرغي او پرمختګ یوازې په برېنډتوب او د ښځې په بې‌حجابۍ کې پروت دی. دوی په همدغه ډول له حجاب، ایمان، حیا، غیرت او پاکۍ لاس اخیستی او ډېری ساده او ضعیف ایمانه او بې علمه ښځو هم پر دوی باور کړی او د دوی د دغه دروغجنو خبرو ښکار شوې چې په همدغه ډول په ډېری اسلامي هېوادونو کې مسلمانې خویندې د حجاب څخه د خلاصون بېرغ پورته کړی او خپل ځان یې ترې خلاص کړی، چې په پایله کې د ښځې مخ لوڅ شو، حجاب یې وغورځوه او د لومړي ځل لپاره مسلمانه ښځه سرلوڅې عمومي ځایونو ته راووتله او په دې ډول د ښځې د شرم او حیا ماده په ښځه کې له پښو ولوېده او نور نو نشي کولی چې د سړو سره د خندا، سترې مشه، ناستې او ولاړې ځان وساتي.

**پر همدې توګه:** په همغه ډول چې نامسلمان هوس خوښوونکو او د شهوت بنده‌ګانو غوښتل ښځه برېنډتوب ته ووتله او په ډېرې خواشینۍ سره په پایله کې دغه جاهلي تبرج او برېنډتوب په ډېرو هېوادونو کې د ښځینه سینماوو، نندارتونونو، شپنیو او ورځنیو کلپونو په ډول یې رسمي ځای ونیو او د فسق، فجور، لهو او لعب بازار ګرم وګرځېد. فحشا او فساد ټول ځایونه ونیول او اسلامي ټولنه مسخه شوه او هغه څه چې تېره ورځ وو نن یې سپرمغی نه لیدل کېږي او ښځو نه یوازې هغه نېکمرغي چې دوی ته یې د نوښت او آزادۍ تر سرلیک لاندې وعده ورکړل شوې وه له لاسه ورکړه بلکې د خپل بدن شتون ته یې په ټولنه کې سپکاوی وکړ. همدارنګه ډېرى سړیو خپل غیرت او مېړانه هم تر پښو لاندې کړه او تردې پورې ورسېدل چې اوس په عمومي ځایونو کې د نامحرمو پر وړاندې د خپلو لوڅ سرو او برېنډو ښځو، لورانو او خورانو مخه ونه نیسي.

په پایله کې... دا هغه ژوره کنده او خندق دی چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې یې ښځه له داسې خوږ سره مخ کړه، دا هغه تور داغ او وروستی تم ځای دی چې دوی یې په لټه کې وې.

**نو اې مسلمانې خورې!** آیا د خپل ځان لپاره په دغه ډول شي خوښه یې؟ او اوس هم د هغه مکار او چل ورکوونکي دښمن خبرو ته غوږ ږدې چې ته یې داسې ژورې کندې ته وغورځولې. نن ورځ دوی له دې پرته چې ته د مخ برېنډه کړې ډېر څه نه غواړي، خو دوی پوهېږي کله چې ستا له سر څخه ستا د حیا چادر پورته شي نو بیا حیا تر پښو لاندې کېږي او په راتلونکې کې بیا په ډېرې آرامۍ تا له سر څخه تر پښو پورې برېنډوي په همغه ډول لکه چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې یې ستا په شان ساده ښځو ته چل ورکړی او د دوی سپکاوی یې کړی دی.

نن که په حجاب او پرده کې داسې ملغلره یې چې تولنه، پلار، مور او ملګري دې تاته احترام کوي؛ خو سبا ورځ چې له ځان څخه حجاب وغورځوې او بربنډه راووځې نو ټول به ستا په رټنه کې یو له بل مخکښ وي او ستا پر مخ به د خپل خبر دروازې وتړي. نن ورځ له حجاب سره د ایمان، عزت او کرامت احساس کوې خو سبا ورځ که خدای مه کړه له پردې لاس واخلې نو د نن ورځې ایمان، عزت او کرامت به دې په اوبو لاهو شي.

**تاته نصیحت کوم...**

د زړه له درده درته وایم چې د بې‌حیایی، بې‌حجابی او بربنډتوب ټولو چیغو ته منفي ځواب ورکړه او هغه ته د څور او حقارت په سترګه وګوره او هغه څه چې الله ﷻ د امهات المؤمنین لپاره غوره کړي، چې په کورونو کې کښیني او د جاهلیت د زمانې د بې‌پرده‌ګۍ څخه ځان وساتئ په هغه خوښي څرګنده کړئ، په هغه ډول چې په قرآن کریم کې ویل شوي: [وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى] «الاحزاب۳۳» «پخپلو کورونو کې مېشتې اوسئ او د تېر جاهلي دور غوندې سینګار کړې بې ستره مه ګرځئ».

او همدارنګه د بربنډتوب او بې‌حیایی څخه ځان وساتئ او د خپل ځان عزت او پردې ته پر هر څه لومړیتوب ورکړئ او پوه شئ چې د نجونو تر ټولو غوره ځانګړنه شرم او حیا ده او حیا پر حجاب پورې تړلې ده او که چېرې له هغه لاس واخلې؛ نو شرم او حیا به له لاسه ورکړې او کله دې چې حیا له لاسه ورکړه نو حتماً به ټولې ښېګنې او ښکلاوې له لاسه ورکړې او خدای مه کړه د ښځې په لباس کې به یو شیطان وې. زما نصیحت هغو ته دا دی چې د اسلام د دښمنانو ښکار شوې او عفت او پاک لمنې یې له لاسه ورکړې او د بې‌حیایی، بې‌حجابی او بربنډتوب په ډنډ کې غوټې وهي چې

د غفلت له خوبه ويښې شي او د خپل پالونکي لور ته مخ کړي او د زړه له تله توبه وباسي. او هغوی ته چې واقعي مسلمانانې دي هغه څه واغوندي په کوم چې د دوی پالونکي امر کړی، تر ټولو دمخه بايد خپل مخ پټ کړي ځکه د ټول بدن د ښکلا مرکز مخ دی او همدا د مخ لوڅوالی د هرې فتنې سبب ګرځي.

**درنو خويندو!** په دې مو هم ښکاره سرخلاص کړئ چې پرمختګ او تمدن په لوڅولو او په هره لاره او کوڅه کې د هر لاروي ترڅنګ د مخ په لوڅولو کې نه دی، په حقيقت کې دا همغه ذلت او خوارتيا ده چې يوه ښځه د بې لارۍ کندې ته غورځوي.

**درنو خويندو!** په دې هم پوه شئ چې ستاسې د آزادۍ په نامه بلنې او دعوتونه، چيغې او فريادونه له دې پرته بل څه نه دي چې تا د لوړو اخلاقو، آدابو او خوښو ارزښتونو څخه خلاصې کړي او تاسې د شر او فساد لور ته وهڅوي چې بيا تاسې د شهوت پرستانو په شيطاني دسترخوان کې ووډې وخورئ! او د هغه د سترګو ځرولو په ځرخای کې د هغه ښکار شئ.

**ګرانو خويندو!** مرګ او د هغه سختۍ، قبر او د هغه تيارې، د حشر ورځ او د هغه سختۍ، دوزخ او د هغه ځنځيرونه په ياد راوړئ! همدارنګه د خپل پالونکي پر وړاندې درېدل په ياد راوړئ او بيا به په هغه سخته ورځ ځنګه خپل پالونکي ته ځواب ووايئ چې کړني او ژوند مو ټول د هغه د قانون خلاف تېر کړی وي.

دا هغه څه وو چې ما د هرې مسلمانې ښځې تر غوږ پورې ورسول، له دې وروسته ټاکنه ستاسې په لاس کې ده چې زما له خبرو پند اخلئ او که مړاوې کېږئ. [وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ] فصلت ۴۶ «دا ستا رب د خپلو بندهګانو په

حق کې ظالم نه دی»، [وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ] «آل عمران۹۹، «او الله ﷻ ستاسې له کړنو څخه بې‌خبره نه دی».

الله ﷻ دې د هغه څه توفیق راکړي چې همدی یې خوښ لري. والله اعلم وصلی الله علی محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

د رمضان د مبارکې میاشتې د رحمت لسیزه.

پای

# دویم څپرکی

## لورې...

### د یوه نړۍ لیدونکي عمر خوړلي پلار نصیحت خپلې لور ته!

**لیکوال: علي طنطاوي**

څوک دي چې تراوسه به نوموتی ادیب، زیرک، خطیب، او ویناوال شیخ ونه پیژني.

شیخ علي طنطاوي هغه څوک دی چې په ځان، مال، شتمنی او ټولې کورنی سره یې اسلام ته خدمت کړی دی. دغه نوموتی عالم د هغه کسانو لپاره د هدایت څراغ دی څوک چې د اسلام د دین لپاره هر اړخیزې هڅې کوي.

شیخ طنطاوي په ۱۹۰۹زیږدیز کال د اوسني سوریې پلازمینې دمشق ښار کې زیږیدلی دی. استاد طنطاوي لومړنی زده‌کړې په تجاریه مدرسه کې پیل او له عنبر مدرسې څخه فارغ شوی دی، له دې وروسته طنطاوي ۳۵ کاله عمر د عربستان جدې ښار کې تېر کړ، طنطاوي په ډېرې سیمه‌ایزو او نړیوالو سمینارونو کې ګډون کړی او د اسلامي ویښتابه اړوند یې خپلې جذابې او ویښوونکې مقالې وړاندې کړې دي. د هغه ژوند څېړل په دغه لنډ ژوند لیک کې راټولول ستونزمن کار دی. نو ښه مې وګڼله چې هغه په لنډ ډول تاسې ته در وپیژنم، کتابونه یې په لاندې ډول دي:

۱) فصول فی الدعوة ولاصلاح، ۲) بغداد، ۳) فکر و مباحث، ۴) فی سبیل اصلاح، ۵) نور و هدایه، ۶) فصول فی الثقافة والادب، ۷) رجال من التاریخ، ۸) فصول اسلامیه، ۹) ابوبکر صدیق، ۱۰) عمر بن خطاب، ۱۱) رسایل الاصلاح، ۱۲) بشار بن برد، ۱۳) رسایل سیف الاسلام، ۱۴) الهیثمیات، ۱۵) فی التحلیل الادبي، ۱۶) دمشق، ۱۷) کتاب المحفوظات، ۱۸) فی بلاد العرب، ۱۹) من التاریخ الاسلامی، ۲۰) قصص من التاریخ، ۲۱) صور و خواطر، ۲۲) مقالات فی کلمات، ۲۳) جامع الاموي، ۲۴) فی اندونیسیا او داسې نور... له بده مرغه چې تراوسه یې پښتو ته له دوه درې عنوان پرته نور کتابونه نه دي ژباړل شوي.

استاذ طنطاوي په ۱۹۹۹ زیږدیز کال جده کې ومړ او په مکه مکرمه کې خاورو ته وسپارل شو.

## لورې!

زه يو ۵۰ کلن سپين ږيری يم چې څواني مې تر شا پرېښې ده، د هغه دورې فکرونه او هيلې مې هم تېرې کړې دي، ډېرو ښارونو او ځمکو ته مې سفرونه هم کړي دي. د آدابو، فرهنګ، کلتور او عقايدو له نظره مې بېلا بېل انسانان تر سترګو شوي او د هغوی سره مې ليدنه شوې، هغه صريح نصيحتونه زما څخه واوره کوم چې د ډېرو تجروبو پر بنسټ ما لاسته راوړي، چې هغه تاته د زړه سوي او مينې له کبله بيانوم.

په ليکنو، ويندويي، او چغو د اخلاقو په اصلاح او د فساد په له منځه وړلو او د شهوتونو د له منځه وړلو لپاره مې دعوت او بلنه وکړه، لکه څرنګه چې قلمونه له ليکنې پورته شوي او ژبې ستړې شوې دي؛ خو موږ داسې کار ترسره نه کړ چې منکرات له ريښې وباسو بلکه منکرات او اخلاقي فساد، بې‌حجابي، بربندتوب او نوره بې‌بندوباري زياته شوې او کړی يې د پراختيا په حال کې ده، له يو ښار څخه بل ښار ته انتقال شوې تردې چې هيڅ اسلامي هېواد د هغه څخه نه دی پاتې شوی، حتی د سورېې هغه هېواد ته هم انتقال شوې چې يو وخت به يې د ښځو حجاب او پرده د هر چا په ژبه جاري وه، نن دغه ښځې هم پرې اخته دي. چادري وغورځول شوه، لمنې لنډې او جامې نازکې شوې تردې چې لاسونه او سينې هم بربنډ شول او موږ موخو ته ونه رسېدو او ښايي هيڅ وخت هم ونه رسېږو! پوهېږې ولې؟

څکه موږ د اصلاح تګلاره زده نه کړه!

په حقيقت کې د اصلاح لار او د هغه کلی د تا په لاس کې ده، که چېرې ريښتينی واوسې او په هغه قدم کېږدې، نو ټول حالات او کړنې به دې غوره وګرځي.

**لورې!** په رښتیا چې د ګناه لومړی قدم سړي پورته کوي، که چېرې ته خوښه نه وې نو سړی یو قدم هم مخکې نه ځي، که چېرې د تا نرمي او کمی نه وي هېڅ سړی به دا جرائت ونه کړي چې ستا په لور قدم واخلي او تانه نږدې شي، که چېرې ته د هغه پرمخ دروازه خلاصه نه کړې هغه به هېڅکله هم ستا حریم ته دننه نشي، په دغه موضوع کې آساني په دې معنی ده لکه یو غل ته چې ووایې راشه، خو کله چې ستا څخه ګرانبیه ملغلرې پټې او غلا کړي نو بیا ووایې آه زما ملغلرې خلکو غلا کړې!!!

کاشکي تا دا هم درک کړې وای چې ځینې سړي لکه لېوه داسې دي او ته به د وري په ډول د هغه تر منګلولو پورې ورسېږې، لکه څرنګه چې پسه له لېوه څخه تښتي ته هم باید تښتیدلې وای او اې کاش چې په دې پوهېدلی چې هغه غله دي، باید ځان دې ترې ژغورلی او د یو پوه انسان په توګه دې له هغه څخه ملغلرې ساتلی.

لېوه یوازې د پسه څخه د هغه د غوښې هیله لري؟ خو سړي د غوښې څخه هم د ډېر لوړ شي هیله لري، پوهېږې هغه څه دي! هغه ستا آبرو او حیا له منځه وړي، هغه ګرانبیه ملغلره چې ستا عزت دی او په هغه ویاړې او د هغه لپاره ژوند کوې. که چېرې د یوې ښځې د شرف او عزت ملغلره له منځه لاړه شي نو بیا تر دې مرګ ورته ځو وارې غوره دی. په الله ﷻ سوګند چې یو ځوان سړی هېڅ ښځه نه ویني مګر هغه که ویني هم نو د فکر په دنیا کې یې بربنډه تصور کوي او د هغه د بدن څخه جامې وباسي او...

هېڅکله د ملګرۍ او مینې په موضوع کې د نارینه او سړیو پر خبرو اعتبار مه کړئ، هغه هم لکه داسې چې وایي: د هغه او دغه ښځې سره د هغه د اخلاقو په خاطر مینه لرم! دغه ډول څرګندونې له دروغو پرته نور څه نه دي. کاشکي تا د هغوی خبرې په خپلو منځونو کې هم اورېدلی وی چې ته یې

په ځومره بدو کلمو یادولې. ګرانې لورې په دې پوه شه چې هېڅ یو ځوان ستا لپاره خوله نه جینګوي او هغه ستا سره په نرمۍ خبرې نه کوي مګر هغه د دې اراده لري چې ستا د ښکار کولو لپاره یو پیل واخلي. ته نه پوهېږې چې د دغه مینې تر شاه څومره تیټ او چټل فکرونه پټ ساتل کېږي!

**هو لورې!** د هغه سره به یو څو شیبې د مزو ښه ژوند تېر کړې خو وروسته به یې ته هېره او بیا به د تلپاتې خپګان په اور سوزېږې. کله چې له تا څخه لاس په سر شي بیا به د بلې په لټه کې وي ترڅو هغه په خپل دام کې ښکېل کړي او د هغه عزت او حیا په چټلیو ولړي.

نو ته به بیا یوازې پاتې وې او حیا او آبرو به دې هم له منځه تللې وي یوازې به د نامشروع زوی په ګېډه ګرځوې! پوهېږې چې بیا به ته په کوم اور کړېږې...

ښايي ظالمه ټولنه هغه ته بښنه وکړي او ووايي چې هغه یو ځوان وو چې ځوانۍ پرې غلبه کړې وه او د هغه څخه دا خطا شوې، نو زر ده چې هغه توبه وباسي.

دا یوازې ته یې چې بیا به ټول عمر په رسوایۍ تېروې او یوه شېبه به هم بیا ټولنه تاته بښنه ونه کړي او د تل لپاره به د هغه د ژبو له چړو په امان نه وې.

خو که ته د نورو واده کړل شویو ښځو په ډول په لومړیو شېبو کې هغه نه مخ واړوې او په جدیت سره له هغه نه ځان وساتې، که چېرې هغه بیاهم له خپل پورته کړي قدم پر شا نه شي او د تا لپاره مزاحم جوړیږي نو بیا دې خپل بوټ وباسه او پر سر یې ورووله او د کمک او مرستې لپاره چیغې کړه ترڅو خلک ستا لور ته راشي؛ که دې داسې وکړل بیا به هېڅ فاجر دا جرات ونه کړي چې د باحجابه ښځو پر حریم یرغل وکړي. که چېرې سړی صالح

وي په ډېر ادب او د صحیح شرعي لارې نه په تاته بلنه درولېږي او بس.

ښځه که هرڅومره مالداره او د شهرت څښتنه وي او په آرامی کې ژوند کوي خو بیا هم خپل بریالیتوب او نېکمرغي په شرعي نکاح کې ویني او د هغه په لټه کې وي. د هالیوډ سینما ستورې که هرڅومره د شهرت او شتمنی څخه برخمنې دي چې ډېرې ښځې د هغه د ښکلا غوښتونکې دي، خو بیا هم د سالمې اړیکې په لټه کې دي. دوې مصرۍ او سوریایی هنرمندې پېژنم چې د شتمنی او شهرت سره سره یې له نکاح مخ اړولی ؤ خو پایله یې له لېونتوب پرته بل څه نه وه. نکاح د ښځې یوه هیله ده که هرڅو د پارلمان غړې وي او یا د قدرت څښتنه وي. فاسقه ښځه هیڅوک په خپله نکاح نه اخلي.

هغه لاره چې د عفت او پاکلمنی ښکار کوونکي یې په کار اچوي هغه د نکاح وعده ده، ترڅو تاته چل درکړي او خپل چټل مقصد ته ورسېږي. که بیا هم د نکاح اراده ولري نو له شریفې او پاکلمنې ښځې سره نکاح کوي، ځکه هغه نه غواړي چې د کور اداره کوونکې او د بچیانو مور یې داسې څوک جوړه شي چې چل یې خوړلی وي او تېښته ښځه وي.

**لوړې!** که سړی هرڅومره فاجر او فاسق وي خو که په بازار کې داسې ښځه پیدا نه کړي چې د ځان په ډول یې وي، ترڅو یې د عزت تاج له سره ښکته او آبرو یې له منځه یوسي، خامخا دې ته اړ کېږي ترڅو اسلامي او شرعي نکاح ځان ته غوره کړي.

د بازاري نکاح اصلي عامل ته یې، ځکه که پېغلې فساد ته مخه نه کړي او ځان خرخ نه کړي، نو هېڅکله د نکاح شریف امر او کړنه داسې نه بې ارزښته کېږي لکه اوسنیو بازاري نکاحو چې بې ارزښته کړی او د فساد بازار یې ګرم ساتلی دی.

ولې شريفې او پاک لمنې ښځې دغه لوی مصيبت او بلا سره مبارزه نه کوي او د هغه په مقابل کې نه درېږي، په داسې حال کې چې دوی په دغه مبارزه کې لومړيتوب لري او يو د بل په ژبه ښې پوهېږي، ځکه چې د دغه بلا اصلي قربانيانې همدغه ښځې دي. څومره باعفته او پاک‌لمنې نجونې د کور په کونجونو کې پاتې دي او د نکاح عمر ته هم رسېدلې دي، خو بيا هم پاک لمنه سړی نشي پيدا کولی، ځکه اوسني ځوانان هغه نجونې خوښې ګڼې چې همدغه ځوانان يې له نکاح څخه بې نيازه کړي او بې لارې کړې دي.

ښايي زموږ له ټولنې څخه بهر ډېری دغه ډول خلک وي، نو اړينه ده چې اديان، ښوونکي او زده‌کړيالان په بېلا بېلو ټولګيو او ډلو کې هغه ته په نېکۍ امر او له بدۍ څخه يې منع کړي، نېغې لارې ته يې لارښوونه وکړي او د الهي عذاب څخه يې ووېروي. که نه وېرېږي نو په ناروغۍ د ککړېدو او اخته کېدو خبر ورکړي او که له دې هم وېره ونه لري د حقيقت په ژبه او په ډاګه هغوی ته ووايي چې تاسې ښکلې ملغلرې يئ، په همدغه خاطر ځوانان ستاسو لوري ته پاملرنه کوي او پر تاسو پسې ګرځي، خو کله چې عمر مو زيات شي او ښکلا او جمال مو له لاسه ورکړئ، نو بيا به څوک تاسو ته پاملرنه وکړي او بيا به څوک ستاسو حال اخلي؟

**په رښتيا لورې!** آيا پوهېږې چې کوم خلک زړو ښځو ته درناوی لري؟ دا واضح ده چې دغه درناوی يې يوازې د هغه له اولادونو، لورانو او لمسيانو له خوا دی. نو پوه شه چې زړه ښځه د يوې ملکې حيثيت لري چې په يو داسې تخت يې تکيه کړې وي چې ټول يې درناوی کوي، خو تاته بيا هم وايم چې خپل ځان په دغه ډول حالت کې پيدا کړه.

**رښتيا!** آيا دغه کم خوند د هغه ورځې له تلپاتې درد سره برابر دی او آيا دا شونې ده چې په دغه ډول پيل (هوس بايلونکي او خوښوونکي) داسې يو

پای (د نېکی پای) واخلي. پاتې هم پر همدغه قیاس کړه او د عاقلې نجلی لپاره ضرور نه ده چې له دغې زیات مثالونه او بېلګې ورکړو.

**لورې!** د فریب خوړونکو خویندو لپاره دې د لارښوونې له هېڅ یوې لارې هم ځان مه غړوه، که دا قوت نه لرې دومره خو وکړه چې د دغه وژونکې ناروغی د خپریدو څخه نورو پاک لمنه او معصومو خویندو ته حتماً مخنیوی وکړه. مه پرېږده چې دغه بې‌ګناه نجونې د دوی په مسلک ګام کېږدي.

**لورې!** زه له تا دا هیله نه لرم چې په یو ځل د لویو ښځو مقام ترلاسه کړې او دا ناشونې ده؛ خو ګام په ګام ته باید د خیر لور ته وګرځې. څکه ته د بدی لوري ته تللې یې. کله چې کم کم د ښځو جامې او د نجونو جامې لنډې شوې او بې‌حجابي خپره شوه دغه انتقال وخت ونیو لکه څنګه چې باشرفه خلک هم دغه بدلون ته متوجه نشول، ورځېاڼو او اونیزو دغه بې‌حیایی ته لمن ووهله او فاسقان پرې خوشحاله شول او له دغه کار څخه یې تود هرکلی وکړ. تردې چې له داسې یو حالت سره مخ شوو چې اسلام له هغه بېزاري خوښوي. حتی د عیسیﷺ او زردشت دین پرې خوښ نه دی، لکه څرنګه چې د دوی خبرونه په تاریخ کې لولو. دغه ننګ او بې‌شرمی تر هغه دوام پیدا کړ چې له حیواناتو څخه هم وروسته پاتې شوو، څکه دوه چرګان چې غیرت لري د یوې چرګې پر سر هم جنګ کوي!

په داسې حال کې د اسکندریې او بیروت په سواحلو کې داسې مسلمانان ژوند کوي چې دومره غیرت یې هم نه پارېږي چې دا فکر وکړي چې ښځې یې نور پردي خلګ ګوري. د څېرې، مخ، لاسونو او سینو د بربنډېدو څخه په تېر شو داسې یوه بې‌حیایي اوج ته رسېدلې چې ټول بدن یې له ورایه ښکارېدونکی وي.

په میلمه بلنو او پرمختللو شپې رڼولو کې مسلمان نارینه خپلې ښځې او محارم د پردیو لپاره د ګډا د څرخېدو لپاره تشویقوي چې سینه په سینه، لاس په لاس او لاس په غاړه... یو له بل سره وګډېږي او داسې ځوک شتون نه لري چې له دغه وژونکې بې‌حیایی څخه بې غیرت په جوش راشي.

په اسلامي پوهنتونونو کې نجونې او ځوانان یو له بل سره مجلسونه جوړوي، په داسې حال کې چې مسلمانه خور د بې‌حجابی تر ټولو بدحالت کې مخامخ د هلکانو سره کیني او د هغه سرپرستان هم دغه کار ته ناخوښ عمل نه وايي او دغه ډول نمونې زیاتې دي چې په یوه ورځ نه اصلاح کېږي.

**لوړې!** باید د حق او شرف لاره باندې تګ وکړو ترڅو په باطل او ګمراهی کې ونه غورځېږو که هرڅومره دغه لاره اوږده وي.

او که چېرې په دې خاطر چې دغه لاره اوږده ده قدم وانخلو، نو باید مطمئن شو چې له دې لارې پرته بله لاره نشته چې موږ خپلې موخې ته ورسوي. باید د اختلاط (د ښځو او سړو یوځایوالي) سره مبارزه زموږ د کړنو په سر کې ځای ولري او موږ ته تر هرڅه لومړیتوب ولري. له بې‌حجابی څخه زموږ موخه د مخ لوڅوالی نه دی او داسې نه ده چې علماوو او فقهاوو د هغه په حراموالي اتفاق کړی وي. خو موږ وایو چې د فتنې او ویرې په وخت کې د مخ پټول مسلمانې او پاک لمنې ښځې ته تر هر څه لومړیتوب لري اګر که د سر په بیه هم وي.

خو د اختلاط دا مسئله (د ښځې او نر) یوه بله مسئله ده. دا شعار چې د ښځې او نر اختلاط له حجاب سره هېڅ ټکر نه لري او یا ښځه کولی شي د مېړه له ملګري سره په کور کې کیني، یا په کوڅو کې له هغه سره ستړي مشي وکړي او یو له بل سره خبرې وکړي، په یوه لاره حرکت وکړي او یا په درس

خونو کې يوځای درس ووايي نه يوازې لويه تېروتنه ده بلکه داسې يوه بې‌عقلي ده چې د سليم عقل هېڅ خاوند يې نه قبلوي.

ښايي دغه ډله خلکو دا هېره کړې وي چې الله ﷻ دوی له دوو مخالفو جنسونو څخه پيدا کړي چې د مقناطيس د دوو مخالفو قطبونو په ډول يو بل جذبوي او يو بل ته ميلان ښکاره کوي. هېڅ ښځه او نر نشي کولی دغه ميل او رغبت ته بدلون ورکړي.

هغه کسان چې د سړو او ښځو د برابرۍ غږ بدرګه کوي او خپل دغه غږ ته د تمدن او پرمختګ نوم ورکوي په حقيقت کې په دوو دليلونو دروغ وايي، ځکه د دوی موخه د خپلو غوښتنو او غرو څخه د خوند اخيستلو پرته بل څه نه دي او غواړي د غړو او بدن په ليدلو سره خوند ترلاسه کړي. دوی دا جرائت نه لري چې خپله دغه ناولې عقيده په ډاګه کړي دوی دغه عقيده په بې‌مفهومه او پوښل شوو الفاظو د پرمختګ، تمدن او تکنالوژۍ تر بېرغونو لاندې په ډاګه کوي. په حقيقت کې د دوی دغه خبرې او فکر داسې بې‌معنی او پوچې خبرې دي لکه ډول چې اواز ترې پورته کيږي. دوی له درواغ ويونکو پرته بل څوک نه دي، ځکه اروپا چې دا هرڅه پکښې اوج ته رسيدلي او دوی يې دغه ډول ساز ته ګډيږي، حق يې له باطل سره ګډ کړی او په حقيقت کې د دوی په نزد حق دا نه دی چې د باطل مخه پرې ونيسي. دوی حق هغه څه ته وايي چې له فرانسې، انګلستان او امريکا څخه راغلي وي که څه هم ګډا، اختلاط او په پوهنتونونو کې د نر او ښځې يوځای والی او د لوبو په ميدان کې بربندتوب او د سواحلو پر غاړه لوڅ ګرځېدل هم وي د دوی په نزد حق دي. د دوی په اند باطل هر هغه څه دي چې له اسلامي مسجدونو او ديني پوهنتونونو او مدارسو څخه راغلي که څه هم شرف، هدايت، پاک لمني او د بدن او زړه پاکوالی وي.

CS CamScanner

د ځينې غربيانو له خبرو دا معلومېږي چې په غرب کې هم داسې کورنۍ شتون لري چې د ښځې او نر اختلاط ته عقيده نه لري او خپلو نجونو ته اجازه نه ورکوي چې د هلکانو سره چکر او سينما ته لاړې شي او دوی له دغه عمل څخه منع کوي. دغه ډله نجونې هم چې ترڅو ځوان ونه پيژني او د هغوی له کړو وړو څخه خبر ونه لري او د اخلاقو څخه يې ډاډه نه شي له هغوی سره ملګري نه کوي.

**ځينې جاهلان!** دا عقيده لري چې د ښځو او سړو ترمنځ اختلاط شهوت له منځه وړي، اخلاق سپيڅلي کوي، هوا او هوس او نني/داخلي ميلونه له منځه وړي، د دوی په خواب کې بايد وويل شي ولې د روسيې هېواد چې په هېڅ دين لکه اسلام، مسيحيت او يهوديت باندې ايمان نه لري خو بيا هم په مکتبونو کې د نر او ښځې له اختلاط څخه په کلکه ډډه کوي. چې دوی دغه عمل د خپلې تجربې په پايله کې ترسره کوي. د امريکا د مکتبونو بنسټيزه ستونزه د ښځينه زده کوونکو اميندواره کېدل دي. خوک به له دغې کړنې خوشحاله شي چې د اسلامي هېوادونو په مکتبونو کې له دغه ډول عمل سره مخ شي؟

**لورې!** زه ځوانان نه مخاطب کوم او دا هيله هم نه ترې لرم چې زما خبرو ته غوږ کېږدي او قبولې يې کړي، ښايي زما خبرې په سمه توګه وانخلي او ما پرې مسخره کړي، ځکه زما دغه فکر دوی له هغه خوندونو او شهوتونو څخه محروموي چې دوی يې خپل حق بولي؛ خو زه تاسې مخاطب کوم اې مؤمنو او ديندارو نجونو، شريفو او پاک لمنو ناواده شويو خويندو! د دغه لارې قربانيانې تاسې يئ، نو خپل ځان د شيطان په دغه قتل خونه کې مه قرباني کوئ.

د هغه پليتو او غربي تالي څټو غلامانو خبرې چې د نر او ښځې د برابرۍ

او اختلاط ښځه د آزادي، تمدن او پرمختګ تر سرلیکونو لاندې خپلې خبرې وړاندې کوي باور مه کوئ. ځکه ډېرې له دوی څخه ښځه او اولادونه نه لري او هغوی ته هیڅ خیر نه پرې رسیږي. یوازې خپل خوندونه او شهوتونه ورته لومړیتوب لري. خو زه د ځو نجونو پلار یم او ستاسو خواخوږی هم یم او له تاسې داسې دفاع کوم لکه له خپلو خویندو چې دفاع کوم او هغه خیر چې ستاسې لپاره یې غواړم تر تاسې مخکې مې د هغوی لپاره غوښتی دی. له دوی څخه به د آبرو د لمنځه تللو پرته خیر ونه ګورئ، که څه هم خبرې یې ډېرې نرمې او پستې وي. تاسې به ووینئ کله چې یوه نجلی په دغه ډول فتنو کې غرقه شي او له خوږ سره مخ شي، هیڅ یو به له دوی څخه د نجات لاس ور نه کړي او نه به یې د خوړتیا خنډ او مانع شي، ځکه د دوی سیالي یوازې ستا تر ښکلا پورې ده (ترڅو چې ښځه ښکلې وي) خو کله دې چې ښکلا له منځه لاړه نو بیا دوی یوازې تا داسې پرېږدي لکه هغه سپی چې د مرداری په هډوکي غوښه پیدا نه کړي او هډوکی پرېږدي.

**لورې!** دا وو زما څینې نصیحتونه تاته! په حقیقت کې تولې ښېګنې ستا په لاس کې دي او سړي په دغه کار کې دخالت نه لري. د خیر او نېکمرغی د دروازو کلی ستا په لاس کې دي که چېرې وغواړې کولی شې د پاکی او پاک لمنی پر لور ګام واخلې، چې ستا دغه پاک لمني او عفت د تولنې د سلامتیا ضامن ده.

د رمضان د مبارکې میاشتې د رحمت لسیزه

پای

## درېيم څپرکی

# مسلمانې خورې د خپل ځان ساتونکې شه!

لیکوال: محمد جمالزهي

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

CamScanner

## پیلیزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ وَعَلٰی آلِهِ وَصَحْبِهِ وَمَنْ وَالَاهُ.

پېغله نجلۍ د بلوغ پړاو ته په داخلېدلو د ژوند یو نوي پړاو پیلوي، ځکه په دغه پړاو کې جسمي، روحي او فکري وده او بدلون په یوه پېغله کې راځي. دا پړاو هغه دوه لارې حسابېږي چې د یوې مسلمانې ښځې شخصیت پکښې جوړېږي او د ژوند په دغه پړاو کې د رواني، ټولنيزو او اقتصادي اغېزو څخه خړوبېږي. نو په دغه وخت کې د هغه سالمه روزنه او د هغه هڅونه هغه څه دي چې د هغه د ژوند تګلوري ټاکي. په دغه مرحله کې یوه پېغله اړه ده ترڅو تر ملاتړ او څارنې لاندې ونیول شي او هغه ته د خیر رسونې څخه ځان ونه غړول شي او د هغه نوې وړتیاوې په داسې ډول رهنمايي شي ترڅو د هغه او د ټول امت په خیر شي.

دا طبیعي خبره ده چې هر انسان د نفسي غوښتنو په لور څه ناڅه میل لري خو دغه میل د ځوانۍ پړاو کې د شدت په لوړه څوکه چکر وهي او په طبیعي توګه د نفسي غوښتنو د پوره کولو شدت زیاتېږي او د پېغلې او ځوان په فکر کې د آزادۍ احساس غوټې وهي، په زړه کې شهوت په لمبو راځي نو دا حالت موږ دې ته متوجه کوي ترڅو د خپلو اولادونو په روزنه کې په هغه باندې څارونکي وو؛ نو په دغه حساس پړاو کې هره هغه نجلۍ چې سترګې يې د حیا او پاک لمنۍ په لور پرانیستې وي باید په ډېر دقت سره د دغه پړاو څخه ځان وباسي.

**نو اې خورې!** تاته دا وړاندیز کوم، که غواړې چې د ځوانۍ او پېغلتوب دغه زرینه دوره وساتې او ستا عفت او شرف له چټلتیا پاتې شي او د ژوند په

ټیل ماټیل (کشمکش) کې د خلاصون او ژغورنې په کښتۍ کې سپره شي نو بیا هم درنه وایم چې دغه یو څو پاڼې په ډېره سره سینه ولوله ترڅو ته د امنیت په یوه ټاپو کې پل کیږدې او هغه د خپلې آرامۍ سبب وګرځوې.

**خورې! خپل حجاب ته دې پاملرنه وکړه.**

خورې...

ته له هغه څه لوړه یې چې د فاسقانو سترګې پر تا پرېوځي او له هغه څه ګرانبیه یې چې د بازاري لېوانو ښکار شې، نو په خپل ځان باندې د حجاب په غوړځولو د بدۍ دروازه مه پرانیزه، چې بیا به په هغه ورځ سخت تاوان ووینې؟ [وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ، إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ] «القیامة ۲۹-۳۰»

ژباړه: او یوه پنډۍ په بلې پنډۍ پورې ونښلي، هغه ورځ به ستا د رب لوري ته ورخوځېدل وي.

دا فکر مه کوه چې حجاب ته نه پاملرنه اړینه نه ده بلکې دا یوه لویه سرغړونه او ګناه ده، غوږ شه او په دغه آیت کې فکر وځغلوه [وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى] «الاحزاب ۳۳»

ژباړه: په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ، او د تېر جاهلي دور غوندې سینګار کړې بې ستره مه ګرځئ.

او همدارنګه الله ﷻ فرمایي: [يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلاَبِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلاَ يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا] «الاحزاب ۵۹» اې پیغمبره ﷺ! خپلو مېرمنو او لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې پر خپل ځان باندې د خپلو ټکریو پلوونه خواره کړي. دا ډېره مناسبه کړنلاره ده ترڅو چې هغوی وپېژندل شي او ونه ځورول شي.

ټيل ماټيل (کشمکش) کې د خلاصون او ژغورنې په کښتۍ کې سپره شي نو بيا هم درته وايم چې دغه يو څو پاڼې په ډېره سره سينه ولوله ترڅو ته د امنيت په يوه ټاپو کې پل کيږدې او هغه د خپلې آرامي سبب وګرځوې.

**خورې! خپل حجاب ته دې پاملرنه وکړه.**

خورې...

ته له هغه څه لوړه يې چې د فاسقانو سترګې پر تا پريوځي او له هغه څه ګرانبيه يې چې د بازاري لېوانو ښکار شې، نو په خپل ځان باندې د حجاب په غورځولو د بدی دروازه مه پرانيزه، چې بيا به په هغه ورځ سخت تاوان ووينې؟ [وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ، إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ] «القيامة ۲۹-۳۰»

ژباړه: او يوه پنډۍ په بلې پنډۍ پورې ونښلي، هغه ورځ به ستا د رب لوري ته ورخوځېدل وي.

دا فکر مه کوه چې حجاب ته نه پاملرنه اړينه نه ده بلکې دا يوه لويه سرغړونه او ګناه ده، غوږ شه او په دغه آيت کې فکر وځغلوه [وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى] «الاحزاب ۳۳»

ژباړه: په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ، او د تېر جاهلي دور غوندې سينګار کړې بې ستره مه ګرځئ.

او همدارنګه الله ﷻ فرمايي: [يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلاَبِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلاَ يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا] «الاحزاب ۵۹»، اې پيغمبره ﷺ! خپلو مېرمنو او لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووايه چې پر خپل ځان باندې د خپلو ټکريو پلوونه خواره کړي. دا ډېره مناسبه کړنلاره ده ترڅو چې هغوی وپېژندل شي او ونه ځورول شي.

نو د لېدونکو پر وړاندې د چادرۍ لرې کول او د زينت او ښايست ځرګندول او د پړوني په پرانيستلو سره د خپل حجاب ماتول، دا ټول هغه څه دي چې د بې حجابۍ پيليزه جوړوي او د رب له لوري عذاب ته لار پرانيزي، ځکه له ځاځکو ځخه سيند جوړيږي.

خورې! زه دا ګمان نه کوم چې ته به د حجاب پوره شرطونه ونه پيژنې ځکه که د لوستي نه وي خو ستا د بدن په ژورو کې پټ دي او ستا د فطرت او سليقې سره ښه اړيکه لري، نو حيا ستا سليقه او حجاب ستا حيا ده.

إِذَا لَمْ تَخْشَ عَاقِبَةَ اللَّيَالِي　　　وَلَمْ تَسْتَحِي فَاصْنَعْ مَا تَشَاءُ

که د شپو له ناوړه پايلو څخه وېره نه لرې او شرم نه کوې، نو څه دې چې زړه غواړي هغه ترسره کړه.

فَلَا وَاللهِ مَا فِي الْعَيْشِ خَيْرٌ　　　وَلَا الدُّنْيَا إِذَا ذَهَبَ الْحَيَاءُ

په الله ﷻ قسم که حيا له منځه ولاړه، نو بيا په ژوند او دنيا کې هېڅ خير نشته.

غوره ګڼم چې د حجاب شرطونه درته وړاندې کړم، ځکه د مؤمنانو لپاره يادونه ګټوره ده.

شرعي حجاب اته لاندې شرطونه لري:

۱) بايد د ښځې ټول بدن وپوښوي.

۲) په خپله ښايست نه وي.

۳) پراخه وي.

۴) معطر او له خوشبويۍ پاک وي.

۵) د نامسلمانو مېرمنو له لباس سره ښکاره توپير ولري.

۶) د نارینه لباس ته ورته نه وي.

۷) مشهور لباس نه وي.

۸) پنډ او ډبل وي.

دا د حجاب هغه شرطونه وو چې د الله ﷻ له کتاب، د رسول ﷺ له حدیثو او د امت د سلفو د آثارو څخه ثابت دي.

خورې! دا فکر مه کوه چې بې حجابي د ټول آرایش په ځرګنده لوڅولو ته وایي. بلکه هر هغه لباس چې د خپل کور پرته بل ځای واغوندې او د شرعي حجاب شرطونه او ځانګړنې پکښې صدق ونه کړي دا بې حجابي او ګناه ده.

په لارو باندې د پړوني او چادري پرانیستل او د ځېرې ښکاره کول او اوږو بهر ویستل د نوې بې‌حجابی نښانې دي چې د نوي حجاب په ډول ځرګند شوي دي.

د الله ﷻ په دغه خبرو کې فکر وکړه چې فرمایي: [وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى] «الاحزاب ۳۳» په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ او د تېر جاهلي دور غوندې سینګار کړې بې ستره مه ګرځئ.

دا هغه امر دی چې د پخواني جاهلیت وخت د ښځو سره موږ ته شوی، غوږ شه چې د هغه ښځو لباس څه ډول و؟

علامه ابوحیان رحمه الله وایي: د جاهلیت د وخت عادت دا وو چې آزاده او وینزه ښځه به په لوڅه ځېره او د یوه څادر سره له کوره د باندې وتله.

همدارنګه وایي: د جاهلیت په دوره کې یوازې د ښځو ځېرې ښکارېدلې

(البحر المحیط ج۷، ص ۲۵۰).

خو د اوس وخت د هغه سره څومره ورته دي...!

نو فکر وکړئ. د حجاب په اغوستلو کې ننی اسان نیوونه او د نامحرمو پر وړاندې هغه ته نه پاملرنه، همغه د جاهلیت د زمانې بې حجابي ده چې د جاهلیت د زمانې ښځې د دغه توغ وړونکې او سرلارې وې.

فراء وايي: (د جاهلیت په زمانه کې ښځو خپل پړوني د شا لور ته خوړندول، مخ او سینه به یې لوڅه پرېښودله، په همدغه دلیل هغه ته امر وشو ترڅو ځان په پوره ډول پټ کړي، فتح الباري حافظ ابن حجر ج۸، ص۲۹.

اوس تاسې غور وکړئ چې هغوی ته امر وشو ترڅو د خپل بدن مخکې لوری وپوښوي او په دې هم غور وکړئ چې د جاهلیت د زمانې ښځو ته دا امر یوازې د هغوی د مخ نه پټولو په اړه و نه د لاسونو او پښو د پنډیو چې دا په خپل ځای د دې دلیل هم کیدای شي چې مؤمنې ښځې ته د حجاب امر د ټول بدن بشپړ پوښل دي، یعنې د حجاب هغه ډول چې قرآن مشخص کړی او په سنتو کې د هغه عملي بېلګې څرګندې دي او د صحابه وو او تابعینو ښځو هغه خپله کړنلاره ګرځولې دي.

ذَهَبَ الَّذِيْنَ يَعَاشُ فِيْ أَكْنَافِهِمْ  وَبَقِيْتُ فِيْ خَلْفٍ كَجَلْدِ الْأَجْرَبِ

هغه کسان ولاړل چې تر سیورې لاندې به یې ژوند کېدلو او زه په وروسته خلکو کې د پمن پوستکې په ډول پاتې شوم.

خورې! له دې څخه ډډه وکړه چې د شرم او پاک لمنې له جامې سره لوبې وکړې؛ ځکه هغه ستا د حیثیت ښکارندویه دي او د هغه سره لوبې کول د خپل شرف سره لوبې کول دي.

أَذُوْدُ عِرْضِيْ بِمَالِيْ إِلَّا أَبْدَدَهُ  لَا بَارَكَ اللهُ بَعْدَ الْعِرْضِ فِيْ الْمَالِ

په مال سره مې د خپلې آبرو ملاتړ کوم او هغه ښخایه له لاسه نه ورکوم - د آبرو پرته مال د بې برکته او بې مبارکی وي.

پخواني عرب به هم د حیثیت تر پښو لاندې کېدلو په اړه ډېر اندېښمن وو، نو د دوی د شعرونو ډېرې دېوانونه له هغه شعرونو ډک دي چې د سترو پر ورانډې د دوی د ښځو حیا او پاک لمنې ترې څرګندېږي.

د عربو څخه یوه کیسه په دې هکله هم راغلې چې د نعمان ښځه چې په مجرده مشهوره وه د هغه مجلس ترڅنګ تېرېدله چې په هغه کې نابغه (د جاهلیت دور یو شاعر) ناست و، ناڅاپه یې مخ پړونی ولوید او هغه په خپل ورغوي خپل مخ پټ کړ او د ځمکې لور ته کړه شوه او په بل لاس یې مخ پړونی (مخ پوښونکی) را واخیست. نعمان له نابغه څخه وغوښتل چې دغه کیسه په یوه قصیده کې راغونده کړي. د قصیدې پیل له دغه بیتونو پیل کېږي!

أَمِنْ آلِ أُمَيَّةَ رَائِحٌ أَوْ مُغْتَدِیَ عَجْلَانَ ذَا زَادَ وَ غَيْرُهُ مزود

آیا دا چې د اوږو د پیتې پرته سره له توښې چې تګ راتګ کوي، دا د امیه اولاده ده.

سَقَطَ النَّصِيفُ وَلَمْ تَرِدْ إِسْقَاطَهُ فَتَنَاوَلَتْهُ وَ اتَّقَتْنَا بِالْيَدِ

مخ پوښونکی یې ولوېده او ویې نه غوښتل چې هغه پرېږدي، هغه یې ونیو او په خپل لاس یې مخ له موږ څخه پټ کړ. یو بل اعرابي د جاهلیت د ښځو د مخ پوښونکي په اړه وایي:

جَزَى اللهُ الْبَرَاقِعَ مِنْ ثِيَابٍ عَنِ الْفِتْيَانِ شَرًّا مَا بَقِينَا

ترڅو چې موږ ځوانان ژوندي وو، الله ﷻ د مخ پوښونکو ته بده بدله ورکړي.

يُوَارِينَ الْحِسَانَ فَلَا نَرَاهَا وَ يَسْتُرْنَ الْقِبَاحَ فَتَزْدَرِينَا

کله چې ښځلې ښځې پټې کړي، موږ هغوی نه وینو او کله چې بدرنګې پټې کړي او هغوی بیا د موږ سپکاوی کوي.

خورې...! نو کله چې په حجاز کې د جاهلیت نه تر ننه پورې ډېرې ښځې د خپل شرف په اندېښنه کې دي؛ نو آیا دا غوره نه ده چې ته هم په اسلام کې د دغه فضلیت او شرف ساتونکې شې او د دنیا عزت او د آخرت ثواب ترلاسه کړې! لږ غور وکړه.

نو خورې خپل ټول بدن پوښونکې پړونې پر سر کړه او حیا ته دې جدي پاملرنه وکړه، خپل کور کې کېنه او په لارو او د بازارونو په دروازو کې په فاسقانو خپل ځان په ارزانه مه خرڅوه.

تاسې ته به معلومه وي چې د قریشو او هوازن ترمنځ د فجار جنګ اصلي علت د «کنانه‌اي» ځوانانو هغه ښځې ته لاس اوږدول وو تر څو خپله څېره لوڅه کړي، چې په همدغه وخت کې یادې ښځې چیغه وکړه: اې د عامر اولادې (مرسته)! او د بني عامر تورو هم هغه ته لبیک وویلو.

افسوس چې اوس ډېرې نجونې د تلیفوني اړیکو خوراک شوې او خپل ځان یې د تباهۍ تر پولې رسولی، او دا څه لویه تباهي ده چې د ناپوهه نجونو ور یې ورټکولی! تردې چې دا کیسې په داسې جالبو کیسو اوښتې چې پخواني یې وروستنیو ته بیانوي.

مسلمانې خورې! له شک پرته چې د نن ځوانانو له دردوونکو پېښو به خبره وې او ښایي د هغه له تلیفوني اړیکو څخه به هم دار ولرې، خو بیا هم ډېرې ناپوهې نجونې دغه ډول اړیکې د خپلې تفریح تګلاره جوړوي.

خو بیا هم که د دغه ډول آسانه نیوونکو تلیفوني اړیکو او د هغه د دردونکو پایلو څخه ناخبره وې او ستا کورنی هم دا بابېزه ګڼي دغه

خواشینوونکې کیسه ولوله.

دا د هغه پیغلې نجلی کیسه ده چې د تلیفوني اړیکو ښکار شوې وه خپله کیسه په دې ډول بیانوي:

زه یوه ۱۵ کلنه نجلی یم، کورنی، تولنیز او زده‌کړه‌ایز ژوند مې په طبیعي ډول روان وو او د الله ﷻ په فضل له کومې ستونزې پرته مې لومړنی زده‌کړې بشپړې کړې او د هغه وخت له پیښو هېڅکله اغېزمنه نشوم او ښایي دلیل زما کم سن او عمر وي چې په هغه وخت کې ما د ژوند حقیقت نه وو پېژندلی؟ خو کله مې چې خپل قدم د منځنیو زده کړو په دوره کې کېښود نو په بې‌لارۍ مې سر شو. په لومړیو کې به د وړو ګناهونو په ډنډ کې لوبدلم تردې چې د لویو ګناهونو سمندر ته هم ورټیل وهل شوم. لویه ګناه مې هم وکړه، دغه وخت کې ما داسې احساسوله چې زه په اور سوزم او لومړی قدم دا وو چې د یوه ناپېژند سړي سره مې تلیفوني اړیکه پیل شوه.

یوه ورځ په خپله کوټه کې د درسونو سره په مطالعه بوخته وم، خور مې ویده وه، ورور مې په بل ښار کې و او پلار مې هم په کور کې نه و او مور مې هم د کور له کارونو بې‌خبره وه.

تر ټولو مهمه دا وه چې یوازې وم او د آرامی او اطمینان په فضا کې په مطالعه باندې بوخته وم، الله ﷻ مې له زړه خبر دی! په همدغه وخت کې ناڅاپه تلیفون ته زنګ راغی، دا چې په کور کې څوک نه وو نو مجبوره شوم چې ځواب ورکړم، تلیفون ته په ځواب ورکولو مې د لېوه ډوله او لېوه صفته انسان غږ تر غوږونو راورسېد چې په نرمو او پستو خبرو یې زه مخاطبه وګرځولم. د دغه ډول کلمو اورېدل زما لپاره عادي نه وو؛ نو دغه وخت کې مې وجود لړزې واخیست که څه هم د خبرې کوونکي خبرې نرمې وې.

ماته بې وويل: دغه د فلاني کور دی؟ ورته ومې ويل: شماره او نمبر دې خطا کړی. خپله هم پوهېدلو چې نمبر مې اشتباه کړی خو بيا يې هم په صداقت سره راته وويل چې خبرې راسره وکړه.

ورته ومې ويل: څه غواړې ويې ويل: غواړم له تاسره پېژندګلوي پيدا کړم. په لوموړيو کې مې يې وړانديز په کلکه رد کړ، ځکه دغه ډول اړيکې ماته عادي نه وې او مخکې مې هم تجربه کړې نه وې، که څه هم په مکتب کې مې ملګرو دغه ډول کيسې راته کړې وې او يا ډېری نجونو تجربه کړې هم وې، خو ما حتی د دغه ډول نجونو څخه ځان لرې ساتلی و او دا فکر خو مې هېڅ نه و کړی چې زه به هم له هغوی څخه يوه شم.

له دوی څخه يوه مې ټولګيواله هم وه، د مشورې په نيت مې هغه خبره کړه؛ خو هغه بده مشاوره وه او زه يې په ډېره ټينګه سره دغې کار ته وهڅولم ترڅو ادامه ورکړم.

په ځانګړې ډول چې دغه کار له ما مخکې هغې سره هم شوی و؛ خو زما لپاره يو نوی شی و او له هغه څخه خبره نه وم او هېڅکله مې په خپل ژوند کې تجربه کړی نه و.

تر ټولو د تعجب او حيرانتيا ځای دا دی چې ما يې ځنګه شيطاني نصبحتونو ته غوږ کېښود، ځنګه چې زه له مخکې له دغه ډول تليفوني اړيکو وېرېدلم نو يو د حيرانتيا خبره وه، نه پوهېدم چې عقل مې له سره څخه کوم ځای کډه کړې وه او دا مې هېره کړې وه چې الله ﷻ زما په کارونو باندې ليدونکی دی، ترڅو چې ځان مې هم هېر کړی و، هغه هم په دې ډول چې د الله ﷻ نه وېره او ډار او له دغه ډول اړيکو ډار، هرڅه له مانه تللي وو، ترڅو چې ما فکر کولو چې کومه ستونزه نه لري يا زما د تليفوني ملګرې د صفت پر بنسټ دا زما لپاره د آرامی او تفريح يوه لار ده!!

بنسټيزې او د عمل وړ سرچينې د الله ﷻ کتاب او د پيغمبر ﷺ مبارک احاديث وو، هرڅه مې هېر کړي وو؛ نو په زړه کې مې وويل ولې دا ځل دغه ډول اړيکې نه تجربه کوم، ښايي په دې کې هغه ډول نېکمرغي ترلاسه کړم د کومې چې زه پلټنه کوم، نو په عملي ډول مې د هغه ځوان (لېوه) سره خبرې پيل شوې او هر سهار به مې ټولې هغه خبرې چې زما او زما د تليفوني ملګري ترمنځ کارته او پورته کېدلې خپلې ملګرې ته کولې او ما به په خپله ژبه هغه څه ورته ويل څه به چې زما تليفوني ملګري ماته ويلي وو.

حتی تردې چې له توبې وروسته او د هغه ورځو له يادونې وروسته به مې دا احساسوله چې ما په څومره بې‌عقلی د هغه خبرو ته غوږ نيولو او د هغه ګوتمې په شان چې يو څوک يې په لاس کې ښکته او پورته کوي ما هغه ته ځان سپارلی و.

يوه ورځ له ورځو څخه کله چې د هغه شيطان سره په خبرو بوخته وم، هغه وروز مې چې له سفر څخه راغلی و ټولې دغه خبرې واورېدلې. څومره لويه رسوايي!!! په هغه وخت کې ما دا فکر وکړ چې نور زه مړه شوم او له شرم او ډار څخه اوبه شوم. له دغه پېښې وروسته مې د رېښتينې توبې قصد وکړ او څه چې زما ايمان او اسلام باندې تور داغ وي له هغه څخه ځان وژغورم.

خورې! دغه نجلی خپله کيسه او رسوايي په خپل کور کې د خپل وروز پر وړاندې پای ته رسولې، خو داسې ډېرې پېغلې نجونې شته چې رسوايي يې د کور له ديوالونو بهر شوې او د ډېرو مزاحمتونو له مخې يې خبره تر ليدنو او کتنو رسېدلې او د ځينو خو آن برخليک د فحشا تر بريده رسېدلی، نورې يې د هدف له پوره کېدلو وروسته يوازې پرېښې او د تل لپاره يې د خپل کور او کورنۍ او ټولنې لپاره يو ننګ ګرځېدلې او هغه وخت يې سرته ماغزه راغلي او پښېمانه شوې چې نور نو ګټه نه ترې حاصليږي.

بِيَدِ الْعَفَافِ أَصُوْنُ عِزَّ حِجَابِي وَ بِعِصْمَتِي أَعْلُوْ عَلَى أَتْرَابِي

د پاکې لمنې پر عزت مې د خپل حجاب ساتنه کوم او پر سپېڅلتیا مې له خپلو همزولو مخکښوالی ترلاسه کوم.

وَ بِفِكْرَةٍ وَ قَادَةٍ وَ قَرِيْحَةٍ نَقَادَةٌ قَدْ كَمُلَتْ آدَابِي

او په روښانه فکر او باریکې سلیقې زما آداب پوره شوي دي.

مَا ضَرَّنِيْ أَدَبِي حُسْنُ تَعَلُّمِي أَلَا بِكَوْنِيْ زُهْرَةَ الْأَلْبَابِ

ټول شموله ښکلي ادب ماته څه تاوان نه دی را رسولی، بلکې له دې پرته چې زه د عقلونو یو ګل ګرځېدلې یم.

مَا عَاقَنِيْ خَجَلِيْ عَنِ الْعُلْيَا وَلَا سَدَلَ الْخِمَارُ لُمَّتِيْ وَنِقَابِيْ

زما حیا او شرم زه لوړتیا ته له رسېدو نه یم ګرځولې او د لوی پړوني په وسیله د ویښتانو او مخ پټولو څخه یې زه نه یم منع کړې.

**خورې! پرخان خارونکې شه بازار د انساني لېوانو پټنځای او د کمین مرکز دی.**

له شک پرته چې بازار د راټولېدنې هغه مرکز دی چې په هغه کې د بنده‌ګانو د مصلحتونو د رعایت په موخه اخیستل او خرڅول او د هغه اړوند ضرورتونه پوره کېږي، خو له شک پرته چې د فتنو، چل ورکولو، خوند اخیستلو او نورو بې لاریو څخه هم خالي نه دی، ځکه د دنیا لپاره یو د سیالی میدان دی، په همدغه دول د الله ﷻ پر وړاندې یو له تر ټولو منفورو ځایونو څخه دی. پیغمبر ﷺ وایي: د الله ﷻ پر وړاندې غوره ځایونه مسجدونه او بد/ناوړه ځایونه بازارونه دي، مسلم.

مسلمانې خورې! نو له دغه ځايه بازار ته تلل د ځان لپاره يو ډول آداب لري، چې له کور څخه بهر پر ښځه لازم دي ترڅو هغه په پوره ډول رعايت کړي، البته هغه آداب چې په عمومي ډول بايد رعايت شي د هغه رعايت په بازار په ځانګړې توګه د نن ورځې په بازارونو کې له نورو ځايونو ډېر ضرور او لومړيتوب لري.

خورې! د بازار په څنډو کې د بې‌کاره فاسقانو پټ اهداف، د بازار په دروازو د ځوانانو سترګې ځرول او بد کتل په هېڅ‌ډول پټ نه دي او دا يو څرګند حقيقت دی. هغوی په دې لټه کې دي ترڅو په هره حيله او بهانه مسلمانې نجونې په خپل بېکاره دام کې راګيرې کړي.

که هر څومره وعظ کوونکې، په نېکۍ امر کوونکې او له بدۍ منعه کوونکې هڅې وکړي خو بيا هم شيطان په بېلا بېلو ځايونو کې خپل پيروان لري.

اِنَّ الرِّجَالَ نَاظِرِيْنَ اِلَى النِّسَاءِ　　مَثَلُ السِّبَاعِ تَطُوْفُ بِاللُّحمَانِ

هغه سړي چې د ښځو پر لور خپلې سترګې پرانيزي د هغه ډول ځيرونکو ځناورو په څېر دي چې د غوښې شاوخوا څرخيږي.

اِنْ لَّمْ تَصُنَ تِلْكَ اللُّحُوْمُ اُسُوْدَهَا　　اُكِلَتَ بِلَاعِوَضٍ وَلَا اَثْمَانِ

که له دغه غوښو يې خپل زمري ساتنه ونه کړي نو له قيمت او بديل پرته به وخوړل شي.

خورې! که د اړينو ضرورتونو لپاره د بازار پر نيت کور پرېږدې نو د لاندې آدابو په مراعاتولو سره بيا ډېره ستونزه نه ليدل کيږي:

۱) د خپل ولي څخه اجازه اخيستل، که هغه مور او پلار وي يا مېړه وي

چې د مېړه په حق کې دغه مسئله تر وجوب رسېدلې او دېره مهمه ده چې نصوص يې په اړه داسې دلالت کوي: [الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ] «النساء ۳۴». نارينه پر ښځو مسلط اداره چيان دي، له دې امله چې الله ﷻ د هغو ځينو (نارينه‌وو) ته پر ځينو نورو (ښځو) لوړتيا ورښلې ده.

۲) له تاسې سره بايد حتماً يو محرم کس ملګری وي او دا روا نه ده چې د ډېرور سره يوازې وئ؛ ځکه رسول ﷺ فرمايي: هېڅ سړی د له ښځې سره نه يوځای کېږي مګر په داسې حال کې چې د هغه ښځې سره محرم وي.

يا دا چې ستاسو سره بله ښځه او يا سړی وي او پر تاسو څوک بدګمان ونه کړي ځکه د محرم شتون د بازار پېښېدونکې سردردي دفع کوي.

۳) د حجاب او حياء مراعاتول؛ نو هېڅکله بايد د سودا پلورونکي او خرڅوونکي سره په نرمۍ او ناز باندې خبرې ونه کړئ. ځکه دا يوه لويه فتنه ده او دا هغه خطرناکه فتنه ده چې تاسې سودا خرڅوونکي ته د دې وخت ورکوئ ترڅو د اخيستلو او خرڅولو لوړ قدم کېږدي او نوره خبره مخکې ولاړه شي.

يَا قَوْمِ أُذْنِي لِبَعْضِ الْحَيِّ عَاشِقَةٌ وَالأُذْنُ تَعْشَقُ قَبْلَ الْعَيْنِ أَحْيَاناً

اې خلکو زما غوږ د ځينو خلکو عاشق دی او کله کله له سترګو مخکې غوږ عاشق کېږي.

الله ﷻ وايي: [يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلاَ تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفاً] «الاحزاب ۳۲». اې د پيغمبر ﷺ مېرمنو! تاسې د عامو مېرمنو غوندې نه ياست. که تاسې د الله ﷻ څخه وېرېدونکې ياست، نو په داسې لهجه خبرې مه کوئ چې د زړه په خرابوالي اخته کوم سړی (نامشروع) تمه پيدا کړي، بلکې سمې غوره خيرې خبرې کوئ.

۴) په دوکانونو، پلورنځیو او لارو کې د سړیو د اختلاط او ګډې ناستې پاستې ښځه ځان وژغوري او که کوم سپین سترګي فاسق ستاسې سره خبرې کولې او یا یې کوم کاغذ درکولو نو د ځواب ورکولو او کاغذ اخیستلو ښځه په کلکه ډډه وکړئ، ځکه دا د ناپوهو نجونو لپاره په دام کې د غورځولو یوه ښکاره لار ده، اصیله او پاک لمنې ښځه د خپلې آبرو ساتنه کوي او دغه ډول بې عقلیو او خرتوبیو ته ځواب نه ورکوي لکه څنګه چې شاعر څومره ښه ویلي دي:

فَنَظْرَةٌ فَابْتِسَامَةٌ فَسَلَامٌ        فَكَلَامٌ فَمَوْعِدٌ فَلِقَاءُ

لومړی کتل، بیا خندا، بیا سلام او په پایله کې خبرې او د لیدنې وعده.

خورې! دا ښه په یاد ولره چې بازارونه د کړوالي او بې لارېتوب مرکزونه دي، څومره چې له هغه لرې وې نو د هغه فتنو له بدی ځخه چې په بازارونو کې پټې دي په امن کې به وې او په دې هم پوهه شه چې ستا په کور کې پاتې کېدل ستا تر ټولو لوی د امن او هوساینې عامل دی.

الله ﷻ فرمایي: [وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ] «الاحزاب۳۳» او د تېر جاهلي دور غوندې سینګار کړې، بې ستره مه ګرځئ.

**خورې! ځان ته دې پاملرنه وکړه؛ ځکه ملګری انسان د ځان په لوري جذبوي:** بدو ملګرو ډېر زیات پاک انسانان د نابودۍ لور ته کش کړي او ډېرې پاک لمنې خویندې چې د تباهۍ ډنډ ته غورځولې او بې ګناه نجونو ته یې د بې لارۍ او فساد لارې غوره معرفي کړې، ترڅو په دغه ډول دوی د ګناه لار خوښه کړي. د حیرانتیا خبره نه ده؛ ځکه د الله ﷻ پیغمبر ﷺ د بدو ملګرو اغېز بیان کړی دی او داسې یې فرمایلي دي: د ښه او بد ملګري مثال د عطرو خرڅونکي او آهنګر دی، د عطرو خرڅوونکي ځخه به یا عطر اخلې یا به یې

بوی ترې حس کوې او یا به یې درته ډالۍ کوي او د آهنګر ځخه به د یا جامې سوزځېږي او یا به د هغه بد بوی تر پوزو رسیږي (بخاري او مسلم).

مسلماني خورې! خیر شه چې له چا سره ملګرې شې او د هغه په اړه فکر وکړه.

اَلنَّاسُ شَتَّیٰ إِذَا مَا أَنْتَ ذُقْتَهُمْ لَايَسْتَوُوْنَ كَمَا لَايَسْتَوِى الشَّجَرُ

خلک یو له بل سره توپیر لري کله چې هغه وازمایې نو وبه وینې چې یو ډول نه دي لکه ځنګه چې ونې یو له بل سره برابرې نه دي.

هٰذَا لَهُ ثَمَرٌحُلْوٌ هٰذَا مُذَاقَتَهُ وَ ذَاکَ لَيْسَ لَهُ طَعَمٌ وَلَا ثَمَرٌ

دغه یوه خوږه مېوه لري او هغه یوه هیڅ مېوه او خوند نه لري.

نو که چېرې دې ملګري غوره خلک وي نو درته مبارک دې وي چې دا ډول ملګري لرې؛ خو که ملګري دې بې لارې او ګمراه وي نو دا په یاد ولره چې یوه ورځ به سخته پښېمانه شې!

لَا تَعْجَبْ أَخَا اَلْجَهْلَ فَإِيَّاکَ وَ إِيَّاهُ

له ناپوه ملګري سره ملګري مه کوه او ځان ترې وساته.

فَكَمْ مِنْ جَاهِلٍ أَرْدیٰ حَلِيْمًا حَتَّىٰ يَغْشَاهُ

ډېر داسې شوي چې ناپوه ملګري یو حلیم ملګری په ځمکه وهلی او هغه یې په بشپړ ډول په ناپوهۍ پوښ کړی.

يُقَاسُ الْمَرْءُ بِالْمَرْءِ إِذَا هُوَ مَاشَاهُ

کله چې یو انسان له بل سره ناسته ولاړه کوي نو له هغه سره پرتله کیږي.

وَلِلشَّيِ عَلَى الشَّى مَقَايِيْسٌ وَ إِشْبَاهٌ

او هرڅه د هم اندازې او ورته والي ځخه سنجیږي.

وَ الْقَلْبُ عَلَى الْقَلْبِ دَلِيلٌ حِينَ يَلْقَاهُ

او یو زړه د بل زړه لپاره یوه نښه ده کله چې له هغه سره لیدنه کوي.

د دې راز هم په دې کې دی کله چې ته د بېکاره او بې‌لارې نجونو سره ملګري کوې نو حتماً به یوه ورځ د هغه په دام کې راګیرېږې. که نن دا ښېښه ونه شي سبا کیږي، که سبا نه وي نو بل سبا پېښېږي، ځکه د انسان طبیعت د خپل ملګري لور ته میلان کوي. په ځانګړي ډول چې کله یو ملګری د بدیو په ښه خلولو او وړاندې کولو کې ماهر وي.

وَلَا تَجْلِسْ إِلَى أَهْلِ الدَّنَايَا فَإِنَّ خَلَائِقَ السُّفَهَاءِ تَعْدِي

د ناوړه او ټیټو خلکو سره مه کېنئ، ځکه د ناپوهانو اخلاق خپرېدونکي دي.

د بې لارو نجونو اخلاق د (پیس) ناروغۍ ته ورته دي چې په لومړۍ اړیکه کې انتقالیږي.

زموږ د اسلافو ښځه یو تن د بدو ملګرو په اړه داسې وایي: بد ملګري له خپل ملګري سره خیانت کوي. ملګري فاسدوي، هغوی ته نږدیوالی د ګرې = پیس ناروغۍ ښځه چټک خپرېدونکی دی، د هغوی ښځه لرېوالی د دینداری د یوې برخې کمال دی او یو کس د خپل ملګري په واسطه پېژندل کیږي.

أَنْتِ فِي النَّاسِ تَقَاسُ بِمَنْ اخْتَرْتَ خَلِيلًا

ته د خلکو په منځ کې په هغه غوره کړي دوست سره آزمایل کیږې.

فَاصْحَبَ الْأَخْيَارِ تَعْلُوْ وَتَنَلْ ذِكْرًا جَمِيلًا

نو د غوره خلکو ملګرې شه چې لوړې ته ورسیږې او نېک نوم ترلاسه کړې؛ نو ځکه مامون وايي: ورونه په درې ډوله دي: یو د ډوډۍ په ډول دي چې هغه ته ضرورت لرې، نور داسې دي لکه دوا کله کله ورته اړتیا پیدا کوې،

وي. خو یو کس به او دریم هغه ډول دي لکه ناروغي چې هېڅ اړتیا ورته نه

هغه آزمایل کیږي او هغه کس هغه څوک دی چې هېڅ گټه پکښې نشته.

خورې! نو له بدې ملگرې څخه لرې اوسه، څکه هغوی ستا د نابودۍ او تباهی سبب او د وختونو او ستا د عمر د ضایع کېدو باعث کیږي.

ډېرې داسې نجونې وې چې بدو ملگرو یې په دام کې راگیر کړې او د هغوی په لمنو یې تور داغونه ولگول! او ډېرې یې په مخدره توکو روږدې کړې چې خبره تر رسوایی پورې رسېدلې او د خپلې کورنی د سرخوړی سبب شوې او ډېرې داسې نجونې هم شته چې د بدو کارونو وړاندیز ورته شوی او کله یې چې رد کړی نو په ډېره څیرکتیا سره یې شته ستونزې له منځه وړې او د خپلې کورنی د لارښوونې سبب گرځېدلې او ډېر نور شیان... نو د بدو سره د ملگری ووېرېږه څکه دا د تباهی او اور په لور یوه لویه لاره ده.

وَحْدَةُ الْإِنْسَانِ خَيْرٌ　　مِنْ جَلُوْسِ السُّوْءِ عِنْدَهُ

له بد دوست څخه یوازې اوسېدل غوره دي.

وَجَلِيْسُ الصِّدْقِ خَيْرٌ　　مِنْ جَلُوْسِ الْمَرْءِ وَحْدَهُ

او غوره او رښتینی ملگری د یوازې اوسېدلو نه غوره دی.

د الله ﷺ پیغمبر رښتیا ویلي دي: یو کس د هغه د ملگري په دین دی. نو وگورئ چې له چا سره دوستي کوئ (ابوداود او ترمذي).

که مو غوره دوست او ملگری پیدا کړ پر هغه ځان ټینگ کړئ څکه غوره ملگری په اوس وخت کې د نه پیدا کېدونکې گرانبیه سکې په ډول دی.

علی رضي الله عنه وایي: حتماً دوستان پیدا کړئ څکه غوره دوستان د دنیا او آخرت توښه ده... آیا تاسې د دوزخیانو له خولې نه اورئ چې وایي: [فَمَا لَنَا مِن

شَافِعِينَ، وَلاَ صَدِيقٍ حَمِيمٍ] «الشعراء،۱۰۰-۱۰۱» اوس نه زموږ څوک سپارښت کوونکي شته او نه څوک صمیمي دوست.

وَ اِذَا بَحَثْتَ عِنْدَ التَّقِي وَجَدْتَهُ          رَجُلاً يُصَدِّقُ قَوْلَهُ بِفِعَالِ

که چېرې د یوه پرهېزګار په لټه کې شې هغه به په داسې حال کې ووینې چې د هغه عمل د هغه د خبرو تصدیق کوي.

وَ اِذَا اِتَّقَى اللّٰهَ اَمرَؤٌ وَ اَطَاعَهُ          فَيَدَاهُ بَيْنَ مَكَارِمٍ وَ مَعَالِ

کله چې یو انسان له الله ﷻ ویرېږي له هغه اطاعت کوي او دواړه لاسونه یې په نیکیو او لویو کارونو کې مصروفه وي.

وَ عَلَى التَّقِي اِذَا تَرَاسِخَ فِي التُّقَى          تَاجَانِ تَاجُ سَكِينَتِهِ وَ جَمَالِ

کله چې د تقوا دار پر سر تقوی له پاسه پرېوځي نو دوه تاجه ده، یو یې د آرامی تاج دی او بل د ښکلا.

وَ اِذَا تَنَاسَبَتِ الرِّجَالُ فَمَا أَرَى          نَسَبًا يَكُونُ كَصَالِحِ الْاَعْمَالِ

که خلک ټول له یو نژاد او نسب څخه وي نو زه د نېکو اعمالو څخه غوره نسب نه وینم.

## خورې! هر مجلس له خان سره آداب لري.

مسلمانې خورې! په یاد ولره چې د مجلسونو اصلي موخه د خبرو او لوړتیا د توښې ترلاسه کول، د خپلوی اړیکې پالل، د الله ﷻ په خاطر لیدنه کتنه او نور لوړ اهداف لکه تربیه، ښوونه، مشوره او د مسلمانانو کارونو ته پاملرنه کول دي چې اسلام روا ګرځولي او تائید کړي دي.

په همدغه ډول مجلسونه او ناستې هم دوه ډوله دي. د امر منلې او لوړتیا

مجلسونه او د امر نه منني او پښېمانتیا مجلسونه، د اطاعت او لوړتیا مجلسونه د ذکر او لار موندنې مجلسونه دي. رسولﷺ فرمايي: هره ډله چې د جوماتونو څخه په یو مسجد کې راټول شي او د اللهﷻ کتاب تلاوت کړي او په هغه کې څېړنه او مطالعه وکړي نو د رحمت پرښتې هغه رانغاړي او د هغوی رحمت يې پوښوي پر هغوی ارامي نازلیږي او اللهﷻ دوی هغه یادوي چې د اللهﷻ پر وړاندې دي (مسلم).

دغه ډول مجلسونه د ایمان د زیاتوالي مجلسونه، د اجر او نیکۍ د زیاتوالي مجلسونه دي او د خپلوۍ مجلسونه دي، په دغه مجلسونو کې یوازې د اللهﷻ د رضا په خاطر لیدنه او کتنه کیږي، په دغه مجلسونو کې مسلمانانو د مهمو کارونو یادونه کیږي او ډېرې نصوص يې د مستحب والي او کله په واجب والي دلالت کوي. او ټول د هغه خیر او نیکۍ نمونې او بېلګې دي چې اللهﷻ په هغه امر کړی دی: [وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ] «المائدة ٢» کوم کارونه چې د نېکۍ او خدای پالنې دي، په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تیرې وي په هغو کې د هېچا ملاتړ مه کوئ.

خو د امر نه منني او پښېمانتیا مجلس هغه مجلس دی چې د اللهﷻ له اطاعت څخه خالي وي او د اللهﷻ د نافرمانۍ او فسق په خاطر خلک پکښې راټولیږي، په حدیث کې راغلي دي: هره ډله چې په هغه مجلس کې کېني چې په هغه کې د اللهﷻ نوم وانه خیستل شي او په رسولﷺ درود ونه لیږل شي نو دغه مجلس به د قیامت په ورځ پر دوی باندې وبال او سختي وي که اللهﷻ وغواړي نو ببننه به ورته وکړي او که ونه غواړي نو عذاب به ورکړي (ترمذي حسن صحیح).

یوازې په مجلس کې د اللهﷻ د یاد څخه بې پروايي د قیامت د ورځې د

پښېماني سبب کېږي څه خو لا دا چې په مجلس کې د الله ﷻ نافرماني ترسره شي!

مسلمانې خورې! په هغه مجلسونو کې چې غیبت، بهتان، د بل چا د عزت او پردې سپکول او د خپل درنه او د بل سپکه ویل دي په کلکه ډډه وکړئ. په حدیث کې راغلي دي: دوه کسانو د درېیم کس د آبرو تویولو په اړه خبره کوله. رسول ﷺ او ورسره ملګرو یې خپلې لارې ته ادامه ورکوله تردې چې رسول ﷺ د خره په جسد ودرېد.

کله یې چې سترګې پر هغه ولګېدې ویې ویل: فلانی او فلانی چېرې دي؟ ویې ویل موږ دلته یو اې د الله ﷻ رسوله، لاندې راشئ او دغه جسد وخورئ. ویې ویل اې د الله ﷻ رسوله چا تراوسه مردار جسد خوړلی؟ ویې فرمایل: په الله ﷻ قسم تر تاسې لږ مخکې ملګرو پسې تاسې بد ویل د دغه مردار جسد د خوړلو څخه هم بده وه (بخاري).

نو له دې څخه ډډه وکړئ چې خپلې نېکۍ په بدو خبرو، آبرو تویونه او د نورو د رازونو په پلټلو کې له لاسه ورکړئ، همدارنګه لکه په حدیث کې چې راغلي دي: د قیامت په ورځ به داسې انسانان راوستل شي چې د «تهامه/بیضا» د غرونو په شان له ځان سره نېکۍ لري خو الله ﷻ به یې ټولې نېکۍ له منځه یوسي. وویل شول دا څنګه داسې ورسره کېږي اې د الله ﷻ رسوله؟ ویې ویل: یو له هغوی به د قیامت په ورځ راوستل شي چې د یو چا وینه یې تویې کړې وي او د بل سړي یې آبرو تویې کړې وي او د یوه انسان بد یې ویلي وي (ابن ماجه).

فَاحْفَظْ لِسَانَكَ وَاحْتَرِسْ مِنْ لَفْظِهِ  فَالْمَرْءُ يُسْلِمُ بِاللِّسَانِ وَيَعْطِبُ

خپله ژبه دې په واک کې وساته او د خبرو یې څارونکی شه، ځکه یو څوک په ژبه سالم پاتې کېږي او یا له منځه ځي.

وَزِنْ الْكَلَامَ إِذَ نَطَقْتَ وَلَاتَكُنْ ثَرْثَاراً فِي كُلِّ نَادٍ تَخْطُبُ

د خبرو ويلو وخت کې خپله خبره وسنجوه او په هر مجلس او ناسته کې ډېرې خبرې مه کوه.

وَالسِّرُّ فَاكْتُمْهُ لَاتَنْطِقْ بِهِ فَهُوَ الْأَسِيْرُ لَدَيْكَ إِذَا لَايَنْشَبُ

او راز درسره پټ وساته او هغه مه تيتوه، ځکه هغه د بندي په ډول دې تاسره دی.

مسلمانې خورې! د لهو ولعب او موسيقی له ناستو او مجلسونو ځخه ځان وساته! ځکه دا هغه څه دي چې د الله ﷻ د ناخوښی سبب ګرځي. په ځانګړي ډول هغه هم په هغه وخت کې چې تا له لمانځه ځخه غافله کړي او وختونه دې ضايع کړي او دا هغه څه دي چې د آسمانونو او ځمکې پيدا کوونکي ذات سره ستا د تاوان سبب جوړېدای شي.

وصلى الله على محمد وعلى اله وصحبه أجمعين.

د وږې د مياشتې ۲۲مه، ماسپښين درې بجې او څلور دقيقې.

# څلورم څپرکی

## خورې! سر دې پورته کړه ته مسلمانه يې!

## خورې سر دې پورته کړه ته مسلمانه یې!

په دغه ورځو کې د ښځې د آزادی کلمه زیات زموږ تر غوږونو رارسېږي خو دا له څه شي آزادي؟!

اصلي ستونزه د دوی دا نه ده چې د ښځې حقیقي آزادي غواړي بلکې د دې عکس، دا هغه کسان دي چې ناروا او حرام کارونه زموږ د سترګو پر وړاندې خلوي ترڅو خلکو ته چل ورکړي او د حقیقي لارې څخه یې لرې بوځي. د دوی یوازې دا ستونزه نه ده، دوی ماده پرست خلک دي او خپلې ټولې هیلې او کارونه یې تر مادي کارونو پورې تړلي. ستونزه دا ده چې ځینې خلک د دوی لار تعقیبوي او په خبرو یې باور کوي. موږ د یو داسې ځنګل په زړه کې ژوند کوو چې ځیرونکي او بې رحمه حیوانات زموږ چاپېره دي. موږ د ښکلو ګلانو په څېر په دغه ځنګل کې ژوند کوو خو ځینې له دغو ګلانو څخه د لمر د تودوخې په وسیله مړاوي کېږي او د دوی کمزوري ځانونه د درنو طوفانونو او بادونو خوراک ګرځي.

نور ګلونه هم شته چې د خپل سیوري لاندې د دغه درنو بادونو او د لمر د تودوخې څخه لرې پاتې شوي او په الله ﷻ قسم چې دا لوی نعمت دی چې باید په هر وخت کې یې شکر ادا شي.

ستا اسلام، ستا دین او هغه وېره چې ته یې له خدای څخه لرې، ستا هغه پټنځای دی چې باید پرې سر لوړې او ویاړلې اوسې. تا دا درک کړې چې یو الله ﷻ لرې او د هغه عبادت کوې. ایمان ستا په زړه کې ځای نیولی دی، نو پوه شه چې دا دین یو رښتینی دین دی. زموږ دین د آسانی او تېرېدنې دین دی او که په یوه کلمه کې یې وواېو دا د حق او حقیقت دین دی.

ته په دې وویاړه چې ته د دغه دین یوه لور یې.

اسلام تا له هیڅ شي څخه نه منع کوي بلکې اسلامي شریعت ستا د اعمالو او رفتار لپاره یو ځانګړی چوکاټ لري.

اسلام ستا لپاره کار کول نه حراموي، بلکې غواړي تا په هغه ځای او کار کې وګماري چې ستا د نازک بدن او بدني حالت او طبعیت سره مناسب وي. په هغه کار کې چې هم ستا لپاره او هم ستا د خاورې او هېواد لپاره ګټور وي.

د دغه دروغجنې ازادۍ بیرغ وړونکي غواړي چې ته د یو اوږد وخت لپاره د کور څخه بهر وې، دا ورته مهمه نه ده چې څه وخت او په کوم ځای کې؟

د دوی اصلي موخه او غرض دا دی چې ته د یو اوږد وخت لپاره خپل بچیان، مېړه او کورنۍ پرېږدې؛ ځکه ته د هغه لمر حیثیت لرې چې د کورنۍ ټول غړي ستا پر مدار د خوشحالۍ او بریالیتوب دورې وهي. ته په کور کې د هغه سپوږمۍ په څېر یې چې د کور په آسمان کې ځلیږي. که هر څو د دوی غولوونکې خبرې ستا ذهن ډک کړي نو پاملرنه ورته مه کوه، بلکې یوازې په الله ﷻ ایمان او د هغه خوښي په نظر کې ونیسه او دا له یاده مه غورځوه چې ته د دغه دین لور یې.

د تل لپاره دا وغواړه چې اسلام ستا د زړه دروازې درخلاصې کړي او ستا په سینه کې په پراخه توګه وغوړیږي. ته داسې ژوند وکړه چې د خلکو زړونه د حق په پلوۍ خپل کړې او په دې توګه د هغوی څخه خپل حق وغواړې هغه حق چې تا سرلوړۍ ته رسوي، هغه حق چې ستا څخه مخکې د پخوانیو ځلېدونکو سپوږمیو حق و. وغواړه چې الهي احکام په کړنو بدل او په عمل کې پیاده شي ترڅو ته په حجاب، وقار، اخلاقو او پاک لمنۍ سره

پوښ او ښکلې شې.

د هغه خلکو خبرو ته غوږ مه ږده چې تاته د محرومې، بې برخې او مظلومې او يا ناپوهه خطاب کوي او مه پرېږده چې ستا ځای کوچنۍ وشمېري او تا په يوې لاسي آلې او د سوداګرۍ په کالیو چې یوازې کار یې په پټو سترګو د غرب تقليد دی بدله کړي. مه پرېږده چې تا د هغه لانځکې، ناوې په ډول عام ډګر ته راوباسي، بدن دې لوڅ کړي او د خرڅلاو په منډوي کې د دې او هغې ته د کالیو په ډول وړاندې کړي.

که ته داسې شې نو بيا ته د هغوی غلام او وينزه ګرځېږې چې بيا به نه ته خپل حیثیت او شخصيت ولرې او نه به د دې خپل بدن لپاره په ارزښت قايله شې.

خپل غږ پورته کړه او د فساد او تباهی په وړاندې ځان وخوځوه! په رښتیو کې دې خپلې اسلامي عقيدې ته انعکاس ورکړه او خپل غرض د هغه خپرېدونکو انځورونو چې ستا له شان او ځای سره مخالف دي د دوی تر غوږونو ورسوه!

پر خپل شخصيت وویاړه او د هغې په لټه کې شه، پر دې پوه شه چې پخوا څه ډول وې او ستا نيکونه څوک وو او څه يې کړي وو. ته د پيغمبر د صحابياتو له نسل څخه يې، اسلام ستا ساتنه کړې او ته ورته ګرانه يې، اسلام ته په يوه لوړ ځای کې ټاکلې يې.

نو راشه او د خپل پلار زړه له مينې ډک کړه او د خپل مېړه زړه ته د هغه ملکې په ډول دننه شه چې په ډېر ناز او غرور سره خپل قدمونه مخکې کوي او خپلو بچيانو ته مينه او محبت وروښايه. کوښښ وکړه چې د تل لپاره روژه لرونکې او لمونځ کوونکې واوسې او د خپل پروردګار او پالونکي پر

وړاندې عاجزي وکړي او په درنښت او حجاب باندې خپل ځان پوښ کړي او د خپل رب څخه بدله وغواړي او د هغه شکر ادا کړي!

**خورې!**

که چېرې انسان د ژوند مهمې کړنلارې لیست کړي نو ويه ويني چې ېيخي ډېرې دي. خو که چېرې وغواړي چې هغه د لومړيتوبونو پر بنسټ په يو لېست کې ځای پرځای کړي نو د لېست لومړی کرښې به د اولادونو لپاره ورکړي، څکه د هغوی ارزښت د مال، آرامی، د نفس د غوښتنو او د دنيوي غوښتنو او خوندونو څخه ډېر دی.

**خورې!** دا په دې خاطر دی چې کله يې د بچيانو څخه کوم يو ناروغه شي نو وجود يې بې‌زغمه کيږي، دغه او هغه ور ورتکوي او زياتې پيسې هم مصرفوي او يا يې له چا څخه پور اخلي. نو له همدې کبله کله چې دا ډول کس خپلو اولادونو ته نصيحت کوي نو په پوره اخلاص او بشپړتيا سره د هغوی سره ښه رويه کوي او د مشهور قول مطابق (پلار هېڅکله د خپل زوی سره کينه نه کوي).

نن ورځ د هغو مسلمانو نجونو او لوڼو حالت چې د کشمکش او دښمنۍ په ډنډ کې غرقې او ډوبې دي، ليدل يې هر مسلمان ته دردوونکي او نه زغمل کېدونکي دي. دغه نجونې کله کله د يو چل ورکوونکي غږ ته غوږ نيسي چې په همدغه ډول دوی د پاک لمنی او عفت د ښکارندويو څخه لرې په يو ډنډ کې غورځوي، چې کله يې د زړه څخه رېښتينې چيغه تر غوږو کيږي چې هغې ته سخت ټکان ورکوي او هغې ته وايي: آرامه اوسه! د دې لارې پای ګمراهي ده او له هلاکت پرته بل څه نه ده. دغه چيغې يوځای د هغه په غوږ کې په جنګ اخته کيږي او په ذهن کې يې فکرونه ټالونه وهي.

CS CamScanner

## خورې!

راځه چې د شریعت، حیا او عفت په چوکاټ کې تاسره وغږېږم ترڅو وکولی شم د اصلاح پر لاره خپل قدم کېږدم. د چل ورکوونکو احساساتو لرې که چېرې دغه نجلۍ چې د ګناه یوه اړیکه ټینګوي لږ له ځان سره منطقي فکر وکړي او له ځان څخه وپوښتي: دغه هلک څه غواړي؟ څه شی هغه د دغه اړیکې ټینګولو ته ورکاږي؟ یا حتی کله چې دغه هلک بې خپلو ملګرو ته رسیږي زما په اړه څه وايي او په کومه ژبه له ما څخه خبرې کوي؟ په دغه صورت کې زه یقین لرم که چېرې دغه نجلۍ د احساساتو او عواطفو سربېښ د خپل ذهن څخه لرې کوي او په لوړ غږ وايي چې د هغه هلک موخه او هدف یوازې شهوت او هوس دی.

**خورې!** په دغه حال کې ووایه آیا د مقابل لوري د خیانت څخه نه وېرېږې؟ آیا ستا په فکر دغه هلک د باور وړ دی؟ هغه هلک چې د یوې ناروا اړیکې خطر د ځان لپاره اخلي، هغه هلک چې د دینداری، اخلاقو او وفاداری بوی پکښې نشته، هغه هلک چې یوازې شهوت او هوس یې انګېزه ده، آیا په دغه ډوله کس اعتماد او باور کېدی شي؟

یاد هلک د خپل پالونکي رب، خپل دین او مسلمانانو سره خیانت کړی، نو دغه نجلۍ به څنګه هغه ته تر ټولو ګرانه شي. دا اړیکه ډېره نه اوږدیږي چې هلک خپلې ناروا موخې ته رسیږي او الله ﷻ مه کړه نجلۍ په ډېره پښېماني او غم د هغه قرباني کیږي.

خورې! که چېرې دغه ګمراه او بې لارې هلکان ستا سره یوځای خلوت وکړي نو خندا یې تر آسمانه پورته کیږي چې په دغه ډول دوی توانېدلي هغه نجونو ته چل ورکړي او په خپلو شیرینو خبرو او دروغجنو وعدو هغه د مستۍ په دغه ډنډ کې مصروفه وساتي.

## خورې!

انسان که پوه شي او يا پوه نشي، الله ﷻ په هغه علم چې لري يې، هيڅ شی بې حکمته نه دي پيدا کړي. د الله ﷻ اراده به دې ته وه چې ښځې ته زړ پاړېدونکي احساسات ورکړي، هغه احساسات چې د هر خوځېدونکي پر وړاندې غبرګون ښيي، چې په پايله کې د عواطفو او احساساتو دغه لويه سرچينه د هغوی کړنلارو رفتار ته لوری ټاکي، آزاد پاتې کېږي.

اوس که چېرې دغه نجلۍ يو چاته څه نږدې او يا څه لرې علاقه او ميل پيدا کړي، نو دغه خپل سري او مينه به هغه کوم ځای ته کش کاږي؟ د هغه نجلۍ په ډول چې د تلويزيون په يو هلک مينه وه او د تلويزيون د صفحې پرمخ د هغه د انځور په راتلو د تلويزيوني صفحې څخه مچي اخلي، يا د هغه نجلۍ په څېر چې د يو هلک پر غږ يې زړه بايللی وي او په ډېرې بې‌صبرۍ سره انتظار باسي ترڅو د هغې غږ واوري. په دغه ډول حالاتو کې که چېرې د هغه هلک قواره او څېره د دغه نجلۍ له سترګو ورکه شي او يا يې غږ وانه وري نو انديښنه يې ټول وجود ته ټکان ورکوي او په ډېره چټکتيا سره خپه کېږي څکه هغه هلک يې يوازې شفا ورکوونکی ملهم ګرځېدلی دی.

## خورې!

د دغه ټېر ناروا عمل او دغه ډول نافرماني چې يو څوک يې د شريعت پر وړاندې روا بولي تاسې خپله فکر وکړئ چې د دغه نجلۍ په زړه کې به نور د خپل الګو پيغمبر ﷺ او صالحانو محبت پاتې شي؟ هغه به بيا په کومه انګېزه وکولی شي د الله ﷻ کتاب تلاوت کړي او د هغه څخه خوند واخلي؟ چېرې ده هغه نجلۍ چې په ډېرې چټکۍ سره به د خپل رب نياز او راز ته د شپې په دريمه کې پاڅېدله؟! هغه څوک چېرې چې د خپل پالونکي پر وړاندې به

بې سجده کوله او په مناجات او روحاني او معنوي شور به يې هغه ته لاس اوږدولو؟ حتی نور هغه په دغه دنیا کې خپلو ګټو ته هم فکر نه کوي او دې ته حاضره ده ترڅو له درس او زده‌کړو پاتې شي او یا د کور کارونه هم پرېږدي د دې په خاطر ترڅو له هغه هلک سره لیدنه وکړي.

نو همدغه وخت کې یې نور دغه احساسات د خپل سرې په لورې بیایي او د پلار په وړاندې يې ټول هغه د وفادارۍ احساس ذهن څخه بهر کېږي او نور يې په زړه کې د هغه لپاره ځای نه پاتې کېږي. د عواطفو او احساساتو دغه خپل سري سېل يې دلته نه (تم) کېږي او ټوله هغه مینه او علاقه چې یوه ښځه يې د ژوند له ملګري سره لري له منځه ځي او هېڅکله به دغه ډول ښځه او مېړه يو د بل د آرامۍ او سکون او خوښېدو سبب ونه ګرځېږي. له یو څه وخت وروسته بیا هغه د بچیانو مور ګرځېږي، د خپلو بچیانو سره د مینې ځرګندولو احساس لري خو د مینې سرچینه يې له مخکې وچه شوې وي چې وکولی شي د هغه په وسیله دوی ته دغه مینه ورکړي، په دغه صورت کې بچیان د طبیعي تربیې پر خلاف له بې‌لارۍ سره مخ کېږي او په دغه لاره کې وده هم کوي.

یو هوښیار انسان چې کله کوم مال په خپل اختیار کې ولري، کوښښ کوي له هغه نه په سمه توګه ګټه واخلي ترڅو د اړتیا پر وخت له هغې څخه بې برخې نه شي، څه خو لا دا چې خبر دې تردې ورسېږي ترڅو یوه نجلۍ خپل احساسات او عواطف چې د دنیا له مال سره هېڅ د پرتلې وړ نه دي په غلطه لار کې استعمال او کار ترې واخلي؟

**خورې!**

الله ﷻ دغه عاطفه او محبت نجلۍ ته ځکه ورکړی ترڅو د ګډ ژوند د آرامۍ تومنه ورڅخه جوړه کړي.

داسې تومنه چې د سالمې تربیې په لار کې صالح اولادونه هم څکه تري وکړي، نو د څه لپاره دغه نجلۍ خپل احساسات ضایع کوي، چې د دې دنیا د بدمرغۍ سبب یې هم کیږي او په پایله کې د خپلې رسوایي له ویرې په خپل زړه لاس ږدي؟

**خوري!**

کله چې له بهر څخه کور ته راځې او د خپلې بسترې لور ته قدمونه اخلې څو دقیقې له ځان سره کینه او د هغه ښایسته ایمان لرونکې نجلۍ انځور چې د تهمتونو څخه یې خپل ځان ساتلی په خپل ذهن کې وګرځوه. او د هغه نجلۍ سره یې پرتله کړه چې د ګناه او ناروا اړیکو په ډنډ کې ډوبه شوې. په الله ﷻ قسم درکوم، خپله پریکړه وکړه، له یادو دوو نجلیو څخه به یې کومه یوه غوره او د تلپاتې خوښۍ ژوند ولري؟ کومه یوه د ډېر صفت او ستاینې وړ ده؟ هغه نجلۍ چې د نفس د هوس او شهوت څخه کږیږي او د شهوت د پارېدونکو شغلو څخه تکلیف تېروي او جنسي غریزه آزاده پرېږدي او یا هغه نجلۍ چې دا هرڅه په خپله ولکه کې اخلي؟

اوس دا سوال مطرح کیږي چې ولې یوه ناکامه او بله بریالۍ کیږي؟ ولې یوه د دغه لارې موانع له منځه وړي او بله یې په مقابل او پر وړاندې تسلیمیږي؟

**خوري!**

زیات اغېزمن او حیران شوم کله مې چې یوه مسلمانه نجلۍ ولیده چې په ډېرې چټکۍ او بې صبرۍ سره زموږ د دښمنانو د غوښتنو پر لار قدم وهي. خپل ځان د ورځې له موډ سره برابروي او د حجاب، حیا او درنښت سره دښمني لري، موږ هره ورځ د دغه ډول دښمنۍ نوی انځور وینو.

**خورې!** هغوی په بېلا بېلو او بې بنسټه بهانو حجاب لرې غورځوي. نه هغه څه ته اړتیا نه لرې چې زه د هغو مکتبي نجونو بې لارې تاته وړاندې کړم؛ خو خورې دا واوره چې رښتینې مؤمن هغه دی چې له الله ﷻ وېرېږي او د هغه ذات څخه وېره خپله توښه ګرځوي. زموږ محبوب ﷺ په دغه اړخ کې ځومره لوړې خبرې لري او فرمايي: «هر هغه څه چې تا په شک کې غورځوي هغه پرېږده ترڅو هغه څه ترلاسه کړې چې ته یقین پرې لرې».

دا نجلۍ ښه پوهېږي چې د شرعي احکامو لرې غورځول او د ټېښتې لپاره ډول ډول بهانې په هغه ورځ هېڅ ګټه نه ورته رسوي کله یې چې د قهار ذات سره لیدنه کېږي او الله ﷻ هم د ټولو بنده ګانو په کړنو څارونکی او له نیتونو څخه یې پوره خبر دی.

**خورې!**

کله چې په هېنداره کې ګورې نو داسې یوه څېره وینې چې ډېره پېغله برېښي. د پوره روغتیا او د ځوانۍ له پیاوړتیا سره ژوند کوې خو تراوسه دې آیا هغه زړه عمر خوړلې ښځه هم لیدلې چې هډوکي یې نرم شوي او د تحلیل توان یې له لاسه ورکړی دی؟! هغه هم یوه ورځ ستا په ډول پېغله نجلۍ وه او د ځوانۍ دغه ګل مړاوی شو او هغه ورځې یې په یوه ذهني انځور بدلې شوې.

ته هم درنې خورې! پر همدغه لاره ژوند کوې، او دغه مړاوې شوې څېره به څو کاله وروستهووینې چې له څه ډول حالت سره مخ وي. نو مه پرېږده چې خپله ځواني ضایع کړې او خپل ژوند په هغه څه کې تېر کړې چې له پښېمانۍ او بدیای پرته بل څه نه لري.

## خورې!

که چېرې شهوت پرستانو او په دنيا زړه بايلونکو خلکو ژوند ته فکر وکړئ هغوی هم له يو څه غور وروسته د خپل ژوند د تجديد په فکر کې شوي دي. خورې! دا تصور وکړه هر هغه چا چې دنيوي نعمتونه ټول څکلي وي او په ټول ژوند کې يې هېڅ ستونزه او درد نه وي ليدلی، خو که همدغه کس يو ځل په الهي عذاب کې غوټه شي نو دا ټول څه به ترې هېر شي.

او هغه کس چې په دغه دنيا کې ترټولو سخت ژوند ولري او د هر ډول ستونزو سره مخ شوي وي، که چېرې يوازې يو ځل په الهي نعمتونو کې غوټه شي نو دا ټولې سختۍ به يې له ياده ووځي. د انس بن مالک ﷺ څخه روايت شوی چې رسول ﷺ فرمايي: «د قيامت پر ورځ به د دوزخيانو څخه هغه دوزخي چې په دنيا کې يې هر ډول نعمتونه څکلي وي راوستل شي او هغه ته به د اور يوه غوټه ورکړل شي او هغه ته به ووايي: اې د آدم زويه! آيا تراوسه دې نعمتونه څکلي وو؟ ايا څه نيکي او خير د ليدلی دی؟ وبه وايي: نه په الله قسم! او بيا به د دنيا له هغه خلکو څخه راوستل شي چې هر ډوله سختي او ستونزې يې ليدلې وي او په جنت کې به يو چکر ورکړي او هغه ته به ووايي: اې د ادم زويه! آيا تراوسه لوږه او تنده دربانديې تېره شوې؟ آيا تراوسه دې په ژوند کې کومه سختي او ستونزه ليدلې ده؟ وبه وايي: نه په الله ﷻ قسم! نه مې د لوږې مزه څکلې او نه مې سختي او ستونزې ليدلې (مسلم).

په پای کې هم د خپل توانا او مقتدر ذات څخه غواړم چې ته اې خورې! د دغه کوچنی رسالې د مطالبو څخه ګټه اخيستونکې شې. د الله ﷻ درود او سلام دې وي د اسلام پر سپېڅلي پيغمبر ﷺ باندې!

وږی، ۲۵مه، ماښام پنځه بجې او نهه څلوېښت دقيقې.

# پنځم څپرکی

# د گناه پر سیند کې ډوبې شوې ښځې

**ویناوال: شیخ خالد الراشد**

شیخ خالد راشد په ۱۹۷۰ز کال کې سعودي عربستان کې زیږیدلی دی. د شیخ عبدالعزیز بن باز څخه یې ۱۱ کاله زده‌کړې کړې، د شیخ عبدالله بن جبرین څخه یې ۱۳ کاله زده‌کړې کړې دي او همدارنگه د عبدالرحمن بن البراک شاگرد هم پاتې شوی دی.

نوموړی شیخ د عقیدې او حدیثو په علم کې ډېر ماهر و او یو لوی کتابتون یې درلود چې په زرگونو توکه کتابونه پکښې شامل وو. شیخ الراشد په بېلا بېلو غونډو کې گډون کړی او زیاتو سیمو ته یې سفرونه هم کړي دي. شیخ د دعوت په اړخ کې په خپله فصیح ژبې سره ډېرې دعوتي دورې بشپړې کړې دي. شیخ راشد په ډېرو غونډو کې د خپلې پیاوړې حافظې په مرسته له چمتووالي پرته جذابې او زړه‌راښکونکي ویناوې مینوالو ته وړاندې کړې دي.

شیخ خالد راشد په ۲۰۰۵ز کال د سعودي حکومت لخوا زندان ته ولېږل شو چې په لومړۍ محکمه کې په ۵ کاله بند محکوم شو، خو د ده د حق‌پرسته ژبې له کبله چې له قاضي سره یې څه لفظي شخړه کړې وه په ۱۵ کلن بند محکوم شو، چې تراوسه هم نوموړی په زندان کې پروت دی.

تر ټولو رښتينې خبرې د الله ﷻ کلام دی... تر ټولو ښک هدايت او لار ښوونه د محمد ﷺ هدايت دی... تر ټولو بدې کړنې بدعتونه دي... هر بدعت گمراهي ده... او د هرې گمراهی ځای دوزخ دی...

**گرانو خويندو او ورونو...**

په ټولو باندې دې سلام وي... الله ﷻ دې زموږ قدمونه په حقه او ښغه لار ټينگ کړي... اوس په يو مبارک ځای او مبارکه شپه... په يوه پرتمينه غونډه کې ستاسې پر وړاندې درېږم... زموږ ننۍ خبرې د «په ډنډ کې لوېدلي او غرق شوي» تر سرليک لاندې دي.

**هو درنو خويندو!**

زما د نن شپې خبرې مسلمانو خويندو ته دي... نن به له مسلمانو خويندو سره خبرې وکړم... له هغو خويندو سره چې د ښغې لارې څخه لرې شوې او دا يې هېره کړې چې دوی هم د خديجې رضي الله عنها، عايشې رضي الله عنها او سميې رضي الله عنها اولاده دي... ښايي په خپلو کړنو له سره غور وکړي... له هغه خويندو سره هم خبرې لرم چې په ښغه لاره ټينگې پاتې دي او د لومړۍ ډلې خويندو لپاره د لارې چراغ او د لار موندنې سبب دي...

**خورې...**

هر څوک چې څه غواړي د هغې په لټه کې وي او د هغې په لاسته راوړلو کې هڅه کوي. موږ ټول د نېکمرغۍ په لټه کې يو، موږ ټول د نېکمرغۍ او آرامۍ په لټه کې يو. همدوی دي چې خپل زړه د آرامۍ او اطمينان څخه ډکوي. يو له هغو خويندو چې د نېکمرغۍ په لټه کې وه وايي: ټول ځايونه د هغه په لټه کې شوم، خو پيدا مې نه کړه! تر ټولو شيک او ښکلې لباس مې

واغوستلو، تر ټولو قیمتي لباس مې واغوستلو. دنیا مې سره له خپلې کورنۍ ټوله ولټوله، له یوه ساحل څخه بل ته ولاړم خو له تنګلاسۍ او غم پرته مې نور څه نصیب نشول.

دا فکر مې وکړ چې نېکمرغي په موسیقۍ او سندرو کې ده. نو ډېر عربي، هندي، ترکي او غربي سندریز البومونه او کیسټونه مې واخیستل. په ساعتونو، ساعتونو مې هغه ته غوږ کېښود او سندرو ته به یې په ګډا راتلم خو له تباهۍ پرته مې بل څه نصیب نشول.

فکر مې وکړ چې نېکمرغي د فېلمونو او سریالونو په لیدلو او کتلو کې نغښتې ده نو د ډېش له لارې مې بېلا بېل فېلمونه او سریالونه وکتل لږ څه وخت به یې خندولم هم، هو لږ به خندېدلم... خو زړه به مې درد کولو او ژړل به مې... داسې فکر به مې کولو لکه یوڅه مې چې ورک کړي وي...

د وخت په تېرېدو سره مې د بدن زخمونه زیات شول او غمونه راڅخه چاپېره شول. له خپلو ملګرو سره مې مشوره وکړه. هغه ماته وویل: نېکمرغي د یو خوښ ټیپ واله هلک سره په اړیکه کې ده چې خپل مینه او محبت تر تا قربان کړي، ستا په باره کې عاشقانه غزلې ووایي او د تلیفون د مایک تر شا ستا ښېګڼې بیان کړي. دوی ماته د تلیفون یو څو نمبر او شمېرې راکړې زه هم په همدغه لاره ولاړم، له ډېرو هلکانو سره مې ملګري وکړه ترڅو حقیقي نېکمرغي لاسته راوړم... خو هغه مې پیدا نه کړه بلکې د دې سرچپه... له ډېرو شیانو مې لاس واخیست: له شرم، آبرو او حیا څخه لاس په سر شوم او تر ټولو مخکې له خپل دین څخه لاس په سر شوم چې له هغې څخه لرې تللې وم.

د یو دوزخ څخه بل بد دوزخ ته راغلې وم. وایي: له تاسو غواړم چې زما په باره کې او د هغه نجونو په باره کې چې په دغه ډنډ کې ډوب شوې زیات

پوه شئ. موږ قرباني شوې يو نه مجرمې، موږ سرگردانه او بې لارې شوې يو. دغه خبرې د ځان او زما په ډول نجونو په دفاع کې نه وايم. بلکې په دې خاطر وايم چې کله مو زموږ په شان خلک وليدل په حال يې رحم وکړئ. غم يې وخورئ د هغوی لپاره د هدايت غوښتونکي شئ. دوی د گناهونو، شر، فساد، بې‌حيايي، بې‌ديني او فحشا په سمندرونو، سيندونو او تاپوگانو کې ډوب شوې دي...

## اې گرانې خورې!

نن شپه به له ډېرو خبرو، فحاشيو، دروغجنو وعدو او ژمنو او نه ترسره کېدونکو زيري ورکولو پرده پورته کړم چې په لاندې ډول مې هغه ترتيب کړي دي:

لومړی ناورين: ننگ او خواري... وروسته لږ دمه د شورا له غږو سره...

دويم ناورين: مسلمان خو کافر... د سرليک سره دمه؛ د يوې ډوب شوې ژغورنه.

دريم ناورين: افسوس د هغه پرحال! د خپلې کورنۍ آبرو يې له منځه يوړه... وروسته بيا له سرليک سره دمه؛ بيه او قيمت، جنت دی...

څلورم ناورين: د انساني مخو لېوانو په لاس يوه لوبغاړې... وروسته له سرليک سره دمه؛ تاته يو ليک...

پنځم ناورين: ومې نشوای کولی هغه ته يو سرليک وټاکم... وروسته له سرليک سره دمه؛ د الله ﷻ ملگری ته خوښ ليدی يم. وروسته هم.

وروستی خبره: په دې امت کې تراوسه خير پاتې دی. د نېکمرغی پر لور...

بد مرغی او مصيبتونه... د دوی يو څه په لاندې ډول راځي... په الله ﷻ قسم دا حقيقت لري...

**لومړی ناورین**

**ننګ او سپکوالی...** یوې نجلۍ له مکتب څخه تېښته وکړه؛ ځکه چې له یو بې لارې سره یې اړیکه وه، نو له هغه بې لارې هلک سره یوځای شوه. کله چې په موټر کې سپاره شول او دواړو یوه لاره غوره کړه، نو په لاره کې د یوې پېښې سره مخ شول... په دغه وخت کې د لارښوونې پولیس راغلل او له هلک څخه یې وغوښتل ترڅو پېښې ته ترلاسرسي پورې انتظار وباسي... هلک د خپل یو ټولګیوال سره اړیکه ونیوله ترڅو راشي او نجلۍ د پېښې د پړاوونو تر وروستیو پورې هغه ودانۍ ته بوځي چې هغه درلوده، بیا مخکې له دې چې نجلۍ مکتب ته راشي له هغه سره یوځای شي... هلک راغی خو کاشکې چې نه وای راغلی. نجلۍ د هغه په موټر کې سپره شوه. کله یې چې هلک ته وکتل ویې لیدل چې هغه هلک یې ورور دی... دا دی ننګ او سپکوالی. د حیرانتیا خبره نه ده، ځکه هم نجلۍ او هم هلک په دغه ډنډ کې سرښې شول، ځکه په وار وار یې د خلکو په ناموسونو باندې تجاوز کړی دی. په هغه ډول چې څه کرې هغه به رېبې. په الله ﷻ قسم دا حقیقت لري یو د خیال او فکر پېښه او کیسه نه ده...

**دمه...**

**د شورا له غړو سره...**

د هغه ځوانانو څخه مې چې په نېکۍ باندې د امر کولو او له بدۍ منع کولو په ټولنو او شوراګانو کې یې کار ترسره کولو وغوښتل ترڅو د هغه څخه د هغه پېښو په هکله پوښتنه وکړم چې د نجونو د حالت او کړنو په اړه دوی ته خبر ورکړل شوی دی. یو له دوی څخه د دغه وضعیت او حالت څخه چې مسلمانې نجونې پکښې اخته او ورسره لاس او ګریوان دي له ډېره غمه

په ژړا شو. اوس تاسې ووينئ چې دوی تر کومې اندازې هلاکت او تباهی ته رسېدلي دي. تر دې چې په خپل دين او کورنيو باندې څومره ظلم کوي. دغه نجونې په دې نه پوهېدې چې د دغه خلکو موخه د هغوی د شرافت او آبرو سائل دي. يو له دغه غړو څخه راته وليکل: په هغه دفتر کې چې د نجونو په پوهنځی پورې يې تړاو درلود کار ترسره کولو. د لرې څخه مې د پوهنځی پر وړاندې ليدل کتل کول او له لرې څخه مې هغه زده‌کړيالانې څېړلې چې د پوهنځی له څنډې څخه به راتللې. ځکه هغه نجونې چې له هلکانو سره به بهر وتلې هلته به پياده او پلي کېدلې او بيا به پلې پوهنځی ته راتللې. يو ځلې وينم چې زما همکار د يوې زده کړيالې نجلی سره خبرې کوي او له هغه پوښتنه کوي: له کومه ځايه راغلې؟! په الله ﷻ قسم خوري چې له پوهنځی راغلم نه له بل ځای څخه. همکار ته مې وويل: آيا ته مطمين يې چې دا له هغه ځايه راغلې؟! ويې ويل: زه داسې مطمين يم لکه ته چې زما پر وړاندې ولاړ يې... ويې ويل: هغه مرکز ته بوځئ ترڅو اړين اقدامات د هغه په اړه ترسره شي. ومې ويل: هغه خو قسم وخوړ. د همدې لپاره هغه خوشي کوم (پرېږدم يې) ترڅو ووينم چې الله ﷻ څه کوي. او هر څوک (دروغجن وي دروغ يې په خپله غاړه دي). [وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ] «غافر ٢٨» که هغه دروغجن وي نو د هغه دروغ به پخپله پر هماغه واوړي.

موږ اصلاً له هغه څخه څه نه غواړو له دې پرته چې د هغه عزت او آبرو د لېوانو پر وړاندې وساتو. وروسته د هغه نجونو لور ته ولاړه چې د پوهنځی ترڅنګ د دوکانونو سره ولاړې وې. دوی ته يې وويل چې په ما يې تهمت ولګوه. دغه نجلی هغه نورې زده کړيالانې زموږ پر وړاندې پورته کولې ترڅو نور زموږ پر وړاندې چوپ پاتې نشي او له موږ څخه ونه وېرېږي.

کله چې زه او زما ملګری د پلي تګ په وسيله هغه لوري ته ولاړو او د

موټر غږ مو تر شا واورېده، کله مو چې مخ ورواړولو ومو لیدل چې هغه نجلۍ په ځمکه پرته ده. د کوڅې څخه د تېرېدو په حال کې موټر وهلې وه. زه نه وایم چې هغه مړه شوه ځکه له هغه خبر نه لرم خو خطرناک ځه پېښ شول. [وَلاَ تَحْسَبَنَّ اللّهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ] «ابراهیم ۴۲» اوس چې دغه ظالمان ځه کوي. نه الله ﷻ له دوی څخه غافل مه ګڼه.

## دویم ناورین

## مسلمان خو کافر...

له خپلوانو څخه مې یو څوک په منځنۍ ښوونځي کې استاد دی. دی وایي یوه ورځ د ښوونځي د استادانو له کوټې بهر ووتلم، دوې شاګردانې نجونې مې ولیدلې چې یو له بل سره د دغه کوټې په نږدې کې غږیږي. د ماسپښین د لمانځه وخت ؤ، لومړۍ دوهمې ته وویل: ولې د مکتب په لمانځه ځای کې له موږ سره لمونځ نه کوې؟ دوهمې وویل: زه په کور کې هم لمونځ نه کوم. وبې ویل: زه په کور کې هم لمونځ نه کوم... دا خو خیر خو ټوله کورنۍ لمونځ نه ادا کوي. کورنۍ مې هم لمونځ نه ادا کوي. لا اله الا الله... په ډاګه‌ییز ډول او پوره بې شرمۍ سره وایي: لمونځ نه کوم... په الله ﷻ قسم له تا څخه پوښتم چې د هغې او کافر ترمنځ فرق څه شی دی؟!

الله ﷻ فرمایي: [فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا] «مریم ۵۹» بیا د دوی څخه وروسته هغه ناکاره خلکو د دوی ځای ونیوی، چې لمونځ یې ضایع کړ او د نفس د غوښتنو پیروي یې وکړه، نو نږدې ده چې هغوی د ګمراهۍ له عاقبت سره مخامخ شي.

ابن عباس وایي: أضاعو یعنې: هغه یې په پوره ډول نه دی پرېښی بلکه هغه یې په خپل وخت نه دی ادا کړی... هو مستي او تنبلي داسې لکه چې

د ماسپښين لمونځ تر مازديګر پورې وځنډوي يا د مازديګر لمونځ تر ماښام پورې وځنډوي يا د سهار لمونځ تر لمر ختو پورې وځنډوي، په دې ډول دې حال د هغه چا چې د ګناه په ډنډ کې کښته تللي دي.

خورې! هره نجلۍ چې په دغه حال کې مړه شي الله ﷻ ورسره د «غي» ژمنه کړې چې په دوزخ کې يوه دره ده. هغه دره ډېره ژوره او له اندازې زياته ګرمه ده. که چېرته د دنيا غرونه هلته يوړل شي د ګرمۍ او تودوخې له کبله ويلې کيږي.

آيا د دغه ډول عذاب توان لرلی شې؟! آيا نه مو دي اورېدلي چې پيغمبر ﷺ فرمايي: (زموږ او د دوی ترمنځ عهد يوازې لمونځ دی؛ نو څوک يې چې پرېږدي کفر يې اختيار کړی دی).

څومره له دغه ډوب شوو کافر دي. که د نوم پوښتنه ورځخه وکړې نو وايي: خديجه او عايشه... په الله ﷻ قسم دروغ وايي، درواغ وايي، ځکه چې په ډنډ کې غرق شوي دي.

امام ذهبي په خپل کتاب (الکباير) کې د پخوانيو کسانو نه د يو چا کيسه داسې نقلوي: هغه خپله خور يې چې مړه شوې وه دفن کړه. د خښولو په وخت کې د هغه سرې د پيسو کڅوړه قبر ته لوېدلې وه خو د هغه ورته پام نه و شوی. وروسته يې ور په ياد شوه، قبر ته ورروګرځېد ترڅو هغه بيا لوځ کړي ويې ليدل چې قبر په اور کې سوزيږي. خاورې يې همداسې پرېښودې او په ډېر غم او خفګان سره خپلې مور ته راغی. مور ته يې وويل: خور مې څه کارونه کول؟! مور يې ورته وويل ولې دې راځخه وپوښتل؟ ويې ويل ومې ليدل چې د هغه له قبر څخه اور پورته کېدلو!

**ومې ليدل چې له قبر څخه يې اور پورته کېدلو!** مور يې په ژړا شوه او

وبې ویل زویه! خور دې په لمانځه کې سسته او تنبله وه او په خپل وخت یې نه ترسره کوله.

لوستونکې خورې! د هغه چا په اړه دې واورېدل چې پر وخت یې خپل لمونځ نه ادا کولو. اوس هغه څوک چې وایي (زه هم لمونځ نه کوم او کورنۍ مې هم لمونځ نه کوي) څه حال به یې وي.

الله ﷻ د دوی په اړه وایي: [يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ، خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ، فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَذَا الْحَدِيثِ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ، وَأُمْلِي لَهُمْ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ] «القلم ۴۲-۴۵» په کومه ورځ چې پنډۍ لوڅه کړل شي (حقایق بربنډ شي) او خلکو ته د سجدې کولو بلنه ورکړل شي؛ نو دوی به سجده ونشي کړی؛ د دوی سترګې به ښکته وي. ذلت به پرې خورېدونکی وي. دوی چې کله روغ رمټ ول، په هغه وخت کې د سجدې کولو لپاره بلل کېدل (خو دوی انکار کاوه) نو اې پیغمبره! ته د دې کلام د دروغ ګڼونکو موضوع ماته پرېږده. موږ به په داسې توګه دوی په کراره کراره د تباهی خواته بوزو چې هېڅ خبر هم نه شي. زه د دوی رسی غځوم. زما تدبیر ډېر قوي دی.

په الله ﷻ باندې د باور وروسته الله ﷻ ته د نږدې کېدلو اړوند له لمانځه پرته بل لوی څه نشته؛ نو لمونځ ادا کړه چې ته هم د الله ﷻ په رحمت کې ونغښتل شې. لمونځ وکړه مخکې له دې چې پر تا لمونځ (جنازه) ونه کړل شي. څکه په بې لمانځه چا نه څوک لمونځ ادا کوي او نه څوک غسل او کفن ورکوي. هغه په خپلو لاسونو نه انتقالوي بلکه پرمخې یې پر ځمکه کش کوي. په دښته کې یوه کنده ورته کيندي او پرمخې هغه پکښې ورغورځوي. نه څوک ورته دعا کوي او نه ورته ښښنه غواړي.

[وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّهُ وَلَـكِنْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ] «آل عمران ۱۱۷»، الله ﷻ پر هغوی ظلم نه دی کړی، په حقیقت کې دوی پر خپل ځان ظلم کوي.

آیا په دغه څه خوښه یې چې تر غوږ پورې دې ورسېدل؟! خواب تاته پرېږدم.

[فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ] «الحج ۴۶»، ... حقیقت دا دی چې سترګې نه ړندېږي؛ خو هغه زړونه ړندېږي چې په سینو کې دي.

**دمه...**

د يوې ډوب شوې ژغورنه او خلاصون... یو له دغو نجونو څخه وايي: له ملګرو سره به مې مبتذل او بې لارې کوونکې شعرونه زمزمه کول او يادول. فکر مې کولو چې نېکمرغي په همدغه کې ده؛ خو الله ﷻ غوښتل چې ما د شهوت پرستی له دغو څپو څخه وژغوري او لار موندونکې شم. د پوهنځي په يو ټولګي کې د يوې صالحې او باعفته خور سره کېناستم. هغه د خپلې يادښت په کتابچه کې دغه دعا ليکلې وه: (اللَّهُمَّ قنی عذاب یوم تبعث عبادک)؛ پالونکيه! ما د هغه ورځې له عذاب وژغوره په کومه ورځ چې خپل بنده‌ګان حشر کوې. ومې ویل: زه مبتذل شعرونه لیکم او دغه نجونې دغه ډول کلمې لیکي. دغه کلمو ټکان راکړ او په ډېره چټکۍ سره د هغه څخه اغېزمنه شوم. څه کار مې وکړ؟ له ځان څخه مې دا پوښتنه وکړه: څه باید وکړم چې له الهي عذاب څخه ځان ته خلاصون ورکړم؟!

ومې ژړل او د هغه نجلۍ زما لور ته پام واوښت او د سبب پوښتنه يې وکړه. له څه نه چې اغېزمنه شوم هغه مې ورته وويل. ويې ويل: د الله ﷻ شکر دی. الله ﷻ به دې خير غوښتی وي چې اغېزمنه شوې؛ نو لاس په کار شه ترڅو له الهي عذاب څخه وژغورل شې، څو له معنی ډکو لغتونو هغه له خوبه بیداره کړه...

او ته! همدارنګه د فېلمونو، سریالونو، ډېش کتلو، چتونو او بې لارې کوونکو شیانو په کتلو کې ډوبه یې، په وار وار په ګناه باندې اصرار کوې، په لمانځه کې سستې کوې، آیا هغه وخت نه دی را رسېدلی چې توبه وکړې او له ګناه څخه لاس واخلې. آیا هغه وخت نه دی راغلی چې د خپل نفس سره د ذرې ذرې حساب وکړې او ووایې اې نفسه! توبه وکړه مخکې له دې چې توبه دې له لاسه څخه ووځي. د رحمن خدای څخه بښنه وغواړه اوس هم د باد په شان هیلې شتون لري ترڅو توبه وکړې.

په الله ﷻ قسم ته د الله ﷻ د حساب سره د مخامخ کېدو توان نه لرې نو د ګناه په کولو کې هغه ذات سره ځان د جنګ میدان ته مه داخلوه. او هغه وخت په یاد راوړه چې بربنډه، مړاوې او سرټیټې به د هغه پر وړاندې درېږې. ټول به تا ته ګورې. الله ﷻ دې په حال رحم وکړه څه حال به دې وي.

که چېرې... [كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا، وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا] «فجر ۲۱-۲۲».
هېڅکله نه، کله چې ځمکه په پر له پسې ټکولو سره میده میده وګرځوله شي! او ستا رب خپل جلال په داسې حال کې ونیسي چې پرښتې لیکه په لیکه ولاړې وي الله ﷻ دې په حال رحم وکړه... څه حال به دې وي که چېرې...

[وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّىٰ لَهُ الذِّكْرَىٰ] «فجر ۲۳». او دوزخ به په هغه ورځ مخامخ راوستل شي. په هغه ورځ به انسان وپوهیږي او په هغه وخت کې یې د پوهېدو څه ګټه ده؟

خو د هغه خلکو د حال ژبه به څه وایي چې په ګناهونو کې ډوب دي [يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي، فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ] «فجر ۲۴-۲۵». هغه به وایي: کاشکې ما د خپل دغه ژوند لپاره مخکې څه توښه برابره کړې وای. بیا په

CS CamScanner

هغه ورځ چې الله ﷻ کوم عذاب ورکوي، هغسې عذاب ورکوونکې به بل څوک نه وي.

خو ته اې خورې! مه ورخطا کېږه. همدا اوس توبه وکړه ځکه د توبې دروازه خلاصه ده.

غوږ شه چې توبه کوونکو ته څه تیار شوي دي خپله یې واوره: [يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ، ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً، فَادْخُلِي فِي عِبَادِي، وَادْخُلِي جَنَّتِي] الفجر ۲۷-۳۰. (له بل پلوه به ویل کیږي) اې ډاډه نفسه! څه د خپل رب لورې ته. په داسې حال کې چې ته (له خپل غوره عاقبت څخه) خوشحاله (او د خپل رب په وړاندې) غوره یې! ورننوځه زما (په نېکو) بنده‌ګانو کې! او ننوځه زما جنت ته!

پیغمبرﷺ فرمایي: (دوزخ مې ولیدلو چې ډېرې ښځې پکښې وې) نو اې د خدای وینزې! تقوا توښه کړه! سهار او ماښام دا په ژبه راوړه: (اللَّهُمَّ قني عذاب يوم تبعث عبادك): پالونکیه! ما د هغه ورځې له عذاب څخه وژغوره په کومه ورځ چې خپل بنده‌ګان حشر کوې!

### دریم ناورین

افسوس د هغه پرحال چې د خپلې کورنۍ آبرو یې له منځه یوړه. هغه زده‌کړیاله نجلۍ چې له هغه څخه د دې انتظار کېږي چې کله فارغه شي او سند ترلاسه کړي د نسلونو لپاره یوه استاذه او د اتلانو د روزنې یوه مدرسه وګرځي. خو له بده مرغه هغه د خپل پالونکي نافرماني غوره کوي. له خپل دین سره مخالفت کوي خپل شرافت پلوري، له خپل خپلوانو او کورنۍ سره خیانت کوي، شرم او حیا تر شا پرېږدي. نو که دغه نجلۍ د خپل نفس ساتونکې نشي نو څه هیله به هغه ته پیدا شي؟!

د چهارشنبې په ورځ د پوهنځی د ټولګیو په آخرو شیبو کې هغه ملګرې ته چې په یوه پروژه کې یې یو له بل سره همکاري کوله وویل: چې د شنبې په ورځ نه راځم خو د یکشنبې په ورځ به حاضره وم. هغه دا نقشه رسم کړې وه ترڅو د شنبې پر ورځ له یو هلک سره بهر ته ووځي. د خپلې ملګرې تلیفون یې ترې واخیست ترڅو له هغه سره اړیکه ونیسي. د هلک سره بهر ولاړه په داسې حال کې چې دا فکر ورسره وو چې څوک یې نه ویني؛ خو دا یې هېره وه چې د آسمانونو او ځمکې پالونکی هغه ویني.

د شنبې ورځ وه پوهنځی ته د نجونو په داخلېدلو سره یې کورنی یاده نجلۍ په پوره اطمینان او ویاړ سره د پوهنځی پرمخ کې دغه نجلۍ ښکته کړه په دې ګمان چې هغه به پوهنځی ته ځي ترڅو علم زده کړي او کله چې فارغه شي له خپل ځان مخکې د ټولنې لپاره ګټوره تمامه شي او د خدمت مصدر وګرځي. هغه هم دا ډول ټولنې ته چې نېکو او پوه خلکو ته اړتیا لري. د دې پرځای چې دغه نجلۍ پوهنځی ته لاړه شي د هغه هلک موټر ته ورغله چې دې ورته انتظار کولو. دغه مسئلې ته د پوهنځی د ساتونکې ګارد پام واوښت.

موټر او دواړه نجلۍ او هلک یې په نښه کړل او د پوهنځی ادارې ته یې معلومات او خبر ورکړ او دوی هم ساتونکې ته وویل: کله چې غرمه مهال هغه بیا ځلې راغلل پام ورته کوه... په الله ﷻ پناه غواړم... دغه نجونې څومره بې حیا او سپکې شوې چې د هلکانو سره په موټر کې سپریږي له دې پرته چې زړه ته لار ورکړي او یا حیا وکړي.

غرمه مهال موټر راغی او د پوهنځی تر ونو لاندې یې پارک کړ. ساتونکی هم د موټر لوري ته ورغی. کله چې... نجلۍ له موټر څخه ښکته شوه ساتونکی هم ورته راغی د موټر له خاوند څخه یې وغوښتل ترڅو

ودرېږي خو هغه په ویره سره وتښتېده ترځو د پېښې قرباني نجلی پوازې پرېږدي. ساتونکي هم د موټر پلیټ له ځان سره ونیو او نجلی ته یې وویل: له کوم ځای څخه راغلې؟! له پوهنځی بهر شوم. ساتونکي ورته وویل: بیا ځلې ننوځه خو نجلی ورسره ونه منله ساتونکي هم د نجلی څخه د هغه دستکول واخیست ترڅو هغه دې ته وهڅوي چې بېرته پوهنځی ته دننه شي؛ خو نجلی ورسره ونه منله. ساتونکي هم د نجلی دستکول د پوهنځی ادارې ته تسلیم کړ. له هغې وروسته نجلی ته هغه هلك راغی ترڅو د نجلی دستکول یوسي. ساتونکي دغه هلك هم ادارې ته بوتلو او ریاست یې پرې خبر کړ. مخکې له دې چې هغه ورته راورسېږي هلك د تېښتې په نیت اجازه وغوښته ترڅو خپل تلیفون له موټر څخه راوړي هغه ولاړ او بیا رانغی... خو پولیسو هغه د پلیټ د خبر پر اساس پیدا کړ. د هغې ورځې په شپه کې د ماښام لمانځه وروسته دغه نجلی او هغه بلې ملګرې سره اړیکه ونیوله چې هغه ته یې د هغه ورځې یادونه کړې وه چې دا له هلك سره وتلې وه. هغه سره یې اړیکه ونیوله ترڅو ورته ووایي: د پېښې د پټولو لپاره ستا مرستې ته اړتیا لرم...

لکه څرنګه چې له سهار څخه تر غرمې پورې نجلی له هلك سره وه. ملګرې یې ورته وویل درسره مرسته کوم. هرڅوك چې د یو مسلمان آبرو وساتي الله ﷻ به یې په آخرت او دنیا کې آبرو وساتي.

ملګرې یې وایي مجبوره شوم چې د هغه په اړه دروغ ووایم. په الله ﷻ مې قسم ورکړ چې دروغ ووایي... د حیرانتیا خبره ده چې یو څوك په باطل، ګناه او سرکشی باندې پرده اچوي.

د نجلی ملګرې هم په دروغو شاهدي ورکړه چې هغه د شنبې پر ورځ ما یاده نجلی په پوهنځی کې ولیدله... په داسې حال کې چې نه یې وه

لیدلې... لا اله الا الله...

آیا دوی دا ګمان کوي چې الله ﷻ له هغه څه نه غافل دی چې دوی یې ترسره کوي؛ خو هغه نجلی وویل: چې دستکول یې غلا شوی دی. ملګرې یې جمع کړلې ترڅو دوی هم دروغ ووایي، حتی! مور یې هم راغله ترڅو ووایي چې غرمه مهال نجلی په کور وه... نجلی د پوښتنو او پلټنې پر وخت وویل: د قرآنکریم پر وړاندې په الله ﷻ قسم خورم چې د شنبې پر ورځ د اوو بجو څخه تر دوولسو بجو په پوهنځی کې وم او له هغه ځخه بهر نه یم تللې او الله ﷻ هم پر خپلو کړو شاهد نیسم... حسبی الله ونعم الوکیل... دا څه ګورو... چې یو څوک د ټولو عالمیانو پر کړنو لیدونکي او خبر ذات ته هم دا ډول ټیټ فکر کوي چې هغه ذات دوی نه ویني.

د پوهنځی ریاست خپل کار وکړ او د پولیسو ډلې هم خپله وظیفه ترسره کړه هلك یې راووست په پایله کې حق ښکاره شو د شاهدیو او دروغو سره سره هلك دا ومنله چې له یادې نجلی سره بهر تللی و. د هغه نجلی خپلوان د هلك د اعتراف پر وړاندې سرټیټي شول او ټول دروغ ښکاره شول. د پوهنځی ریاست نجلی او د هغه خپلوانو ته اخطار ورکړ چې په بیا ځلې تکرار به یاده نجلی له پوهنځی څخه شړل کیږي.

آیا اوس به دا خبره عقل ومني چې دغه ډول نجوني به راتلونکي نسلونه تربیه کړي او اتلان به جوړ کړي؟ کار تردې ځایه ورسېده چې د نجلی پلار ته په پوهنځی کې اخطار ورکړل شو او هغه ته یې د نجلی د خارجولو اخطاریه وسپارله... پلار سرټیټی، پریشانه او په داسې حال کې روان شو چې ګریوان یې په اوښکو ولمبېدلو. دغه نجلی وایي: په داسې حال کې چې دردوونکي او مرګوني دردونه مې په خپل ځان کې زغمل د پلار سره مې خپل کور ته ولاړم. د لارې په اوږدو کې یې له ماسره هیڅ خبره هم ونه

کړه... خو بې غږه کتنې بې ما تعقیبولې، کله به یې ویل: زما او د خپل خان په حق کې دې زیاتی وکړ، زموږ آبرو دې له منځه یووړه.

په اوسني وخت کې د دغه ډول نجونو نمونې ډېرې زیاتې دي. سهار مهال نجلی په بوره فاخر لباس کې په داسې حال کې چې جامې یې هم لنډې وې راووتله، ټول خلک د هغه حالت ته حیران وو، د هغه بې‌عفتی چیغې وهلې او بو شمېره پرهېزګارانو دا جملې زمزمه کولې: افسوس د هغه پر حال چې د خپل خان، کورنی او خپلوانو آبرو یې له منځه یووړه او له مخ څخه یې نقاب او پړونی لرې کړ. افسوس د هغه پرحال چې پاک لمنې یې له منځه یووړه او خپل دین ته یې وفاداري له خاورو سره خاورې کړه.

**دمه...**

**بدله جنت دی...** هو درنو خویندو! د صبر قیمت جنت دی. هغه سړي او ښځې چې صبر خپله توښه ګرځوي بې‌حسابه اجر ترلاسه کوي. نو هغه نجلی چې د الله ﷻ پر اطاعت باندې صبر کوي څه اجر او بدله به یې وي؟ هغه نجلی چې د بدیو او چټلیو پر وړاندې صبر کوي څه اجر به یې وي؟ هغه نجلی چې د الله ﷻ په لار کې تاوانویني او هغه ته ضرر رسول کېږي څه بدله به ترلاسه کړي؟ د عفت، پاک لمنی او حیا او پر بلاوو باندې د صبر قیمت څه دی؟ غوږ شه درنې خورې! او ووایه چې موږ خومره له دوی سره فاصله او واټن لرو!

اې محترمې او آغلې خورې تر ټولو ښکلی لباس چې ته یې اغوندې هغه د پاک لمنی او حیا لباس دی. که خدای مه کړه هغه وغورځوې نو بیا د ځمکې له مخ څخه د ځمکې تل درته غوره دی! د پاک لمنو یوځو خبرې درسره شریکوم. وګوره چې د عفت او پاک لمنی لوړه بیه څه ده. د عطا بن

ابي رباح څخه روايت دی: (ابن عباس راته وويل: غواړې جنتي ښځه درته په ډاګه کړم؟ ويې ويل: هو... ويې ويل: دغه توره ښځه... هغه پيغمبر ﷺ ته راغله او ويې ويل: زه څه د سر ستونزه لرم کله کله مې حجاب ښکاره کيږي. زما لپاره دعا وکړه... ويې ويل: (که غواړې صبر وکړه ترڅو دې جنت ځای شي... او که غواړې نو الله ﷻ ته به ووايم ترڅو روغتيا او شفا پيدا کړې...).

ښځې وويل: صبر کوم... صبر کوم... ځکه د هغه بدله او بيه ډېره لوړه ده.

خو حجاب مې ښکاره کيږي... نو له الله ﷻ وغواړه ترڅو داسې نشي... د الله ﷻ استازي هم د هغه لپاره دعا وکړه... الله اکبر دا د هغه چا حال دی چې الله ﷻ يې په خدايي، اسلام يې په دينداری او محمد ﷺ يې په استازيتوب رښتيا د ځان لپاره غوره کړي دي.

درنو خويندو فکر وکړئ په دغه حديث کې بيا بيا ځلې خپل فکر وزغلوئ! هغه ښځې د ژوند په ستونزمنو حالاتو کې او د ناروغۍ په دوران کې له خپلې حيا څخه لاس وانخيست بلکه د يوې مؤمنې ښځې په توګه يې وويل: پر دغه درد باندې صبر خپله توښه ګرځوم او په دغه بلا باندې صبر کوم خو د حيا له لاسه ورکولو باندې صبر نشم کولی...

اوس د صبر بدله تاسې وګورئ چې څه ده. غوږ کېږده او په دغه مبارکو آياتونو کې خپل فکر وزغلوه او خپل ځان پرې خړوبه کړه؟!

الله ﷻ فرمايي: [وَجَزَاهُم بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً وَحَرِيرًا, مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا, وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا, وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا, قَوَارِيرَ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا,وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا, عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيلًا, وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا, وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا, عَالِيَهُمْ ثِيَابُ

سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا، إِنَّ هَذَا كَانَ لَكُمْ جَزَاءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا] «انسان١٢- ٢٢» او د هغو د صبر په بدل کې به جنت او وریښمین کالي ورکړي. هلته به هغوی پر لوړو تختونو باندې تکیه وهلي ناست وي، نه به یې د لمر ګرمي په تکلیف کړي او نه ساړه. د جنت ځانګې به پرې راټیټې شوې سیوري کوونکې وي، او د هغه مېوې به هر وخت د هغوی په وس کې وي چې څنګه غواړئ، ویې شکوي). د هغوی مخې ته به د سپینو زرو لوښي او د ښیښو ګیلاسونه ګرځول کیږي، ښیښې، هم هغه چې د سپینو زرو په ډول به وي او هغه به (د جنت خدمتګارانو) په سمه اندازه ډک کړي وي. په هغو به هلته د شرابو داسې جامونه وڅښل شي چې زنجبیل(سونډ) به پکښې ګډ شوي وي، دا به د جنت یوه چینه وي چې سلسبیل ورته ویل کیږي. او د هغو د خدمت لپاره به داسې هلکان ګرځي راګرځي چې تل به په هلکتوب کې وي، که ته هغوی ووینې؛ نو ګومان به وکړې چې خورې کړای شوې ملغلرې دي. هلته چې ته هرې خواته نظر واچوې، سراسر نعمتونه او د یو لوی سلطنت رنګ رونق به دې تر سترګو شي. پر هغو باندې به د نریو وریښمو شنه جامه پرته وي او د اطلس او پریړو وریښمو جامې به یې وي، هغو ته به د سپینو زرو بنګړي واچول شي او د هغو رب به ورباندې ډېر زیات پاک شراب وڅښي. دا ستاسې مکافات دي او ستاسې هاند او هرڅه د قدر وړ ده.

دغه د صبر اجر او بدله ده چې زړونو او فکرونو ته آرامي ببښي، دغه دي هغه ډول نعمتونه چې نه سترګو لیدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د چا په فکر کې راګرځېدلي.

خو د نن ورځې ښځې د څه په لټه کې دي؟ زموږ لورانې څه لټوي؟ دوی او هرڅه چې په جنت کې دي په کوم څه پلوري او په ډېر کم څه بې

پلورلي هم دي.

درنې خورې! که غواړې چې داسې جنت ترلاسه کړې چې په هغه کې د الله ﷻ خوښي او تلپاتې ژوند دی؛ نو باید په هر وخت او هرځای کې د خپل دین په احکامو منګولې ښخې کړې او هغه د خپل دنیوي ژوند لوړه موخه وګرځوې.

په تا څه شوي؟... چې په انساني لباس کې د دغه لېوانو خبرو او ژمنو ته لبیک وایې په داسې حال کې چې ته په الهي کلام کې هر ډول د حق چیغه په خپلو غوږونو اورې. له دغه لوی کتاب څخه مخ مه اړوه، څکه د دغه کتاب په شان بل کتاب د ځمکې پرمخ شتون نه لري. الله ﷻ په خپل کرم سره تاته په دنیا کې ژوند درکړی نو د څه لپاره د انسي او جني شیطانانو په پیروی سره دواړه دنیاوې له منځه وړې. نو که په خپل ژوند کې دې تقوی غوره نه کړې له تباهی او تلپاتې بدمرغی څخه پرته به بل څه ترلاسه نه کړې.

درنې خورې! د دنیا په هر ګوټ کې چې ژوند کوې په ډېره ځیرکتیا او ویښتابه سره خپل فکر په دغه نصیحتونو کې وزغلوه! په نصیحتونو باندې مې عمل وکړه ترڅو یې بدله همدلته چې ایمان دی ترلاسه کړې او هم په آخرت کې چې تلپاتې خوښي او نعمتونه دي.

الله ﷻ فرمایي: [فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُوْلَئِكَ هُمْ أُوْلُوا الأَلْبَابِ] «زمر ۱۸» نو زیری ورکړه زما هغه بندګانو ته چې خبره په غوره سره اوري او د هغې د ډېر ښه اړخ پیروي کوي. دا هغه خلک دي چې الله ﷻ ورته هدایت کړی دی او هم دوی پوهان دي.

CS CamScanner

## څلورم ناورین

## د هلکانو پر لاس د لوبولو یوه لوبغاړې...

دغه حادثه هغه خور راته لیکلې چې له دغې پېښې سره لاس او ګریوان وه. هغه وایي: دغه بده پېښه مې د زړه په وینو په خپلو لاسونو لیکلې.

د خپل شرافت او حیثیت په بیه په انساني څېرو کې د لېوانو د لاس د لوبولو لوبغاړې شوم، خپلو خبرو ته ادامه ورکوي: په یوه غونډه کې له دغه هلک سره آشنا شوم، په پرله پسې ډول به مو یو له بل سره اړیکه نیوله. له هغه سره مې علاقه پیدا شوې وه او هغه هم له ما سره مینه کوله، نجلۍ وایي: زموږ اړیکه په زیاتېدو وه. هغه هلک له څو نورو هلکانو سره په یو کور کې ژوند کولو، ما به هم د هغه له کور سره اړیکه نیوله او دوی به څواب راکولو او ملګري ته به مې یې ویل چې زه له هغه سره کار لرم. یو څل مې اړیکه ونیوله خو هغه په کور کې نه و، ملګري یې له ماسره خبرې وکړې، لږ لږ یې خبرې راسره اوږدې کړې، په پایله کې یې له ما څخه وغوښتل چې له هغه سره اړیکه ټینګه کړم. ما ورسره ونه منله، هغه زه تهدید کړم چې زه مې ملګري ته وایم چې کله ته په کور کې نه وې زه له هغه سره اړیکه نیسم او په ساعتونو یو له بل سره خبرې کوو. نو همدغه وه چې ما یې هم غوښتنه ومنله او له هغه سره هم ملګرې شوم. (له ځان سره مې وویل: چېرې ده هغه مینه چې دغه نجلۍ یې ادعا کوله؟! چېرې ده چې ویل به یې زه له تا سره مینه لرم او هغه هم له ماسره؟!).

هغه د خپل لیک په ادامه کې وایي: دغه دویم ملګری یې له لومړي ملګري احساساتي او ظاهراً مینه ناک و، همدارنګه مې له هغه سره اړیکه لرله ترڅو له هغه سره بهرته ووتلم او له ماسره به یې همداسې ژمنه کوله او زه

به یې هیله‌منه کولم. د وجود مې چې کوم قیمت او بیه وه هغه مې له لاسه ورکړه. زموږ اړیکې دوام پیدا کړ تردې چې په یوه موضوع مو له یو بل سره دعوه وکړه. یوه ورځ مې له هغه سره اړیکه ونیوله... بل ملګري یې ځواب راکړ او ویې ویل: پوهېږم چې له فلاني سره د دعوه منځته راغلې زه به ستاسو ترمنځ سوله وکړم. نجلی وایي: په خبرو یې ما باور وکړ. له غرمې وروسته مو په پوهنځي کې یو له بل سره ناسته وشوه. راغی او په موټر کې ورسره سپره شوم او هغه ځای ته یې بوتلم چې هلته یې ملګری و. د سمندر څنډې او ساحل ته ولاړو. هلته څوک نه وو، غوښتل یې له ما څخه انتقام واخلي، کله مې چې مقاومت وکړ نو پر ما یې تېری هم وکړ او تهدید یې هم کړم چې خبردار چاته ونه وایې. وروسته یې زه لومړني ځای ته بوتلم او د سپي په ډول یې له موټر څخه وغورځولم. هغه بل ملګری مې له پېښې خبر کړ هغه هم ماته تسلیت راکړ او زه یې آرامه کړم او قسم یې وکړ چې ستا د شرافت انتقام به ترې اخلم. وروسته له هغه سره بهرته ولاړم ترڅو لږ تسکین پیدا کړم. ناڅاپه یو چا له ماسره اړیکه ونیوله او ویې ویل: چې زه ستا څخه څو انځورونه او غږیز ثبت شوي شیان لرم او که چېرته له ما سره اړیکه ونه لرې نو انځورونه او تلیفوني اړیکې به په ټولو ځایونو کې خپرې کړم. ما هم له هغه سره اړیکه ونیوله او څه یې چې غوښتل له ماسره یې وکړل. همدارنګه په همدغه حالت کې وم، یوه به تهدیدولم بل به په ما تېری کولو تردې چې یو له سرپرستانو زه ونیولم، کاشکې له همغه لومړیو یې زه نیولې وی. نور وخت تېر و، نور مې هرڅه له لاسه ورکړي وو... د دوی د لاس او لوبولو یوه آله ګرځېدلې وم. دغه دي په انساني څېرو کې لوی لیوان، د خپلې کورنۍ آبرو مې له منځه یوړه، شرم او بې‌آبرویي مې ورته پرېښوده.

څومره ربښتینې خبره ده چې الله ﷻ فرمایي: [وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ]«البقره ۱۶۸» د شیطان په ښودل شوو لارو مه ځئ.

آيا دغه خبرو مو زړونه زخمي نه کړل او ستاسو له سترګو به اوښکې ونه بهولې؟

زموږ د ناموسونو حرمت رسوا کوي، زموږ د ناموسونو حرمت رسوا کوي.

تاسو ته په لوړ غږ آواز کوم! زما خطاب پلرونو، میرانو، سرپرستانو او مشاورانو ته دی، زموږ او خپلو لوڼو ته نجات ورکړئ، لورانو ته مو نجات ورکړئ، لورانو ته مو نجات ورکړئ.

**اې پلاره! اې مورې...** تاسې ټول مسؤل یئ. د ټولنیزو شبکو، ډیش انتنونو، انټرنیټ، ګرځنده تلیفون شتون له خارنې پرته یو د هغه عواملو څخه دی چې ستاسې لورانې به تباه کړي او که مخه یې ونه نیول شي له دې به هم لوی ناوړین رامنځته شي. هغه نجونې چې له موخې او اړتیا پرته په بازارونو کې بې‌خایه چکر وهي دا د چا له ناموسونو څخه دي چې داسې به د خارویو په شان خپل سرته پرېښې دي، آيا په دغه سړيو کې د غیرت په نوم کوم څه شته؟ زموږ ښځې له سهاره تر شپې پورې د موټروانانو سره بهر ته ځي.

له خارنې پرته یوه لور د پلار په وړاندې له حجاب پرته په یوه جذاب کوچني پروني کې له یو نامحرم سره اړیکه ټینګوي. خو د سرپرستانو له خوا یوازې هلکان څورول کیږي.

زه دغه نجلی ته وایم: ته د فساد یو لوی سبب یې، ادب او حیا دې غورځولې، او په یوه فاخر لباس سره د کوره بهر شوې یې څه غواړې؟ غواړې... د سړیو پاملرنه ځانته واړوې؟ خو ته نه پوهیږې چې ته په ټولو سړیو پورې اړوند نه یې؛ نو که د واده نه وي کړی حتماً باید د تیاری په پړاو کې وې.

یو مستشرق له یو مسلمان څخه وپوښتل: ولې ستاسې ښځې حجاب اغوندي؟! وایې! څکه زموږ ښځې نه غواړي له خپل مېړه څخه پرته له بل

چا څخه بچیان راوړي! پوه شوې؟! غوږ شه چې څېرنې او شمېرې څه وايي، هو واوره چې شمېرې څه وايي. د لارې د سرونو، حرامیانو او هغه ماشومانو شمېرې چې د مسجدونو مخې ته په خخل دانیو[1] کې پیدا کېږي شمېرو ته غوږ شه!

آیا دغه لوی ناورینونه او لویې بدمرغی نه دي؟

ماته ګوت څنډنه مه کوئ ځکه کله چې یو په زړه زخمي انسان له زخمونو او دردونو څخه شکایت کوي هغه باید ملامت نشي. ما مه ملامتوئ ځکه هغه انسان ته باید ګوته ونه نیول شي چې ظلم او زیاتی یې لیدلی وي. ما مه ملامتوئ، بلکې هغه زړه مو ملامت کړئ چې ستاسو په بدنونو کې دی او د دغه زخمونو درد یې نه دی څکلی. او زه هغه کس نه ملامتوم چې احساسات یې مړه شوي بلکې هغه څوک ملامتوم څوک چې وجدان ولري او احساسات یې ژوندي وي. او په همدې توګه مې زه هم د خپلې سینې له ملامتی سر نه ټکوم ځکه چې د معنوي عاشق سینه له دغه ډول خبرو څخه څنډې ته نه کېږي بلکې حل لاره ورته ګوري.

---

[1] ښاغلي شیخ دلته د خپلې نړدې ساحې دغه ډول پېښو پرده پورته کړې ده. د دې نه هم په پرمختللي ډول چې یوه بله وبا عامه شوې هغه د جنین قتلونه دي د مور په رحمونو کې، دا یوه بله پرمختللې لار ده چې بې حیا او بې دینه ښځې یې د خپل ځان د نه ښودلو له کبله په کار اچوي چې زه د طب د یو زده‌کړیال په حیث د عامې روغتیا له وزارت، نسایي ولادي ډاکټرانو، د عامه درملتونونو له ټولو مسؤلینو څخه په کلکه غوښتنه کوم ترڅو په دغه اړخ کې خپل مسؤلیت ته جدي پاملرنه وکړي او په غیر قانوني ډول په دغه ډول درملو بندیز ولګوي او په تجویز او ورکړه کې یې له پوره پوره غور څخه کار واخلي. په دې اړخ کې چې نورې فتنې او لارې دغه بې دینه او بې حیا ښځې په کار اچوي او خپله بې‌عفتي او بې‌حیایي پرې پټوي له الله ﷻ وروسته د طب کارپوهانو ته په ډاګه معلومې دي زما قلم یې دلته له لیکلو څخه شرم ښکاره کوي. دا کمه اشاره مې هم د یو مسؤل کس په توګه ستاسې د لا زیاتې پوهې او څېرنې لپاره دلته وکړه. «ژباړن»

دمه...

د دغه ډول ناورينونو له منځه يو ليک! د هغه ځا لپاره چې فاخر، جذاب او ځليدونکی لباس اغوندي، له خپلو سرونو يې د حيا او عفت چادر ښکته کړی وي. دغه ليک او خبر په غور واورئ، دا د يوې نجلۍ لخوا راغلی ليک دی چې سرليک يې دی:

تاته اې خورې د هغه زړه ځخه يو خطاب دی چې ستا په خاطر سوځيږي او ستا په حالت يې د سترګو اوښکې نه دريږي. دغه نجلۍ په خپل ليک کې وايي: درنې او ګرانې خورې! يو ساده ټکی چې ښايي پوه نه وې او يا له هغه غافله وې تاته وايم. هغه ولوله او غوږ ورته کيږده. وروسته هغه څه دې چې ولوستل او واوريدل په هغه کې فکر وکړه، وروسته له هغې هغه لاره غوره کړه چې الله ﷻ فرمايي: [إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا] «انسان۳»، موږ هغه ته لاره وښوده، يا به شکر کوونکي شي او يا به کفر کوونکي.

ښايي تراوسه پورې د «مړو د مينځلو خونې» ته نه وې ورننه شوې خو زه په دنيا کې د رسول ﷺ نه وروسته تر ټولو لوړ انسان سره هلته ولاړم. له خپلې مور سره مې هغه مور چې بدن او روح يې له پاکۍ ځخه ډک دي. دغه يوازې زما نظر نه دی بلکې دا د هغه ځا نظر هم دی چې يا يې هغه ليدلې وي او يا يې په اړه اوريدلي وي.

هغه نجلۍ وايي: مخکې له دې چې اصلي موضوع ته ورننه شم يوه ساده پيښه تاسې ته وړاندې کوم. د هغه مور په سخته ناروغۍ اخته شوه او ډيره به ترې خوريدله خو شکايت به يې نه کولو، ډاکټران يې چې کله له صبر او زغم ځخه حيران شول موږ ته يې خبر راکړ. د هغه د ژبې ځخه په هرحال کې د الله ﷻ ياد نه وتلو همدغه يې د زغم او صبر راز و، آيا الله ﷻ نه دي فرمايلي:

(فاذکروني اذکرکم)؛ تاسې ما يادوئ زه به تاسې يادوم. په هغه کال چې له دنيا ولاړه او د شعبان په مياشت کې يې د ناروغی له شدت څخه زيات زحمت ګاللو خو دعا به يې کوله او ويل به يې: زما پالونکيه! که چېرې دې مرګ راته ټاکلی وي نو له تا غواړم چې د رمضان مياشتې ته مې ورسوې. دغه جمله يې په بار بار تکراروله او ويل به يې ته پوهېږې چې زه له دې دنيا سره د روژې په خاطر مينه لرم. پالونکيه! ترڅو چې رمضان نه وي راغلی، زما روح مه اخله. پر له پسې به يې دا دعا کوله، الله ﷻ يې هم دعا قبوله کړه او هغه يې تر رمضان پورې ورسوله، په پايله کې د عرفات د ورځې په وروستيو شپېو او د اختر د شپې په پيلېدو سره له دنيا ولاړه، له دنيا ولاړه خو په شونډو يې موسکا خپره وه. له دنيا ولاړه په داسې حال کې چې شهادتينې يې په ژبه جاري وې او ملايکو يې هم په جلال سره روح ترې واخيست.

نجلی وايي: خورې! ښايي چې ليک مې لږ څه اوږد شوی وي؛ خو د مور د دغه پيښې څخه د خبرېدو وروسته غواړم چې پوه شې، هرڅوک چې الله ﷻ په دې دنيا کې په ياد ولري الله ﷻ يې هم د مرګ په وخت کې ملګری وي او له هغه وروسته هم ورته پاملرنه کوي.

خورې! که تراوسه پورې د «مړي مينځلو خونې» ته نه وې تللې حتماً يو ځل وردننه شه. يا به دې دلاسه ورکړي دوست ته غسل ورکوې او يا به دې دوستان تاته غسل درکړي. آيا پوهېږې چې له غسل او کفن وروسته ښځه په يوه چپنه پوښل کيږي او يو کفن ورته جوړيږي او له هغه سره قبر ته ليږدول کيږي. دا هغه څه دي چې ما مې مور ته له غسل ورکولو څخه زده کړل او له هغه سره مې په يو کفن کې مخه ښه وکړه.

نو اې هغه خورې چې فاخر، جذاب او پرکبدونکی لباس اغوندې، اې هغه خورې چې وروستی لباس د يو کفن دی، اې هغه خورې چې تنګ او

چسپ لباس اغوندې ترڅو پرې د نامحرمه زړونه يوسې او ستا د بدن هسکې او ټيټې پکښې څرګندې شي، آيا پوهېږې چې دغه ډول لباس او اغوستل به ستا سره تر قبره ملګري وي؟!

خورې! له مرګ څخه مه غافله کېږه، عمر د الله ﷻ په امر منلې کې تېر کړه، له چټلي څخه ځان وساته او پوه شه چې د الله ﷻ امر منه له ځان سره مينه او توفيق لري او ګناه د ذلت او له الله ﷻ څخه د لرې والي سبب ګرځي.

يو سړي يوه وينزه لرله چې د شپې به لمانځه ته پاڅېدله، وينزې غوښتل ترڅو سړی هم بېدار کړي خو هغه پورته نشو، بيا يې هڅه وکړه خو بېدار نشو. اودس يې وکړ او د الله ﷻ سره يې راز او نياز پيل کړ. سړی پورته شو او د هغه په لټه کې شو او ويې ليدل چې هغه په سجده کې وايي: تاته په هغه مينه او محبت قسم درکوم چې ته يې له ماسره لرې ما په داسې حال کې مړه کړه چې ماته د ښښنه کړې وي. د سجدې په حال کې دغه ډول جملې تکراروي. کله چې له دغه راز، نياز او رباني مناجات څخه فارغه شوه سړي ورته وويل: له کومه ځايه پوهېږې چې الله ﷻ تاسره مينه لري؟!

ويې ويل: که چېرې يې له ماسره مينه نه وی نو ته به يې ويده نه پرېښودې او زه به يې نه پاځولم.

وامو ورېدل؟! پوه شوئ؟ د الله ﷻ امر منه له ځان سره مينه او توفيق زېږوي او ګناه د ذلت او د الله ﷻ نه د لرېوالي سبب ګرځي.

په الله ﷻ قسم درکوم آيا دغه حديث مو په وار وار نه دی اورېدلی خو آيا تاسې يې په معنی کې فکر کړی دی؟

پيغمبر ﷺ فرمايي: په دوزخ کې دوې ډلې داسې دي چې تراوسه ما نه دي ليدلې، يوه هغه ډله ده چې د هغوی په لاسونو کې د (غوايي د لکی په شان)

قمچینه وي چې په هغې سره دوی نور خلک وهي او بله ډله بې‌حجابه ښځې، هغه ښځې چې سره د جامو بیا هم بربنډې وي چې خلکو ته به خپل مذموم حرکات ښکاره کوي، د هغوی سرونه به د اوښانو د بوکام په شان وي، دوی به نه جنت ته داخلې شي او نه به د جنت خوشبويي له دومره دومره فاصلې څخه ومومي.

**غوږ شه!!!**

**نه جنت ته داخلېدی شي او نه يې بوی تر پوزو کولی شي...**

د جنت بوی له دومره دومره لرې فاصلې څخه تر پوزو کېدی شي، مسلم.

په يو بل روايت کې دي: (په دوی لعنت ووايئ څکه دوی لعنتي دي) وادې ورېدل؟ د امر منني اهميت او لوړوالی د ترلاسه کړ؟!

نه جنت ته داخلېدی شي او نه يې حتی بوی تر پوزو کېدی شي...

څومره وېرووونکې وعده ده چې انساني بدن په لړزه راولي. وروسته د الله ﷻ استازی وايي: په هغه لعنت ووايئ څکه هغه لعنتي دي. په الله ﷻ قسم دا هغه لعنت دی چې له زړونو مخکې عقلونه له هغه وېره لري. څه خو لا دا چې ته د هغه کسانو څخه وې چې دغه ډول وېرووونکې وعده ورسره شوې؟!

دغه ډول ښځې په فاخر، پرکېدونکي او جذاب لباس سره، آيا دوی مو په بازارونو، غونډو او مجلسونو کې نه دي ليدلې چې وروستي موډ لرونکې جامې اغوندي، چېنې يې په اوږو باندې اچولې وي هغه هم په داسې ډول چې حتی سينې يې هم ترې ښکارېږي او د بدن لوڅوالی يې له ورايه څرګندېږي.

د هغه د بدن پوښوالی هم الله ﷻ ته شکايت کوي. دوی نه پوهېږي چې حجاب او چادرې د زينت لپاره نه ده بلکې د زينتونو د پټولو او پوښولو

لپاره دي.

تاته په الله ﷻ قسم درکوم چې دغه اوسني حجابونه او د شرم او شر ځخه ډک ټکري او ګاجونه د عایشې ﷺ او فاطمې ﷺ د لمسیانو سره ښایي؟؟؟

دوی هم ځواب راکوي: زه مې په خپل نفس اطمینان لرم، د نفس له هوس او خواهشاتو پرته زما آزادي له منځه ځي.

زه هم ورته وایم: دغه دواړه هم یوځای نه ملګري کېږي چې هم د الله ﷻ لارښوونکی او لارموندونکی دین وي او هم ورسره فسق او فجور.

په الله ﷻ قسم له ټولو ځخه ډېر چې زما امت ته ضرر ترې پېښ شوی وي هغه د هلکانو او د نجونو بې حده ملګری دي او بس!

## پنځم ناورین

له سرلیک پرته؛ څکه نور سترې شوم چې څه ووایم او د هغه لپاره عنوان وټاکم. د هغه لپاره خپله غوږ کېږده او سرلیک ورته وټاکه! ټاکنه ستا په لاس کې ده.

یوې نجلی له ماسره اړیکه ونیوله او خپل مشکل او ستونزه یې راسره شریکه کړه. ویې ویل: له هلک سره مې اړیکه وه، او د دغه اړیکې له کبله موږ په وار وار په محرماتو کې دننه شوي یو؛ خو د سږ کال له حج وروسته مې توبه وکړه او پښېمانه یم او له ګناه ځخه مې لاس واخیست، اوس زما لپاره څه نصیحت لرې؟ ورته ومې ویل: په توبه کې دې رېښتینې اوسه، له الله ﷻ وغواړه ترڅو په توبه باندې ثابت قدمه پاتې شې. نجلی وژړل او ویې ویل: په الله ﷻ قسم چې زه په توبه کې رېښتینې یم. بیا ځلې یې دا جمله تکرار کړه، ګناهونو زما زړه سوځولی او ګرمې اوښکې مې په وار وار توبې

CS CamScanner

کړې دي.

هغه مې آرامه کړه او ورته ومې ویل: زیرې واوره چې د الله ﷻ رحمت پراخه دی او هغه [وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى] طه ۸۲، البته چا چې توبه وویستله، ایمان راوړي او ښه عمل یې وکړ، بیا سم روان شو، د هغه لپاره زه ډېر ښښونکی یم.

ویې ویل: بله ستونزه هم لرم، ومې ویل هغه څه ده؟! ویې ویل: اوس هم هغه هلک له یو لوري بل لوري له ماسره اړیکه ټینګوي او یا مسیجونه راته کوي. هغه هم اوس سمه لاره غوره کړې او حالت یې تغیر کړی دی. ورته ومې ویل: نو ددغه مسیجونو او اړیکو څخه یې موخه څه ده؟! دغه د شیطان د بیا ننوتلو لویه دروازه چې باید وتړل شي! څکه چې الله ﷻ فرمایي: [وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ] «البقره ۱۶۸»، او د شیطان په ښودل شوو لارو مه ځئ.

که چېرې دغه هلک رښتیا وایي او غواړي پخوانۍ اشتباوې یې جبران کړي باید له سمې لارې دننه شي، ویې ویل: هغه ستا غړیزو کلیپونو ته غوږ نیسي او ستا وعظونه تعقیبوي، ورته ومې ویل: د تلیفون شماره یې راکړه ترڅو زه ورسره اړیکه ونیسم. له هلک سره مې اړیکه ونیوله، خپل ځان مې ورو پېژندلو هغه هم خوښ شو ورته ومې ویل: د کومې نجلۍ چې ته غوښتنه کوې او هغه ستا خیر غوښتونکې ده له ماسره اړیکه نیولې وه او ویل یې چې تا او هغه، مخکې یو له بل سره حرامه اړیکه لرله تردې چې الله ﷻ د توبې توفیق درکړ او لارښوونه او هدایت یې درته نصیب کړ نو د الله ﷻ په خاطر د دغه مسئلې شکر وباسه. وروسته مې ورته وویل: خو یوڅه...! ویې ویل: هغه څه دي؟

ورته ومې ویل: تلیفوني اړیکې او مسیجونه...

که چېرې غوارې اشتباوې دې جبران کړې نو له سمې لارې دننه شه [وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا] «البقره، ۱۸۹»، نو تاسې خپلو کورونو ته د دروازو له لورې ورشئ.

له دې پرته نوره ادامه مه ورکوه او د شیطان دروازه وتړه. هلک ماته قول راکړ... شپې او ورځې تېرې شوې. هغه نجلی دویم ځلې له ماسره اړیکه ونیوله، د حال پوښتنه مې یې وکړه، ویې ویل: له دې ښځه نور نه ښه کیږي.

له هغه هلک مې وپوښتل... ویې ویل: اړیکې او مسیجونه مطلقاً قطع دي؛ خو بیا یې سکوت وکړ او چوپتیا یې اوږده شوه، ومې ویل: څه شوې؟ ویې ویل: یوه بله مسئله هم ده چې باید پوه شې، ولې له تا ښځه شرم وکړم. په داسې حال کې چې له الله ﷻ نه یم شرمېدلی، ورته ومې ویل: هغه کومه مسئله ده؟ ویې ویل: تاته مې ونه ویل چې ما واده کړی او درې بچیان لرم. ځای په ځای شوم، ژبه مې بنده شوه، ومې نشوی کولی چې خبرې وکړم... له زړه ښځه مې چیغه پورته شوه... آوازکوونکي غږ وکړ: پالونکیه... آیا فساد او بې بندوباري دغه حدته رسېدلې؟! هغه اوښکې چې د مسلمانانو د اوسنې دردونکي او پرېشانه کوونکي حالت په غم کې تویې کړم بندې مې کړې... نجلی په ژړا سره وویل: ولې خبرې نه کوې؟! پوهېږم چې لوی جرم مو کړی دی؛ ولې خو توبه مو کړې ده او (الله یحب التوابین): الله ﷻ توبه کوونکي خوښوي.

په الله ﷻ... پښېمانه یو... او د نړیوالو د پالونکي په دروازه کې مو ځانته ځای پیدا کړی دی... خپل ځان مې کنترول کړ او ومې ویل: دغه هلکان د چا زامن دي؟! ویې ویل: په الله ﷻ قسم دغه هلکان یې د خپلو پلرونو زامن دي او زه پوهېږم. ومې ویل: اوس پوه شوې چې ولې... زنا یو له تر ټولو بدو جرمونو ښځه ده. په دغه عمل د خلکو ناموسونه هلاک او غلا شول، نژادونه له منځه ولاړل. په همدې خاطر الله ﷻ فرمایي: [وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ

فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلاً] «اسراء، ۳۲» زنا ته مه نږدې کیږئ، هغه ډېر بد او ناوړه کار دی او بده لاره ده.

حتی... بدترین وعید او جزا ورته ټاکل شوې، هغه هم سنګسار (په تیږو ویشتنه). الله ﷻ خپل کلام په زناکاره ښځه داسې پیلوي: (الزانية والزاني) ځکه که چېرې ښځه خپل ځان د سړي په اختیار کې ورنه کړي دغه جرم نه واقع کیږي. نجلی په ژړا شوه ترهغې چې زړه مې پرې توټې توټې شو. ویې ویل: هر ځل مې چې د ژوند شریک وینم دا حس کوم چې زه مجرمه یم. خواره او ذلیله یم. پرله پسې د هغه په غوږ کې غږ کوم: چې ما وبښه، ما حلاله کړه، خو هغه نه اوري، هغه نه اوري چې ولې دغه خبرې هغه ته کوم. په څو څو ځله مې دغه فکر کړی چې له دغه پیښې پرده پورته کړم. بیا مې وویل: د خپل ځان راز وساته.

هرڅوک چې د خپل ځان راز وساتي، الله ﷻ به یې هم د راز څخه پرده پورته نه کړي؛ خو... په توبه کې دې ربښتینې اوسه. ژړا یې شدت پیدا کړ... په هغه وخت کې مې دا احساس کړه چې هغه ربښتینې توبه کړې ده (ټول د آدم زامن خطاکار دي او غوره د خطا کارانو هغه دي چې توبه یې کړې وي).

دمه...

د الله ﷻ ملګری ته خوښ لیدي یو... د دغه دردونو او فجایعو سره سره د الله ﷻ ملګری او کومک ته خوښ لیدي یو...

اوس هم زیری درکوم چې په میلیونونو نجونې خپلو کورونو ته بیا ګرځېدلې، د الله ﷻ په دین یې منګولې ښخې کړې، په حجاب باندې ویاړي. ایمان او خپل عزت ته په هرڅه لومړیتوب ورکوي. اې خورې! ننی

امت له تا څخه د دې تمه لري ترڅو فاتح اتلان، پرهېزګاره عابدان او رباني علما وزېږوي او د دغه امت په اوسنيو زخمونو پټۍ ولګوي او دا تر هغه نشي کېدی ترڅو چې خپل مسؤليتونو ته پاملرنه ونه کړې، ځکه انسان بايد د يوڅه وړتيا ولري ترڅو يې نورو ته ولېږدوي.

داسې خبرې به هم درته وکړم چې حوصله مو زياتوي او همت مو لوړوي. ترڅو بيا هم پوه شې چې اسلامي امت يو سخاوتمند امت دی.

نو غوږ کېږده! په داسې حال کې چې ډېری نجونې او پېغلې په خپلو خيالونو او خوبونو کې ډوب شوې، ډېری داسې ريښتينې خورانې هم شته چې له ځان سره يو درد او احساس لري.

داسې درد نه لکه په ګناه کې د ډوب شوو نجونو درد: مينه او مراويتوب. او نه د غافلو نجونو درد چې يوازې جنسي کړنې او شهوت پرستي ده.

يوې نجلۍ له ماسره اړيکه ونيوله او زما د ايميل غوښتنه يې وکړه او وېې ويل يو پيغام لرم او ښه يې ګڼم چې ستا په لاسونو تر نورو ورسيږي. پيغام راغی او ومې لوست. دهغه په لوستلو مې ځان سپک احساس کړ او وشرمېدم، د شکر سجده مې وکړه چې داسې نجونې هم لرو، د هغه پيغام هغه برخې ماته حيرانوونکې او ارزښتمنې وې، واوره!

د دوو نوو پېغلو يو پيغام و چې د الله ﷻ پر مينه او د هغه د رسول پر مينه او پر اسلام باندې پر قرباني او سربښندنې څرخېده، وېې ويل: اې شيخ صاحب! له پيليزې پرته، زموږ ستونزه دا ده چې موږ نجونې يو خو د نورو په شان نه زموږ احساسات له نورو نجونو سره ښکاره توپير لري. زموږ احساسات يوازې د حق د توري په وسيله د لا اله الا الله د کلمې لوړول دي، مرګ زموږ لپاره ژوند دی، ژوند زموږ لپاره جهاد دی، زموږ لويه هيله د

شهادت مرګ دی. موږ به څه ډول آرامه کښېنو او زموږ فکر به څنګه آرامه شي، په داسې حال کې چې موږ مسلمان کوچنیان وینو چې وژل کېږي، میندې یې په وینزې توب بندي کېږي. پلرونه یې شکنجه کېږي او تکول کېږي. موږ نشو کولی د نن ورځې د سړیو په شان یوه پښه پر بله واړوو او بوازې تماشا وکړو. که تاسې د خوب خوند تجربه کوئ موږ دغه خوند نه پېژنو. موږ د ټوپک او طیارې په غږ خپل خوب ته ځو. موږ د دې په خاطر چې د تا سره یو، تاسره یوځای ژوند نه کوو. موږ په دغه لیک سره نه غواړو چې ته مسلمان امت ته تسلیت ورکړې یا زموږ ستاینه وکړې. ځکه زموږ هره یوه یو بل خپل ځان پېژنو.

دغه لیک په دې خاطر درته لیکو چې موږ ته د جهاد لار راوښيې. ځکه مرګ او شهادت زموږ لویه هیله ده. موږ ته مه وایه چې تاسې ښځې یئ. په دې موږ هم پوهېږو خو موږ ښځې یو د سړیو په روحیه، د هغه سړیو په شان چې ذلت او سپکوالی نه پېژني. موږ ته مه وایه چې ستاسو جهاد، حج او عمره دي، ځکه موږ له دې لوړې سترګې غړوو. موږ د الله ﷻ په لار کې مړینه پر ځان منلې، زموږ ځانونه څه دي پرته له دې چې د الله ﷻ د خوښې لپاره یې قربان کړو، په الله ﷻ قسم کوو چې موږ د جنت علاقمندانې یو او مینه ورسره لرو. په الله ﷻ قسم د جنت مینه زموږ په زړونو کې ده او پوهېږو چې شهید د الله ﷻ پر وړاندې کوم ځای لري. موږ غواړو چې د هغه تر نامه لاندې او د هغوی سره حشر شو.

دغه دوه نجونو ام عبدالله او ام عبدالرحمن په امضاوو سره خپل لیک پای ته رسولی دی. دغه څه مو چې واورېدل د هغه لیک یو څو مهم ټکي وو، چې زه یې هم په ځینو غونډو کې د نمونې په ډول وړاندې کوم. هغه امت چې داسې نجونې ولري هغه ماتې نه منونکی دی...

موږ د غوره امتونو څخه تر ټول غوره امت یو (كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ)؛ او په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسې یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره منځته راوړل شوې ده.

اې په نېغې لارې روانې خورې! په هر ډول شرایطو کې له انحرافاتو څخه مه وېرېږه، ستا تکیه د الله ﷻ پر ذات ده، هر څومره انحرافي بادونه چې پورته کېږي نو د حق رېښې ورته ټینګې دي او حق به همدا ډول استوار ولاړ وي.

مه وېرېږه، په خپل دین او د الله ﷻ په رسۍ منګولې خښې کړه ځکه چا چې دغه رسۍ چې یو سر یې له الله ﷻ سره دی نیولې، هغوی یې الله ﷻ نه رسولي او په هر ډول طوفانونو کې د لېوانو او سپیانو چیغو پرې اثر او اغېز نه دی کړی.

## وروستۍ خبره

په دغه امت کې تراوسه خیر پاتې دی... هو خورې!

سره له دې چې ډېرې نجونې د فکرونو په سمندر کې ډوب دي خو بیا هم زموږ په امت کې خیر پاتې دی. همدارنګه زموږ په امت کې په نېغه لار روانې نجونې او مورانې شتون لري.

په یوه تلویزیون کې یوه صحنه وړاندې شوه چې د هغه صحنو خاطرې یې ژوندۍ کولې چې د صحابه و او د صالحو ښځو په اړه خپرېده. داسې یوه صحنه وه چې په پر له پسې توګه د هغه د اورېدلو او لیدلو لېوالتیا پیدا کېږي، د یوې فلسطیني مور صحنه وه چې شل کلن زوی یې د شهادت غوښتلو له اقدام څخه وروسته د وصیت کولو په حال کې و.

واوره مورې! واوره! واوره! څومره لویه سربښندنه! مور یې د زړه ټوټه دې

نه تیاروي ترڅو د الله ﷻ په لار کې د شهادت مقام ترلاسه کړي.

دغه کار بوازې هغه کسان کولی شي چې الهي او رباني زړونه ولري. هغه مورکی خپل زوی دغه لار ته وړاندې کړ او ورسره یې مخه ښه وکړه په داسې حال کې چې د پالونکي دغه غږ یې په غوږو کې کار ته پورته کېده: [قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ] انعام ۱۶۲، ووایه زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم، زما ژوند او مرګ، هرڅه د کایناتو د پالونکي الله ﷻ لپاره دي.

د دغه مور په حال د خوښي وي... چې د وروستي ځل لپاره خپل زوی په سینه چسپوي او دا پوهېدله چې لږ وروسته به د هغه لږ توټه هم پاتې نشي چې د پیژندلو وي.. خوښي د وي چې د خپل زوی پر تنده خپلې مبارکې شونډې ایږدي او دا پوهیږي چې دا وروستی مچو ده، هغه وخت چې کله یې زوی هغه ځای پریږدي مور یې پوهیږي چې بیا نه راګرځي! خوښي ده د دغه مور په حال... کله یې چې د وروستي ځل لپاره د هغه لور ته سترګې غړولې نو هغه وخت یې د چاودنې غږ تر غوږو شو او دغه غږ تر ټولو نړیوالو ورسېد:

موږ هغه خلک یو چې له محمد ﷺ سره مو بیعت کړی ترڅو چې ژوندي یو جهاد وکړو، دا د هغه چاودنې غږ و چې نړیوالو او د آلمان خلکو ته وایي او په ډاګه دا اعلان کوي:

موږ ماتې نه منونکی امت نه یو څکه چې پیاوړی رب زموږ سره دی، الله ﷻ دې د خېر بدله درکړي اې د شهید مورې چې د ننګ او خوارۍ پر وړاندې تسلیم نشوې، په الله ﷻ قسم خورم کومه خبره چې دې وکړه عملي دې هم کړه. ته په تیارو کې یوه نوراني سپوږمۍ یې. هغه امت چې ته یې

یوه غړې حسابېږي هېڅکله ماتې نه مني، تا موږ ته بیا هیله راکړه او ناهیلي دې زموږ څخه لرې کړه. ته به د قیامت په ورځ په هغه څه زیاته خوښه وې کوم دې چې په دنیا کې ورته وړاندې کړل. موږ ته دې د صحابوو او تابعینو د زمانې د ښځو ایمان وګرځولو.

نو د خیر زیرى ورکړه چې الله ﷻ فرمايي: [إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا] «احزاب ۳۵» بېشکه مسلمان نارینه او مسلمانې ښځې، مومنان نارینه او مومنې ښځې، امر منونکي نارینه او امر منونکې ښځې، رېښتیني نارینه او رېښتینې ښځې، صبر کوونکي نارینه او صبر کوونکې ښځې، د الله ﷻ پر وړاندې سر ټیټوونکي نارینه او سر ټیټوونکې ښځې، خیرات ورکوونکي نارینه او خیرات ورکوونکې ښځې، روژتیان نارینه او روژتیانې ښځې، پاک لمني نارینه او پاک لمنه ښځې او د الله ﷻ ډېر ډېر یادوونکي نارینه او د الله ﷻ یادوونکې ښځې. دا (لس واړه ډوله) خلک هغه کسان دي چې الله ﷻ د هغو لپاره بښنه او لوی اجر تهیه کړی دی.

که د ژغورنې په لټه کې یې نو په دغه ځانګړنو ځان پوښ کړه. که د نېکمرغۍ په لټه کې پیاوړې اراده لرې، زه به تا هغې لارې ته وګرځوم. موږ ټول د نېکمرغۍ په لټه کې یو، نېکمرغي یوازې په الهي اطاعت او د الله ﷻ د خوښۍ تر سیوري لاندې ژوند کې نغښتې ده. نېکمرغي نېغې لارې ته په ګرځېدلو، توبه او د ګناهونو د بښنې په غوښتلو کې ده. نېکمرغي د سهار وختي اوښکو او د نېکانو سره په ملګرتیا کې ده.

نېکمرغي د توبه کوونکو په ژړا او د ګنهګارانو په چیغو کې ده، نېکمرغي

په خشوع، رکوع د الله ﷻ پر وړاندې په عاجزۍ، د الله ﷻ له وېرې په ژړا او اوښکو کې ده.

نېکمرغي په روژه، شپه ویښه تېرولو، او د الهي شریعت څخه په رښتینې پیروۍ کې ده. نېکمرغي د قرآن‌کریم په تلاوت، د فاحشو او بې لارې کوونکو فیلمونو، سندرو او مستۍ نه په لرې والي کې ده.

ستاسې پالونکی شپه او ورځ لاس راغځوي او ستاسو په توبه خوښي څرګندوي. الله ﷻ له دې څخه زیات خوشحالیږي چې یو څوک یې دروازه ټک ټک کړي. هغه ذات هر هغه چاته نږدې دی څوک چې هغه ته آواز کوي.

هغه ذات ګناهونه ښښي او په بدیو باندې د ستر څادر غوړوي. دروازه یې ور ټک ټک کړه ترڅو د پرمخ خلاصه شي. په همدغه لار حرکت ته ادامه ورکړه خپله به یو لوی توپیر احساس کړې او نتیجه به په خپلو سترګو ووینې.

پالونکیه! زموږ نجونې او ښځې د ښکاره او پټو فتنو نه وساته.

پالونکیه! سرګردانه نجونو ته لارښوونه وکړه او ډوب شوو ته خلاصون ورکړه.

پالونکیه! هرڅوک چې د نېغې لارې څخه ګرځېدلي، هغه د نېکۍ لور ته وګرځوه.

پالونکیه! هغه ته رښتنې توبه او په حقه لار استقامت ورورښه.

پالونکیه! د تباه شوو ګناوې وبښه او د توبه کوونکو توبه ومنه.

پالونکیه! د تنګلاسو د تنګلاسۍ غوټه خلاصه او د غمجنو غمونه لرې کړه.

پالونکیه! په نېغه لاره تلونکي ثابت قدم ولره او هغه ته خوښ ژوند وبښه او هغه پرهیزګار، پاک او پاک لمن جوړ کړه.

CamScanner

پالونکيه! ايمان موږ ته محبوب او زموږ د زړونو زينت يې وګرځوه او کفر او فسق او ګناه زموږ په زړونو کې بده واچوه.

پالونکيه! دوی لارموونکي کړه.

پالونکيه! هرڅوک چې موږ او زموږ خويندو ته په بده سترګه ګوري په خپلو ځانونو يې مشغول کړه او خپل تدبيرونه يې د خپل ځان د هلاکت سبب وګرځوه.

پالونکيه! زموږ نجونې په ايمان، پاک لمنی، حيا او حجاب باندې ښکلې وګرځوه.

پالونکيه! حجاب ورته محبوب او بې حجابي او بربنډتوب ورته بد وګرځوه.

اې عزتمنده خدايه! د دنيا او د آخرت ښېګڼې يې نصيب کړه.

پالونکيه! زموږ ټولنې ته د رحمت په نظر وګوره او زموږ ګډوډی جوړې کړه. له لوی څښتن ﷻ څخه د ښېنې غوښتنه کوم.

وصلی الله تعالی علی محمد و علی آله وصحبه وسلم.

اې مهربانه خدايه! زموږ د ګناهونو بار سپک کړه ته هغه ذات يې چې ګنهګارانو ته ښېنه کوې. په غمونو سره مو په دې دنيا کې ژوند وکړ، څومره لمونځونو به له موږ څخه تاته شکايت کړی وي.

قرآن به هم د دې له کبله چې له هغه څخه لرې شوي يو زموږ سره په تنګ وي. موږ د شهوت‌پرستی په تبه کې تباه شوو او د بې‌لاری په لارو مو خپل قدم کېښود.

شپې مو په ګناه او د پوچو فلمونو په ليدلو سره تېرېږي.

نجونو ماته وويل: آيا غوارې سم ژوند وکړې؟ دغه زيورات غاړې ته

واچوه او هغه چادري او ټکری دې له اوږې وغوځوره! ترڅو چې له شرم پرته د نفس او د هوس په دام کې ګیر شوم. یا د سترګو تورکې هر لور ته اړوم او یا هر بې بندوباره ملګری کوم.

پالونکیه! ولې نن ورځ او په هغه شپه چې ټول زړونه یې د تېرو دې توبه کوم. اوس په حقیقت پوه شوم چې یوه نجلۍ په څه ډول آرامۍ ته رسیږي. اوس په حقیقت پوه شوم چې څه ډول یوه نجلۍ آرامي ترلاسه کوي. ما مې خپلو هڅو ته الهي مخ ورکړ او د هغه د رضا او خوښۍ ترلاسه کولو هیله لرم. زړه مې د ژبې سرته راغی او ویې ویل: آه زموږ پالونکیه. آه! آه زموږ پالونکیه. آه!. د یوې خور د دعا له دعاوو څخه.

د مغفرت د لسیزې پنځمه ورځ، درې بجې او پنځه ویشت دقیقې. وردګ، سید آباد، خپل کور.

# شپږم څپرکی

# د ناروا تليفوني اړيکو دردوونکي پايلې

ليکوال: محمد عبدالعزيز الحميدي

## پر کتاب باندې د عبدالله پاسالاري سریزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ وَخَاتَمِ النَّبِیِّیْنَ سَیِّدِنَا وَ حَبِیْبِنَا مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِیْنَ وَمَن تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ وَ دعا بِدَعْوَتِهِمْ واستن بِسُنَّتِهِمْ اِلٰی یَوْمِ الدِّیْنَ.

پالونکیه! ستا ثنا وایم او ستا د خوښې لټه کوم او ستا د ایمان لار غواړم چې یوازې پر تا ایمان او ستا د حبیب د سنتو په پیروۍ سره زموږ انسانیت ژوندی او زموږ ژوند ګرانبیه دی، ستا په دربار کې د دعا قبلېدو غوښتونکی یم.

پالونکیه! د ګناهونو د ډنډ منځ کې، ستا د پراخه رحمت او بښنې په هیله پروت یم، زما هیله هم همدا ده چې یوازې ستا بنده واوسم او ترڅو چې دمه راپکښې ده له تا پرته د بل چا عبادت نه کوم.

په وروستیو پیړیو کې د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره د ډېرو انسانانو د ژوند له ځنډې څخه ایمان ورک شو، او د دغه ټکنالوژۍ څخه دردوونکې حادثې او جرمونه منځته راغلل، او ډېرى انسانان په دغه پراخه نړۍ کې د د غه لویې ډالی یعنې ټکنالوژۍ او بې لاسو، بې پښو او بې سره دیموکراسۍ له برکته بې برخلیکه شول. دا ټول د ټکنالوژۍ او له ایماني وړانګو خالي دیموکراسۍ ډالی وه، دا یو ډول داسې تېښته وه چې ډېرى ادیان هم په دغه فاسد او نوي تمدن کې چې د پرمختګ او ټکنالوژۍ تمدن ورته ویل کېږي یو اړخیزه او مړاوي شي، د ایمان وړانګې، رښتینولي او خالصوالی په دغه تمدن بدل کړي چې اوس د دوی پر بدنونو یوازې د دین او ایمان یو نش لباس باقي پاتې دی. هغه هم داسې لباس چې ګناهونه او د هغه ګرد دومره پرې ښکارېږي چې هر عاقل ورته پاملرنه وکړي نو ویه وایي چې دا د ریا،

چاپلوسي او غوړه مالۍ لباس دی چې اغوستونکي يې هم يوازې د خپلې تغذيې لپاره اغوندي، له بدمرغه چې نننی متدين خلک هم دين د خلکو دننه لټوي خو د شريعت دننه څخه خبر نه وي، چې له همدې کبله خپله ديندارۍ ژر له لاسه ورکوي او د خپلو ننيو دردونو د آرامولو لپاره په ناروا او ويجاړوونکو شيانو پورې وصل کيږي، او خپل وروسته پاتې والی هم پر نورو ورتپي. په داسې حال کې چې دين د انسان دوه اړخيزه پرمختګ په نظر کې نيسي چې هم معنوي او هم مادي اړخونه دي چې په مادي کې هم بيا له اوسني فن او ټکنالوژۍ څخه روا ګټه اخيستنه ده چې د انسان د آرامۍ او سوکالۍ په خدمت کې وي. اسلام په خپلو ټولو نصوصو کې خپلو پيروانو ته د دې زده کړه ورکوي او هيڅ وخت دين د يو اړخيز پرمختګ غوښتونکی نه دی، او دا کړنه هم د هغو خلکو ده چې په ناپوهۍ سره دغه دين خلکو ته په دې ډول وربيژني چې دين له ټکنالوژۍ او پرمختګ سره دښمني لري، چې دا يو له هغه مهمو او اړينو عواملو څخه دی چې مسلمانان يې د اوسني تمدن د قافلې څخه وروسته غورځولي دي، او د هغه څه چې تر پرون ورځې مسلمانان د هغه بيرغ وړونکي وو، نن ورځ يې بيرغ د هغه کسانو په لاس کې وينو چې زموږ شاګردان وو.

انسان تل د دې هڅه کوي ترڅو غوره ژوند وکړي، او په رښتيا دا هغه څه دي چې زموږ دين يې هم موږ ته راښيي او پوهانو، عاقلانو خپل ځان ته د خدمت لپاره دغه ډول نوښتونه وړاندې کړي دي او د خپل ژوند د پايښت لپاره يې ډول ډول نوښتونه او کشفونه کړي دي، چې په وروستيو کې له دغه کشفياتو او نوښتونو څخه لکه الکول او باروت ناسمه ګټه اخيستل شوې ده، حتی د سرطاني غدو په ډول يې د خپلو بدنونو د ويجاړولو لپاره ورڅخه کار اخيستی دی.

ټليفون هم يو له دغه نوښتونو څخه دی چې مخترع يې د واټن د لنډولو او يو بل ته د هر اړخيزې لاسرسي لپاره ټولنې ته وړاندې کړی دی. خو له بده مرغه چې نن ورځ د هغه ناروغې کارونې انساني اخلاق له منځه وړي دي.

هغه څه چې تاسې يې د درانه او لوړ استاذ محمد عبدالعزيز الحميدي په دغه کوچنې کتابګوټي کې لولی، د هغه پېښو بيان دی چې د يوې ډلې خلکو تر لمنو رسېدلې او د هغه د کلونو عزت او وياړ چې په ډېرې سختۍ سره يې لاس ته راوړی د يو ټليفون په وسيله په اوبو لاهو کړی. په دغه کتاب کې د هغه مؤمنانو تېر يادونه دي چې ټليفوني اړيکو چل ورکړی. خو کله چې له خوبه راويښ شوي نو دا پته ورته لګېدلې چې اوس ډېر ناوخته دی، د دغه دردونو د حس کولو لپاره چې د ډېرى ځوانانو په منځ کې خپاره شوي دي له کلونو يوه کتاب ته سترګې په لاره وم. هغه ډول کتاب ته چې ټليفوني ګناهونه د فهم په ژبه موږ ته وړاندې کړي او ډېرو ژباړونکو ملګرو سره مې دا خبره هم شريکه کړې وه، همدغه پلټنه وه چې الله ﷻ د خپلې ښځې «رقيه نعمتي» په لاس ما ګنهګار بنده ته دغه کتاب راورسېده.

کله يې چې پلار له مکې مکرمې څخه راوګرځېده نو دغه کتاب يې خپل پلار ورته ډالۍ کړی و او دې آغلې هم د وحې د ځمکې د دغه ليکنې د ژباړې وړانديز ماته وکړ چې د هغه د لارښونو سره سم ماهم دغه شرط ومانه، چې د ۱۳۸۲ لمريز کال د نوروز په رخصتيو کې ما دغه کار ته ملا وتړله. په پای کې د لايزال او لايتناهي ذات څخه په ډېرې عاجزۍ او اخلاص غوښتنه کوم چې دغه کم عمل زما استاذانو، مور او پلار، خپله ماته او ټولو هغو کسانو ته چې پر مايې جوړوونکې نيوکې کړې دي، يوه جاريه صدقه او باقيات الصالحات وګرځوي.

عبدالله پاسالاري ۱/صفر/۱۴۲۴

## د لیکوال سریزه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى النَّبِيِّ الْأَمِيْنِ وَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنِ الصَّحَابَةِ أَجْمَعِيْنَ، وَعَنِ التَّابِعِيْنَ وَ تَابِعِيهِم إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ... وبعد!

په پخوا وختونو کې د ټلیفون له اختراع مخکې تلیفون د انسان یو خوب و؛ خو وروسته د انسان د طبیعي اړتیاوو څخه وګرځېد. ټلیفون منځته راغی ترڅو د انسان خدمت پرې وشي او په دغه پراخه نړۍ کې د نورو سره د اړیکو په آسانتیا کې مرسته وکړي.

ټلیفون منځته راغی ترڅو واټن رالنډ او د انسانانو ترمنځ واټن او سرحد له منځه یوسي، خو ناروغانو او ناروغ زړو دغه مهمه او اړینه وسیله د ډېرو حقیرو او پستو موخو لپاره وکاروه، او اوس له بده مرغه دغه پیښنه په اسلامي ټولنو کې هم ښکاره شوه، هغه هم په داسې ډول چې هره ورځ موږ د یو داسې غم او مصیبت لیدونکي یو چې د ټلیفون په سبب د پیغلو او خوانانو د ناروا او له مسؤلیت پرته اړیکو له کبله منځته راځي، د حیرانتیا خبره دا ده چې په دغه ډول اړیکو کې ډېرې پیغلې د فساد په تور ککړې دي. سره د دې چې ډېری د دوی د هغه کسانو کیسې هم لوستې چې د دوی مخکې د دغه ډول «غریزو» اړیکو ښکار شوې او پای یې هم د بدنامی او ننګ سبب شوی.

نجونې او ښځې په ټیلفوني اړیکو ژر باور کوي، ځان آرامه احساسوي او په ډېرې آسانی سره ښکار کیږي. ځکه دا په دې خاطر چې شیطانان دغه ناروا لار ورته ښه ښکاروي؛ خو دوی له دې بې‌خبره وي چې د دغه ډول اړیکو پای به له ځان سره څومره ستونزې او دردونه راوړي، هغه هم د څو شپیو ژر تېریدونکې خوښی له کبله چې ظاهراً دوی ته آرامي ورکوي او

داسې نور، دوی اوس دغه لوی مصیبت او درد نشي درک کولی او نه راوېښېږي، خو کله چې په دغه نه جبرانیدونکي او نه منونکي او پرده ځېروونکي ډنډ کې راګیر شي. داسې نجونې او ښځې هم شته چې وېښې شوې او د الله ﷻ لور ته ګرځېدلې دي.

مور او تاسې اې محترمه لوستونکیه! دلته دمه کوو ترڅو د دغه چل خوړونکو د ژوند تېر یادونه چې د دوی د خپلو ژبو اعتراف او لویه پښېماني ده ولولو، له هغه څخه پند واخلو او نورو ته یې هم ورسوو. له الله ﷻ څخه غواړم چې مونږ او د ټولو مسلمانانو اولادونه په دغه ګناه او فساد کې له لوېدلو وژغوري او په خپل پټنځای کې یې وساتي[1].

لیکوال ۱۴۱۶/۱۱/۱۸ سپوږمیز کال

---

[1] لیکوال دغه لیکنه په ۱۴۱۶ سپوږمیز کال کړې چې اوس ۱۴۴۲ سپوږمیز کال دی او د دغه پېښو ګراف هم ډېر لوړ شوی دی، نو ما هم اړینه وبلله ترڅو دا کتابګوټی خپلې ټولنې ته ژباړه کړم، ژباړن.

## پښېماني

په څېره کې يې د پښېمانی نښې له ورایه ښکارېدلې، په خپلو بدو گناهونو د اعتراف له کبله يې په خوله کې کلمې په ډېرې سختۍ سره ادا کولې، او د خپلو ترخو یادونو پر وخت يې دا هیله څرگندوله چې اې کاش زه دغه دنیا ته نه وی راغلې، داسې د خجالت او شرم احساس يې کولو گویا چې دنیا سره له ټولو خوندونو په هغه تنگه وه، له سترگو څخه يې اوښکې روانې وې او په لاس يې پاکولې، هغه يې کوله چې د دغه اوښکو په وسیله ځان ته لږ آرام ورکړي، وروسته يې خپلو خبرو ته ادامه ورکړه چې خپلې خبرې يې له خولې داسې اورو:

په ټیټ عمر کې مې واده وکړ... الله ﷻ داسې یو مېړه راکړ چې په هغه کې د خیر او نېکۍ نښې له ورایه ښکارېدلې... له یو شي پرته نور يې هر هغه څه راکول چې ما يې هیله لرله... هغه له ما سره کمې خبرې کولې... زموږ ژوند په یو ډول له تغیر پرته تېرېده... خوب... سبا ناری... کار... غرمه... خوب... د ورځپاڼو او مجلو لوستل... ټلیفون... او بیا هم خوب... له دغه ډول ژوند تېرولو مې د ملامتۍ احساس کولو... له یوازې والي هم خپه وم، ډار او وحشت مې ټول بدن نیولی و، او له دغه ډول ژوند تېرولو مې ستونزې گاللې، یوه ورځ په داسې حال کې چې د ټلیفون ترڅنگ ناسته وم، زنگ راغی، ټلیفون مې راواخیست چې ناڅاپه مې د یوه علاقمند او لېوال ځوان غږ واورېد چې له ما يې غوښتل څو شیبې له هغه سره وغږېږم، ترڅو زما پر وړاندې د هغه احساس بیان کړي، له پاملرنې پرته مې ټلیفون وغورځولو... بیا ځلې يې زنگ راغی... په لومړي سر کې مې هغه ته پاملرنه ونه کړه... خو لږ لږ د تسلمېدو په حال کې وم، څکه دا احساس مې کولو چې ښایي په

خپلو خبرو سره زما دننه لېوالتیا خړوبه کړي او زما په زړه کې هغه لګېدلی او بل شوی اور ووژني.

بیا زنګ راغی او ټلیفون مې راواخیست... په خوږو او چل ورکوونکو خبرو یې له ماسره خبرې پیل کړې، په داسې ډول چې ما دا احساس وکړ چې له زړه ښځه مې پوره خبر دی... رښتیا دا وه چې مېړه مې له ما ښځه لرې شوی و... حس مې کړه چې هغه زما ټولو غوښتنو ته مثبت ځواب ویلی شي... خپلمنځي اړیکو مو ادامه پیدا کړه... په داسې ډول چې د ژوند یوه برخه مو وګرځېده...

زه هم پرځان باندې د خپل مېړه له شک ځخه خبره نه وم، د ټلیفون د زړه وړونکو خبرو پرته مې بل هېڅ فکر نه و... زما مېړه زه په پټه څارلم او زما ټلیفوني اړیکې یې په پټ ډول ذخیره کړې وې...

یوه ورځ مې ورور زموږ کور ته راغی او له ما ځخه یې وغوښتل ترڅو د پلار کور ته ورسره ولاړه شم... کله مې چې له هغه وپوښتل، نو په قهر شو او له خپل جیب ځخه یې هغه طلاق پاڼه راوویستله چې زما مېړه هغه ته ورکړې وه. کله مې یې چې د سبب پوښتنه وکړه نو په قهرجن حالت کې یې راته وویل: خپل ځان دې په ناپوهۍ وهلی؟ ویې ویل:

تا په دغه کار سره زموږ کورنۍ ته یو شرم او ننګ پرېښود! زما له لاسه اوس څه نه کېدل... دلته یې خبرې پای ته ورسېدلې او سر یې ځوړند کړ... مخ یې په لاسونو کلک ونیو او د دغه پېښې له وېرې یې بدن لړزه کوله! ویې ژړل او په لړزېدونکي غږ یې وویل: «زه دا اعتراف کوم چې ډېره وروسته له خوب ځخه پاڅېدلم... خو زما مېړه له ما زیات ګنهګار دی. او هغه دی چې د دې کار سبب شو...!»

او خپله کيسه بې په داسې حال کې پای ته ورسوله چې د پښېمانی او گناه اوښکې بې په گرېوان نه تم کېدلې... خو د دغه پېښې تر شا کوم سبب شتون لري؟

زه تاسې ته په ډېر اطمينان سره وايم چې دا يوه ژر تېرېدونکې شيطاني وسوسه وه چې هغه ورسره مخ شوه او دا يې هېره کړې وه چې الله ﷻ ما له داسې ځايه ويني چې زه ترې خبره هم نه يم. دا له دې بې پروا وه چې يو داسې څوک شته چې ظاهر او باطن ټول ويني، هغه د دغه ستونزې د حل لپاره شيطاني لار لټوله، په داسې حال کې چې هغه کولی شوی د خبرو له لارې او يا هم د خپلوانو او يا صبر په وسيله دغه ستونزه لرې کړې.

**لومړی تمځای**

**ولې دغه موضوع مطرح کوو او يا يې منځته راوړو؟!**

ځينې وايي: د دغه ډول موضوعاتو د مطرح کولو دليل څه دی؟ او ولې دا په دغه ډول مطرح کوو، ولې د خطيبانو او امامانو په خبرو، ليکنو او د پوهانو په ويناوو او د دعوتگرانو په کتابونو کې ډېره برخه ورته ځانگړې شوې ده؟!

د دغه ډول سوالونو په ځواب کې وايم: د دې علت دا دی چې ډېری نجونې او ځوانان دغه ډول مسايلو ته چې ما په دغه کتاب کې راټول کړي، زياته اړتيا لري، ښايي ډېر ورسره لاس او گرېوان هم وي، موږ دغه مسايل مطرح کوو او نور هم ښايي په بل ډول د رسنيو له لارې دغه ډول مسايل مطرح کړي او ښايي د الله ﷻ په خوښه د دوی د لار موندنې او د فساد په دغه ډنډ کې له لوېدنې او د ړوندوالي څخه وروسته د سترگو د روښانتيا سبب شي...

له شک پرته ډېری هغه کسان چې په دغه ډنډ کې لوېدلي دي، يو دليل يې هم ناپوهي، د ايمان کمزوري او د دغه لوبې گناه له پايلو څخه بې‌خبري ده... ښايي دغه کتاب ناپوهو کسانو ته د لار موندنې سبب شي. څومره ډېرې نجونې په دغه ډول چل خوړلی او د کورنی او د کورنی د سترگو څخه لرې د ناروغ زړو سره په دغه ډول ناروا اړيکو او د واده په دروغجنو وعدو په دغه ډنډ کې لوېدلې دي. څومره ډېر ځوانان د دغه ډول شيطان صفته ښځو په تور ککړ شوي، هغه هم په دې گمان چې د دوی د آرامی سبب شي! په همدغه خاطر مې دا کتاب ترتيب کړ، ترڅو د خطر يو زنگ او د زړه سوي پند وي، دوی د اور له ژبو څخه لرې خوندي کړي او د ډېری هغو کسانو په ډول چې په دغه ډنډ کې لويدلي په امن پاتې شي.

### لوبې او تفريح

د خپلو ټيليفوني اړيکو په برسېره کولو کې شکمن و... په څه کې چې گرفتار و د شرم احساس يې کولو، له ټينگار وروسته يې يوه داسې کيسه بيان کړه چې هېڅ وخت به يې هېره نه کړم.

ښکته يې څمکې ته کتل گويا چې خپل يادونه د پردې پرمخ وړاندې کوي، چې لږ راسم شو پخوا ته د گرخېدو کيسه يې داسې بيان کړه:

آرامه او له درد پرته ژوند مې درلود، تردې چې ټيليفون زموږ کور ته راغی، په هغه ورځو کې زه د دغه نوي جالب او جذبوونکي تغير څخه ډېر خوشحاله شوم. دا فکر مې کولو چې ټيليفون د تفريح يوه داسې وسيله ده چې کولی شو په هر وخت کې د اوزگار وختونو د ډکولو لپاره ترې گټه واخلو، خو ټيليفون نورې ښېگڼې هم لرلې، واټنونه يې لنډول د دوستانو او کورنی د غړو څخه به مو خبر اخيست او...

ټلیفون مې راواخیست او بېلا بېلې شمېرې او نمبرونه مې ونیول، د غږېدلو پرته مې ورته غوږ اېښودلو. یوه ورځ مې د یوې پېغلې نجلۍ غږ واورېده... له هغه سره مې خبرې وکړې، ومې لیدل چې ډېره فصیحه ژبه یې ده. بیا ځلې مې اړیکه ورسره ونیوله او دا اړیکې مې ډېر ځله ورسره تکرار شوې تردې چې زه پرې روږدی شوم، نشوی مې کولی چې په ورځ کې له هغه سره اړیکه ونه نیسم، هغه وخت مې فکر کولو چې دا یو چکر او تفریح ده او بس.

ورځې، میاشتې او کلونه تېر شول... لوی شوم او منځنی ښوونځی مې ولوستله او بیا پوهنتون ته ولاړم... ناڅاپه یوه ورځ هغه چا ماته زنګ وکړ او له ما یې د واده غوښتنه وکړه چا سره چې ما مخکې اړیکه ټینګه کړې وه... په غوښتنه یې زما بدن لوی ټکان وخوړ، ځکه اصلاً مې د داسې غوښتنې انتظار نه کولو... هغه ته مې وویل: حتماً ټوکې وهې، په پوره جدیت سره یې راته وویل چې ټوکې نه وهم، او ویې ویل: خلک زموږ له ټلیفوني اړیکو څخه خبر شوي دي، او زموږ ټلیفوني خبرې په څو ناستو کې یادې شوې دي.

د دغه خبر په اورېدلو سره دنیا راته خرابه شوه او یوه خراب حالت کې پرېوتم. له هغه مې ښښنه وغوښته او ورته مې وویل: اصلاً زما او ستا واده کول شونی نه ده او ما دغه کار یوازې د تفریح په خاطر کولو.

بیا یې هم له ماسره اړیکه ونیوله او په ډېرې عاجزۍ یې بیا د واده غوښتنه وکړه، او داسې یې وژړل چې زما پخوانۍ وعدې او نور یادونه یې راتازه کړل. دا خبره اوس یوازې زما او دې ترمنځ نه وه بلکې ټول خلک پرې خبر وو.

په ساعتونو مې خپل سپکوالي ته فکر وکړ چې ولې دې داسې یوې سپکې لوبې ته ځان غورځولی و، او د ټلیفون تر شا د یوې نجلۍ سره د واده کولو تکل مې کړی و. په څو څو ځله مې له ځان سره وویل څوک د دې ضمانت کولی شي چې دغه نجلۍ به له نورو کسانو سره اړیکه نه وي ټینګه

کړي. هغه څوک چې په دې خوښه وي چې زما په شان ځوان سره اړیکه ولري حتماً به نورو سره هم اړیکه لري... دغه ټولی نجونې اصلاً په واده سره نه اصلاح کیږي.

وروستی پرېکړه مې دا وه چې دا شونې نه ده چې زه هغه په خپله نکاح واخلم، د دغه خبرې په اورېدلو سره نجلی ټکان وخوړ او د دغه ټولو خبرو له خبرېدلو چې خپرې شوې وې نجلی یوازېوالی غوره کړ، ډېر وخت تېر شو چې واده یې نه دی کړی... او په پایله کې د دغه لوبې ښکار شوه!!

ځوان پورته شو او خپلې خبرې یې پای ته ورسولې، په داسې حال کې چې په ډېره شدیده توګه یې ځان ملامتولو، د هغه عمل څخه یې د شرم احساس کاوه چې شیطان هغه ته مخکې کړی و.

[أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لاَ تُرْجَعُونَ] «المؤمنون/۱۱۵»

ژباړه: آیا تاسې انګېرلې وه چې موږ تاسې بابېزه پیدا کړي یاست او زموږ لوري ته ستاسې هېڅکله راګرځېدل نشته؟

## دوهم تمځای

### د ټلیفون څخه د ښېښو شوو ناوړه پایلو دلایل

**وقایه او درملنه:** د هغه فتواګانو او څېړنو څخه چې د ځوانانو او پېغلو اړوند ترسره شوې، موږ د ټلیفون څخه د ښېښو شوو ستونزو د علتونو غورچاڼ ستاسې مخ ته ږدو.

۱) دیني اوامرو ته نه پاملرنه او د ایمان کمزوري، دا هغه محور دی چې ډېری ټولنیزې ستونزې یې په پیاده کولو سره حل کیږي، چې همدغه زموږ د بحث موضوع هم ده.

۲) د سالمو احساساتو نشتون، که هغه د نجونو له خوا وي او یا هم د هلکانو له خوا.

۳) اوزګارتیا، دا هغه خطرناک او اوږدمهاله درد دی چې ډېرې ستونزې ترې پیدا کېږي، او ځوان باید د هغه جدي ساتنه وکړي ترڅو په خپل ژوند کې د سالم پاتې کېدلو او د سالمې ټولنې په جوړېدو کې ونډه واخلي.

٤) هغه ټولنیزې ارتباطي وسیلې چې ویجاړوونکی رول لوبوي لکه مبتذلې او بېکاره ورځپاڼې، مجلې او فلمونه، چې یو ډول حرام او له بده مرغه فاسدوونکې صحنې وړاندې کوي ترڅو ځوانان خپل لور ته جلب کړي پېغلې هم د بېسترۍ، بېحجابۍ، بېحیایۍ او بې بندوبارۍ لور ته وهڅوي. د دغه ډول ناروغۍ علاج او درملنه د ځوانانو لاربنوونه ده، همدارنګه د دوی اوزګار وختونه په ګټورو کارونو ډکول دي او د دغه ډول ناوړه وسایلو ناوړه پایلو ته د دوی متوجه کول دي.

۵) فاسد او خراب ملګري، دا له هغه مهمو عواملو څخه دی چې ډېری ځوانان یې د ټلیفوني اړیکو د ناروغانو په تور ګرفتاره کړي دي او د داسې ستونزو سره لاس او ګرېوان شوي چې د عمر او ژوند تر پایه ورته ننګ او شرم ګرځېدلې، درملنه یې هم د ځوانانو هڅول دي د ښو ملګرو د غوره کولو لپاره، همدارنګه د ملګرو په غوره کولو کې بېړه نه کول.

٦) د هغه ډول روزنې او تربیې نشتوالی چې د قرآن او سنت پر بنسټ وي، درملنه یې هم د روزنیزو کتابونو لوستل دي لکه د شیخ محمد الدویش روزنیز کتابونه[1].

[1] د شیخ محمدالدویش مهم روزنیز کتاب د «داسې پېغله او ځوان شه» د لړۍ په دوهم ټوک کې

۷) د دغه ډول ناوړه کارونو ترسره کوونکو ته د کافي او سختې جزا اړتيا، ترڅو دغه جزا د دغه ډول کړنو په مقابل کې يو حايل واقع شي.

۸) غوره او نېکه نمونه جوړونه او ټاکنه ترڅو له يوه اړخه د منحرفينو رد پرې وشي او له بله اړخه د دوی لپاره داسې يوه غوره الگو او نمونه وي ترڅو بې دوی په پله پل کيږدي او نېکو، دعوتگرو او مصلحو کسانو ته ميل پيدا کړي.

۹) د هغه دروغو څخه پرده پورته کول چې د دوو کسانو ترمنځ د ټليفون له لارې د عشقي او خيالي اړيکو له لارې د دوی واده کول دي، چې دا سوچه دروغ او موخه يې يوازې فحشا او فساد دی او بس.

۱۰) د نکاح پر وړاندې د ښځې کمزوري، کله چې ښځه دا احساس کړي چې د واده کولو وخت يې تېر شوی او د همزولو څخه وروسته پاتې شوې، دغه احساس هغه په غلطه لار تللو ته هڅوي، خو دغه غلط فکر په سم پوهاوي سره له منځه تلی شي، همدارنگه دغه مسئله تقدير او داسې برخليک گڼل چې يوازې د الله ﷻ په امر ترسره کېږي، همدارنگه په کورنۍ کې پيغلې بايد دې ته وهڅول شي ترڅو په ډېر اخلاص دعا وکړي او دوی ته ورونبودل شي چې يوازې بايد له الله ﷻ څخه د غوره خاوند غوښتنه وکړي او بس.

۱۱) د ټولنيزو رسنيو څخه بې‌لارې کوونکي پروگرامونه خپربدل او د هغوی نه ناوړه گټه اخيستل، درملنه يې دا ده چې سمې کړنلارې ورته جوړې او په دغه اړخ کې د عامه پوهاوي لپاره ډول ډول کنفرانسونه جوړ او د دغه ډول اړيکو خطرونه ورته بيان شي.

---

ترتيب شوی دی، ژباړن.

۱۲) له محرم پرته بازارونو او عمومي ځایونو ته د ښځې وتل، او دا ځکه ځه دي چې د ښځې لپاره ډېرې ناوړه پایلې له ځان سره لرلی شي او په ډېرې آسانی سره یوه ښځه د فساد لور ته بېولی شي.

د دغه کار د مخنیوي لپاره اړینه ده چې د دغه ډول مسایلو اړوند د ټولنې خلکو ته پوره پوهاوی ورکړل شي او دا ورته په ډاګه شي چې بهر ته د ښځې وتلو لپاره محرم شرط دی.

۱۳) د کورنی سرپرستان او ولیان باید خپلو بچیانو او لونو ته یو څه وخت ځانګړی کړي او په دغه وخت کې د خپلو بچیانو څخه د دوی د هرې کړنې پوښتنه وشي، کارونه یې تر نظر او پوښښ لاندې ونیسي ملګري او سلیقه یې وپېژندل شي، که چېرې یې د ژوند په لاره کې کوم خطر ویني هغوی باید ورته متوجه کړي او دوی ته پوره پوهاوی ورکړل شي.

۱٤) د دغه ډول بې لاریو او د بلوغ پړاو د شهواتو، احساساتو او میل څخه ناسم پوهاوی، درملنه یې هم په نېک او غوره ډول د دوی سمې لارې ته هڅول او په سالمه توګه د دوی د بلوغ د پړاو پوره نظارت کول.

۱۵) په پټو سترګو تقلید کول، که هغه له ناروا او ناوړه فلمونو وي او یا د تلویزیوني شبکو څخه د خپرېدونکو پروګرامونو څخه وي، چې دغه ډول صحنې او د دغه صحنو لوبغاړي هېڅ کوم مثبت پیغام نه لري بلکې سړي یې د قهرمان او اتل په توګه وړاندې کړي وي او ښځینه لوبغاړو ته یې د فردي آزادی تر سرلیک لاندې هر ډول بې‌حیایي او ځان ښودنه د دوی د حق په توګه ورکړې وي. چې په دغه ډول پروګرامونو او خپرونو سره د ځوانانو او پېغلو ذهن وېجاړوي. درملنه

يې هم ځوان نسل ته د اړین پوهاوي ورکول او د دغه خپرېدونکو صحنو د ناوړه پايلو په ډاګه کول دي. همدارنګه د ښځينه او نارينه لوبغاړو اصلي ځېرې ورښودل دي چې يوازې د دوی مطلب فحشا خپرول دي او بس.

۱٦) د صالحو او تېرو شوو لويانو د تجروبو څخه ګټه نه اخيستل او د دوی د ژوند د تګلارو څخه ځان نه خبرول.

۱۷) له فکر پرته د خپلو احساساتو پيروي کول، په ځانګړي ډول هغه نجونې چې نوې د بلوغ پړاو ته رسېدلې وي. که چېرې دغه نجونو لږ فکر کړی وي او دا يې زده‌کړې وي چې دغه په نظر کې نيولې لار ترکستان ته غځېدلې، او پايله يې هم له ګمراهی، بې‌حيايي او هلاکت پرته بل څه نه دي.

۱۸) د هغه شيانو ځېړل او ورته علاقمند اوسيدل چې پايلې يې ښکاره نه وي او د حرامو او منع شوو کارونو لور ته تمايل، لکه ټيليفوني عشقي اړيکې چې د دغه ډول حرامو يو ډول دی.

۱۹) د واده او نامزادۍ مخکې د ليدنې د اړتيا په اړه ناسم فکر کول، چې له بده مرغه دغه فکر زموږ په اسلامي ټولنه کې هم ډېرې ژورې ريښې پيدا کړې دي او د اسلام دښمنان هم دغه فکر ته يوازې د فحشا خپرولو له کبله زور ورکوي او بس.

۲۰) د ټولنې د سالم عرف او رواج څخه د احساس نشتوالی او د حيا، پاک لمنی او د خلکو د آبرو پر وړاندې کمزوري، دا په داسې حال کې چې زموږ لپاره دا ډېره آسانه ده چې ووژل شو خو ناموس مو بې‌پته او بې‌پردې نشي، د دې موضوع اړوند ځومره ډېرې شخړې د

ښځو د بې‌پته کولو له کبله منځته راغلې دي.

۲۱) د الله ﷻ له لوري د ښځې او مېړه د ګډ ژوند لپاره د رالېږلو اوامرو څخه ځان نه خبرول او ځان غړول، لکه یو د بل پر وړاندې د مینې ښکاره کول، پاک او د مینې ډک مجلسونه کول او د خبرو او نظر تبادله کول.

دا د هغه دلایلو یوه ټولګه وه چې ما عاجز بنده ستاسې مخې ته کېښودل، او دا هغه اسباب وو چې د ناروا او حرامو ټیلیفوني اړیکو څخه منځ ته راځي.

**دام!!**

پاکې خبرې بې د زده‌کوونکو په زړه او روح باندې داسې اغېزه کوله چې د ښوونکې په ښکلیو جملو کې به په فکرونو کې ډوب وو، دغه خبرې وې چې عقل او فکر بې تر خپلې ولکې لاندې راوستلو.

د هغه ایمان ورځ په ورځ زیاتېدلو، او د هرې ورځې په تېرېدلو سره به یې د شاګردانو مینه ورسره زیاتېدله. یوه ورځ داسې راغله چې د عادت خلاف بوازې بازار ته د تللو لپاره ولاړه...

فکر یې وکړ چې دا یوه عادي خبره ده او هېڅ شی به په هغه اغېزه ونه کړي... له خپل ځان سره یې وویل: دا یو ساده کار دی او زه د هغه د پوره کولو وړتیا لرم او د کوم لوی محرم لپاره اړتیا نشته چې له ځان سره یې بازار ته بوځم.

په آسانی سره د بازار له خلکو تېرېدله... چې ناڅاپه د یو ځوان له داسې حرکت سره مخ شوه چې د دې لوري ته یې قدمونه وهل او د پښو سره یې

ورته لیک وغورځولو. ودرېده، ښي او چپ لوري ته یې وکتل چې ځوک
شتون نه لري، دغه کار ته یې فکر وکړ...

پالونکیه څه کار وکړم؟ آیا لیک راواخلم، که یې پرېږدم او که ولاړه شم...
باید هغه راواخلم او خپل پلار د دغه کار څخه خبر کړم... تېته شوه او لیک
یې راواخیست او په لاره روانه شوه... په کور کې یې هم کارونه وو چې باید
هغه یې کړي وی... داسې په کارونو مصروفه شوه چې لیک ترې هېر شو...
او پلار یې چې بشپړ باور یې پرې لرلو د لیک له راز څخه خبر نه کړ...

ورځې تېرې شوې پرته له دې چې لیک ته یې دې ور فکر شي... یوه
ورځ داسې پېښنه شوه چې یو شی د کالیو له جیب څخه راواخلي، لاس یې د
لیک سره ولګېد... په بازار کې یې د ځوان کار ته ورفکر شو... ویې غوښتل
چې پلار خبر کړي خو شکمنه شوه... په فکرونو کې ډوب شوه او د ځوان
د کار په اړه یې وویل: څه به وشي چې که چېرې زه د ټلیفونی له لارې له
هغه سره خبرې وکړم او هغه ته په دې اړه نصبحت وکړم... هېڅوک نه
پوهېږي ښایي الله ﷻ زما په لاس هغه ته لارښوونه وکړي...

دا زما هغه هیله ده چې غواړم په حقیقت بدله شي... دا هغه د خیر کار
دی چې الله ﷻ پرې خوشحاله کېږي، باید هغه ته نصبحت وکړم، ځکه چې
دین خیر غوښتنه ده.

ټلیفون یې راواخیست او په لیک کې د لیکلو نمبرونو څخه یې یو نمبر
داخل کړ. په ناڅاپي سره د داسې یوه ځوان له نرمو او ملایمو خبرو سره مخ
شوه چې په ډېرې بې‌صبرۍ سره دغه ځوان د دغه شېبو لپاره انتظار و...

ځوان په هغه ډول د دې سره خبرې وکړې چې دې یې هم اټکل نشوی
کولی... ځوان ته یې نصبحت وکړ، هغه هم غوږ ورته کېښود او هغه ته یې

وویل: چې له کار څخه یې پښېمان دی او د هغه د خبرو څخه اغېزمن شوی دی... له هغه یې وغوښتل چې د ټلیفون نمبر ورکړي، که چېرې د توبې او ایمان په اړه کومه پوښتنه لري هغه له دې څخه وپوښتي.

پېغله نجلۍ په دام کې ګیر شوه او د خپل ټلیفون نمبر یې ورکړ... فکر یې وکړ چې هغه په دغه چټکتیا سره خپلې خطا او ګناه ته متوجه شو... او په رښتیني ډول د توبې غوښتونکی دی. وروسته له هغې دغه ځوان هره ورځ خبرې ورسره کولې او د ځینو کارونو په اړه یې له هغې سره مشوره کوله. د خبرو په منځ کې به یې کله کله د خندا او مینې خبرې هم کولې...

دوی په همدغه ډول ژوند تېرولو ترڅې چې د خبرو ور یې تر هیلو پورې پرانیستل شو... لږ لږ پخوانی تګلاره بدله شوه او پېغله نجلۍ د خپل شیطان تر وسوسو لاندې راغله او داسې نرمه شوه چې د هغه ځوان ناروغ لېوه د مینې او دوستۍ ټولو خبرو چل ورکړ.

دغه موضوع ترڅې راورسېده چې پېغله نجلۍ په دې راضي شوه ترڅو د هلک او دغه ځوان لېوه د لیدلو کتلو لپاره بېلا بېلو ځایونو ته ولاړه شي او له هغه سره په بېلا بېلو ځایونو کې وخت تېر کړي، د هغه پېغلې د انځورونو او غږیزو ثبتونو وروسته دغه پېغله نجلۍ د هغه د ثبوتونو له کبله د دغه ځوان پوره امر منونکې شوه ترڅې چې کار یې تر رسوایی پورې ورسېد.

او په دغه ډول یې قدم په قدم لار د هلاکت لور ته وهله او د شیطان په دامونو کې ښکېل شول... دا همغه هلاکت دی او د همغه هلاکت په لور تګ دی چې ډېری خلک ترې ناخبره دي.

دا همغه د ګناه هېڅ ګڼل او د ګناه څخه غلط پوهاوی دی چې په لومړیو کې یې په نېکۍ امر او له بدۍ منعه کولو په ګمان دغه کار ته اقدام وکړ.

## درېیم تم‌ځای

### څوک زما سره ملګري کوي...؟

اشتباه کول یوه لاره ده ترڅو یو څوک په سمه توګه بیا ولاړ شي... او اشتباه کول د انسان د ژوند یوه برخه ده. ځکه هیڅ انسان له خطا څخه محفوظ نه دی. او تر ټولو غوره خطا کوونکي توبه کوونکي دي. یا په همغه ډول چې محمدﷺ فرمایلي دي: «زموږ څخه په دنیا کې داسې څوک نشته چې خطا یې دې نه وي ترسره کړې» خو داسې خطاوې هم شتون لري چې انسان په خپله ولکه کې راتینګوي.

یو له هغه خطاو او ګناهونو څخه چې له ځان سره ننګ او شرم راوړي او د ژوند تر پایه د انسان لپاره یو ننګ ګرځي د خپل ځان محفوظ شیان د بل چا په لاس کې ورکول دي لکه د کیسټو دړه، هغه انځورونه چې د هوا، هوس او مستۍ په وخت کې له انسان څخه اخیستل کېږي، او ډېری نور داسې اسناد چې د لېوه صفته خلکو لاسونو ته لوېږي او د هغه لپاره د خپلو شومو موخو د لارې یو پُل جوړېږي.

یوازې دغه شیان سبب کېږي ترڅو بیا دغه ډله خلک د خپل ځان پیروان کړي، ذلیل او د ځان پر وړاندې یې نرم کړي، او د فاسقانو د لاس یوه داسې آله وګرځېږي چې په هر ډول یې زړه غواړي له هغو څخه ګټه پورته کړي، او هر څه چې غواړي په بشپړ سپکاوي سره له هغوی سره ترسره کړي.

یو له دغه حالتونو څخه هم د هغو نجونو لپاره دی چې ځان ته د ناروا لارې د ټلیفون څخه د ګټې اخیستنې اجازه ورکوي او د بل لوري خوږو خبرو ته غوږ ږدي ترڅو په دغه ډول د فساد، بې‌لارۍ، بې‌حیایۍ او ګمراهۍ په ځالو کې خپل ځان دننه کړي.

د دغه ډلې نجونو څخه ډېرې سوالونه او د هغوی خوابونه له خان سره لرم: ستاسو هیله څه ده؟ نه چې هغه نه نرمه او د هغه امر منونکې گرځېدلې یې!!

له دوی څخه یوه په دې باور وه چې دغه کار یوازې یوه لوبه او مصروفیت دی، په دې ډول چې هغه بل لوري ته هغه لېوه او خبیث خوان يې تولې ټلیفوني اړیکې ثبت او ذخیره کړې وې او دغه نجلۍ ته يې د هغه د افشا او ښکاره کولو گواښونه کول، هغه هم په داسې ډول کله به چې د دغه نجلۍ کورنۍ ته د بلنې غوښتونکي ورتلل او غوښتل به يې چې له پلار څخه يې د دغه نجلۍ غوښتنه وکړي. تهدیدونه او گواښونه تردې ورسېدل چې نجلۍ مجبوره شوه هغه مناسبه او د دې وړ بلنه رد کړي، نه یوازې دا بلکې هر غوښتونکی به چې راتله دغه خبیث به گواښ کاوه او دغه نجلۍ به هم ورته د رد خواب ورکولو. نه یوازې دا بلکه په دغه ډول دغه نجلۍ تر پایه د پلار په کور ناسته وه او دغه خبیث به دغه حالت څخه خوند اخیستلو.

گرانو، درنو او قدرمنو لوستونکو! دغه ستونزه ډېر پراخه او اړین اړخونه لري، په الله ﷻ قسم چې تاسې وینئ چې څنگه دغه ستونزې په یوه داسې ناورین بدلېږي چې د عمر تر پایه انسان له گواښ سره مخ کوي.

زه دا قصد او تصمیم نه لرم ترڅو عمومي احکام عملي کړم، خو غواړم تاسې ته د دغه ډول ستونزو بلنه درکړم چې په لومړیو کې د ډېرې کوچنۍ، گناه څخه پیل کېږي، او د وخت په تېرېدلو په داسې یوه لوی اور بدلېږي چې د هغه څخه ژغورنه او وتل یو ستونزمن او سخت کار بلل کېږي.

او اوس هم گرانو لوستونکو! په عامه توگه او یا په ځانگړې توگه که یو له تاسې د دغه ډول ستونزو سره لاس او گرېوان وئ، اوس د هغه لارو لارښوونه درته کوم چې ستاسې د دغه ستونزو په حل کې ورباندې باور کولی شئ، دغه حل لارې په لاندې ډول دي:

۱) په لومړي پړاو کې دغه ذلت ته نه تسلمیدل، د خپل عقل په کار اچول او د هغه خلکو د بدمرغی څخه پند اخیستل چې په لومړیو کې بې دغه ډول کارونو کې له آسانی کار اخیستی، خو په پایله کې په بږ چاودېدونکي بم اوښتي دي.

۲) د خپلې ستونزې په هکله د لویانو په ځانګړي ډول د عاقلو او پوه خلکو که هغه مو ورونه او یا خویندې وي، چې تاسې په هغه ډول پوه کړي او تاسې ته لاس درکړي چې ستا او ستاسې د کورنۍ فکر آسوده او ستونزه مو حل شي.

۳) هېڅکله دا باور مه کوئ چې د خپلې ستونزې پټول، پر هغه کورنی نه خبرول او په بې ځایه آرزوګانو او هیلو پسې تلل خوښ عمل دی او پایلې به یې ښې وي. په دغه باور سره مو ستونزې نه حل کېږي، بلکې نورې ستونزې هم له ځان سره راوړي چې د ستونزې حل نور هم ستونزمن کوي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې ستونزه مو پراخه شي نو بیا په نورو بنو بدلیږي.

٤) د مشخصو خلکو څخه مرسته غوښتل لکه (نیک دوستان او مشوره ورکوونکي) چې په بشپړ ډول ستاسې ستونزې ته عملي ځواب درکړي او تاسې ته هم په دغه وخت کې د ګټې اخیستنې وړ وي.

۵) د استاذانو، عالمانو او پوهانو سره مشوره کول هم ډېر ګټور تمامېدی شي، څکه دغه ډله خلک له کافي او پوره تجروبې څخه برخمن دي چې که د الله ﷻ خوښه وي ستاسې مرستندوی جوړېدی شي.

## د الله ﷻ رحمت

خبرې یې د الله ﷻ په ستاینه او شکر سره پیل کړې... په داسې حال کې چې پخواني یادونه یې په یاد راوړل نو له ټنډې څخه یې د شرم خولې روانې وې، وېې خندل او خپله کیسه یې له دې کبله بیان کړه ترڅو د نورو لپاره عبرت شي، په ځانګړي ډول د هغه کسانو لپاره چې د ټلیفوني اړیکو په دام کې راګیر شوي دي.

د بلوغ پړاو کې چې عمر مې ۱۴ کاله و، او د ټلیفون سره مې د ډېرې لوېې کولو او ځان مصروفه کولو شدید احساس کولو، خلکو به هم په داسې حال کې چې زموږ کلي ته نوي ټلیفون راغلی و په ډېر حرص سره خبرې کولې...

یوه ورځ یوه ځوان زما سره اړیکه ونیوله او داسې خبرې یې راسره وکړې چې زه ډېره ژر له هغه سره صمیمي شوم، هغه په آرام آرام زما سره خبرې پیل کړې، او ما هم په داسې توګه له هغې سره خبرې وکړې چې انسان یې په یادولو شرمېږي، زما او د هغې ترمنځ ټلیفوني اړیکو ورځې او میاشتې وخت ونیو، نږدې چې یوه ورځ زما د پلار کور ته یوه بلنه راغله چې ما ترې وغواړي...

له ډېر ټینګار وروسته مې پلار زما د نکاح غوښتنه ورسره ومنله، کله چې ځوان دغه موضوع واورېده له ماسره یې اړیکه ونیوله او زما څخه د کړو او ثبت شوو غږېزو فایلونو او ټلیفوني اړیکو څرګندولو ګواښ یې راته وکړ.

په یوه تنګ حالت کې پرېوتم، او له داسې پرېشانۍ سره مخ شوم چې ژوند مې ورسره تریخ شو. اوس ما څه کولی شوی چې ویې کړم؟ په خپل کار کې سرګردانه او حیرانه پاتې وم! د هغه ګواښونو ادامه پیدا کړه، له ما څخه یې وغوښتل چې واده ونه کړم او راته ویې ویل: که داسې وکړې بیا به دې ټولې ټلیفوني اړیکې افشا کړم.

فکر مې وکړ چې څه کار وکړم... به دې ډېره پښېمانه شوم دې چې دا ډول مې له ټلیفون څخه کار اخیستی و، هغه وخت مې دا هیله وکړه چې کاش ما په ژوند کې ټلیفون نه وی کارولی او نه مې لیدلی وی... په ډېره شدیده توګه مې وژړل او له هغې څخه مې وغوښتل چې زما راز څرګند او افشا نه کړي. خو هغه په ډېر کبر او غرور سره دغه ګواښونه نور هم زیات کړل. الله ﷻ ماته دا لار راوښوده چې ستونزه مې له خپل ورور سره شریکه کړم او په صراحت او ډاګه‌ایز ډول مې ټول هغه څه ورته ووېل چې زما او د هغه خبیث لېوه ترمنځ تېر شوي وو، هغه ته مې ووېل: ډېر نا آرامه شو او زه یې سخته ورټلم چې ولې دې د شیطان لاره نیولې وه، ماته یې نصېحت وکړ چې په دې سره مې لږ وحشت، وېره او پرېشاني کمه شوه.

له هغې وروسته زما ورور خانګړو پولیسو ته خبر ورکړ او هغوی یې له پېښې څخه خبر کړل، هغه یې ونیوه او ټول ټلیفوني غږیز ثبتونه یې له منځه یووړل، په دغه ډول الله ﷻ پر ما رحم وکړ او زما اصلاح یې وکړه او په ګناه مې یې پرده کش کړه، نن ورځ زه ډېره پښېمانه یم، ځکه ما د خدای نافرماني کړې وه او د لویې ګناه مرتکبه شوې وم، له خدای څخه غواړم چې زما ګناهونه وبښي او په دنیا او آخرت کې پر هغه پرده واچوي...

مخکې له دې چې له ورځ څخه اوبه تېرې شي... دغه نجلی خپله ستونزه له ورور سره شریکه کړه، او د الله ﷻ په رحمت او مرسته یې وکولی شول اور مخکې له بلبدو مړ کړي... په ډېرې خوښۍ سره یې د دغه شیطان صفته لېوه چې غوښتل یې مسلمانې نجونې او ښځې د هلاکت کندې ته وغورځوي، د کمزورۍ احساس ونه کړ او په ډېر ښه پوهاوي یې له دغه هلاکت او ننګ څخه ځان خلاص کړ.

فیلم!!!

هغه څه يې چې په زړه کې لرل یې له پردې یې موږ ته څرګند کړل...

له تېرو شوو حالتونو يې د نجونو لپاره په ځانګړې ډول د هغه نجونو لپاره چې د دې په ډول وې ډېر نصېحتونه لرل، لړ شېبه یې دمه وکړه، بیا موسکی شوه او د الله ﷻ په ستاینه یې پیل وکړ، یوه شېبه یې خپلو خویندو ته وژړل بیا یې د ناروا ټلیفوني اړیکو د یادونو په بیانولو پیل وکړ...

د نورو ډېرې ښځو په شان مې ژوند کولو، څه ته مې اهمیت نه ورکاوه او په دې دنیا کې مې هیڅ هیله او څه ته میلان نه و، یوازې له نېک او صالح مېړه څخه پرته چې وکولی شم د هغه څنګ ته پناه یوسم او پاتې عمر د هغه په څنګ کې په نېکمرغۍ پای ته ورسوم.

د ګاونډ له ځینو نجونو سره مې پېژندګلوي وشوه... د وخت په تېرېدو سره زما او د هغوی ترمنځ مینه او لېوالتیا زیاته شوه، لیدنې او کتنې پیل شوې... یو له بل سره به کیناستلو او د ژوند په اړه به مو خبرې کولې، په دې اړه به هر چا خپل نظر څرګندولو، او هرچا به د نورو په وړاندې د خپل زړه دسترخوان پرانیستلو.

زموږ خبرې ورو ورو پر هغه موضوع راڅرخېدلې چې موږ ټولو د هغه په اړه توافق کړی و... او شیطاني وسوسو او نفسي هوس په یوه حیرانوونکي ډول زموږ په منځ کې نفوذ کړی و...

د هغه نجونو له ډلې چې د (سینما د لوبغاړې) په ډول یې د خپل ځان او کورنۍ په اړه خبرې کولې، د هغه ستاینه یې کوله او ټولو د هغه یادونو یادونه کوله چې دوی له سړیو سره د ګډ ژوند څخه لاسته راوړي وو... او هرې بوې د سړیو سره د خپلې مینې د کولو له کبله ویاړ کولو... کله مې چې د

دغه ډول ځوانانو سره د دوی د پېژندګلوی په اړه وپوښتل ویې ویل: چې له هغوی سره د ټیلیفون په وسیله آشنا شوو... کله مې چې د هغوی دا کار بد وګڼلو، ماته یې د بنسټ پالې او ناپوهې خطاب وکړ او راته یې وویل: ته یوه کلیواله او بې عقله یې... او د خوند او بریالیتوب وختونه بې ځایه ضایع کوې. نو له همدې کبله د خپلې خوښې او خوب شهزاده له لاسه ورکوې چې په پایله کې یې ماته دا قناعت راکړ چې ټیلیفون د مېړه پیدا کولو یوه وسیله ده...

ورځې تېرې شوې او زموږ او د هغوی اړیکې په دغه ډول تېرې شوې. تردې چې یو داسې فلم یې راوړ چې په هغه کې د یوې کمپنۍ مدیر د ټیلیفون په وسیله د هغه نجلۍ سره چې د ده خوښه وه او دی هم د نجلۍ خوښ و آشنا شو او وروسته یې وعده وکړه ترڅو په یو ځای کې یو له بل سره لیدنه وکړي، د لیدنې پر وخت پوه شو چې د ټیلیفون معشوقه یې د دفتر منشي ده... دواړه حیران شول او دواړو د نکاح وعده وکړه...

له ځان سره مې فکر وکړ او ویل مې: آیا دا شونې ده چې زه د ټیلیفون له لارې داسې یو مېړه پیدا کړم چې هیله یې لرم؟!!

وروسته له دې مې پرېکړه وکړه چې له یوې ملګرې ځخه د یو ځوان شمېره واخلم، ځکه هغه له ډېرو ځوانانو سره ټیلیفوني اړیکې لرلې.

ملګرې مې هم له ځنډ پرته د یو ځوان شماره راکړه او ماته یې دا قناعت هم راکړ چې ته له ده سره مناسبه او وړ یې. وروسته له هغه مې د هغه ځوان سره ټیلیفوني خبرې پیل شوې، هغه مې وپېژنده او اړیکې به مې ورسره نیولې... مشر وروړ به مې د شپې لمانځه لپاره تل پورته کېده او ډېره مینه یې ورسره وه. زه به انتظام وم ترڅو د کور ټول غړي ویده شي او بیا به له هغه سره غږېدلم.

بې له دغه شپو څخه مې کله چې مشر ورور ویده شو. ټلیفون مې راواخیست او د هغه سره مې په خبرو پیل وکړ... د هغه هلک سره په خبرو کولو کې داسې ډوبه شوې وم چې حتی د شپې روښنایي ته مې هېڅ پام نه و... مشر ورور مې د پخوا په څېر ویښ شوی و... او زه نه وم پوهېدلې... راغئ ترڅو بې نور ملګري هم له خوبه راویښ کړي...

ناڅاپه یې زما ټلیفوني اړیکې ته پام شو او حتی ځینې خبرې یې هم زما واورېدې، خو په ډېر زغم سره یې ځان بې‌خبره ونیوه او له ما څخه یې وغوښتل ترڅو اړیکه په چټکۍ سره بنده کړم، لاس مې یې ونیو او راباندې چیغې یې کړې: افسوس پر تا دا څه ډول کارونه کوې... آیا لیونۍ یې... وجود مې په لړزه راغی، سر او پښې مې وېرې واخیستل، له هغه مې وغوښتل ترڅو پیښه بې‌خبره او آسانه ونیسي او پلار مې خبر نه کړي، سوړ اوسېلی یې وویست او لاسونه مې یې خوشې کړل او ویې ویل: ښایي ستا لپاره سبا یو غوښتونکی راشي، تاته اخطار درکوم چې له دغه کار څخه لاس واخله. ځکه په دې سره دې آبرو له منځه ځي او ته د دغه ګناه پایلو ته پام نه کوې... له ورور څخه مې بښنه وغوښته او ډېره خجالت شوم، هغه له ما وغوښتل ترڅو له خدای څخه بښنه وغواړم او د هغه په وړاندې توبه وکړم. دا کار مې وکړ، هغه غوښتونکی چې د راتلو احتمال یې و راغی، د یوه داسې صالح سړي سره مې نکاح وکړه چې زما د ورور مخلص ملګری و. او له الله ﷻ څخه مې په ځانګړې توګه مننه وکړه چې ماته یې د ټلیفوني ګناه له دغه دام څخه نجات راکړ. همدارنګه مې ورور ته دعا کوم چې زما لارښوونه یې وکړه ترڅو د الله ﷻ د مهربانۍ په وسیله د دغه لویې ګناه څخه نجات پیدا کړم!!

## ټولیزې ګټې (۱)

د هغه ستونزو او مشکلاتو پر وړاندې چې نننې ځوانان پرې ګرفتاره او ورسره لاس او ګرېوان دي. د ځو او مهمو ټولیزو اصولو یادونه کوم چې د دغه ستونزو په تشخیص کې اغېزمنه مرسته کولی شي، او د الله ﷻ څخه هم دا هیله لرو ترڅو د دغه موضوع لپاره دا یوه اغېزمنه لار وګرځوي.

۱) غوره ده چې هره پېغله نجلۍ هغه ټلیفوني اړیکه په چټکۍ سره قطع کړي چې د شکمنو او ناپېژندو خلکو له خوا ورسره نیول کېږي، او باید په دې هم پوه شي چې د دغه ډول کړنو او اعمالو قرباني یوازې دغه پېغله ده، خو که چېرې د الله ﷻ مهرباني وي او په چټکۍ سره خپلې خطا ته متوجه شي او د هغه د محوه کولو لپاره خپلې متې راونغاړي.

۲) په دغه اړخ کې سره د ډېرو یادونو او دردوونکو یادونو د یادولو سره سره بیا هم موږ وینو چې ډېرې مسلمانې نجونې د خپلو همزولو له دغه ډول دردوونکو کیسو او ښو پند نه اخلي. له توجه او اهمیت پرته په دغه ډول کارونو لاس پورې کوي، او د دغه پندونو، وعظونو او د ښو د بیانولو سربېره بیا هم موږ د مسلمانو نجونو د دغه ډول بې‌شمېره کړنو شاهد یو.

۳) پلار او د کورنۍ مسؤلین باید د دغه ډول کارونو پر وړاندې هوښیار وي او د خپلې کورنۍ سره دوستانه اړیکې ولري، د هغوی له کړنو او حال څخه شېبه په شېبه پوره خبر وي او د هغوی ستونزې په حکیمانه ډول حل کړي، ځکه هغه حاکم او د هغه کورنۍ د ده رعیت او تر لاس لاندې ده او پر هغه څارنه د قیامت تر ورځې د ده دیني، شرعي او هر اړخیز مسؤلیت دی او وي به هم.

٤) له محرم پرته د کور څخه د کورنۍ د غړو وتل په ځانګړي ډول د ښځو وتل باید کنټرول کړي او د هغوی د حاجتونو په پوره کولو کې له هغوی سره همکاري وکړي.

۵) د دغه ډول کړنو او پېښو پر وړاندې د کورنۍ د غړو ویښول او توجیه کول او د دغه ډول کړنو له دردوونکو پایلو څخه د دوی وېرول.

٦) ژر واده کولو ته د ځوانانو هڅول او د خېر ښېګڼې او مصلحت په خاطر دغه ډول ودونه کول.

۷) هلکان او پېغلې تلیفون ته په یوازې توګه نه پرېښودل، او دا هغه څه دي چې موږ په هغه کې بشپړه تنبلي کوو، چې دا ډول عمل یو له هغه مسئلو څخه دی چې د کورنۍ لپاره د ډېرو ستونزو د پیدا کېدلو سبب ګرځي.

۸) په کور کې د ښځو پر وړاندې بې‌توجهي مه کوئ، او د هغوی سره له غږېدو مخ مه اړوئ او ځان د ورځپاڼو، مجلو او تلویزیون کتلو باندې مه مصروفه کوئ، او د هغوی د ملګرو سره د هغوی د ناستې پاستې او زیات وخت تېرولو او د لهو او لعب کارونو کې د وخت ضایع کولو څخه هغوی په کلکه منع کړئ.

۹) کور ته د ناوړه وسایلو «د ناوړه کېسو، مجلو او ناوړه فیلمونو» د راوړلو څخه په کلکه منع وکړئ. غوره دا ده چې د کورنۍ غړي د تلویزیوني شبکو په غوره کولو کې ځیر واوسي او د ناوړه، بربنډو، موسیقۍ لرونکو او ناوړه شبکو د خطرونو اړوند هغوی ته پوره پوهاوی ورکړل شي.

۱۰) د کورنۍ د غړو ترمنځ له دلیل پرته د بې‌ځایه ګمانونو او شکونو څخه ډډه کول، د هغه پرځای د یو بل پر وړاندې پوره احترام او باور رامنځ ته کول، د کورنۍ د ټولو غړو شخصیت هم په همدغه خویونو روزل

او د دوی ترمنځ د باور او اطمینان د تخمونو کرل، تردې چې د هر یوه غږې په زړونو کې دغه حالت ځای ونیسي.

۱۱)د کورنۍ د کوچنیو او لویو ستونزو په ډېر پند او حکمت سره حلول او د بې ځایه عصبانیت او قهر څخه ځان ژغورل.

۱۲)د نورو خلکو سره د ټیلیفوني اړیکو د نرمو او نازکو خبرو کولو او اوږدولو په اړه د پېغلو او نجونو پوهول، ځکه په ټیلیفون کې نرمې خبرې او بیا د دغه خبرو اوږدول هغه دلایل دي چې د مقابل لورې د ټیلیفوني اړیکو د تکرار سبب ګرځي.

۱۳)له ځنډ پرته د کورنۍ د نارینه مسؤل په وسیله د ټیلیفوني اړیکې په حال کې د ټیلیفون اخیستل ترڅو مقابل طرف او لوری پوه شي چې اوس هم ټیلیفون د نجلۍ سره دی او بیا په دغه ډول د هغوی تهدیدول ترڅو د بیا اړیکې لپاره کومه هڅه ونه کړي.

۱٤)په پای کې باید دغه ډول خلکو ته د الله ﷻ له لوري څخه د لارښوونې غوښتنه وشي، نه دا چې دغه چل خوړونکو ته د هلاکت او تباهۍ دعا وشي.

## ټولیزې ګټې (۲)

په دغه ځای کې اړینه بولم ترڅو ځینې نورې داسې لارې تاسې ته وړاندې کړم ترڅو د دغه ډول پېښو او ستونزو په لرې کولو کې زموږ سره مرسته وکړي:

۱) د دغه ډول پېښو حل قاضي[۱] ته پرېږدو، ترڅو یې لومړی تنبیه او بیا

[۱] په داسې حال کې قاضي ته د دغه موضوع وړاندې کول چې د حکومتونو له خوا قاضي نه هم

دغه ډول منحرف خلک په جزا ورسول شي.

۲) د سمې او سالمې تګلارې څخه کار اخیستل: یوه مسلمانه کورنۍ باید د نرمۍ او سالمې روزنې څخه کار واخلي او له دې سره یوځای د اړتیا پر مهال بچیان او لوڼې هم تنبیه او هم تهدید کړي ترڅو نه خپل سرې شي او نه بې لارې.

۳) په دغه اړخ کې له داسې هوښیارۍ کار اخیستل چې هم پکې توجیه، هم لارښوونه او هم د کورنۍ د غړو پوهول وي، د هغه خطرونو پر وړاندې چې په دغه ډول ټلیفوني اړیکو کې پټ دي.

د دې لپاره چې د ټلیفون تر شا د لېوانو له مکر او چل څخه ځان خبر کړئ ترڅو د دوی هغه چل او فریب چې معصوم او سپېڅلي خلک پکښې په خپل دام کې راګیروي تر ټولو ډېر پوه شئ لاندې توصیو ته پاملرنه وکړئ:

۱) د ناوړه او فاسدو مجلو او فېلمونو نه کتل او د هغوی پرځای د ګټورو او موخو لرونکو مجلو او کتابونو څخه ګټه اخیستل.

۲) د نجونو او هلکانو د اوزګار وختونو په بشپړ ډول ډکول په ډېره غوره توګه.

۳) په ځوان قشر او نسل کې د دیني او ایماني قوې پیاوړي کول او د هغوی سالمه روزنه کول.

٤) د ګټورو او موخو لرونکو سیالو جوړول.

---

بشپړه خپلواکې ورکړل شوې وي او قاضي هم درباري نه وي، لکه د نن سبا د اسلامي هېوادونو قاضیان چې دي. ځکه نن سبا نه یوازې دا چې دغه ډول پېښو ته سمه لارسرسې نه کېږي بلکې د همدغه حکومتونو خیانت دی چې دغه ډول مفاسدو او بې لاریو ته یې لار خوشې کړې او پرانیستلې ده، ژباړن.

۵) د بدو او ناوړه ملګرو څخه لرې ګېدل او واتن پیدا کول او د غوره او نېکو ملګرو پیدا کول.

۶) د نجلی او بې‌کاره هلک د عاطفي اړیکې مخه نیول. څکه دغه ډول هلکان د آزار او ضرر پرته د ټولنې لپاره بل خیر او نیکي نه وړاندې کوي.

۷) پلرونه او میندې باید د روزنې سالم او صحیح معیارونه زده‌کړي.

۸) خاوند باید خپلې ښځې ته پوره پاملرنه وکړي او په ګډ ژوند کې هغې ته بشپړ شرعي حق ورکړي.

۹) مورانې باید په جدي توګه خپلې لورانې وڅاري او پوره پاملرنه ورته وکړي.

۱۰)د دغه ډول تباه کوونکو او دردوونکو پېښو اړوند د عمومي افکارو حساسول او په پراخه کچه ټولنیزې تربیې ته بشپړه پاملرنه کول.

## ښکلی او محبوب

نجم د شهوت او ویاړ په نړۍ کې د ځلېدو په حال کې و، هغه په داسې حال کې چې د پرمختګ پوړونه یې وهل ملګري یې ورته ډېر لېوال وو، د مینه‌والو له خوا یې زیاتې تلیفوني اړیکې ورسره نیول کېدلې او هغه یې په خوږو او مینه ناکو جملو سره ستایلو، ملګرو یې داسې خبرې ورته کولې چې ډېرې نجونې ستا د لیدو لېواله دي، د غرور او خپل ځان خوښی احساس هغه ته لاس ورکړی و، د پرمختګ څخه یې مستي کوله.

په ځلېدونکو سترګو یې ځان ته کتل... زه یو ښکلی هلک یم، آه... په لسګونو نجونې زما په لټه کې دي... له دغه هم نوره نېکمرغي شته... دوی چې کله زما انځور د ټلویزیون پر پانه ویني نو مجو کوي او ښکلوي یې.

له کوم وخت څخه یې چې پرمختګ کړی و او بریالی و... نو ډېری

ښځو ورسره اړیکې نیولې، او هرې یوې غوښتل د هغه سره په خبرو کولو یوه له بلې مخکې شي... یوې له دوی له ده څخه وغوښتل ترڅو ټلیفوني اړیکې ورسره اوږدې کړي او بله د ده سره د لنډې لیدنې لېواله وه... بلې نو د هغه د لیدلو له کبله هر ډول پرده او حیا غورځولې وه او ویل یې چې دومره یې لېواله ده چې که چیرې یې له نژدې ونه ویني نو لېونۍ به شي...

د هغه ملګري او عاشقان ورځ په ورځ زیاتېدل، یوې ډلې به د ډالیو په وسیله هغه ته ځان نږدې کولو، ملګرو به یې د هغه ستاینه کوله. هغه هم په دې اساس چې دی د دې وړتیا لري ترڅو ښکلې نجونې ځانته جلب کړي.

له هغه یې وغوښتل چې له نجونو سره اړیکې ونیسي او له هغوی سره بهر ته ولاړ شي... په ځان کې یې د دغه کار لپاره لېوالتیا حس کړه...

ګناه ته یې لېوالتیا زیاته شوه او د هغوی غوښتنه یې ومنله او د کوڅه ډبو او بې‌کاره نجونو سره یې ټلیفوني اړیکې پیل کړې. له هغوی سره یې وعدې کولې او له ځینو سره به بهر ته هم تللو ترڅو هغه حرامې ډالۍ او لمړۍ چې د ده په ډول لېوه ډوله خلکو ده ته ورکړې دي هغوی ته ورکړي. په دغه ډول ډېرې نجونې د ده په وسیله په فساد ککړې او د ګناه پر سیند کې ډوبې شوې، او ډېرې بدبخته او پر ده مینې نجونې یې د بدبختۍ او هلاکت ګرداب او ډنډ ته ورټېل وهلې.

په داسې حال کې د صندلۍ دننه کیناست چې دغه بدبختۍ یې په یاد راوړلې، یخ او سوړ اسویلی یې وویست او ملګري ته یې وکتل او هغه ته یې د نجونو سره د وتلو خاطرې او یادونه بیا وویل: هغه ته یې وکتل په داسې حال کې چې ګناه یې زړه تنګ کړی و... ویې ویل: اې کاش! چې کار دلته پای ته رسېدلی وی...

ملګرۍ یې حیران شو او په حیرانتیا یې ورنه وپوښتل:

آیا له دې هم بدې کړنې ترسره شوې...؟!.

لږ یې ځای ته بدلون ورکړ او ژوره ساه یې واخیسته.

«هو» هلته له دې بدې کړنې هم ترسره شوې او د انسان بدله د هغه تر کړنو پورې تړلې ده، خو د الله ﷻ مهرباني راباندې وشوه او د هغه په رحمت او لارښوونه مې خپلې کړې ګناه ته متوجه شوم.

ملګرې یې ترې وپوښتل څه پېښه وشوه...؟!.

یوه نجلۍ مې یوه شهوت پرسته سړي ته وروستله... کله مې چې هغه له دې نجلۍ سره آشنا کړ نو په ټیټ کتلو یې مخ زما لور ته راواړولو... او له ما څخه یې وغوښتل چې کښینم... په بشپړ سپکاوي یې ماته وویل: غواړم چې زما په حق کې لوی خدمت وکړې!!.

د حیرانتیا په حال کې مې هغه ته وویل: آیا کله دې چې زما څخه غوښتنه کړې نو هغه مې نه ده پوره کړې... مطلب مې دا نه دی... خو دا ځل داسې څه غواړم چې وېرېږم هغه ترسره نه کړې...

هغه څه دي؟!

غواړم چې لور دې راته راولې، ځکه هغه واقعاً چې ښکلې ده... او له شک پرته چې له تا ښکلې ده... آیا نشې کولی هغه راولې ترڅو مې په خپل کور کې یوه خوښه شپه ورسره تېره کړم...

ویرې او وحشت مې سر او پښې ونیولې... دا مې حس کړه چې ټول بدن مې لړزیږي. هغه ته مې په داسې حال کې وخندل چې خپل قهر او غوسه مې په زړه کې پټه کړې وه... پوه شوم چې دغه ناوړه لارې په پای کې د

تباهي او فحشا ککړېدنې لارې دي...

د سپکوالي احساس مې وکړ...

داسې سپک شوی وم چې فکر مې وکړ يو داسې مچ يم چې په چټليو کې ژوند کوم...

پوه شوم چې څومره سپک شوی وم چې په دغه لاره تللی وم او په دغه بدبوی او چټليو کې دومره ډوب شوی وم چې داسې پړاو ته رسېدلی وم...

بايد دغه پړاو ته رسېدلی وی، او دغه ډول غوښتنه راڅخه شوې وی، څکه د دغه ډول خلکو شهوتونه حد او سرحد نه لري، حيران او وحشت ځپلی له هغه ځايه بهر شوم او بيا مې شا لور ته ونه کتل...

پرېکړه مې وکړه چې توبه وکړم او نور هېڅکله دغه کارونو ته زړه ښه نه کړم...

لاسونه مې په دعا، توبې او استغفار سره آسمان ته لوړ کړل او ويې ويل: «اللهم اغفرلي وتب علي برحمتك يا رحم الراحمين...».

پالونکيه! ماته بښنه وکړه، او د مهربانانو مهربانه توبه مې ستا په رحمت سره قبوله کړه.

«والسلام»

**تمځای: قدرمنې خورې! له تا څخه دغه سوال کوم:**

ته له چل ورکوونکي، بې‌کاره، بې‌اوزګاره او فاسد شخص څخه د څه هيله لرې، له داسې چا څخه چې حتی ورځنی ډوډۍ نشي پيدا کولی، پرته له دې چې ستا او ستا په ډول هغه نجونې چې له حيا او پاک لمنی پرته د کور څخه د وتلو او د نورو سره د غړېدلو لپاره بل څند ونه لري په دام کې راګيرې کړي.

آيا پوهېږې چې هغه څوک به د ملګرو پر وړاندې چې ته بې په خپل دام کې غورځولې یې او ستا ښکار یې خپله موخه ګرځولې وياړ کوي...؟!

قدرمنې خورې! د هغه شیطان له دامونو چې تا د خوبونو او وهمونو دنیا ته ورتېل وهي او باطل درته ځلوي، او ستا برخليک له تباهۍ او بې آبرويۍ سره مخ کوي لرې اوسه! قدرمنې خورې که د واده کولو کې ځنډ راغلی وي صبر وکړه او په الله ﷻ توکل وکړه، هیله منه اوسه چې راتلونکې ستا ده... او دې څه چې انتظار باسې الله ﷻ به هغه د حلالې لارې درته په لاس درکړي. نو د هغه له کبله حرامې دروازې مه ټک ټک کوه!!

پوه شه چې تا په غوړو ژبړو کلمو، چل ورکوونکو خبرو او تر ټولو نوو سیستم لرونکو موټرونو چې تر شا یې داسې وحشي لېوان شتون لري چې خولې یې پرانيستلې او ستا د تېرولو او خوړلو لپاره یې تیاری نیولی، او ستا برخليک بدمرغه او بې‌آبرو کوي، په داسې حال کې چې هېڅوک هغه نه پاملرنه ونه کړي نو چل ورکوي!

تا د هغه کسانو د دنیا او آخرت بدمرغه او تیاره برخليک ته متوجه کوم چې د انسي او جني شیطانانو په دامونو کې لوېدلې، چې بیا هغه د دوی لپاره په دنیا کې د مرګ تر وخته پورې بدنامي او شرم دی.

**پای**

د هغه الله ﷻ ستاینه کوو چې د بې‌شمېره نعمتونو په راکړې سره یې نېکۍ او ښېګڼې تر ټولو لوړ حد ته رسولې او درود او سلام دې وي د لارښوونې او عزت ښندنتن پر پیغمبر محمد ﷺ.

اما بعد: دغه ټولګه هغه هڅه وه چې د ټولنیزو پېښو، لرلیدونو او د دغه ډول ناروا ټلیفوني اړیکو اړوند مهمې کړنې او د هغه حل لارې وې چې

ستاسې تر غوږونو در ورسیدې، او هیله مې هم دا ده ترڅو ستاسې د ګټورې مطالعې په اړخ کې هغه ستاسو لپاره غوره پندونه او نصیحتونه وي ترڅو د دغه ډول دردوونکو پېښو پر وړاندې چې د خلکو په منځ کې د تمدن او ترقی په جامه کې خپاره شوي او پر خلکو باندې دغه خطر یو ښکاره اغېز لرونکی او دروند پېټی ګرځېدلی نو تاسې باید هوښیار واوسئ.

نن ورځ خلك د دغه ډول خلکو څخه سر ټکوي چې شپه او ورځ یې د دغه ډول حرامو او سپکو تلیفوني خبرو له لارې د هغوی لپاره د ضرر او تکلیف رسولو لار، په کار اچولې، دوی په تکرار سره وایي چې له دغه ډول ستونزو تر پوزو راغلي دي او د ستونزو یو دروند پېټی یې پر شا ورتړلی دی.

خو له بده مرغه د وخت پر تېرېدو او په پرانیستې نړی کې د پوهې په زیاتوالي دغه ډول اخلاقي کړنې او پېښې نورې هم د پراخېدو په حال کې دي او په بېلا بېلو اړخونو کې لیدل کیږي...

هغه هم په داسې توګه چې زموږ ډېری ساده، خام او غیر معنوي بچیان په ډېرو عادتونو او خویونو کې له دغه دردوونکو بد اخلاقیو تقلید او پېښې کوي، او د دوی له دغه ډول تقلیدونو څخه بد خویونه ټولنې ته وړاندې کوي.

دلته نو اړینه ده چې موږ او تاسې د هغه پر وړاندې لږ خبر شو، پوهاوی ترلاسه کړو، د هغه لپاره اغېزمنې حل لارې غوره کړو او په دغه تورو تیارو او دامونو کې چې د دوی د ښکار لپاره په کار اچول شوي، د خپلو زامنو او لونو له لوېدلو څخه مخنیوی وکړو، او له شك پرته چې زموږ په دین، عقیده، قرآن او د رسولﷺ په سنتو کې ورته ډول ډول اغېزمنې لارې شتون لري ترڅو د دغه ډول ستونزو ربښې له بېخه وباسي... خو پر موږ لازمه ده چې قرآني روزنې ته پاملرنه وکړو او خپل اولادونه دې ته وهڅوو چې ټولې کړنې یې د اللهﷻ پر کتاب او د محمدﷺ په سپېڅلو سنتو برابرې وي او په

دغه لاره په کلکه قدم واخلي او پرې پایښت غوره کړي، په پای کې له الله ﷻ غواړم چې موږ ته ګټور څه را زده کړي، زموږ په زده‌کړل شوو عمل راکړي او موږ له هغه خلکو څخه وګرځوي چې هم خبرې کوي او هم عمل. تر څو د هغه د غوسې وړ ونه ګرځو. څکه الله ﷻ پر هر څه قادر دی.

پای او سلامونه

لیکوال/ریاض - ۱۴۱٦/۱۱/۱۸هـ

CS CamScanner

# اووم څپرکی

# د ګناه پر سیند کې ډوب شوي سړي

ویناوال: شیخ خالد الراشد

CS CamScanner

زما خبرې... د هغه چا په اړه نه دي چې... په سینډونو او روډونو کې ډوب شوي دي... ځکه که هغه صالح انسانان وي د شهادت اجر ترلاسه کوي... بلکه زموږ خبرې... هغه پیغام دی... په دنیوي خوندونو او شهوتونو کې... ډوب شوو ته... دوی داسې په دغه خوندونو زړه خوشحاله کړی چې دا فکر کېږي دوی به تل په دغه دنیا کې پاتې وي... خو دا بې هېره کړې چې دغه دنیا د تېرېدلو یو سرای او د امتحان ځای دی. او پس له هغه به د جزاء، حساب او کتاب ورځ راځي... بېړه هم لرو د کایناتو د پالونکي په وړاندې او د آسمان او ځمکې د عزتمند خدای په وړاندې.

دا یو پیغام دی هغه بې‌لارې کسانو ته چې دګناهونو په ډنډ کې ډوب شوي او ګناهونو پرې غلبه کړې ده. هغه هم هغه ډول ګناهونو چې زړونه یې ورته نابینا او عقلونه یې ورته ناقص ګرځولي، نعمتونه یې ترې اخیستي او بلا او تنګلاسي یې پر سرونو نازله شوې.

سعید بن مسیب وایي: «بنده‌ګان د الله ﷻ د اطاعت او منښې پرته خدای ته نه دي نږدې شوي او له ګناه پرته یې په بل څه ځان نه دی ذلیل کړی».

دا یو پیغام دی هغه کسانو ته چې په دغه دنیا کې یې موخه یوازې او یوازې د شهوتونو او نفساني غریزو خړوبول دي. ته به دوی یوازې د ګناه په حال کې وویني. د خپل پالونکي څخه د دوی نافرماني او سرکشي په ښکاره چیغې وهي.

محمد ﷺ ډېر مخکې دا وړاندوینه کړې وه: «زما ټول امت ښنل کېږي مګر هغه چاته ښښنه نه کېږي چې خپل ګناهونه په ډاګه کوي».

الله ﷻ فرمایي: [وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يَفْقَهُونَ بِهَا

وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَّ يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يَسْمَعُونَ بِهَا أُوْلَـئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ] «اعراف ۱۷۹» او دا حقیقت دی چې زیاتره پیریان او انسانان مو د دوزخ لپاره پیدا کړي دي، د هغوی زړونه شته خو فکر وربانديې نه کوي. د هغوی سترګې شته خو څه پرې نهویني، د هغوی غوږونه شته خو څه پرې نه اوري، هغوی د څارویو په شان دي، بلکې له هغو څخه هم لا پسې تېر، دا هغه خلک دي چې په غفلت کې لوېدلي دي.

دوی د ډوبېدو په حال کې دي خو د خپل ځان حالت نه حس کوي. دوی په هغه لاره قدم اخلي چې پیل یې ننګ او ذلت او پای یې دوزخ او هلاکت دی.

له دې مخکې چې د دوی حال واخلو او ځان ترې خبر کړو، د هغه خلکو سره یوځو خبرې لرم چې د خلاصون په بېړۍ کې سواره شوي دي.

راشئ ترڅو د دوی د خلاصون لپاره یو بل ته د همکارۍ لاس ورکړو. دوی مهربانه زړونو ته سخته اړتیا لري، څکه چې «رحم کوونکي د الله ﷻ تر رحمت لاندې ځای نیسي»، دوی ښو او غوره خبرو ته اړتیا لري. چې «هره ښه خبره صدقه ده»، دوی رښتیني خندا او موسکا ته اړتیا لري، چې «ستا په مخ کې موسکا خپل مسلمان ورور ته هم صدقه ده».

[فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ] «آل عمران ۱۵۹» «اې پیغمبره ﷺ» دا د الله ﷻ لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې، که داسې نه وای او ته تونډ خویه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شاوخوا څخه خواره شوي وای. د دوی خطاوې وبښه، د دوی لپاره بښنه غواړه، او د دین په چارو کې هغو ته هم په مشوره کې برخه ورکړه، بیا چې ستا اراده پر کومه رایه ټینګه شي! نو

پر الله ﷻ توکل وکړه. د الله ﷻ هغه خلک خوښېږي چې د هماغه په لاره کار کوي.

نو راشئ چې د دوی د ژوند یو څو کرښې وڅېړو او ځان ترې خبر کړو:

**د ډوب شوو حالات:** د دوی شپه او ورځ یو ډول ده، دوی گمان کوي چې نېکمرغي په خوندونو، شهوتونو او په چکرونو کې ده.

[اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ] مجادله ۱۹، شیطان وربانديې مسلط شوی دی او هغه د خدای یاد د دوی له زړونو څخه هېر کړی دی.

ځیني له دوی د سپیده داغ مخکې پرواز، سفر او چکر ته د تللو لپاره بېدارېږي خو نشي کولی د سهار لمانځه لپاره خپله بستره له ځانه وغورځوي، په داسې حال کې چې د سهار لمونځ پرېښودل د منافقت له ښکاره نښو څخه ده.

دغه خلک به ووینې چې د یو توپ له کبله په یو لوبغالي کې هر لوري ته منډې وهي خو له ناوخته لمانځه کولو څخه ځان نه گرځوي، دوی د لمونځ کوونکو په صفونو کې نه تر سترگو کېږي، په داسې حال کې چې مسجد ورته په څو مترۍ کې ځای لري.

الله ﷻ د خپل پیغمبر او د هغه د پیروانو په اړه داسې وايي: [مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ] فتح ۲۹، محمد ﷺ د الله ﷻ پیغمبر دی، او کوم کسان چې له هغه سره ملگري دي، هغوی پر کافرانو سخت او په خپلو منځو کې خواخوږي دي. ته چې کله هغوی گورې نو په رکوع او سجده او د الله ﷻ د فضل او د هغه د خوښۍ په طلب کې یې بوخت مومې. د دینداری نښانې د هغوی په مخونو کې د سجدو د اغېز له امله موجودې

دي (چې په هغه سره پېژندل کيږي).

پيغمبرﷺ هم فرمايي: «د توان په اندازه عبادت وکړئ او پوه شئ چې ستاسو له غوره اعمالو او کړنو يو هم لمونځ دی».

پر لمانځه باندې له پابندۍ بل غوره څه نشته چې خپل ځان خدای ته پرې نږدې کړې. که هرڅومره لويه سختي دې هم مخ ته راغله نو د محمدﷺ دغه جمله په ياد راوړه «اې بلاله! په لمانځه سره آرامي راوبښه».

پوه شه چې دغه عبادت «صلاة» نومول شوی، څکه هر څوک چې په هغه دايمي والی وکړي هغه تر جنته رسوي او هر څوک يې چې پرېږدي او لتي پکښې وکړي هغه دوزخ ته غورځوي.

کومه يوه لاره غواړې؟!

ابن تيميه رحمه الله وايي: «يوه لوی بزرګ خبر راکړ چې د ايران پاچا يو شيخ وليد چې خلك هغه خپل د ګدا ميدان ته ورټول کړي وو، هغه ته يې وويل: اې شيخه! که دغه د جنت لاره وي نو د دوزخ لار موږ ته وښيه؟!».

### د ډوب شوو حالات

ټول وختونه يې يوازې په لوبو، خوښۍ او چټياتو کې تېرېږي، نه نېکي پېژني او له بدۍ هم بې خبره دي. د سندرو غاړو او بدکارو خلکو نومونه يې په ياد دي، حتی له ذوق، سليقې او ژوند څخه يې پوره خبر دي. ښايي د ښځو او اولادونو نومونه يې هم وپېژني، خو د محمدﷺ، صحابه وو او د مؤمنانو د میندو (امهات المؤمنين) له سيرت څخه هيڅ خبر نه لري.

ورځپاڼې او اونيزې لولي او په دغه لاره کې ډېرې پيسې هم لګوي خو د څو شېبو لپاره قرآن کريم نه لولي.

دوی به د څلورلارو په سرو ګورې چې د موسیقۍ شیطاني غږونه او آوازونه يې له موټر څخه بهر تر ډېره اوریدل کیږي، بدنونه يې د مستۍ څخه لړزیږي، خو زړونه يې د قرآن په اورېدلو هېڅ ټکان هم نه خوري.

الله ﷻ شیطان ته وايي: [وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ وَعِدْهُمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا] «اسراء، ٦٤» او هر هغه څوک چې په خپلې بلنې سره ښویولی شې ویې ښویوه، خپل سپاره پلي دې ورباندې راوله، په مالونو او اولادونو کې ورسره برخه وال شه، او هغوی د وعدو په دام کې ونښلوه، له دوی سره د شیطان وعدې له یوې غولونې پرته نور هېڅ هم نه دي.

پيغمبر ﷺ فرمايي: «زما په امت کې به داسې خلک هم پيدا شي چې زنا، د وريښمينو لباس، شراب او موسيقي به حلال وګڼي».

ابن قيم دغه ډول خلکو ته وايي: «دغه نصيحت د يو خير غوښتونکي بنده له لوري د هغه غوږونو ته ورسوئ او پوه شئ چې هغه نصيحت پايله لري چې هغه ته غوږ ونيول شي: هر کله چې خلک په دې پوه شي چې غناء زموږ په دين کې يو داسې سنت دی چې له هغه څخه پيروي کيږي او سړی د خره غوښه وخوري او په يو ځای کې په ګډا شي، نور نو د دغه خلکو خلاصون ته هيله نشته!».

زموږ د امت زخمونه په ټولو ځایونو کې زموږ تر سترګو راځي. په فلسطين، افغانستان، چيچن، په داسې حال کې چې دوی شپه او ورځ په دغه سندرو کې ډوبه تېروي. مسجد الاقصی جومات ويني چې د دردونو سره لاس او ګرېوان دی په داسې حال کې چې مسلمانان هر يو خپل لوري ته ځي. د مسجد الاقصی د يتيمانو اوښکې د دوی د هم دينه پر ذلت شاهدي ورکوي او دوی په دغه ماتم کې شپه او ورځ ژاړي.

اې افسوس پر موږ! زموږ ځوانان څه شول؟ آیا نور له سعد او مقداد غونډې ځوانانو څه خبر نشته؟ مجاهدین د توپ او ټانګ پر غږ آرامې پیدا کوي او دوی د سندرو غاړو له سندرو سره خوب ته ځي. دوی ډوب شوي دي خو له ځان څخه هېڅ خبر هم نه دي.

## د ډوب شوو حالات

دوی به په بازارونو او د خرڅلاو په دوکانونو کې داسې ووینئ چې بوازې خپل ظاهر ته پاملرنه کوي، په داسې حال کې چې دننه خالي دي. دوی به بوازې خپل ظاهر په ډول ډول لباسونو او د ویښتانو په شانه کولو او د بد ټیپ سره سینګار کړی وي، دوی داسې هلکان او نجونې دي چې [وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ] منافقون ۴، ته که دوی ووینې نو د دوی بنې او څېرې به ډېرې شانداره درته ښکاره شي. که وغږېږي نو ته به بې خبرو ته غوږ ونیسې.

د دوی ټوله پریشاني د مسلمانانو د ناموسونو رسوایي او د ساده نجونو تعقیبول دي؛ خو د دوی دا له یاده وتلي چې دوی هم مورانې او خویندې لري. دوی ډوب شوي خو له ځانه خبر نه لري.

یو ځوان هلك د محمدﷺ حضور ته راغی او ورته ویې ویل: اې د الله رسوله! ماته اجازه راکړه چې زنا وکړم! مجلس ګډوډ شو او ټول په غوسه شول. د لارښوونې او رحمت استازيﷺ په ډېره مهربانه او زړه وړونکې توګه هغه هلك ته وویل: نږدې راشه! هلك نږدې ورغی. هغهﷺ ورته وویل: آیا دغه عمل د خپلې مور لپاره خوښوې؟! ویې ویل نه په الله قسم! مور او پلار مې له تا قربان شه! ویې ویل خلك هم دغه عمل د خپلو مورانو لپاره نه خوښوي. ویې ویل: دغه عمل د خپلې خور لپاره خوښوې؟! ویې ویل: مور

او پلار مې له تا قربان! په الله قسم چې نه يې خوښوم! محمدﷺ په همدغه ډول د هلك څخه سوالونه كول چې دا عمل دې د عمه؟ خاله؟ لور؟ لپاره خوښوې. هغه هلك هم وويل نه په الله قسم! له تا قربان شم! هغه وخت پيغمبرﷺ خپل مبارك لاس د هغه په سر كېښود ويې ويل: پالونكيه! گناه يې وبښه، زړه يې پاك كړه او ناموس يې وساته! كله چې ياد هلك له مجلس څخه جگ شو له زنا ورته هېڅ شي منفور نه وو».

او ته اې په دغه گناه كې ډوب انسانه چې د دغې پست او بد عمل لپاره كړنلار جوړوې، په پيليزه كې خپل فكر زغلوې او د هغه لپاره په سفر ځې. آيا دغه عمل د خپلې كورنۍ د غړو لپاره خوښ گڼې؟ ځواب تاته پرېږدم!

په دې پوه شه! تر ټولو لويه گناه چې يو بنده يې د خپل پالونكي پر وړاندې كوي هغه دا ده چې سړى خپله نطفه په داسې رحم كې وغورځوي چې هغه ورته حلال نه وي.

د همدې لپاره اللهﷻ فرمايي: [وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً] الاسراء ٣٢، زنا ته مه نږدې كېږئ، هغه ډېر ناوړه كار دى او ډېره بده لار ده.

**دا هم له لويانو يو څو خبرې!**

حسن بصري رحمه الله وايي: د عمر بن خطابؓ په وخت كې يو ځوان وو چې جومات ته به يې تگ راتگ كولو. يوه ښځه په هغه مينه شوه او په يوه داسې ځاى كې چې دوى دواړه يوازې وو د هغه سره خبره وكړه [فكر وكړئ: هلك د ښځې لور ته ولاړ نشو] هلك لږ تازه نفس واخيست وروسته يې چيغه وكړه او بې هوښه شو. د هلك كاكا راغى او هغه يې كور ته بوتلو. كله چې په هوښ راغى ويې ويل: كاكا د عمر لوري ته ولاړ شه او زما سلام هغه ته وكړه او ورته ووايه: د هغه كس بدله څه شى ده چې د خپل

پالونکي له مقام څخه ویره لري؟

کاکا یې عمر ته ورغی او د هلک پیغام یې ورسولو، عمر د هلک لوري ته راغئ خو کله یې چې عمر ولید چیغه یې کړه او وفات شو.

عمر یې پر سر ودرید او ویې ویل: [وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ] «الرحمن ۴۶»
او د هر هغه چا لپاره چې د خپل رب حضور ته له وړاندې کېدو څخه ویره لري، دوه باغونه دي.

الله ﷻ دې هغه د هغه ۷ کسانو ډلې ته داخل کړي چې د قیامت په ورځ د الله ﷻ تر سیوري لاندې وي چې په هغه ورځ بل سیوری نه وي.

[شایسته ښځه یو ځوان خانته غواړي خو ځوان وایي: زه له خدای څخه وېرېږم].

اې هغه سړیه چې په ګناهونو او خطاوو کې غوټې وهې، اې هغه سړیه چې د الله ﷻ په نافرمانی او مستی کې خپل ژوند تېروې. د الله ﷻ نه ډارېدونکي بریالي شول خو ستا برخه له تاوان څخه پرته بل څه نه ده.

[وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ] «الرحمن ۴۶»...

## د ډوب شوو حالات

ګناه، معصیت او چټلي د دوی عادت او د لارې چراغ ګرځېدلی...

دوی په تورو تیارو کې ژوند کوي: [ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِن نُّورٍ] «نور ۴۰» پر تروږمی باندې تروږمی مسلطه ده. که (په دغو تیارو کې دغه پریوتی) انسان خپل لاس راوباسي. نو هغه به هم ونه شي لیدلی. چاته چې الله ﷻ رڼا ونه ښيي. د هغه لپاره بیا هېڅ رڼا نشته.

دوی له امن، آرامۍ او د ژوند د ثبات پرته ژوند کوي. غوره ده چې ووایم... له ژوند پرته! آیا د ایمان پرته هم د بل ژوند فکر کېدای شي؟!

الله ﷻ فرمايي: [الَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُواْ إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَـئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ] «انعام ۸۲» په حقیقت کې خو امنیت د هماغه کسانو لپاره دی او پر سمه لاره برابر هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی، او خپل ایمان یې په ظلم نه دی ملوث کړی.

زړونو یې له ګناه څخه د چیغو او افسوس ژبه پیدا کړې، ګناهونو یې د ایمان نور په زړونو کې مړ کړی، آه او افسوس یې جګرونه سوزولي، غم او پرېشانۍ یې خوب پرې حرام کړی، د ګناه او معصیت په کندو کې ډوب شوي، له یو مصیبت څخه بل مصیبت ته او له یوې پرېشانۍ بلې پریشانۍ ته او له یو غم بل غم ته یې د ژوند چراغ لوېږي خو بیا هم نه توبه وباسي او نه د الله ﷻ یاد ته مخ ګرځوي.

الله ﷻ فرمايي: [وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى] «طه ۱۲۴» او څوک چې زما له ذکر (د نصیحت له درس) څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.

په خپله ګمراهۍ او نافرمانۍ به هم نیوکه کوي [قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَى وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا، قَالَ كَذَلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَلِكَ الْيَوْمَ تُنسَى، وَكَذَلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِن بِآيَاتِ رَبِّهِ وَلَعَذَابُ الآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَى] «طه ۱۲۵، ۱۲٦، ۱۲۷» هغه به وايي: پالونکیه! په دنیا کې خو زه سترګې درلودونکی وم. دلته دې ولې ړوند راپاڅولم. الله ﷻ به وفرمايي: هو په همدې شان دې زموږ آیاتونه چې تاته راغلي وو هېر کړي وو، هماغسې نن ته هېرول کېږې. په دې ډول موږ

له حده تېري کوونکو او د خپل رب د آیاتونو نه منونکو ته (په دنیا کې) مجازات ورکوو او د آخرت عذاب خو په یقیني توګه زیات سخت او ډېر پایښت لرونکی دی.

## دوی ډوب شوي...

په دغه حال کې د توبې فکر نه کوي او په خپلو کړو نه پښېمانه کيږي. خو برېښنايي پرکنده وربځې يې په زړونو کې پرک وهي او هغوی ته آواز کوي چې د خلاصون په بېړۍ کې سواره شئ او د توبه کوونکو په کاروان کې ځان دننه کړئ.

دوی نصیحتونه اوري خو پند نه اخلي، مړي خاورو ته سپاري خو عبرت نه اخلي، حق په خپلو سترګو ویني خو له هغه ملاتړ نه کوي. آیاتونه اوري خو مني يې نه.

موږ هم د الله ﷻ کلام هغه ته وايو: [يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ، وَمَن لاَّ يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِن دُونِهِ أَولِيَاء أُوْلَئِكَ فِي ضَلاَلٍ مُّبِينٍ] (احقاف ۳۱-۳۲)، اې زموږ قومه! د الله ﷻ خواته د بلونکي بلنه قبوله کړئ او پر هغه باندې ایمان راوړئ. الله ﷻ به ستاسې له ګناهونو څخه در تېر شي او تاسې به له دردناک عذاب څخه وژغوري. او څوک چې د الله ﷻ د بلونکي خبره ونه مني هغه نه په ځمکه کې څه قوت لري چې الله ﷻ بېوسی کړي او نه د هغې داسې ملاتړ سرپرستان شته چې له الله ﷻ څخه هغه وژغوري، دغسې خلک په ښکاره ګمراهی کې غورځېدلي دي.

دا خو يې ځینې حالتونه وو، راشئ چې له خبرو یې هم ډېرې واورو چې دوی څه وايي: د دوی له پرله پسې خبرو څخه دا هم دي: کله يې چې يو

ملګرى توبه وباسي او د خلاصون په کښتۍ کې کيني د هغه پر وړاندې بيا تبليغاتي جګړه کوي، د ژبې په نيش او زخم باندې پرې د غشو باران کوي. خطاوې او ښوئيدنې يې ورته بيا ځرګندوي، يو وايي: توبه يې پايښت نه پيدا کوي بېرته پخواني حالت ته ګرځېږي.

بل وايي: ځو ورځې به همداسې وي بيا همغسې کېږي لکه پخوا چې وو. يو بل ورته د نصيحت په ژبه وايي: ستا له دې کارونو سره څه دي په همدغه لاره کې پاتې شه، پای به دې ښه وي!

حيران يم، حيران يم او حيران! لمونځ نه کوي، روژه نه نيسي، د الله ﷻ اوامرو ته غاړه نه ږدي او د ګناهونو په درياب کې ډوب دي بيا هم هغه ته وايي پای به دې ښه وي!

آيا دغه ډول پای به ښه شي؟!

الله ﷻ فرمايي: [وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ، وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ، حَتَّىٰ إِذَا جَاءَنَا قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ ، وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ، أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ، فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ أَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِي وَعَدْنَاهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ، فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِي أُوحِيَ إِلَيْكَ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ، وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْأَلُونَ] (زخرف ۳٦- ٤٤) ځوک چې د الرحمن (خدای) څخه ځان په غفلت کې اچوي. موږ پر هغه باندې يو شيطان مسلطوو او هغه يې ملګرى کېږي. دا شيطان دغسې خلک پر سمه لاره باندې له تللو څخه منع کوي. او هغوی له ځان سره دا ګمان کوي چې موږ سم روان يو. په پای کې چې کله دغه انسان زموږ څنګ ته راشي نو خپل شيطان ته به ووايي: کاشکې زما او ستا ترمنځ د ختيځ او لويديځ لرې والی وای، ته خو ډېر بد ملګرى شوې. په هغه وخت کې به دوی ته وويل

شي! کله چې تاسې ظلم کړی دی، نو نن ستاسې لپاره دا خبره هېڅ ګټوره نه ده چې تاسې او ستاسې شیطانان په عذاب کې یوځای یاست. نو آیا اې پیغمبره! ته به کاڼي واوروې؟ یا به ړندو ته او په ښکاره ګمراهی کې غورځېدلو خلکو ته لاره وښیې؟ اوس نو موږ دوی ته په غچ اخیستلو سزا ورکوونکي یو کله چې تا له نړۍ څخه بوځو، یا تاته په سترګو د دوی د هغه عاقبت وښیو چې موږ ورسره د هغه وعده کړې ده. په یقیني توګه موږ پر دوی باندې پوره برلاسي یو. ته په هر حال هغه کتاب ټینګ ونیسه چې د وحیې په واسطه تاته لېږل شوی دی، په یقیني ډول ته پر سمه لاره یې. حقیقت دا دی چې دغه کتاب (قرآن) ستا لپاره او ستا د قوم لپاره یو ډېر لوی شرف دی او ډېر ژر به تاسې د ده په باب وپوښتل شئ.

**د ډوب شوو خلکو حال داسې دی!** نه غواړي په یوازې توګه ډوب شي، خو که ته د دوی د خلاصون لپاره هڅه کوې تا هم له ځان سره ډوبوي، لکه څرنګه چې ویل شوي دي: زناکاره ښځه غواړي ترڅو ټولې ښځې زنا وکړي او له ځان سره یې برابرې کړي، په دغه حالت باندې په حیرانتیا کې لوېږم د دې پر ځای چې د ملګرو له لاربښوونې او لار موندنې او بریالیتوب څخه خوښ شي، هغه ته نقشه جوړوي چې په څه ډول هغه هم د ګناه او معصیت ساحل ته ورټېل وهي.

داسې خبر هم لرم چې یو ځوان لارموندونکی شو او نېغه لار یې غوره کړه او د خلاصون په بېړۍ کې سپور شو، پر لمانځه یې پابندي وکړه او قرآن یې هم حفظ کولو تردې چې د هغه ملګرو په فکر کې ډوب شو چې د ګناهونو په سمندر کې ډوب دي. هغه دا خوښه ګڼله چې هغه هم د ده سره یوځای د توبې په کښتۍ کې سپاره شي او بریالیتوب ترلاسه کړي او د توبه کوونکو په کاروان پورې ځان ونښلوي. لیدلو ته یې ولاړ خو اې افسوس چې

نه وې تللې. دا نصیحت هر هغه چانه دی چې اوس یې تازه توبه کړې وي او په نېغه لار یې ځېل لومړي قدم ایښې وي: په یوازې ډول دې بخوابیو ملګرو ته مه ورځه!

هغه څوک چې ستا سره په بلنه او دعوت کې پوره مرسته کولی شي هغه درسره بوځه. ځکه چې یو سړی هرڅومره ډېر خلک له ځان سره ملګري کړي د حق په ویلو کې یې زړورتیا پورته ځي.

هغه ته ورغی ترڅو هغه ته هم نېغه لار وښيي. دوی له هر لوري په هغه یرغل راوړ. «هو هو هغه ورځ دې په یاد ده؟!».

غړونه یې اوچت شول او خنداګاني ترې پورته شوې. له هغه وروسته چې پخوانی خاطرې او یادونه یې ژوندي کړل او زړه او ځان ته یې تکان ورکړ بیا یې له منځه پورته شو او ولاړ. اوس یې نو «نیونه» شروع شوه، څو ورځې وروسته بیا ورغی، د موټر د اخیستلو په نیت یې نږدې ځای ته د سفر وړاندیز ورته وکړ. وبې ویل: نو همدا وه چې د سفر خوړه یې زړه ته ولوېده. له هغه سره ملګری شو خو اې کاش چې نه وای ورسره ملګری شوی او له هغه سره نه وای تللی. دوی هلته یو ښکلې ساختمان او ودانی ونیوله. هلک یې هلته خوشي کړ. ولاړل ترڅو ووینې چې په څه ډول هلک بیا خلې تباهی ته کش کړي. د شپې یې په خپلو منځونو کې شراب، ساز او سندرې د شپې تر ډېره نوشیجان کولې. هلک په دغه کور کې د هغوی په انتظار ناست ؤ. دوی له یوې فاحشې سره ځای پرځای وو ترڅو وکولی شي ملګری یې په ګناه کې ښکېل کړي. څو برابره پیسې یې ورکړې. الله اکبر... دوی په دغه لاره کې پیسې مصرفوي ترڅو هغه د الله ﷻ له لارې وګرځوي. دغه فاحشه یې د شرابو، ساز او سندرو سره یوځای د هلک کور ته دننه کړه، ترڅو یوه شپه یو له بل سره مخامخ ووینې. ځکه شراب عقل له منځه وړي

او موسيقي او سندرې د زنا لومړۍ پړۍ دي.

يو له بل سره يې يوځای والی وکړ. «که چېرې يو سړی له ښځې سره يوځای وي دريم يې شيطان دی». همدارنګه يو له بل سره وو چې همدغه فاحشې هلک ته لږ څه شراب ورکړل او بيا يې نور هم ورکړل. په پايله کې هغه څه چې بايد نه وی رامنځته شوي په څو شېبو کې يې چې په ستونزو سره تهذاب او بنسټ جګ کړی ؤ بيا له منځه يوړ. بربنډ او مست په بستره کې ويده شول، ترڅو چې سهار شو او په انساني مخو کې لوی لوی شيطانان کور ته دننه شول. خنداګانو يې ټول کور نيولی ؤ. فاحشې دروازه ورته پرانيستله. ويې ويل څه وشول؟ څه خبر؟ کوم زيری؟ ويې ويل: زيری ورکړئ، زيری ورکړئ کوم کار يې چې غوښتلو هغه ترسره شو. شراب يې وڅښل، زنا يې وکړه او بيا ويده شو. اوس هم بربنډ په بستره کې پروت دی.

د الله ﷻ بې‌شمېره لعنتونه دې پر دوی او د دوی په ډول خلکو وي! د ګناه په کولو خوښي څرګندوي او خوند اخلي. او خوښ دي چې ملګري يې زنا وکړه او شراب يې وڅښل. هغه څوک چې له دې مخکې يې لمونځ او قرآن لوستلو. په پايله کې په خندا او شوخی سره يې کوټې ته وردننه شول. او ويې ليدل چې هلک ځان په بستره کې تاو کړی. غوښتل يې چې بيدار يې کړي! فلانيه، فلانيه، ځواب يې ورنه کړ... بيا ځلې يې غږ ورته وکړ: فلانيه، فلانيه، ترڅو چې تکان يې ورکړ... په خپله بستره کې يې يو لوري بل لوري ته وښورولو خو ويښ نشو... دا لوی ناورين خپله وګورئ... هغه په داسې ډول مړ شو چې شراب يې څښلي، زنا يې وکړه او ويده شو او هغه خوب يې وروستی خوب شو او په همدغه بد حالت کې مړ شو. انا لله وانا اليه راجعون.

آه زما پالونيکه! آيا هغه د دوی هغه ملګری نه و چې لمونځ يې کولو، روژه يې نيوله، قرآن يې لوستلو، د دې لپاره راغلی و ترڅو دوی ته سمه لاره

وښيي. خو دغه بدو ملګرو هغه کومې کندې ته وغورځولو. پېسې او وخت يې د هغه په بې لارې کولو کې مصرف کړ ترڅو هغه د الله ﷻ له لارې وګرځوي. آيا هغه غوښتل چې دی له الهي عذاب څخه وژغوري؟!

آه دا څومره بد ملګري دي؟!

الله ﷻ فرمايي: [وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَى يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلاً ، يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلاً ، لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ خَذُولاً] «فرقان ۲۷-۲۹»، ظالم انسان به خپل لاسونه چيچي او وايي به کاشکي ما د پيغمبر ملګرتيا کړې واى، هی زما بده بخته، کاشکي ما فلانی سړی په دوستی سره نه وای نيولی، هغه تېر ايستلم، هغه نصيحت مې ونه مانه چې ماته راغلی و، شيطان د انسان په حق کې ډېر زيات بې وفا غولوونکی ثابت شو.

د فاسق ملګري له ملګری ځان وساتئ! څومره ډېر فاسق انسانان شته دي چې په ملګرئ سره نور د هلاکت کندې ته غورځوي!

## دغه دي د ډوب شوو حالات

ته به غواړې چې دوی ته نجات ورکړې! خو دوی غواړي تا هم ډوب کړي او د ډوبېداو نقشه درته رسموي. څکه دوی غرق شوي دي.

الله ﷻ فرمايي: [فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ حَتَّى حِينٍ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ، نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ بَل لَّا يَشْعُرُونَ] «مؤمنون ۵۴-۵۶»، ښه نو، دوی پرېږده چې په خپل غفلت کې تر يوې ټاکلې نېټې پورې ډوب وي. آيا دوی دا انګيري: موږ چې په مالونو او اولادونو کې له دوی سره مرسته کوو، نو ګويا دوی ته په ښېګڼو ورکولو کې اخته يو؟ نه، د اصلي موضوع شعور د دوی سره نشته.

CS CamScanner

او همدارنګه فرمايي: [أَفَرَأَيْتَ إِن مَّتَّعْنَاهُمْ سِنِينَ . ثُمَّ جَاءَهُم مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ . مَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يُمَتَّعُونَ] «شعراء ۲۰۵-۲۰۷» تا څه فکر کړی دی، که موږ دوی ته د کلونو کلونو مزو چړچو مهلت هم ورکړو، او بیا هماغه څه ورباندې راشي چې له هغه څخه دوی وېرول کېږي. نو هغه د ژوند وسایل دوی ته ورکړل شوي دي. دوی ته به څه په درد ونه خوري.

پيغمبرﷺ فرمايي: «ځینې خلک د خېر سبب او د شر مانع دي او ځینې نور د شر سبب او د خير مانع دي. د هغه په حال خوښي ده چاته چې الله ﷻ خير په لاس کې ورکړی او افسوس د هغه چا پر حال چې هغه د شر سبب جوړ شوي دي». ابن ماجه.

## ګناه له دوی سره څه وکړل؟!

الله ﷻ فرمايي: [أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِن شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا] «فاطر ۴۴» آيا دوی کله په ځمکه کې ګرځېدلي راګرځېدلي نه دي چې د هغو خلکو عاقبت یې لیدلی وای، چې د دوی څخه ډېر زيات ځواکمن ول؟ هېڅ شی نه په آسمانونو او نه په ځمکه کې د الله ﷻ بېوسي کوونکي دي. هغه په هرڅه باندې پوهېږي او په هرڅه باندې قدرت لري.

وګوره... ګناه، معصيت او بديو څه وکړل. څه امتونه، خلک او ډلې یې له هلاکت سره مخ کړل. آيا په دنيا او آخرت کې داسې يوه ناروغي او شر شته چې سبب يې له ګناه پرته بل څه وي؟!

[أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ] «آل عمران ۱۶۵» او تاسې څه کوئ، چې کله په کوم کړاو اخته شئ، نو په دې خبرو خوله پرانېزئ چې دا مصيبت (په احد کې) له کوم

لوري راغئ؟ په داسې حال کې چې (د بدر په جګړه کې) ستاسې لاسونو د دې دوه برابره مصیبت (د دښمن ډلې ته) رسولی دی. اې پیغمبره دوی ته ووایه: دا مصیبت پخپله ستاسې له خوا منځته راورل شوی دی. الله ﷻ په هرڅه برلاسی دی.

څه شي ابلیس د آسمان څخه ځمکې ته بهر وغورځولو، لعنت او ړټنه یې وشوه، ښکاره او دننه یې مسخه کړ، څېره یې تر ټولو بده او وېروونکې وګرځول شوه، دننه یې له بهر څخه بد وګرځېد او د نږدیوالي پرځای لرې شو. د رحمت پرځای ورټل شو. د ښکلا پر ځای یې بدرنګي او د جنت پرځای یې د اور خوراک وګرځولو او د ایمان پرځای یې کفر نصیب شو؟!

هغه د الله ﷻ پر وړاندې خوار شو، له سترګو یې ولوېد او الهي قهر په هغه نازل شو. چې هغه یې بیا تر ټولو رټل شوی او ټیټې مرتبې واله مخلوق معرفي کړ.

خو الله ﷻ غوښتل چې ابلیس د ټولو فاسقانو لپاره یو رهبر جوړ شي، وروسته له هغه یې د ټولو عبادتونو او د شیطان د بندګۍ طوق غاړې ته ولوېږي.

مهربانه خدایه! تاته له دې پناه دروړو چې ستا اوامرو ته غاړه کېښېږدو او ستا له نواهیو ډډه ونه کړو.

الله ﷻ شیطان ته فرمایي: [قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْؤُومًا مَّدْحُورًا لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ] (اعراف ۱۸) الله ﷻ وفرمایل: له دې ځایه سپک او رټل شوی ووځه! باور ولره چې له دوی څخه چې څوک ستا پیروي وکړي، ستا په شمول به له هغو ټولو څخه دوزخ ډک کړم.

الله ﷻ موږ ته د شیطان د مکر او چل په اړه د خطر زنګ وهلی او فرمایي: [يَا بَنِي آدَمَ لاَ يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا

يُرِيَهُمَا سَوْءَاتِهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لاَ تَرَوْنَهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ لِلَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ] «اعراف ۲۷» اې بنيادمانو ! داسې دې نه وي چې شيطان تاسې بيا هماغه شان په فتنه کې اخته کړي، لکه څرنګه يې چې هغه ستاسې مور او پلار له جنت څخه ايستلي ول. او له هغوی څخه يې د هغوی جامې ايستلې وې، ترڅو د هغوی شرم ځايونه يو د بل پر وړاندې لوڅ شي. هغه (شيطان) او د هغه ملګري تاسې له يو داسې ځای نه ويني، چې له هغه ځايه تاسې هغوی نه شئ ليدلی. موږ دا شيطانان د هغو خلکو سرپرستان ګرځولي دي چې ايمان نه راوړي.

څه شي هغه له دغه ډول حالت سره مخ کړ؟!

گناه

د الله ﷻ له اوامرو سرغړونه ده. څه شي د ټولې ځمکې اهل ډوب کړ تر دې چې اوبه د غرونو له څوکو هم لوړې شوې؟!

څه شي د عاد پر قوم باندې باد مسلط کړ تر دې پورې چې په مړه ډول يې د ځمکې پر سر واچول؟!

[كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ] «الحاقه ۷» الله ﷻ هغه «باد» پرله پسې اووه شپې او اته ورځې پر هغو مسلط کړ (که ته هلته وای نو) تا به ليدلي وای چې هغوی هلته داسې چيت غورځيدلي دي لکه د خرماوو وراسته شوي ډډونه.

څه شي هغه عذاب د سمود پر قوم نازل کړ تردې پورې چې زړونه يې وچاودل او ټول هلاک شول. څه شي فرعون او د هغه قوم په سيند کې ډوب کړل تر دې پورې چې ځانونه يې دوزخ ته وليږدول شول؟! جسمونه يې ډوب شول او ځانونه يې د اور خوراک شول.

CS CamScanner

**ګناه**

الله ﷻ فرمايي: [كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ، فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ، وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ، سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَى كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ، فَهَلْ تَرَى لَهُم مِّن بَاقِيَةٍ، وَجَاءَ فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ بِالْخَاطِئَةِ، فَعَصَوْا رَسُولَ رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً، إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ، لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَا أُذُنٌ وَاعِيَةٌ] «الحاقه ۴-۱۲». ثموديانو او عاديانو هغه ناڅاپي رالوېدونکې آفت (د قيامت ورځ) دروغ وګڼه؛ نو ثموديان په يوه سخته حادثه کې هلاک کړل شول. او عاديان په يوه ډېره سخته طوفاني لوخړه تباه کړل شول. الله ﷻ هغه (باد) پر له پسې اووه شپې او اته ورځې پر هغو مسلط کړ (که ته هلته وای نو) تا به ليدلي وای چې هغوی هلته داسې چيت غورځېدلي دي لکه د خرماوو وراسته شوي ډډونه. نو آيا اوس له هغو څخه څوک تاته باقي ژغورل شوي په نظر درځي؟ او همدغه ستره ګناه فرعون او له هغه څه مخکې خلکو او د ويجاړو شويو کليو (اوسېدونکو) وکړه! دوی ټولو د خپل رب د پيغمبر خبره ونه منله، نو الله ﷻ په ډېره سختۍ سره ونيول. کله چې د اوبو طوفان له حده تېر شو، نو موږ تاسې په بېړۍ کې سپاره کړي واست! ترڅو چې دغه پېښه ستاسې لپاره يو د درس وړ يادګار وګرځوو او په ياد لرونکي غوږونه يې په ياد ولري.

څه شي دوی په دغسې حالت کې د هلاکت کنده کې وغورځول؟!

**ګناه**

څه شي د لوط د قوم ودانۍ تر هغه لوړې پورته کړې چې د سپيو عوعو يې تر غوږونو پورې رسېدل؟! او وروسته يې دغه آبادي او ودانۍ پر خپلو سرونو باندې ور وغورځول هغه هم په داسې ډول چې لوړې يې په ژورو

بدلې کړې او ټول خلک یې هلاک شول او د تیږو باران یې پر سرونو واوریده؟! داسې عذابونه ورکړل شول چې په نورو خلکو بیا رانغلل. اوسني ظالمان دې هم دغه ډول عذاب ته سترګې په لاره شي.

په دغه آیت کې خپل فکر وځغلوئ: [فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ] «هود ۸۲» بیا چې کله زموږ د فیصلې وخت راورسېدی، نو موږ هغه سیمه په بل مخ نسکوره کړه او پر هغې باندې مو د پخې شوې خټې د تیږو باران واوروه.

د دوی د هلاکت او ورکېدو سبب څه وو؟! هغه شیطاني کړنې وې چې یوازې سړي په هغه ککړیږي.

**ګناه**

او ته څه پوهیږې د ناورین ژوروالی په څه کې دی؟!

څه شي د وریځو عذاب د سیوري په ډول د شعیب د قوم پر سر نازل کړ. په داسې ډول چې په سرونو یې د اور په ډول عذاب اورېدلو؟!

د الله ﷻ رالیږلی پیغام واوره کله چې دوی د هغه د استازي تکذیب وکړ: [فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ] «شعراء ۱۸۹» هغوی دی دروغجن وګڼه، په پای کې پر هغوی باندې د چترۍ وریځې (سیوري اچوونکې وریځې) عذاب راغئ، او هغه د ویروونکې لویې ورځې عذاب و.

څه شي قارون او د هغه قبیله او مالونه ښکته وخوړل؟! [إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ] «القصص ۷۶» دا یو واقعیت دی چې قارون د موسی ؑ د قوم یو غړی وو، بیا هغه د خپل قوم پر خلاف سر غړاوی وکړ. او موږ هغه ته دومره خزانې ورکړې وې چې د هغو کلیانې د قوي کسانو یوې ټولۍ ایله بیله په سختۍ

سره پورته کولی شوای. کله چې د قوم خلکو هغه ته وویل: مه ویاړیږه (ناشکري مه کوه) الله ﷻ ویاړېدونکي (ناشکره) نه خوښوي؟

څه شي د یاسین خاوند قوم هلاک کړ ترڅو پورې چې ټول ورک شول؟! په داسې حال کې چې الله ﷻ هغه ته خبر هم ورکړی وو. [يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ] «یاسین ۲۰» په دې ترخ کې د ښار د لرې څخه یو سړی په منډه راغی او ویې ویل اې زما قومه! د رسولانو پیروي غوره کړئ!

گناه

د هر ډول او هرې گېډی څخه...

الله ﷻ فرمایي: [وَإِذَا أَرَدْنَا أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا] «اسراء ۱۶» او کله چې موږ د کومې سیمې د هلاک کولو اراده کوو، نو د هغې بډایانو ته حکم کوو، خو هغوی په نافرمانیو لاس پورې کوي، هله نو پر هغې سیمې د عذاب فیصله تطبیقیږي او موږ هغه بیخي تباه کوو.

امام احمد وایي: «ولید بن مسلم د صفوان بن عمر څخه موږ ته خبر راکړ او ویې ویل: عبدالرحمن بن جبیر د پلار نه په قول ماته خبر راکړ: کله چې قبرس فتحه شو د خلکو ترمنځ یې بېلتون راغئ په داسې ډول چې هر یو د بل لمنې ته په ژړا او زاریو وو. ویې ویل: ابودرداء! په هغه ورځ ولې ژاړې چې الله ﷻ مسلمانان بریالي کړل؟ ویې ویل: افسوس جبیره پر تا! خلک چې کله د الله ﷻ امر په څمکه غورځوي دا څومره ورته بې‌ارزښته دي! دوی په داسې حال کې یو پیاوړی امت و خو د الله ﷻ له اوامرو یې پیروي ونه کړه او هر هغه څه چې په سر یې راغلل ونیول شول.

یوه او د تدبیر څښتن ذات داسې فرمايي: [ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْقُرَىٰ نَقُصُّهُ عَلَيْكَ مِنْهَا قَائِمٌ وَحَصِيدٌ، وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ الَّتِي يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مِن شَيْءٍ لَّمَّا جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ، وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ، إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ، وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ] هود: ۱۰۰-۱۰۴

دغه د کلیو ماجرا ده چې موږ یې تاته اوروو. له هغو څخه ځینې اوس هم ولاړ دي او د ځینو کښتونه لو شوي دي (دمنځه تللي دي). موږ پر هغو ظلم نه دی کړی، هغو خپله پر خپل ځان ظلم وکړ. او کله چې د الله ﷻ حکم راغی، نو د هغو هغه معبودان چې له الله ﷻ څخه پرته یې بلل، هیڅ په کار رانغلل او هغو (معبودانو) له هلاکت او بربادۍ څخه پرته څه ګټه ور ونه رسوله. او ستا رب چې کله کومې ظالمې سیمې نیسي، نو بیا د هغه نیول همداسې وي. په واقع کې د هغه نیونه ډېره سخته او دردناکه وي. حقیقت دا دی چې په دې کې د هر هغه چا لپاره یوه نښانه ده چې د آخرت له عذاب څخه وېره وکړي. هغه به یوه داسې ورځ وي چې ټول خلک به راغونډېږي! او په هغه ورځ کې چې بیا هر څه وي، د ټولو تر نظر لاندې به وي. موږ د هغې راوستل څه دومره ډېر زیات نه وروسته کوو، د هغې لپاره یوازې یوه په شمار حساب موده ټاکلې ده.

د دغه حال په اړه د هغو خلکو فکرونه هم په حیرانتیا کې لوېدلي چا چې موږ ته لار موندنه ښودلې ده. مرګ مخلوقاتو ته یو حتمي او راتلونکی امر دی. څومره ډېر حکومتونه او ډېرې ډلې تر هلاکت پورې رسېدلې. چېرې دي نمرود او کنعان او هغه څوک چې د هر قدرت او مال خاوندان وو؟ چېرې دي هغه خلک چې د ټولنې مشري یې کوله او ماڼۍ یې جوړولې؟!

ټول مړه شول خو لوړو ماڼیو څه ګټه ورته ونه رسوله.

چېرې دي د عقل او فکر څښتنان؟ چېرې دي د علم خلک او هغه لومړني خلک؟! الله ﷻ به بيا څلې دا ټول پاځوي او د هر هغه څه بدله به ورکوي کوم يې چې په دنيوي ژوند کې ترسره کړي دي.

**خو د هغو ژغورل شوو خلکو خبرې چې د ژغورنې په بېړۍ کې سپاره شوي دي:** د شپې په آخره دريمه حصه کې د شپې لمونځ او د روژې نهه ويشتم و او د رمضان مبارکه مياشت وه، د (ص او دخان) سورتونه مې لوستل، په ډېرو آياتونو او نصيحتونو تېريدلو.

د خپل پالونکي په دغه رالېږلي امر کې فکر وکړئ [هَذَا ذِكْرٌ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ] ص ۴۹، دا يوه يادونه وه (اوس واورئ چې) د پرهيزګارانو لپاره په يقيني ډول ډېر ښه استوګنځی دی.

د دغه ايات په تلاوت سره د يو شل کلن ځوان د ژړا غږ پورته شو، دغه آيات يې بدن ته ټکان ورکولو او زړه او وجدان يې په بيړه سره هڅه کوله، دغه هلک په ژړا سره د لمونځ کوونکو زړونه ټوټې ټوټې کړل. په دويم رکعت کې د دخان سورت آياتونه شروع شول، د لمونځ کوونکو د آياتونو سره د ډېر تراو له مخې زړونه خوځېدل.

غوږ کېږده...

ولې يو لوی امت الله ﷻ له داسې هلاکت سره مخ کړ کله يې چې د هغه ذات د اوامرو او د استازو مخالفت وکړ.

الله ﷻ فرمايي: [وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ، أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ، وَأَنْ لَا تَعْلُوا عَلَى اللَّهِ إِنِّي آتِيكُمْ بِسُلْطَانٍ مُبِينٍ، وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَنْ تَرْجُمُونِ، وَإِنْ لَمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ، فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هَؤُلَاءِ قَوْمٌ مُجْرِمُونَ، فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُمْ مُتَّبَعُونَ، وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا إِنَّهُمْ جُنْدٌ مُغْرَقُونَ، كَمْ تَرَكُوا مِن

CamScanner

جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ، وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ، وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ، كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ، فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ] دخان ۱۷-۲۹، موږ له دې نه مخکې د فرعون قوم په همدې ازموینه کې واچاوه، هغو ته (زموږ له خوا) یو عزتمند پیغمبر ورغئ؟ او هغه وویل: د الله ﷻ بنده‌ګان ماته وسپارئ. زه ستاسې لپاره یو امانتدار پیغمبر یم! او د الله ﷻ په مقابل کې سرغړاوی مه کوئ. زه تاسې ته (د خپل ماموریت) څرګند سند وړاندې کوم! او ما د خپل رب او ستاسې د رب پناه له دې څخه غوښتې ده چې تاسې پر ما پر تیږو ویشتلو سره یرغل وکړئ، او که تاسې زما خبره نه منئ، نو پر ما باندې د لاس پورته کولو څخه ډډه وکړئ.په پای کې موسی﵇ خپل رب ته دعا وکړه چې دغه (قبطیان) یو ګنهګار قوم دی. (ځواب ورکړ شو) بنه نو، د شپې زما بنده‌ګان درسره بوزه تاسې به د (فرعونیانو له خوا) تعقیب کیږئ. او سمندر په خپل حال پرانیستی پریږده. دغه ټول لښکر غرقېدونکی دی. څومره باغونه، چینې یې پرېښودل؟ (همدارنګه) دا د هغه عاقبت شو. او موږ نور خلک د دغو شیانو وارثان وګرځول. نو پر هغوی باندې خو نه آسمان وژړل او نه ځمکې، او لږ شانته مهلت هم هغو ته ورنه کړل شو.

کله چې په هغه ورځ دوی د الله ﷻ د اوامرو مخالفت وکړ، الله ﷻ هم دوی له خپل نظر څخه وغورځول. دغه هلاک دغه آیاتونو د شدت له اغېز څخه ونشوی کولی چې ژړا یې په خپله ولکه کې راولي. څومره لوی قرآن! څومره ښکلي آیاتونه لري کله چې ولوستل شي زموږ د زړونو له بندونو (برقي بیټرۍ) سره نښغه اړیکه پیدا کوي.

### غوږ کېږده...

الله ﷻ د دخان سورت په آیاتونو کې لویې لویې وعدې موږ ته په ګوته کوي هغه وعدې چې بیا نه هېرېږي، خلک به په هغه سخته ورځ له پیل

څخه تر پایه ټول جمع وي، په ګناه کې ډوب انسانان به راوستل شي. [وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَى ظُهُورِهِمْ أَلاَ سَاء مَا يَزِرُونَ] [انعام ۳۱]. او د دوی حال به دا وي چې د ګناهونو پېټی به یې په خپلو اوږو را اخیستی وي. وګوره! څومره ناکاره پېټی دی چې دوی یې پر اوږو را اخلي.

صالحان به هم راشي په داسې حال کې چې نېکیو به یې لاره روښانه کړې وي.

الله ﷻ فرمايي: [إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ ، يَوْمَ لاَ يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْئًا وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ، إِلاَّ مَن رَّحِمَ اللَّهُ إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ] [دخان ۴۰-۴۲]. د دوی ټولو د پاخولو لپاره ټاکلی وخت د فیصلې ورځ ده، هغه ورځ چې هېڅ یو خواخوږی خپلوان به خپل کوم بل خواخوږي دوست ته په هېڅ درد دوا نه شي او نه به له کوم لوري هغوی ته څه مرسته ورسیږي. پرته له دې چې الله ﷻ پر چا باندې رحم وکړي. هغه برلاسی او خورا مهربان دی.

الله ﷻ کوم عذاب د هغوی لپاره او کوم نعمتونه د هغوی لپاره تیار کړي دي؟ [إِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّومِ، طَعَامُ الأَثِيمِ، كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ، كَغَلْيِ الْحَمِيمِ، خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَى سَوَاء الْجَحِيمِ، ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ، ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ، إِنَّ هَذَا مَا كُنتُم بِهِ تَمْتَرُونَ] [دخان ۴۳-۵۰]. د زقوم ونه به د ګنهګارانو (کافرانو) خوراک وي؟ د تېلو د خیرې غوندې، په ګېډه کې به داسې وایشېږي، لکه خوټېدلې اوبه چې ځوښ وهي. (وبه ویل شي) دی ونیسی او په رسوایی سره یې د دوزخ منځ ته راکاږئ! او په سر یې د خوټېدلو اوبو عذاب ور واړوئ، وڅکه د دې خوند (هوکنه!) ته ډېر برلاسی عزتمند سړی یې! بېشکه دا (عذاب) همغه شی دی چې په راتلونکې یې تاسې شک درلود.

دا همغه دردناکه ډالی ده چې الله ﷻ په ګناه کې د ډوب انسانانو لپاره تیاره کړې ده.

خو هغه خلک چې د ژغورنې په بېړۍ کې سپاره شوي دي. څه ورته تيار دي، غوږ کېږدئ؟!

الله ﷻ په دغو آياتونو کې داسې فرمايي: [إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ . فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ . يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ. كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ. يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ. لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ. فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ. فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ. فَارْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ] «دخان ۵۱-۵۹» له خدايه وېرېدونکي خلک به د امن په ځای کې وي؟ په باغونو او چينو کې! د مزو او پرېړو ورېښمو جامې په تن، يو بل ته مخامخ به ناست وي، دا به د هغوی شان وي او موږ به سرې او سپينې، ښايسته غټې سترګې پېغلې هغو ته واده کړو. هلته به هغوی په ډاډينه هر راز خوندور شيان غواړي. هلته به د مرګ خوند هغوی هېڅکله ونه څکي. فقط په دنيا کې چې کوم مرګ راغی خو راغئ. او الله ﷻ به هغوی د دوزخ له عذاب څخه وژغوري، ستا د رب په فضل سره. همدا ستر برياليتوب دی. (اې پيغمبره ﷺ!) موږ دغه کتاب ستا په ژبه اسانه کړی دی، ترڅو دغه خلک پند واخلي. اوس ته هم انتظار کوه دوی هم منتظر دي.

دغه آياتونو د هغه هلک په وجود کې ژړا راپورته کړه ترڅې چې د ده په ژړا باندې د لمونځ کوونکو زړونه وسوزېدل. کله چې لمونځ پای ته ورسېد. شاوخوا ترې ورټول شول ترڅو يې آرامه کړي او هغه د الله ﷻ رحمت او ياد ته هيله من کړي. د څنګ سره يې کيناستم ترڅو خبرې ورسره وکړم همدارنګه يې ژړل او ويل يې: له الله ﷻ حيا راځي کلونه کلونه کېږي چې د الله ﷻ نافرماني کوم هغه هم په داسې حال کې چې ما ويني. کلونه کلونه کېږي چې د هغه له اوامرو سرغړونه کوم په داسې حال کې چې هغه زما کارونه ويني او په هغه باندې پوه دی. نه به مې لمونځ کولو او نه به مې روژه

نیوله، دغه مې د ژوند لومړی رمضان دی چې لمونځ کوم، روژه نیسم او د شپې تهجد ته پاڅېږم.

د ګناه په ډنډ کې ډوب وم، داسې هېڅ وړه او لویه ګناه به نه وي پاتې چې ما دې هغه نه وي کړې. مستي، د پاك لمنی ضد کړنې، مخدره توکي او...

د سندرو او موسیقی په آواز سره به خوب ته تللم، د سندرو په غږ به پاڅېدلم. آه! دا څه ژوند دی؟! په همدغه حالت کې وم چې د رمضان نه مخکې مې یو دوست او ملګری پوښتنې او لیدنې ته راغی. حرام څښونکي او مخدره توکي مې ورته تیار کړل او ځان ته راوګرځېدم څکه هغه ته مې سندرې هم ویلې. څلور کسه وو له دوی څخه دوو کسانو وویل: نور له دې کارونو څخه سترې شوي یو. هغه وخت رارسیدلی چې د ژوند په اصلي معنی پوه شو، په کافي ډول زموږ ژوند تباه شوی...

د ماخوستن لمونځ مو په یو جومات کې ادا کړ او ومو غوښتل چې دغه مو د ښه ژوند یو پیل او د پخواني تباه شوي ژوند یو پای وي.

هلك خبرو ته ادامه ورکړه: زه او زما ملګري د شرابو او مخدره توکو سره له موټر څخه ښکته شول او هغوی په خپله لار لاړل...

زما د سترګو په وړاندې یو ځوان د خپل موټر اشترنګ یو لوري بل لوري ته په چټکی سره خوځولو، د موټر ولکه ترې لاړه او هغه د هلکانو له موټر سره یې دردونکی ټکر وکړ. موږ هلته وو په چټکی سره موږ د هغه موټر لوري ته ورغلو او موږ دوی ولیدل چې بدنونه یې توټې او هډوکي یې واړه واړه شوي وو او وینې یې پر ځمکه پرېوتلې...

هلکانو ته نور نو مرګ راغلی وو: [وَجَاءتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ] (ق ۱۹) بیا ګوره، هغه د ځنکدن سلګی په حقه راغلې، دا مرګ همغه

شي دي چې ته ترینه تښتېدلې.

[قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ] «جمعه ۸» دوی ته ووایه: له کوم مرګ څخه چې تاسې تښتئ، هغه تاسې ته راتلونکی دی. بیا به تاسې د هغه ذات حضور ته وراندې شئ چې په پټ او ښکاره باندې پوهېدونکی دی، او هغه به تاسې ته وښيي چې تاسې (په دنيا کې) څه کول.

[كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ] «ال عمران ۱۸۵» په پای کې هرڅوک د مرګ د خوند څکونکی دی او تاسې ټول د قیامت په ورځ د خپلو خپلو پوره اجرونو موندونکي یئ، په اصل کې بریالی هغه څوک دی چې هلته د دوزخ له اوره وژغورل شي او جنت ته ننیستل شي، پاتې شوه دا دنیا دا خو یوازې او یوازې یو غولوونکی شی دی.

سبحان الله... څو شیبې مخکې له مور سره وو، مور ته یې وویل: د تباهی څخه ډک ژوند نه تر پوزې راغلي یو. روح یې دې ښاد وي! رښتیا یې وویل:... څو شیبې وروسته له دنیا ولاړل. روح یې دې ښاد وي! له مسجد څخه همدا اوس بهرته وتلي وو، وروسته له هغه چې د ماخوستن لمونځ یې په جماعت سره ادا کړ.

رسولﷺ فرمایي: «هر هغه چا چې د ماخوستن لمونځ په جماعت سره ادا کړ تر سهاره پورې د اللهﷻ په پناه کې دی».

شپه یې تېره کړه خو تر سهاره ونه رسېدل. دغه هلک وایي: هغه ملګري نه مې وویل چې له ما سره و: که مور له هغوی سره وی نو څه به پېښ شوي وای؟! په هر حال خو د اللهﷻ لیدنې ته به ورتلو! په داسې حال کې چې

مست وو او د شرابو او مخدره توکو بار مو په اوږو وو! خومره الله ﷻ پر موږ باندې مهربانه دی.

څومره شپې مو په مردارو او چټلو کارونو کې تېرې نه کړې! په داسې حال کې چې هغه ذات به موږ لیدلو. د هلک له سترګو څخه په داسې حال کې اوښکې بهېدلې چې د خپلو ملګرو پېښه یې بیانوله.

په داسې اوښکو دې خوښي وي! په داسې اوښکو دې خوښي وي! دا د هغه چا حالت دی چې غوښتل یې د ژغورنې په بېړۍ کې سپاره شي. پرله پسې توګه یې ویل: له خپل پالونکي څخه شرمېږم... د بریالیتوب لار کومه ده؟! آیا زما د دغه ټولو کړو کړنو څخه به وروسته ما هغه قبول کړي؟!... لږ مې هغه ته آرامي ورکړه او هغه ته مې زېرى ورکړ. ورته ومې ویل هر هغه څوک چې ایمان راوړي او توبه وباسي هغه الله ﷻ ښښي.

«توبه مخکنی ګناوې له منځه وړي» هغه ته مې زېرى ورکړ چې «د ګناه څخه توبه کوونکی داسې دی لکه ګناه یې چې نه وي ترسره کړې» زېرى مې ورکړ چې «الله ﷻ بدی په نېکیو بدلوي» زېرى مې ورکړ چې له توبه کوونکي څخه الله ﷻ ډېر خوشحاله کیږي.

زېرى مې ورکړ چې الله ﷻ: [إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ]البقره، ۲۲۲، د الله ﷻ هغه خلک خوښېږي چې له بدۍ څخه لاس واخلي او سپېڅلتیا غوره کړي.

دوې شپې یې وتلې وې چې له عمرې څخه راګرځېدلی و، ۲۷مه شپه یې په حرم کې وه. لومړی ځل یې و چې حرم یې لیدلو. له هغه لږ وروسته چې آرامه شو هغه ته مې وویل: اوس لاړ شه او پر لمانځه دې پایښت وکړه. د الله ﷻ پوره شکر او مننه کوه چې تاته یې فرصت درکړ.

وېې ویل: د الله ﷻ څخه منته کوم چې ماته یې وخت راکړ او په ناڅاپي ډول یې زما ځان وانخیست.

ورته ومې ویل: د شپې کیناستونکو او بې لارې خلکو څخه ځان ساته او د نېکانو ملګری ته مخ واړوه. د هغو سره د ژغورنې په بېړی کې سپور شه. څو ورځې وروسته درته سترګې په لاره یم. له اختر وروسته به بیا مجلس کوو. له اختر څو ورځې وروسته یې اړیکه راسره ونیوله وېې ویل: سبا به د الله ﷻ په مرسته ستا سره د سهار لمونځ کوم. د وعدې او ژمنې ځای ته راغی مخ ته مې یې وکتل، ومې لیدل چې پرمخ یې د ایمان د نور وړانګې خپرې او د نېکانو وقار یې په څېره کې له ورایه ښکارېده.

ورته ومې ویل: څومره رښتیا خبره ده چې زموږ پالونکي ویلي دي: [أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ]«انعام ۱۲۲» آیا هغه څوک چې مخکې مړ ؤ، بیا موږ ژوند ورته وبخښئ او هغه رڼا مو ورکړه چې د هغې په وړانګو کې د خلکو په منځ کې د ژوند لاره وهي. د هغه چا په څېر کېدی شي چې په تروږمیو کې غورځېدلي وي او په هیڅ شان ورڅخه وتونکي نه وي؟ د کافرانو لپاره په همدې توګه د هغوی کړه وړه ښایسته کړای شوي دي.

کله یې چې خبرې وکړې. له خبرو څخه یې آرامي ښکارېدله. لومړی خبره یې چې له خولې راووته دا وه: د سهار لمونځ څومره ښکلی دی! قرآن څومره ښکلی دی.

له ځان سره مې وویل: سبحان الله... تېره ورځ سندرې، لهو او لعب او نن ورځ لمونځ او قرآن...

وېې ویل: د تېرو ملګرو له ډلې څخه مې دوه تنه دې ته چمتو کړي ترڅو

د ژغورنې په بېړۍ کې خپل پل کېږدي. ځکه چې د تباه شوي ژوند ځنځېرونه ستړي شوي دي.

هغو ته مې وويل: څرنګه؟ دا تباهي له کوم ځایه پیل شوه؟ ویې ویل: کله چې په منځنۍ ښوونځی کې وم، اول مې سېګرټ څکول پیل کړل. وروسته بیا مې ډول ډول ټابلېټ، شپنۍ ناستې، د لمونځ پرېښودنه، مخدره توکي، شراب، عفت ضد کړنې، چکرونه او په پایله کې تباهي. اووه کاله په دغه حالت کې وم...

[وَلَوْلاَ نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ] «الصافات ٥٧» که زما د رب فضل راباندې نه وای. نو نن به زه هم له هغو کسانو څخه وم چې نیول شوي، راوستل شوي دي.

زموږ پر وړاندې زموږ پالونکی څومره مهربان دی! څه شبې وې چې په دغه ډول کړنو مې تېرې نه کړې!

ویې ویل: له خپل پالونکي شرمېږم... ورته ومې ویل: د الله ﷻ شکر ادا کوه او پر سمه او نېغه لار دې منګولې خښې کړه.

**اوس تاسې لوستونکو ته وایم:** اې هغه کسه چې په همدغه ډول هوسونو او مستیو کې غرق یې...

آیا هغه وخت نه دی راغلی چې ترې راوګرځې، پښېمانه شې، له ګناه څخه لاس واخلې او له هر ډول شک څخه پرته دغه کار ته ملا وتړې.

آیا تا به اوس په لومړي صف لمونځ کوونکو کې ووینم؟! یا به همداسې لټې غوره کوې ترڅو د ژوند هره شېبه دې یوې او بلې خواته یوسي او په داسې حال کې مرګ درته راشي چې ته یې نه غواړې؟!

آیا هغه وخت نه دی راغلی چې د الله ﷻ پر وړاندې سر کښېږدې... او د هغه لور ته منډه واخلې او ووایې!

اې زما پیداکوونکیه! ستا پر دروازه مې ځان نښلولی او پر اوږو مې د ګناهونو بار درته راوړی، له بدیو څخه مې مخ اړوم ځکه نور ورسره تر پوزې راغلی یم.

ستا لاربښوونه ستا بنده‌ګان ستا لوري ته هڅوي او ما ستا لوري ته ګناهونه راوړي دي. ستا له دروازې بل ځای نشته نو اې زما پالونکیه! راغلی یم چې ستا پر وړاندې ستا د مناجات خوند وڅکم. پالونکیه په ډېره علاقه ستا لوري ته راغلی یم چې پر ډک زړه (له غمونو، ستونزو ډک) تا سره مناجات وکړم. پالونکیه په داسې حال کې راغلی یم چې ستا د ښښنې شوق مې په وینه کې دوران کوي. پالونکیه! د توبې په حال کې ستا لوري ته راغلی یم نو اې پالونکیه دغه لوېدلی بنده دې له توبه کوونکو څخه وګرځوه. د نفس پر وړاندې یې ملګری شه، که ستا ملګري نه وي نو څوک به ورڅخه ملاتړ او ملګري وکړي؟! ټولې تېرې له تاسره شریکوم او زړه مې ستا په دروازه کې غورځوم. نو (اې بنده!) د ټولو ګناهونو او هوسونو سره بیا هم زما لارې ستا پرمخ پرانیستې دي او هېڅکله به ونه تړل شي.

### آیا د بریالیتوب په هڅه کې یې؟!

له تا څخه پوښتنه کوم او فکر نه کوم چې «نه» ووایې... آیا د بریالیتوب غوښتونکی یې؟! نو د ژغورنې په بېړۍ کې سپور شه! ترڅو خپل پالونکی په سمه توګه وپېژنې.

که غواړې چې الله ﷻ دې په څنګ کې وي د هغه پالونکي دې هم خیال ساته. که غواړې چې ځان، مال او کورنی دې د الله ﷻ په پناه کې وي، خپل

خدای ته په زړه کې ځای ورکړه!

آیا داسې نه ده چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «له الله ﷻ سره اوسئ ترڅو هغه هم له تاسې سره وي. الله ﷻ ته پناه یوسئ ترڅو هغه هم ستاسې پر وړاندې راشي. په پراخی کې الله ﷻ ته مخ واړوئ ترڅو په تنګلاسی کې درته مخ واړوي».

آیا د هغه دریو کسانو له پېښې څخه نه یې خبر چې پیغمبر ﷺ موږ ته نقل کړې ده؟!

هغه وخت چې دوی په هغه شپه کې یو غار ته پناه یوړه... په ناڅاپي سره د غره څخه لویه تیږه راغله او د هغه غار دروازه یې بنده کړه... هغه په لږ تیارو کې راغلل... نو څوک او چا به هغه ژغورلي وای او څوک به د هغه څخه خبر وای...

که د الله ﷻ مرسته نه وای، مرګ او هلاکت یې حتمي و. دوی وویل: نن زموږ هېڅ شی په درد نه خوري او نه موږ ژغورلی شي پرته زموږ له نېکو اعمالو او کړنو څخه.

لومړي په دې ډول دعا وکړه، د مور او پلار سره په نېکی مې هر وخت په خپلو مالونو کې پر اولادونو دوی ته لومړیتوب ورکولو...

بل په دې ډول دعا وکړه: د بدلمنۍ څخه مې په داسې حال کې ځان وساته چې زه پرې برلاسی هم وم. دریم په دې ډول دعا وکړه: اې پالونکیه آیا هغه زما مزدور ته مې چې د هغه له توقع لوړ مزد ورکړ.[1]

په دعا او عاجزۍ کې یې وویل: پالونکیه! که ته پوه وې چې موږ دغه

---

[1] بناغلي شیخ دغه حدیث په لږ لنډیز سره راوړی دی (ژباړن).

کارونه ستا د خوښۍ او رضا په خاطر ترسره کړي وي، له دغه نیونې او پېښې څخه مو وژغوره. کله چې الله ﷻ د دوی له رښتینولۍ او اخلاص څخه پوه شو، هغه لویه تیږه د غار له خولې څخه لرې شوه او دوی هم له غار څخه بهر شول...

لوستونکو! ښه غور شئ! آیا د هغه د ژغورنې په راز پوه شوئ؟! دوی په پراخۍ او آرامۍ کې خپل مخ الله ﷻ ته ګرځولی و. الله ﷻ هم له دوی سره په سختۍ کې مرسته وکړه. د نېکو اعمالو سره یې یوځای خپل خانونه د الله ﷻ پر دروازه کې وراندې کړل، اوس که چېرته موږ او تاسې په کوم غار کې بند شو او یا په کومه دښته کې لار ورکه کړو، آیا له موږ او تاسو سره داسې څه کړنې او غوره اعمال شتون لري چې الله ﷻ ته یې وسیله وګرځوو؟!

پالونکیه! ستا د ښښنې غوښتونکی یم. زموږ ګناهونه مه شمېره او هغه ګناوې چې موږ ترسره کړې وبښه.

څومره چې موږ په سختیو او ستونزو کې پاتې شوي یو نو هغه وخت مو خدای په یادوي خو کله چې سختي زموږ له سر څخه لرې شي نو بیا مو الله ﷻ هېروي!

موږ الله ﷻ هغه وخت یادوو کله چې زموږ بېړۍ د سیند په منځ کې وي؛ خو کله چې د سیند تر غاړې ورسېږو نو بیا له ګناه سره لاس او ګرېوان کېږو.

په آرامۍ او امن سره د الله ﷻ پر څمکه ژوند کوو خو د هغه پر وړاندې بیا په همدغه ځمکه د عاجزۍ سر نه ږدو.

ابن قیم وایي: کله چې خلک د نورو لوري ته تلل، ته د الله ﷻ لوری ونیسه. کله چې خلک په دنیا پسې شول، ته پر الله ﷻ پسې شه. کله چې خلکو یو د بل سره مینه کوله ته یې د الله ﷻ سره کوه. کله چې خلک د

پاچاهانو او مشرانو دربارونو ته مخ وګرځولو ترڅو دوی هغه ته نږدې شي او عزت لاسته راوړي، ته الله ﷻ ته مخ وګرځوه... ته الله ﷻ ته مخ وګرځوه، له هغه ذات سره ملګري وکړه لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي: [مَن كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا] «فاطر ۱۰». څوک چې عزت غواړي، هغه بايد وپوهيږي چې عزت ټول د الله ﷻ دی.

## په پايله کې!!!

پوه شه چې «توبه داسې دروازه لري چې منځنۍ فاصله او واټن يې له ختيځ څخه تر لويديځ پورې ده».

په يو روايت کې دي: «د هغه اوږدوالی د ۷۰ کلونو دی او تر هغه وخته نه تړل کيږي ترڅو لمر له لويديځ نه راوخيژي».

دروازه پرانيستې ده... دروازه پرانيستې ده...

آيا د هغه لورې ته نه ځې؟ پوه شه چې ستا پالونکی تاته څه ښکلی خطاب او آواز کوي: «زما بنده‌ګانو! تاسې شپه او ورځ ګناوې کوئ او زه ستاسې ټول ګناهونه بښم. نو له ما څخه بښنه وغواړئ ترڅو زه تاسې وبښم».

آيا اوس هم چې دغه آواز دې واورېده... له خپل پالونکي بښنه نه غواړې؟! پوه شه چې: «الله ﷻ پر شپه کې د بښنې لاس اوږدوي ترڅو هغه کسانو ته بښنه وکړي چې په ورځ کې د بدی مرتکب شوي او په ورځ کې لاس اوږدوي ترڅو هغه کسانو ته بښنه وکړي چې په شپه کې د ګناه ښکار شوي ترڅو دوی توبه وکړي».

الله ﷻ د خپلو بنده‌ګانو عذر قبلوي او خوښ لري چې د خپلو بنده‌ګانو عذر واوري... آيا اوس هم مخکې نه راځې او بښنه نه غواړې؟! راشه او په ګډه

زما سره دغه ښکلې نبوي دعا زمزمه کړه: «اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ الَّذِيْنَ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ».

پالونکیه ما له توبه کوونکو او پاکانو څخه وګرځوه، له همغه کسانو چې نه پرې کوم غم وي او نه وېره.

ووایه: زه ستا هغه بنده یم چې د ګناهونو، خطاوو او ښوییدنو له کبله پرېشانه او غمجن شوی یم. زه ستا هغه بنده یم چې د ګناهونو د سمندر په تل کې ډوب شوی یم او د هیلهمندی خواب ته سترګې په لاره یم. افسوس زما پر هغه عمر چې تېر شو او له ګناه پرته مې څه پکښې ونه کړل. زه ستا هغه بنده یم چې تاته د ښېښې هیله لرم او هر هغه څوک چې ستا د خوښې بوه دروازه منګولې ولګوي هېڅکله نه پښېمانه کیږي. مخکې له دې چې خپلو خبرو ته د پای ټکی کېږدم... خوښ لرم هغه لیک تاسې ته ولولم چې یو چا تر ما پورې راوړی دی.

## شیخ خالد ته لیک

زه مسلمان یم خو لمونځ نه کوم او روژه نه نیسم. زه کافر یم، د اسلام په معنی نه پوهیږم. نن ورځ د پالونکي پر وړاندې او بیا وروسته ستاسې پر وړاندې خپله توبه اعلانوم...

الله ﷻ دې خبر درکړي. غواړم چې دغه لیک د ټولو پر وړاندې ولولئ. اوس دغه جملې ستاسې پر وړاندې لولم: «اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدً رَّسُوْلُ اللهِ... او وایم: « اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ» (پالونکیه ما د توبه کوونکو او پاکانو څخه وګرځوه!).

زما لپاره دعا وکړه چې ثابت قدم پاتې شم... زما لپاره دعا وکړه چې ثابت

قدم پاتې شم... زموږ پالونکیه! زموږ هغه زړونه چې ستا له دروازې څخه لرې شوي ژوندي کړه... او موږ ته په هغه دردناکه پرده عذاب مه راکوه چې زموږ او ستا ترمنځ زموږ د نافرمانۍ له کبله جوړه شوې... ته هغه کریم ذات یې چې پرته له احسان بارولو ښښنه کوې او ته هغه سخاوتمند ذات یې چې په خپل فضل هرچاته خپله برخه ورکوې... پالونکیه! موږ ستا په لطف او احسان سره د غفلت له خوب څخه بیدار کړه... او ستا په ښښنه او احسان موږ له بدیو لرې کړه.

پالونکیه! موږ د رښتینو او نېکانو په لار روان کړه... ستا د غوره کړی شوو بنده‌گانو سره مو وصل کړه... او هم په دنیا او آخرت کې نیکي راکړه او د دوزخ له اور څخه مو وژغوره.

زموږ پالونکیه! د توبه کوونکو توبه قبوله کړه... د توبه کوونکو توبه قبوله کړه... د تباه شوو گناهونو وبښه... سرگردانه او بې لارې بنده‌گان دې وبښه...

سوب او ناسوب بنده‌گانو ته دې ښښنه وکړه... ژوندي او مړي وبښه... پالونکیه! موږ په خپلو ځمکو او وطنونو کې په امن کړه...

زموږ مشران او سرپرستان اصلاح وگرځوه... زموږ دغه خاوره او د مسلمانانو نورې خاورې په امن کړه او له آرامۍ څخه یې برخمنې کړه... پالونکیه! موږ په هرحال کې په اسلام باندې ټینگ کړه... پالونکیه! له مرگ مخکې رښتینې توبه، د مرگ پر وخت شهادت او له مرگ وروسته مو په خپل رحمت کې راونغاړه...

پالونکیه! موږ ستا د رحمت هیله لرو نو له یوې شیبې کم وخت کې مو هم خپل نفس ته مه پرېږده... پالونکیه! په هغه ډول چې ستا له شان سره ښایي زموږ سره رفتار او چلند وکړه. نه په هغه ډول چې له موږ سره ښایي.

په رښتیا چې ته د کایناتو پالونکی یې... پالونکیه! له ټولو ښخوانیو تر اوسنیو او وروستنیو او د قیامت تر ورځې پورې پر محمدﷺ درود او سلامونه ولېږه...

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

«الصافات ۱۸۰-۱۸۲».

د رمضان د مبارکې میاشتې د مغفرت د لسیزې دریمه، ماسپښین دوه بجې او څلور دېرش دقیقې...

# اتم څپرکی

# د بازار ګرځېدونکو ته خطاب

لیکنه: ابوحمزه بن هاجس غامدي

CS CamScanner

## بسم الله الرحمن الرحیم

د هغه الله ﷻ رحمت او ستاینه بیانوو چې د خپل فضل او کرم له مخې یې طیبات (پاک شیان) پر موږ حلال ګرځولي او د خپل رحمت له مخې یې بدې او چټلې پر موږ حرامې ګرځولي دي او هغه د لوی فضل څښتن دی. او پر محمد ﷺ د پراخه سلامونه او درودونه وي، په دې سره ګواهي ورکوم چې له الله ﷻ پرته بل هېڅوک د عبادت لایق نه دی او په دې هم ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه رالېږلی پیغمبر دی، اما بعد:

### د بازار وروره!

### پوهېږې چې اوس دې په کوم ځای کې قدم ایښی دی؟!

دغه ځای د الله ﷻ پر وړاندې تر ټولو منفور ترینو ځایونو څخه دی، نو ډېر په هغه کې ځنډ مه کوه او په چټکۍ له هغه بهر شه!...

له ابوهریرة ؓ څخه روایت دی چې د الله ﷻ رسول فرمایي: د الله ﷻ پر وړاندې تر ټولو غوره او خوښ ځایونه جوماتونه او تر ټولو بد او ناوړه ځایونه بازارونه دي. «صحیح مسلم»

له جبیر بن مطعم څخه روایت دی چې یوه سړي وویل: اې د الله ﷻ رسوله کوم ځایونه د الله ﷻ پر وړاندې غوره او کوم منفوره او ناخوښ دي؟ ویې ویل: نه پوهېږم، پرېږده ترڅو له جبرائیل څخه وپوښتم نو بیا د جبرائیل لور ته راغی او هغه رسول ﷺ ته وویل: غوره ځایونه د الله ﷻ پر وړاندې جوماتونه او ناغوره او ناخوښ بازارونه دي. «روایت احمد وبزار و ابویعلی، وګورئ: صحیح الترغیب والترهیب»

بازارونه د الله ﷻ پر وړاندې ناخوښ او منفور ځایونه دي ځکه ډېرې ګناوې په هغه کې صورت نیسي او ډېره کمه نیکي هلته ترسره کېږي. همدارنګه د غفلت، مصروفیت، چل ورکولو، دروغو، بې‌حیایی، بې‌پرده‌ګی او لسګونو نورو داسې کړنو چې د شرم سبب ګرځي، دا ټول په دغه بازارونو کې شتون لري. په دغه ځای کې د انسان نفس هغه هر لور ته کشوي او د هغه زړه د دنیا په له منځه تلونکې ښکلا پورې تړل کېږي. تردې چې د جنت د تلپاتو نعمتونو څخه بې‌پروا کېږي.

بازار هغه ځای دی چې شیطان خپل بیرغ هلته ځوړند کړی او هغه ځای دی چې شیطان د شرارت او چټلی ځاله ګرځولې ده. بازار د شیطان د ملګرتیا او د لیدلو ځای دی، ځکه د هغه پیروان هلته ډېر دي او مخالفان یې ډېر کم دي، په ځانګړي ډول په دغه وخت کې چې خیانت رواج موندلی دی او امانت هېڅ نه تر سترګو کېږي، دروغو سرکشي کړې او دروغ ویونکو ځالې جوړې کړې دي!

له ام سلمه ﵂ څخه روایت دی چې د الله ﷻ رسول وفرمایل: «تاسې باید هغه څوک ونه اوسئ چې لومړی بازار ته ځي او تر ټولو وروسته ترې بهر کېږي، ځکه دغه ځای د شیطان ځاله ده او خپل بیرغ یې هلته ځوړند کړی دی» صحیح مسلم.

## د بازار وروره!

د هغه کس حالت د حیرانتیا وړ دی چې د چکر، ګرځېدلو او اوزګار وختونو او یا هېڅ پوچو کارونو لپاره بازار ته ځي، د دوی په اند چې د عمر متاع ډېره ارزانه او بې‌اندازې ده چې نه قیمت لري او نه ارزښ...

کاش چې ته پوهېدی چې کوم کسان هلته ځي؟ او له څه لوی تاوان سره

CS CamScanner

مخ دي؟ او څومره پښېماني او درد په هغه ورځ چې د عمر څخه کمه شي، زړونه یې اور ته کش کړي او پر ژوند یې د مړاویتوب او مرګ تاپه ووهل شي. هغه وخت به دنیا ته شا کړي او د دنیا دروازې به په هغه وتړل شي او آخرت ته مخ اړوي او پر دوی باندې به د آخرت دروازې خلاصې او پرانیستل شي!!

الله ﷻ فرمایي: [حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ، لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ] «المؤمنون ۹۹-۱۰۰».

ژباړه: (دا خلک به له خپلو کړو وړو څخه لاس وانخلي)، تردې پورې چې کله له دوی څخه کوم یوه ته مرګ راشي، نو وبه وایي: «اې زما ربه! ما همغې دنیا ته بېرته ولېږه چې زه ورڅخه راغلی یم» هیله مند یم چې زه به اوس و شاته پرېښې دنیا کې ښه عمل وکړم. هېڅکله نه، دا خو یوازې یوه خبره ده چې هغه یې بې ځایه وایي. او د دې ټولو (مړه کېدونکو) په مخ کې د دویم ژوندانه تر ورځې پورې یوه پرده خنډ ده.

نو هر هغه څوک چې په دې اړخ کې فکر نه کوي نو بیا به دلاسه وتلي عمر، ګټوره شېبو، بې‌پروایي او چکرونو باندې سخت افسوس کوي.

له عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه نقل دی چې رسول ﷺ فرمایي: «دوه نعمتونه دي چې خلک په هغه کې ډېر تاوانیان دي یو روغتیا او بل اوزګارتیا» صحیح بخاري.

یو له حیرانوونکو بدمرغیو څخه دا ده چې ډېری خلک په بازار کې ډېر وخت تېروي ترڅو یو ګرانبیه ساعت واخلي. په داسې حال کې چې وخت یې ډېر بې‌ارزښته دی!! یا لیدل کېږي چې داسې وسایل اخلي چې د دوی د بې‌پروایي، تفریح او تباهی سبب ګرځي او خپل وخت په هغې سره تباه کوي، نو ژر ده چې دغه ډله کسان به پوه شي چې د دوی برخلیک څه ډول دی...

وخت هغه ګرانبیه شی دی چې ته د هغه ساتنه کولی شې، په داسې حال کې چې موږ وینو ته هغه په ډېرې آسانی سره ضایع کوې. (ابن هبیره).

د کورنی هېڅ یوه غړې دې له ضرورت او اړتیا پرته بهر ته مه بیایه. ځکه ښځه باید له اړتیا پرته په کور کښیني او خپل د چوکاټ مطابق ځای وپېژني او یوازې هغه وخت له کوره د باندې ووځي چې نه دا د فتنې سبب وګرځي او نه نورو ته فتنه جوړه کړي.

ځکه ډېری په انساني مخو کې پټ لیوان او شیطان صفته سپي چې په بازار کې ګرځي، د هغه ورک شوي ښکار په لټه کې وي چې نه ساتونکی ولري او نه مدافع، ترڅو دوی بیا هغه په خیرونکو منګولو او وژونکو نیشونو هغه وخوري. دا خو لا پرېږده حتی ډېری کمزوري نفس واله ښځې په فاسدو پلورونکو زړه بایلي او په داسې ډول یې مینه زړه ته ښکته کوي چې مخنیوی یې بیا ستونزمن تمامیږي.

دا هم شونې ده که چېرې ته په بازار کې ډېر وخت تېر کړې نو هغه څه به راونیسې چې اړتیا یې نه لیدل کیږي، یا به ګرانبیه او یا مضر وي او د کور حالت به دې په خطر کې اچوي.

د عبدالله بن مسعودﷺ څخه نقل دی چې رسولﷺ فرمایلي دي: «د بازار له حیرانتیا څخه لرې اوسئ» صحیح مسلم. او دا همغه فتنه ده. (المعلم بفواید مسلم، مازري).

افسوس د هغه چا په حال چې د خپلې داسې ښځې او یا خور سره په بازار کې قدم وهي چې د بدن یوه برخه لکه مخ، سترګې یا د هغه شاوخوا یا لاس او پښې یې بربندې وي او یا یې په سترګو برېښوونکې لباس خپلې پنډۍ پوښلې وي. په پرانیستي فضا کې په ډېرې بې‌ادبۍ سره خبرې کوي او چل ورکوونکې لیدل کتل او خندا یې د هغه هوس پرستانو سره تبادله کوي

چې په اوسنیو بازارونو کې ډېر لیدل کیږي. په داسې حال کې چې هغه ورسره بازار ته راغلی محرم سړی دغه صحنه په خپلو سترګو ګوري او د هغه د ساتنې او پوهاوي لپاره هېڅ نه ترسره کوي. آیا تردې اندازې دې خپل غیرت له لاسه ورکړی؟ آیا مېړانه دې دغه حد ته ښکته شوې؟ آیا د خپلې کورنۍ او ناموس د سرپرستۍ ورتیا دې له لاسه ورکړې چې دغه ډول وژونکې او کرکجن حالت ته رسېدلی یې؟!

د عبدالله بن عمرو بن عاص څخه روایت دی چې محمدﷺ وفرمایل: «د انسان لپاره دا ګناه بس او کافي ده چې د خپلو لاس لاندې کسانو د تباهۍ او هلاکت سبب شي» صحیح سنن ابوداؤد.

نن ورځ د ځینو خلکو دا عادت جوړ شوی دی، کله چې د ښځې سره بازار ته ځي، نو اخیستل شوي توکي هم په هغې انتقالوي. یا بچي پرې ساتي یا دوکاندار ته پیسې پرې ورکوي، یا په موټر کې هغې ته د راتلو انتظار کوي او یا هغه یوازې د موټروان سره روانوي. د اړینو شیانو اخیستل او د پلورونکو سره خبرې کول د ښځو اصلي دنده ګرځېدلې ده او د هغې څخه یې ادب، نزاکت او حیا اخیستې ده. هغه هم داسې چې کله ښځې د سړو سره خبرې کوي نو سړی ورته بې‌غږه ولاړ وي. ښځه هغو ته خاندي او سړی ورته ګنګ او بې‌خبرو په خپل ځای کې ولاړ وي، ښځه ورته داسې... هسې کوي خو سړی ورته بې‌حرکته ولاړ وي او هېڅ درد نه احساس کوي، آیا غوره ده چې دغه ډول شخص ته د سړي خطاب وشي؟!

## څواب راکړه اې سړیه!

زخمونه او ټپونه چې هرڅومره سخت وي، د هغه درد ورکېږي او په راتلونکي کې یې نښې له منځه ځي؛ خو هغه زخم چې په ناموس باندې

لګیږي په دغه آسانی سره له منځه نشي تللی. بلکې ډېر وختونه چې تېر هم شي د هغه ننګ او شرم تکراریږي...

الله ﷻ فرمایي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ] «تحریم ۶».

ژباړه: اې مؤمنانو! خپل ځانونه، خپل اولادونه او کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ چې د سون مواد به يې انسانان او تيږې وي.

## د بازار وروره!

خپلې سترګې له هغه څه راوګرځوه چې الله ﷻ ترې منع کړې يې او نامحرمه ښځو ته مه ګوره، ځکه دا خيانت او کتل په زړه لوی اغېز غورځوي او زړه داسې سوزوي لکه وچ واښه چې اور سوځوي او داسې يې ټوټې ټوټې کوي چې ټوټې يې هر لور ته خپرېږي تردې چې د زړه د سختوالي سبب ګرځي، عقل له منځه وړي، فکر تيت پرک کوي، خوشحالي او خوښي له منځه ځي، حرص او هيله خپلې ريښې ټينګوي، او هغه پانګه چې انسان يې له ځان سره لري له هغې مخ اړوي او په پايله کې د هلاکت او تباهی په ډنډ کې ډوبيږي.

هغه څه چې د دغه تباهی سبب ګرځي هغه په ګناه ککړه ليدنه ده چې په پټ ډول د زړه د تباهی سبب ګرځي. که چېرې يو انسان دغه کتل وغځوي، نو د هغه د تباهی سبب به وګرځي او په دې سره به ځان د زنا او نورو ناخوښه کړنو لور ته يو قدم مخکې کړي. له دغې کړنې نور هم بل څه چې د زړه د ناروغی سبب ګرځي او د انساني بدن لپاره مرګونی دی هغه د الله ﷻ نه پرته بل چاته د زړه ليوالتيا، مينه او وېره ده، ځکه دغه ډول حرامه مينه او ليوالتيا زړه د اور په لمبو سوځوي.

شاعر وايي:

هغه ورځ چې زړه وړونکو ليدنو ته لېواله کړې او ستا سترګې بې د زړه تابع ګرځولې وې، تا وليدل چې نشې کولی خپل ځان د هغه ليدنو څخه په امن کړې او د هغه پر وړاندې صبر ولرې.

## اې وروره!

پرځان د شيطان دروازه وتړه او د هغه له ضربې څخه لرې اوسه. خپلې سترګې او کتنې په خپل واک کې ولره چې الله ﷻ تا په واک کې لري او هغه ستا څارنه کوي، له هغې حيا وکړه څکه هغه ستا په کارونو ليدونکی دی او ستا هېڅ کار په هغه پټ نه پاتې کېږي!

د انسان د نفس څارنه دې خپل پالونکي پر وړاندې همغه د خپل زړه نږديوالی دی، هغه پالونکی چې د غاړې له رګ هم تاسو ته نږدې دی.

الله ﷻ فرمايي: [قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ] «نور/۳۰».

ژباړه: اې پيغمبره ﷺ! مؤمنو نارينه و ته ووايه: چې خپل نظر تر کنترول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي. دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده.

د جرير بن عبدالله څخه روايت دی: چې د رسول ﷺ څخه مې د ناڅاپي کتلو په اړه وپوښتل بيا هغه راته وويل چې له سترګو پريوتلو نه وروسته له ځنډ پرته خپل مخ واړوه. «صحيح مسلم».

له بريده څخه نقل دي چې د الله ﷻ رسول وويل: «اې علي! يو کتل له ځان سره نور کتل راوړي نو له لومړي کتلو وروسته بيا مه ګوره». (صحيح

سنن ابي داؤد).

کله دې چې وغوښتل یوې نامحرمې ښځې ته وګورې، نو د الله ﷻ پر وړاندې کتل او درېدل دریاد کړه، د هغه په خاطر دې کتل پرې کړه او د هغه څخه د حیا له کبله خپلې سترګې وګرځوه، ترڅو د ایمان خوږوالی حس کړې، هغه داسې چې که زړه کې بې پیدا کړې او بیا یې د ټولې ځمکې په اهل وویشې نو د ټولو لپاره به بسنه وکړي او هغه د رېښتینې ارادې، راسخ عزم او د الله ﷻ څخه د ثواب انتظار دی او هغه ذات دی چې د هر چا ملګرتیا کوي.

الله ﷻ فرمايي: [أَلَمْ يَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ] توبه/۷۸.

ژباړه: آیا دا خلک په دې نه پوهېدلي چې الله ﷻ ته آن د دوی پټې مشورې او پټ رازونه ښکاره دي، او هغه له ټولو غیبي خبرو څخه په پوره ډول خبر دی؟

## د بازار ورورہ!

خبردار اوسه چې د چا د آبرو او ناموس غل ونه اوسې، د هغه ډول غلو څخه مه کېږه چې په انساني څېرو کې پټ لېوان دي او د ژرندې د تیرې په ډول په بازار کې ګرځي راګرځي او پر مسلمانو نجونو د تیرې لپاره خپل غاښونه تېروي او په خپلو ناخوښو کړنو د هغوی د آزار او اذیت سبب ګرځي.

او دا یې له یاده ویستلې چې د آبرو تویول هغه جرم دی چې الله ﷻ په ډېرې چټکۍ سره د هغه جزا ورکوي او د حساب او کتاب پر ورځ د هغه لپاره دروند عذاب ټاکل شوی دی. او دا هغه قرض دی چې ډوب کس به په دغه دنیا کې هم دغه پور پرېکوي، خو څوک چې توبه وباسي او د الله ﷻ مهرباني پرې وشي نو بیا بېله خبره ده.

هرچا چې زنا وکړه د هغه سره به زنا کیږي حتی که د هغه له دېوال سره هم وي!

اې سړیه! که چېرې عاقل وې، نو هوښیار اوسه!

هغه باید پوه شي چې په هغه ورځ بیا عذر نه منل کیږي او نشي کولی ووایي: هغه و چې زما څخه یې قصد اخیست، خپله یې د ما لپاره ځان ښکلی کړی و، زما په حریم یې تجاوز وکړ، زما پر وړاندې ښکاره شو او د خپل ځان ښکاره کولو نیت یې لرلو...

هغه چېرې او هغه څوک چې خپل نفس یې د هوی او هوس څخه ساتلی چېرې؟

الله ﷻ فرمایي: [وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى، فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى] «نازعات/۴۰-۴۱».

ژباړه: او چا چې د خپل رب په مخ کې له درېدو څخه وېره کړې وه او نفس یې له ناوړه غوښتنو څخه ساتلی و، نو جنت د هغه استوګنځی دی.

هغه چېرې او هغه څوک چې ګناه یې د الله ﷻ له وېرې او د هغه د محبت له کبله پرېښې وي چېرې؟

الله ﷻ فرمایي: [قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ] «انعام/۱۵».

ژباړه: که زه له خپل خدای څخه سر وغړوم، نو وېرېږم چې په یوه لویه (هیبتناکه) ورځ کې به له عذاب سره مخامخ شم.

هغه چېرې او هغه خلک چې که ټوټه ټوټه هم شي او غوښې یې مرغان والوزوي او ځیروونکي ځناور یې غوښې وخوري دغه ډول سپک اعمال او کړنې نه ترسره کوي، هغه چېرې؟

هغه چېرې او هغه څوک چې په دنیا کې یې پاک لمنې غوره کړې ترڅو

الله ﷻ په هغه ورځ د خپل رحمت تر سیوري لاندې ځای ورکړي چې د هغه له سیوري بل سیوری نه وي، کله چې په هغه ورځ دې هغه پر وړاندې دریږي او د هغه پر وړاندې یې کړنې او اعمال ښودل کیږي، هغه چېرې؟

آیا د الله ﷻ د کتلو او څارلو پس هم حیا نه کوې؟

آیا له الله ﷻ نه ویریږي چې الله ﷻ به یې رسوا کړي او رازونه به یې د خلکو په منځ کې خپاره کړي؟

اې هغه څوک چې اوس بې‌پروا شوی یې، خو بیا به په ډېرې سختۍ درځخه وپوښتل شي! د خپلو کړنو لیک ولوله او هغه څه وګوره چې کړي دې دي، ځکه د قیامت په ورځ ستا کړنې ستا پرمخ کې شمېرل کیږي.

نو هغه بد کرداره، عاجز او ناتوانه بنده به هلته څنګه خلاصون پیدا کړي چې له ګناهونو سره روږدی وي؟

آیا دغه خلک نه وېرېږي چې الله ﷻ به یې له حرکت وغورځوي او د دغه عمل سره به یې یوځای له دنیا څخه ور واخلي؟

آیا دغه خلک په دې خوښ دي چې الله ﷻ یې په دغه حالت کې روح ترې واخلي.

آیا دغه خلک خوښ دي که چېرې محمد ﷺ راپورته شي او دوی په دغه حال کې ووینې؟

آیا دا د دوی لپاره غوره ده چې خپلوان یې دوی په دې ډول ګناهونو کې ډوب ووینې؟

ستا په نظر که چېرې الله ﷻ دوی په دنیا کې رسوا کړي نو څه به وکړي؟!

بلکې که چېرې هلته دوی رسوا کړي چې شاهدان پرې حاضر وي او د

الله ﷻ د حساب عام محضر وي، نو بيا به چېرې پټ شي؟

نو چېرې به پناه يوسي او څوک به ورسره ملګري وکړي؟ په داسې حال کې چې د عالميانو پالونکي هغه ور غوښتي دي!

په هغه ورځ چې يو ناره کوونکی ناره وکړي، زه ګنهګار چېرې ولاړ شم او چېرته پناه يوسم؟ چېرې وتښتم؟

نو هلته به څه غم او وحشت وي که چېرې د دوزخ په اور کې له دغه ډول عذاب سره مخ شم؟!

**د بازار وروره!**

بازارونه د بې‌پروايي او ښوييدنې ځايونه دي او هلته زړونه د دنيا په ښايست او پناه کېدونکي متاع پورې تړلي دي، په داسې ډول چې په دغه ټولګې کې داسې څوک نشته چې د الله ﷻ ياد ورسره وي او هغه ياد کړي!

د هغه بنده لپاره څومره لوی اجر او بدله ده چې خپل زړه يې له خپل پالونکي سره تړلی وي، خپل پالونکی يادوي او په هغه ځای کې چې هلته بې‌پروايي، لغوه او بې‌کاره کړنو يرغل کړي زړونه او سترګې په دنيوي زرق او برق پورې تړل شوې دي، هلته بيا هم داسې کسان شتون لري چې د خپل پالونکي څخه نه بې‌پروا کېږي.

خلک د خپلې دنيا په غم کې دي؛ خو هغه خپل دين ته پاملرنه کوي، هغوی په خپلو کړنو بوخت دي، خو هغه د خپل پالونکي په فکر او ذکر لګيا دي، نور خلک چې زړه يې څه وغواړي هغه يادوي خو دغه ډله خلک يوازې په خپله ژبه د خپل پالونکي ذکر او ستاينه کوي... نو له بې‌پروا کسانو څخه مه کېږئ!

د عبدالله بن عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چې د الله ﷻ رسول وفرمایل: «هر څوک چې بازار ته دننه شي او ووایي: «لا اله الا الله وحده لا شریک له، له الملک وله الحمد، یحیي ویمیت وهو حی لایموت، بیده الخیر وهو علی کل شیء قدیر» الله ﷻ هغه ته ۱۰۰۰ او ۱۰۰۰ نېکۍ ورکوي او ۱۰۰۰ او ۱۰۰۰ بدۍ یې له عمل‌نامې څخه لرې کوي او په جنت کې د هغه لپاره یو کور جوړوي» صحیح ترمذي.

## د بازار وروره!

بازار ته چې ولاړې هر څه چې الله ﷻ درته حلال کړي هغه راونیسه، او دا ستا حق دی، خو آیا ستا نفس پر تا حق نه لري چې د الله ﷻ خوښي او جنت د ښو او غوره کړنو او نېکو اعمالو په ترسره کولو او د ګناهونو او تباهۍ څخه په ځان ژغورلو نه رانیسي او نه یې اخلې؟!

هغه ګټوره سودا چې نه یې رنګ ختمېږي او نه یې خوځښت دریږي، چې هغه د الله ﷻ له خوا څخه ورکول کېږي... آیا ته به د الله ﷻ څخه الهي متاع واخلې؟ دا هغه څه دي چې زه ورته هیله‌من یم او د هغه هیله هم لرم!

ستاینې تولې الله ﷻ لره دي.

# نهم څپرکی

## پر پټ عادت باندې د بریالیتوب لار/استمنا

لیکوال: رامي خالد عبدالله الخضر

**سریزه**

د الله ﷻ ډېره ستاینه کوم، د برکت او مینې ستاینه، د مخلوقاتو په شمېر، د ده د رضا په اندازه، د ده د عرش د وزن په اندازه او د ده د کلماتو د جوهر په اندازه، د الله ﷻ د سپېڅلي ذات ستاینه ادا کوم او زما سره ددغه نېکۍ (پر پټ عادت باندې د بریا لار) یې ځانګړې ستاینه کوم چې ماته یې د دې توفیق راکړ چې دغه لیکنه زما څخه قبوله کړي. زما دغه کړنه د ځوانانو په ټولنه او په هغه ډلو کې چې ځوانانو ته سمه روزنه ورکوي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په بېلا بېلو څانګو کې او د ځوانانو په کارونو او «په نېکۍ امر او له بدۍ منع کمېټه» او نورو غونډو کې په فردي او دعوتي سطحه د مثبت غبرګون سره مخامخ شوه.

د پخوانیو ټوکونو په ناسمیو کې زه له تاسې څخه بښنې غواړم.

د هغه ورونو او ملګرو څخه چې د هېواد دننه او یا بهر په عربي هېوادونو کې یې په دې لیک اړوند څه خپاره کړل مننه کوم.

د پیاوړي الله ﷻ څخه غواړم چې ټولو هغو کسانو ته چې د دغه لیکنې په رسولو، پاملرنې، ملاتړ او همکارۍ کې یې له موږ سره مرسته کړې او ونډه اخیستې پوره بدله او اجر ورکړي او له الله ﷻ څخه غواړم چې د ځانګړې مینې له کبله یې زما دا لیکنه تر تاسو ورسوله او ستاسو د ګټې وړ وګرځېدله، ترڅو د نورو مسلمانانو د ګټې وړ یې هم وګرځوي او په خپل دربار کې یې خالصه وګرځوي، ځکه هغه ذات د دعاګانو قبلوونکی او اورېدونکی دی.

**ډالۍ دې وي** ټولو هغو خلکو ته چې دا مسئله ورته مهمه ده او د هغې اړوند اندېښمن دي...

ډالۍ دې وي ټولو هغو کسانو ته چې د آرامۍ، دینداري، پاک لمنی او د

اصولو د ساتلو په لټه کې دي.

ډالۍ دې وي ټولو هغو کسانو ته چې په دغه عادت روږدي شوي او نه پوهېږي چې دا عادت له دوی څخه څه غواړي او دوی هم له دغه عادت څخه څه غواړي.

ټولو هغو مسؤلانو (پلرونو) ته دې ډالۍ وي چې خپلو اولادونو ته نږدېوالي اړين بولي او د داسې يوه چاپېريال غوښتونکي دي چې د الله ﷻ څخه وروسته د خپلو بچيانو د پايښت، ټينګښت، آرامۍ او نېکمرغۍ لپاره هلې ځلې کوي او له هغوی سره مرسته کوي.

ډالۍ دې وي تاسو ته، ستاسو د ديني ورور له خوا چې الله ﷻ زه له دغه نعمت څخه برخمن کړم چې د خپل ځان ځړوبولو (استمنا) اړوند د ديني مطالعې، طبي مطالعې او د ځوانانو د تجروبو د څېړلو چې الله ﷻ دوی ته نېکمرغي ورکړه او له دغه عمل څخه وژغورل شول. او همدارنګه هغه د لويانو د عقايد او تجروبو او مهارتونو ته تر لاسرسي وروسته چې کېدای شي غوره نصبحتونو او سپارښتنې تاسې ته ولري. دغه ټول هغه سرچينې دي چې د هغوی په وسيله د دغه پټ عمل او د هغه د پېښدونکو پايلو، روږدېوالي او وروسته د هغه د درملنې او ځان ساتنې د معلوماتو ټولګه زموږ سره مرسته کولی شي چې د دغه عمل په پېژندلو او ځان ساتلو کې مهم رول ولوبوي.

دغه هڅه په ځانګړې ډول او پوره اخلاص هغوی ټولو ته ډالۍ کوم، او له پياوړي الله ﷻ څخه غواړم چې هغوی کې برکت واچوي او د دغه هڅې څخه ګټه ټول شموله وګرځوي، هغه د دعاګانو اورېدونکی او قبلوونکی دی... آمين.

**يادونه:** په دغه ليکنه کې ډېره پاملرنه د سړيو مخاطب ګرځولو ته شوې

ده، خو دا هغه شوې چې دواړه سړي او ښځې باید مخاطب وګرځي. پر همدې اساس د مخاطب په لید هغوی ته اشاره نه ده شوې ترڅو دواړه جنسونه (ښځینه او نارینه) د دغه لیکنې د ټولو ځانګړتیاوو او عناصرو څخه ټول شموله ګټه واخلي.

## د استمنا (خپله ځان خړوبولو) په اړه څه پوهېږئ؟

دا هغه عمل او کړنه ده چې یو څوک د خلکو له سترګو لرې او پټه توګه د مختلفو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې چې شهوت تحریک او پاروي ترسره کړي. له دغو وسایلو څخه یو هغه جنسي فکرونه دي چې موخه یې استمنا (په خپله ځان خړوبول) دي.

په دغه کړنه کې خلک د اسبابو څخه د ګټې اخیستلو اړوند توپیر لري او د هغوی د ترسره کولو اندازه هم توپیر لري. ځینې په منظم ډول د ورځې، اونیز او یا یوه میاشت کې په دغه عمل لاس پورې کوي. ځینې په نامنظم ډول په ورځ کې څو ځله په دغه عمل لاس پورې کوي او ځینې نور هغه وخت په دغه عمل لاس پورې کوي چې په قصداً او یا نه قصد په دغه عمل لاس پورې کوي.

په ټولنه کې بېلا بېل کسانو خوب پر ځان حرام کړی او بې‌خوبۍ ته یې ځان ورکړی او د دوی پوښتنې او ناخوښۍ د دې سبب شوې چې څېړونکي او هڅه کوونکي د حل لارې ورته پیدا کړي، خو څه ګټه یې نه ده ورسولې او ځینې نور د طبي او ټولنیزو تجارتي او مادي ورځپاڼو د ملاتړ هڅه کوي ترڅو له دغه عادت څخه ځان خلاص کړي، خو په دغه کړنو نور هم پکښې ډوب شوي دي.

ولې؟ ستونزه څه ده؟ کوم عوامل د اسلامي ټولنې د اولادونو د روږدیوالي

سبب شوي دي، هغه هم په داسې ډول چې د ټولنې د هر قشر پاملرنه یې ځان ته اړولې ده که هغه ښځه وي یا سړی... بالغ وي او یا عاقل... نېک عمله وي او یا بد عمله...

آیا دغه عادت څه نښې او پایلې لري؟ دا پایلې څه دي؟ آیا د دغه عمل څخه ژغورنه کوم مهم کار دی؟ څنګه په دغه عمل له روږدیوالي مخکې ځان ساتنه وکړو؟ او په پایله کې یې د خلاصون کوم قدمونه شتون لري او که نه؟ تاسو د دغه بحث مطالعې ته رابولم او له الله ﷻ غواړم چې ستاسو لار ورکې ته پکښې حل او ستاسو سوالونو ته ځواب ویونکی وي او تر ټولو مهمه دا ده چې د دغه عمل د رېښې څخه د له منځه وړلو سبب پیدا او د اسلامي ټولنې د دغه درد ملهم پکښې پیدا شي. هغه ذات ښه اورېدونکی او قبلوونکی دی.

## د دغه عادت پایلې

### ښکاره پایلې (د لیدنې او لمس کونې وړ)

**۱) جنسي کمزوري (په ګډ ژوند او جنسي اړیکه کې کمزوري او د شهواني قوې له لاسه ورکول)**

ډېری څېړونکي په دې اند دي چې په ګډ ژوند او په ځانګړي ډول جنسي اړیکه کې د نارینه جنس کمزوري، ژر خلاصېدلو، بې میلي او یا کم میلي او له جنسي اړیکې خوند نه اخیستل د ښځو او سړو لپاره هغه څه دي چې د استمنا د بد عادت د زیاتوالي (په اونۍ کې درې ځله او یا مثلاً هره ورځ) او په هغه کې د افراط له کبله منځته راغلي دي. او کله کله دغه کمزوري او ناتواني د نوې ځوانۍ په درشل کې دومره ډېره نه تر سترګو کېږي خو د سن او عمر په ډېرېدو خطرناکې پایلې لري او خپلې نښې څرګندوي.

نن ځومره ډېر سړي او ښځې د دغه پايلو ښخه کړېږي او ځومره ډېر کسان شتون لري چې ګډ ژوند يې له بدمرغۍ سره مخ دی او روغتونونو ته د دوی ورتګ په يو عادت ګرځېدلي دي، څکه دوی له ځوانۍ او نکاح مخکې خپل ځانونه خراب کړي دي.

په حقيقت کې دا هغه دردونکې حقيقت دی چې ډېری سړي او ښځې هره ورځ د جنسي کمزورتيا د درملنې په خاطر روغتونونو او اړوند ډاکټرانو ته مراجعه کوي او تر ټولو دردونکې بيا دا ده چې د دغه ورتلونکو کسانو عمر د ۳۰ او ۴۰ کلونو ترمنځ دی او دا هغه کړنه ده چې د جنسي پياوړتيا د درمل توليدوونکو کمپنيو له خوا هم تائيد شوې ده.

نن موږ د يو داسې حالت شاهد يو چې ډېری خلک د خپلو جنسي کمزوريو د درملنې په خاطر خپلې شتمنې په هغو درملو مصرفوي چې د دوی د جنسي پياوړتيا سبب ګرځي، پرته له دې چې د هغوی جانبي عوارض او منفي پايلې په نظر کې ونيسي او خپلې راتلونکې روغتيا ته پاملرنه وکړي.

**۲) مراويتوب، ورستېدل، درد او کمزوري**

دغه عمل د لړزې او سترګو د کمزورۍ سربېره د ټول بدن د جسمي پياوړتيا د ورستېدلو، په ځانګړې ډول عصبي سيستم، عضلاتي سيستم، د ملا تير دردونو او ستونزو، بندونو او ګونډو د درد باعث ګرځي.

ټولې يادې ستونزې د ۱۵کلنۍ څخه تر ۲۰کلنۍ پورې ليدل کېږي او په هغه عمر او د عمر په هغه پړاو کې ليدل کيږي چې د بدن قوت له کمزورۍ سره مخ کېږي او د توليد قوه په ټولو اړخونو کې له کمښت سره مخ کيږي، د بېلګې په توګه که چېرې يو ځوان ورزشکار وي نو له شک پرته چې بدني مهارتونه او کړنې به يې د کمښت لوري ته ځي.

د پخوانیو پوهانو څخه یو داسې وایي: په حقیقت کې (مني) د عقل او د هډوکي د مغز غذا او د رګونو شیره ده.

یوه طبي څېړنه وایي: په حقیقت کې یو ځل استمنا د هغه کس د هڅې سره برابره ده چې څو کیلو متره مسلسله منډه وهي. د پرتلې لپاره که څوک غواړي د دغه حقیقت انځور خپل ذهن ته ښکته کړي نو یوازې دې یو کیلو متر منډه وکړي او پایله یې دې په ډاګه کړي.

۳) د ذهن ګډوډي او د حافظې کمزوري

هر هغه څوک چې په دغه عمل روږدي وي نو ذهني تمرکز له لاسه ورکوي او په تدریج سره یې د حفظ قدرت، د فهم قدرت او د مطالعې وړتیا له لاسه ورکوي. تردې چې په ذهني ګډوډۍ، حافظې کمزورۍ او د نورو کسانو سره په کړنو کې په کمزورۍ باندې اخته کېږي. د بېلګې په توګه، یوه هڅه کوونکي چې ډېره مطالعه یې کوله، تولیدي وړتیا یې ورو ورو د اندېښنې وړ شوه او علمي سطحه یې له خوړ سره مخامخ شوه.

۴) له نکاح او ازدواجي اړیکو وروسته په دغه عمل لاس پورې کول

ډېری هغه کسان چې په دغه عمل لاس پورې کوي که ښځه وي او یا نر، دوی ګمان کوي چې دغه پړاو هغه پړاو دی چې د دغه عمل ترسره کوونکي د شهواني قوې، بیکارۍ او شیطاني وسوسو څخه د بلوغ پړاو کې په دغه عمل لاس پورې کوي او دا د دغه وخت غوښتنه وي.

او ځینې نور بیا د نکاح د نه توان له کبله دغه عمل ته لاس اچوي، بلکې کله کله د دغه عمل اړوند یو دلیل هم مخ ته کوي او دا ادعا کوي چې په دغه عمل د ځان ملاتړ کوي او خپل ځان په زنا کې له واقع کېدلو څخه

ساتي او په دغه ډول خپل ځان نه داډ ورکوي او د خپل هوس ځخه په پيروۍ په دغه عمل لاس پورې کوي.

دوی باور لري چې کله نکاح وکړي نو له دغه ستونزې سره به مخه سه وکړي. نفس به يې آرامه شي، سترگې به يې روښانه شي او هره ښځه او سړی به خپل ميل او غوښتنه د شرعي لارې پوره کړي. خو دا يو ناسم باور دی ځکه دوی چې کله له دغه عمل سره روږدي شي بيا د هغې پرېښودل ورته ډېر سخت وي حتی وروسته له نکاح ځخه هم.

بلکې خينې ډېر په صراحت سره دا په ډاگه کوي چې د دغه عمل په پرېښودلو سره هيڅ ډول خوند نشي ترلاسه کولی او هر يو ښځه او مېړه د کمزورۍ احساس کوي او نشي کولی په پوره ډول خړوبه شي. چې همدغه کړنه د ښځې او مېړه ترمنځ نفرت او کرکه پيدا کوي او د گډ ژوند د ستونزو پيلامه ورځخه شروع کېږي، چې حتی کله تر طلاق او يا کله له دوی دواړو مېړه او ښځې د مقابل طرف له خبرولو پرته په دغه عمل لاس پورې کوي ترڅو د ښځې او مېړه يعنې گډ ژوند کمی جبران کړي.

۵) د ډېرې پښېمانۍ احساس

يو له هغو رواني ستونزو ځخه چې دغه بد عادت يې تر شا پرېږدي، د دايمي پښېمانۍ او درد احساس دی په داسې ډول ډېری هغه کسان چې دغه عمل ترسره کوي په دې خبره ټينگار کوي چې دغه عادت ځو ثانيې خوند لري چې يو څوک پرې روږدی شي نو بيا پکښې د تل لپاره ډوب شي له دې پرته چې بيا يې د بدو پايلو په اړه فکر وکړي او کله چې دغه عمل د مستۍ په حالت کې ترسره کړي نو له ترسره کولو وروسته دغه کس د پښېمانۍ او درد احساس کوي، ځکه دغه کړنه او عمل د خړوبولو اصلي لار نه ده او د يو کس لپاره نوي ځه نه شي وړاندې کولی.

## د وړتیاوو له کاره لوېدل او له لاسه ورکول

خوب او یا نامنظم خوب نه دایمي میل او په دغه بد عادت کې د یو کس ډېر وخت ضایع کېدل، د دغه عمل د جبران لپاره بې وخته خوب کول او له نورو څخه لرېوالی د ذهني ګډوډۍ او پرېشانۍ سبب ګرځي.

په دې کې شک نشته هغه څه چې ذکر شول د دغه عمل له مهمو نښو څخه دي چې د دغه عمل د ترسره کولو وروسته پانې کېږي. دا ټول څه د هغه کسانو له خوا زموږ سره شریک شوي چې د دغه عمل قربانیان دي. هغه کسان چې د دغه موضوع د پلټنې هڅه کوي کولی شي د هغه لیکنو څخه استفاده وکړي چې د تجارت په موخه نه وي لیکل شوې او د حقیقت څرګ پکښې ښکاره کېږي.

### نه لیدونکي ضررونه او نښې

هغه ضررونه چې د استمنا پر وخت نه لیدل کېږي او د ډېرو لپاره د لیدو وړ نه دي. څکه دا د دغه پټ عمل پایلې دي خو څېړنو دا ثابته کړې چې که یو څوک په دغه عمل روږدی وي نو له لاندې پېښو سره مخ کېدی شي.

### ۱) د مغز او حافظې د حجرو ګډوډي او تباهي

په رښتیا چې استمنا هغه عمل نه دی چې یو کس نېغ په نېغه او د تحریک کوونکي، پاروونکي او انګیزه ورکوونکي عامل پرته دې په هغه لاس پورې کړي بلکې اسباب او سرچینې لري چې په لاندې ډول دي:

**بهرنۍ سرچینې:** چې انځورونه، فلمونه او طبیعي او واقعي منظرې دي چې شهوت او غریزه راپاروي.

**داخلي سرچینې:** هغه دي چې عقل د هغه په ترسره کولو کې مخکېوالی

کوي، جنسي خيالونو ته انځور ورکوي او د شهوت پارونې سبب ګرځي. دغه خيالونه يا د حقيقي کس په اړه وي او يا د خيالي او وهمي کس په اړه.

د جنسي فکرونو او سوچونو ځانګړنه دا ده چې هېڅ سرحد نه لري او په هغه کې په يوه خيالي کيسه بسنه نه کېږي. څکه لکه څرنګه چې دغه کار استمنا ته د رسېدو يوه لار ده نو نوی فکر تازه او د بدلون وړ وي. او ورځ په ورځ کيسې او پېښې بدلون کوي ترڅو يو کس خړوبه شي.

که اجازه راکړئ ترڅو د حافظې د حجرو په اړه فکر وکړو، دا هغه ځای دی چې د ځانګړو عصبي حجرو د اړيکو څخه منځته راځي. آيا کولی شو دا فکر وکړو چې د دغه حجرو فضا يوازې جنسي سوچونو ته ځانګړې شوې ده، د هغه حجرو په پرتله چې معلومات او نور څېړنيز، ګټور او يا غير ګټور معلوماتو ته ځانګړې شوې ده، څومره ده؟

ځواب: ... که چېرې وکولی شو دغه زيات مقدار حجرې اندازه کړو او داسې پرتله وکړو، نو پوه به شو چې کومې حجرې جنسي سوچونو ته ځانګړې شوې نورو معلوماتو ته نه دي ځانګړې شوې، څکه جنسي سوچونه هغه کړنه ده چې په وخت او ځای کې ډېر تکرارېږي، د نورو معلوماتو په خلاف چې هغه په يو ځانګړي ځای (مکتب) او وخت (ازمويني ورځې) پورې تړاو لري، نو په وېروونکي ډول جنسي معلومات د چټک پرمختګ پرحال کې دي، په داسې حال کې چې د نورو معلوماتو حجرې د ګټې نه اخيستنې له کبله د کمښت او نابودی سره مخ کېږي.

له شک پرته هر هغه څوک چې په استمنا لاس پورې کوي ښايي د ژوند په لومړيو وختونو کې دغه پرتله درک نه کړي. څکه هغه اوس د غير ضروري او بې ګټې معلوماتو په لټه کې دی، خو کله چې دغه کس په يوه موضوع کې څېړنه کوي نو ورته معلومه به شي چې ذهني حجرې يې له

تباهی سره مخ شوې دي (چې دا کړنه د اوړي موسم په رخصتیو کې ښه په ډاګه کېدی شي) په داسې ډول چې علمي او معلوماتي حجرې کنګل کېږي او د داسې ویډیو شکل غوره کوي چې د یو چا له خوا له منځه تللې وي ترڅو د هغه په ځای بله ویډیو ضبط کړي، ترڅو په دغه ډول د ذهني حجرو څخه د ګټې اخیستنې پرته کار واخلي او په تدریج سره په هغه کې هېڅ ګټور معلومات پاتې نشي.

کله چې له دغه حجرو څخه دیني او دنیوي ګټور علوم او معلومات لرې شي نو ځای یې جنسي سوچونو ته پاتې کېږي، د دغه حقیقت د ثبوت لپاره تاسې کولی شئ د هغه چا څخه هم پوښتنه وکړئ چې په دغه عمل روږدي وي چې وروسته له دریو کلونو فراعت یې څه په ذهن کې شته او کنه. یعني د پوهنتون څخه د فارغېدو په وخت یې هېڅ په ذهن کې نه پاتې کېږي.

**۲) د اصولو او ارزښتونو له لاسه ورکول**

څنګه خیالونه او سوچونه په حقیقت بدلېږي؟

ځینې کسان چې په دغه عمل یې لاس پورې کړی دی د خپلو غلطو فکرونو تر شا یې دا فکر کړی دی چې دغه عمل د زنا او اخلاقي فساد څخه د مخنیوي لپاره دوی ته ګټور دی، په رښتیا چې موږ په داسې وخت کې ژوند کوو چې په هغه کې فتنې، فسادونه او وسوسې د زیاتوالي په حالت کې دي او ځوانان که هلک وي یا نجلی له دې پرته بله لاره نه لري چې د خپل شهوت د اور مړ کولو لپاره له دغه لارې کار واخلي، خو دردونکی حقیقت د دغه فکر خلاف دی. د روږدو کسانو حقیقي کیسې او اعتراضونه په دې ښه دلالت کوي چې د دغه عمل څخه نور څومره اخلاقي فساد پورته کېږي، ډېری داسې کسان چې په سالم چاپېریال کې یې ژوند کړی خو د

دغه عمل له کبله په نورو منکراتو کې واقع شوي دي. هر هغه کس چې په دغه عمل لاس پورې کوي تر یوڅه وخته پورې اساسي اصول په نظر کې نیسي. خو د وخت په تېرېدو او د شهوت زیاتېدو په اساس بې د جنسي سوچونو ګراف مخ پورته روانېږي.

لکه څنګه چې مخکې وویل شول دغه عمل له فکرونو نیولې تردې چې له یو څه وخت تېرېدو وروسته په حقیقت بدلېږي.

روږدی کس په لومړیو کې کله کله دغه عمل پرېږدي او ځان ترې ساتي، څکه تراوسه لږ څه دینداري پکښې شته او اخلاق هم پکښې پاتې دي. خو د ناسمو سوچونو له کبله د شهوت په ډنډ کې ډوبېږي او د ناسمو او بې لارې کوونکو ویډیوګانو تر کتلو خبره رسیږي او د شهوت پارېدنې له کبله هرڅه له لاسه ورکوي، اصول او ارزښتونه تر پښو لاندې کوي او په پای کې په یوه داسې حیوان بدلیږي چې نور ورته دین او دیني ارزښتونه ارزښت نه لري او نه یې پیروي کوي بلکې د دې برعکس د شهواتو او نفس بنده ترې جوړیږي، دا یو غلط او ناسم باور دی چې په دغه عمل سره موږ کولی شو د لویو منکراتو څخه ځان وژغورو، څکه دا د روږدیوالي او په پای کې د نه خړوبوالي سبب ګرځي چې حتی په پایله کې تر زنا او لواطت پورې خبره رسیږي، چې ځینې وختونو کې له دغه عمل څخه ایډز او دنیوي ستونزې لکه زندان، یا کم تر کمه په ګډ ژوند کې خبره تر طلاق پورې رسیږي چې آخر هم د دواړو کورنیو د تباهی سبب ګرځي، له الله ﷻ څخه غواړو چې موږ او تاسې د خپل نفس له بدی څخه وساتي او بدي او فحشا له موږ څخه لرې کړي او موږ ټول له دغه تباه کوونکو بلاوو څخه وساتي.

**۳) د پاک لمنی، عفت او حیا له منځه تلل**

په دغه کړنه اصرار او ټینګار کول په تدریجي ډول د حیا او پاک لمنی

پولې نړوي، اخلاقي او ديني سرحدونه تر پښو لاندې کوي، که چېرې دغه کړنه د سړيو لپاره په ډاګه وي نو د ښځو لپاره هم ترډې ډاګهايېزه ده.

نو پردې اساس آيا د حيرانتيا خبره نه ده چې هغه ثابت قدمه خوان چې هېڅ جرائت به يې نه شوی کولی ترڅو د نورو، خپلوانو، ګاونډيانو او هغه کسانو عورت ته وګوري اوس يې خپلې سترګې د نورو په ناموسونو او عورتونو کې خښې کړې دي، او د حيرانتيا خبره نه ده چې هغه باحجابه نجلۍ چې خپل سر يې نه شوی اوچتولی او خپلې سترګې يې د پښو له خاى څخه نشوی پورته کولی او يوازې خپلې پښې يې ليدلې په بازارونو کې دې او هغې ته ګوري او څېنې نور د ښکلو موټرو او د هغه د سوارليو د عورتونو په لټه کې دي او د تلويزيون څخه د خپرېدونکو عاشقانه سريالونو روږدي ګرځېدلي دي. او د حيرانتيا خبره نه ده چې پرون د يو ځوان ټول فکر دا و ترڅو پاک او پاک لمنی وي او نن يې ټول فکر او سوچ جنسي سوچونو ته ورکړی دی.

دغه کړنې په عمومي ځايونو لکه بازارونو او پارکونو کې چې هلته ښځې او سړي شتون لري ډېر ليدل کېږي او د ژوند په تباهۍ دلالت او شاهدي ادا کوي، مګر که چېرې الله ﷻ په موږ رحم وکړي. او له شک پرته چې د حيا او عفت په لمنځه تللو سره ناروا اړيکې او بېلا بېل کبيره ګناهونه ډېر آسانه کېږي، له الله ﷻ څخه پناه غواړو ترڅو موږ په دغه ډول کارونو کې ښکېل شو.

**۴) د طلاق زياتېدل او د فحشا ازدواج**

د چا د ژوند شريک چې په دغه عمل روږدی وي، کله کله د تحريک کوونکو او چل ورکوونکو نجونو او د فلمي ستورو تر ګمراهۍ نشي رسېدی، حتی که چېرې پاک او سالم آرايش او سينګار هم ولري، نو څوک چې په دغه

CamScanner

عمل رووړدی وي ترڅو د هغوی په وسیله خپل خوند واخلي نشې رسېدی.

پر همدې اساس د خپلې ښځې سره په ګډ ژوند او ځانګړې توګه جنسي اړیکه کې هغه خیالي خوند نشي اخیستلی نو ماتې خوري او په پایله کې د جنسي کمزورۍ او لټۍ سره مخ کېږي چې بیا د دې سبب کېږي ترڅو د طلاق فکر او یا د بلې ښځې سره د ازدواج خیالونه ویني، دغه ډله کسان فکر کوي چې اصلي ستونزه د دوی په لمړنۍ مېرمن کې ده نو ځکه هغه ته طلاق ورکوي او د بلې ښځې سره واده کوي، په داسې حال کې چې په دویم واده کې هم ورته ستونزه لري؛ نو د ناروا اړیکو په لور ځان وړاندې کوي چې په پایله کې د خپلې نه پوره کېدونکې موخې له کبله په حرامو کې واقع کېږي.

اې افسوس چې نوموړی خو په لومړیو کې په دې پوه وی چې اصلي ستونزه د ده خپله ده هغه هم استمنا او د هغه عناصرو او د دې دلیل دا دی چې دغه عمل نوموړی هغه خوند ته نه رسوي چې دی پرې خړوبه شي. او دغه کړنه د ښځو اړوند هم همداسې ده خو کله کله ښځې دغه حقیقت پټوي او که چېرې ایمان ولري نو صبر کوي او که داسې ونه کړي نو په حرامو کې ښکېل کېږي.

## ج) راتلونکې پایلې

### ۱) زده کړه او یوه مناسب کار ته لاسرسی

ټول پوهېږي چې د ژوند حالات، کار، کسب، زده کړه او... آسانه کار نه دی، پردې اساس په پوهنتون کې منل لوړو هڅو او نمرو ته اړتیا لري او د یوه مناسب کار پیدا کول د انګلیسي او کمپیوټر سند سره سره لوړو زده کړو ته اړتیا لري چې د تجروبو او علمي مهارتونو ښکارندویه وي او دغه ټول کارونه د یوې کورنۍ د بنسټ اېښودلو او د ژوند کولو د درآمد لپاره ضرور

دي. په حقیقت کې کوم کارونه چې یاد کړل شول د کامل عقل چې د پوهنتون له معلوماتو ډک وي همدارنګه مهارتونو، نورو وړتیاو او علمي تجروبو پکښې ځای نیولی وي پرته په حقیقت نه بدلیږي او له دې څخه پورته بدني روغتیا، وختي پاڅېدنې او په کاري ساعتونو کې نظم چې کله کله ورځ کې تر اتو او نهو ساعتونو رسیږي اړتیا لري.

اما دغه کړنه نن ورځ په یوه عذاب راوړونکې اړتیا بدله شوې، نو څنګه به هغه څوک چې په دغه عمل روږدی وي په دغه ټولو امورو او کړنو برلاسی وي، په داسې حال کې چې د حرامو شهوتونو په ډنډ کې ډوب او په دغه عمل روږدی شوی وي؟ کوم عقل او کوم بدن به وروسته له دې دا وړتیا ولري چې د دغه کارونو سره مخ شي؟

کله کله ځینې وایي: داسې خلک هم شته چې په دغه عمل روږدي دي او خپلو کارونو او زده کړو ته هم لاسرسی کوي او هغه اغېزې چې د دې عمل په اړه ویل شوې په هغوی کې نه لیدل کیږي، په خواب کې ورته وایو چې تجروبو او واقعیتونو دا ثابته کړې ده چې دا ناممکنه ده او دغه ډله کسان دې د اوږد وخت لپاره په ځانګړې توګه په لوړ عمر کې په سمه توګه خپل کارونه ترسره کړي. له بل پلوه دغه ډله کسان به خپلو عباداتو کې هم لټي کوي. لمونځ نه کوي، روژه نه نیسي او د حلالو او حرامو ترمنځ په توپیر قایل نه دي، دوی په دغه دنیا کې د کفارو او دنیا پرستانو په ډول ژوند کوي او ټول ژوند یې په شهواتو کې تېریږي. مسلمان باید دې ته پوره پاملرنه وکړي که چېرې دغه ډله خلک مړه شي نو د کار پایله به یې څه وي؟ او څه ډول عذاب به وڅکي؟

**۲) د کورنۍ او اولادونو ملاتړ او سرپرستي**

په رښتيا کوم کسان چې په دغه عمل لاس پورې کوي، نو ټول غم او هڅه به يې دغه غريزې ته ځانګړې کړې وي، ټول مال او وخت به له لاسه ورکړي ترڅو دغه غريزه خړوبه کړي چې په پايله کې به د خپلې کورنۍ د مسؤليتونو د دروند بار څخه خپله اوږه خالي کوي. ډېری يې بهر ته سفر کوي، د شپې تر ډېره ويښ پاتې کېږي او په هغه ځايونو کې ډېر پاتې کېږي چېرته چې د دوی شهوت پارېدونکی وي ترڅو په دغه ډول کړنو لاس پورې کړي.

په دغه صورت کې آيا دغه کس به وکولی شي په هغه ډول د خپلې کورنۍ او اولادونو ملاتړ وکړي په کوم ډول چې سالم وګړي يې کوي؟ آيا کله يې چې خور، ښځه او يا لور له هغه کسانو څخه وي چې په نورو ګناهونو کې غرق وي پوه به شي او که نه؟

آيا د سالمو اولادونو د روزلو لپاره به وخت پيدا کړي؟ او آيا وبه کولی شي چې د کورنۍ او اولادونو ملاتړ وکړي او دغه امانت ادا کړي؟ څه چې تېر شول هغه زيانونه او پايلې دي چې هر عاقل انسان يې په روږدو کسانو کې پيدا کولی شي، او ډېری د عقل او امانت څښتنانو په دغه موضوع باندې خبره کړې ده؛ خو له بده مرغه بل پلو ته موږ ځينې نور باورونه او عقايد هم چې کله کله په اقتصادي ورځپاڼو کې چې موخه يې د کاليو او جامو له لارې د پيسو لاسته راوړل وي وينو، هغه هم له دې پرته چې د مسلمان ځوان او پيغلې روغتيا ته پکښې کمه پاملرنه وکړي. دوی موږ په داسې حال کې وينو چې دغه عمل ته ترويج ورکوي او د بېلا بېلو درملو په وسيله چې د صادراتو له لارې ځوانانو ته رسيږي، دوی يعنې ځوانان د مخالف جنس پر وړاندې پاروي. له دې لارې کوم کسان چې دا باور لري چې دغه ډول غير

قانوني او غير طبي درمل په دوی ته شفا او روغتيا ورکړي ډېر په اشتباه او خطا کې پرېوتي دي او خپله دغه محصولات او درمل د دغه ډول دردونو اصلي سرچينې دي. په پای کې موږ بايد دې ته پاملرنه وکړو چې الله ﷻ موږ ته يوازې په دې امر نه دی کړی چې له زنا څخه لرې اوسو بلکې موږ يې له هغه کړنو څخه هم منعه کړي يو چې موږ دغه عمل ته نږدې کوي او د خپلو شرم ځايونو د پوره ساتنې امر يې راته کړی دی او فرمايي: [وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً] (اسراء، ۳۲) زنا ته مه نږدې کيږئ، هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لاره ده.

او د مؤمنانو په ځانګړتياو کې يې داسې فرمايلي: [وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ] (مؤمنون ۵) او هغه کسان چې د خپلو شرم ځايونو ساتنه کوي.

او له شک پرته چې استمنا يو له هغه وسيلو څخه ده چې موږ زنا ته نږدې کوي. پر همدې اساس... آيا د پروردګار د خوښ ساتلو او د تېرو ټولو تاوانونو جبرانول... د دغه لويې بلا سره مبارزه او د هغه د پرېښودلو وروسته قناعت او منځلاريتوب او دغه روږديوالي باندې غلبه کافي ده؟

په رښتيا چې د دغه قناعت منځته راوړل او منځلاريتوب په دغه لاره کې د درملنې لومړی قدم دی او نور قدمونه که چېرې خدای وغواړي په رښتينې نيت او په دغه ناخوانه عمل باندې د برلاسی لپاره مبارزه هم آسانه کولی شي. هو... دغه ناخوانه عمل... او دا هيله نه کيږي چې دغه عمل دې پرېښودل شي که څوک وغواړي چې د دغه عمل ريښې له بېخه وباسي نو په آسانی سره کولی شي ورته د پای ټکی کېږدي.

ډېرو تجروبو دا ثابته کړې ده چې د دغه عمل پرېښودل وخت نيسي حتی ځينې کسان تر واده وروسته هم پرې روږدي وي. دا يوه پياوړې جګړه ده او

دښمنان پکښې پياوړي او ډېر دي او دوی پوهېږي چې څه وخت، چېرې او څه ډول نفوذ وکړي او دوی: اماره نفس (هغه نفس چې په بدی امر کوي)، شيطاني وسوسې، بد ملګري، زناکارې او بې حجابه ښځې او کسان، فلمونه، انځورونه ا و فاسد سندرغاړي دي. دا هيله موږ بايد ونه لرو چې پر دغه عمل بريالیتوب يو ناڅاپه وي، بلکې د هغه په درملنه کې واجب دا ده چې په تدريجي توګه ورته د پای ټکی کېښودل شي. او زه دا فکر کوم که چېرې ته (په دغه عمل باندې روږدی وې) اوس تيار يې، که چېرې الله ﷻ وغواړي د دغه عمل څخه د ژغورلو په قدمونو عمل وکړې. د هغه مهمو عواملو څخه يې اوس پيل کوو. وروسته به هر يو په لنډ او دقيق ډول راوړل شي ترڅو د دغه عمل رهبنې له بېخه پرې وايستل شي. پر همدې اساس مې پيل وکړ او له الله ﷻ څخه غواړم چې په دغه لار کې ټولو مسلمانو خويندو او ورونو ته د شفا او درملنې غوره لارې په ګوته کړي او د هغو کسانو لپاره چې په دغه تيارو کې ډوب دي او همدارنګه د هغه کسانو لپاره چې د خپل ځان ساتنې او ديندارۍ په لټه کې دي يوه غوره درملنه وي. په رښتيا چې هغه ذات د دعاګانو اورېدونکې او قبلوونکی دی.

موږ الله ﷻ ته پناه وړو او په هغه قادر ذات توکل کوو ترڅو موږ سره پر دغه عمل باندې د بريالیتوب لارې پرانيزي او زموږ مرستندوی شي.

**په دې کې هېڅ شک نشته چې د مشکلاتو او ستونزو سره د مقابلې پر وخت يوازې الله ﷻ د انسان ملګری دی، حتی د دغه عمل څخه د ځان ژغورنې په لار کې هم.**

### دغه ژغورنه د لاندې کړنو په وسيله صورت نيسي:

**۱) له نفس سره مبارزه او په مسجد کې د پنځه ګونو لمونځونو د ادا کولو لپاره هڅه کول، په ځانګړي ډول د سهار لمونځ:**

روږدی او نا روږدی کس د دغه کار لپاره بايد هڅه وکړي او د هغه اړوند

خان بې تفاوته نه کړي او ادا کول یې ونه ځنډوي... ځکه لومړی په مسجد کې لمونځ کول او له خباثت څخه تل ځان پاک ساتل د سړیو لپاره واجب دي او دویم سربېره پردې انسان په یوه داسې مدرسه او ښوونځي کې دی چې په هغه کې باید ایمان، صبر او د شیطان پر وړاندې استقامت زده‌کړي.

مثال یې د هغه کس په شان دی چې په تمرین کولو سره د اوبو په یو ډنډ کې لامبو وهي او یوازې لامبو وهل له کتاب څخه نشي زده کولی. د دې لپاره چې الله ﷻ یې دعا قبوله کړي او هغه ذات ته نږدې شي نو باید هغه ته پناه ور وړي او پر خپل شهوت او دښمنانو باندې د بریالیتوب لپاره د پاک الله ﷻ څخه مرسته وغواړي او د شیطان لپاره تشه پرې نږدي. بلکې د دغه عمل ترسره کولو وروسته پورته شي او د خباثت غسل وکړي او بیا اودس وکړي او د لمانځه ادا کولو لپاره مسجد ته ولاړ شي، په دې ډول به پوه شي چې د دغه عمل څخه یې یوه مهمه او اغېزمنه لار په مسجد کې د لمونځ ادا کول دي.

**۲) الله ﷻ موږ ته دا پوهه راکړې چې ډېرى وخت موږ نه پوهېږو خو هغه له موږ سره دی:**

کله چې انسان لمونځ کوي او وروسته د مستحب عباداتو په ترسره کولو لکه لمونځونو، روژو او صدقو او... هغه ته پناه وړي او (لکه څرنگه چې په قدسي حدیث کې راغلي دي) لوی امتیاز دی چې بل څه ورسره پرتله کېدی نشي.

نو په همدې اساس غوره ده چې د مستحباتو په ادا کې هم هڅه وکړو او له دغې لارې نور نو غوږ ته دا آسانه نه ده ترڅو چټیات واوري... د سترگو لپاره آسانه نه ده چې حرامو ته وگوري... د لاس لپاره آسانه نه ده چې استمنا وکړي... او د پښو لپاره آسانه نه ده چې د فساد لوري ته مخکې

ولاړې شي. موږ باید تر هرڅه ډېر د مستحب لمونځونو ادا کولو لکه د شپې لمونځونه، د دوشنبې او پنجشنبې ورځو روژه نیول، د بیض د ورځو چې د هرې میاشتې ۱۳، ۱۴، ۱۵ ورځې دي او صدقې په ادا کولو کې هڅه وکړو او دغه کړنې هېڅ سرحد نه لري، ځکه د الله ﷻ خزانې نه خلاصېدونکې دي او الله ﷻ هېڅ نه ستړی کېږي تردې چې بنده ستړی شي.

**۳) باید له الله ﷻ څخه دعا وغواړو په ځانګړې توګه د شپې د آخرې حصې د نفل لمونځونو په سجدو کې:**

که چېرې غواړئ الله ﷻ ته ژمن واوسئ نو یاد وخت کې دعا وکړئ ترڅو له دغه لویې بلا څخه وژغورل شئ او الله ﷻ به په دغه ډول تاسې په اماره نفس او شیطان برلاسي کړي او تاسې به د حرامو کارولو څخه بې‌نیازه کړي. هغه څه مو چې په خپل حق او د الله ﷻ په حق کې کړي دي الله ﷻ به یې درته وبښي او باید دغه وخت کې په ډېره عاجزۍ، ناتوانۍ او دغه عمل او دښمنانو پر وړاندې خپله کمزوري الله ﷻ ته وړاندې کړې ترڅو الله ﷻ درسره پوره مرسته وکړي. کله چې ستاسې نیت او استقامت رېښتینی وي نو پوه به شئ چې الله ﷻ ستاسو غوره ملګری دی. او له دغه ځایه موږ په دې هم پوهېږو چې الله ﷻ ته په پناه وړلو کې لټې کول د فحشا او فساد د خپرېدو او په استمنا باندې د نه بریالیتوب اصلي لامل دی.

**د نفس، هوا او هوس سره د مبارزې اړوند چې کومې دعاګانې روایت شوې دي ځینې یې دا دي:**

اللّٰهُمَّ اَعِنِّي عَلٰى ذِكْرِكَ وَ شُكْرِكَ وَ حُسْنِ عِبَادَتِكَ!

اللّٰهُمَّ اِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدٰى وَالتُّقٰى، وَالعفاف وَالْغِنٰى «پالونکیه له تا سوال کوم د لار موندنې، پرهېزګارۍ، پاک لمنۍ او پیاوړتیا بډاینې».

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ، وَمِنْ شَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَ أَنْ يَحْضُرُونِ «پالونکيه پناه دروړم تاته ستا په پوره او کاملو کلمو او قرآن ستا له قهر څخه، ستا د بندګانو له شر څخه او د شيطان د وسوسو له شر څخه او له دې څخه چې د تل لپاره شيطان د دوی پر سر حاضر وي او په خپلو وسوسو دوی آزاروي».

[رَبَّنَا لاَ تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ] آل عمران ۸، زموږ پروردګاره! کله چې تا موږ پر سمه لار خوځولي يو، نو بيا مو هېڅکله زړونه مه کږوه، موږ ته د خپلې پېرزوينې له زېرمې څخه رحمت را په برخه کړه، چې همدا ته حقيقي لوروونکی يې.

**له هر فرض لمانځه وروسته بايد دغه لاندې دعاګانې ولوستل شي:**

۱) پالونکيه ستا څخه د لارموندنې، پرهېزګارۍ، پاک لمنۍ او بډاينې غوښتنه کوم.

۲) پالونکيه د شيطان له وسوسو څخه تاته پناه دروړم او له هغه څه نه چې ماته دننه شي هم تاته پناه دروړم.

۳) پالونکيه ايمان زما لپاره د خوښې وړ وګرځوه او د زړه لپاره مې يې ښکلا وګرځوه او ما د کفر، فسق او نافرمانۍ څخه بېزاره کړه او ما د لارموندونکو څخه وګرځوه.

۴) پالونکيه لکه څنګه دې چې زموږ حق لوري ته لارښوونکی شوې نو بيا مو زړونه باطل ته مه کږوه اوله خپل کرم څخه پر موږ لوروونکی شه څکه ته له شک پرته ښښونکی يې.

۵) پالونکيه ستا د حلالو په وسيله موږ له حرامو څخه بې نيازه کړې او ستا

د طاعت په وسیله موږ له ګناه څخه بېزاره کړې او له هغه چا مو هم په خپل کرم لرې کړې څوک چې ستا څخه لرې دي.

### ۴) د ملائیکو ملګرتیا

هڅه دې وشي ترڅو ملائیکې له دغه کس سره ملګرتیا وکړي او ورته دعا او د ښښنې دعاګانې وکړي او دا په هر وخت کې امکان لري چې د ملائیکې پلټنه وشي چې پرښتې چېرې راټولېږي. دوی په هر هغه ځای کې چې هلته انځور، مجسمه، حرام کارونه لکه اوازونه، سندرې، ګډا، ناپاکي او بربنډېتوب وي او له هغه چا سره چې شیطان ملګری وي نه حاضرېږي.

هڅه دې وشي ترڅو دغه کس د ملائیکو او پرښتو شتون حس کړي په ذکر، ښښنې غوښتلو او له ګناه څخه په لرې والي وکولی شي د پرښتو ملګرتیا وکړي، د پرښتو د ملګرتیا په واسطه بیا کولی شي د الله ﷻ په امر د شیطانانو او اماره نفس سره کلکه مبارزه وکړي او د دغه بد عادت رېښې له بېخه وباسي. که چېرې د نن ورځې د دنیا حقیقت په خپل فکر کې انځور کړو نو پوه به شو چې ولې دغه دنیا د شیطانانو ځړځای او د ملائیکو او پرښتو د شړلو میدان ګرځېدلې ده.

### ۵) د شیطاني جنسي وسوسو برلاسي

شیطاني وسوسې په هغه اندازه روښانه نه دي چې هرڅوک دې هغه نه پاملرنه وکړي او له هغه څخه د لرې واوسي، په ځانګړې توګه هغه څوک چې له الله ﷻ څخه لرې وي او د شهواتو په ډنډ کې ډوب شوی وي، د شیطان تګلاره دا نه ده چې په صراحت سره یو څوک دعوت کړي او ووایي: راځه فلانیه او زنا وکړه، شراب وڅښه او یا استمنا وکړه، بلکې د هغه اوږدمهاله تجربو په اساس چې د آدم له اولادې سره یې لري راځي او وایي:

ولې د دغه فلم یوه برخه نه ګورې، څکه دغه فلم کې خو څوانان علمي بحث کوي؟ ترڅو تاته نور پس پاتې ونه وایي دا وګوره څکه چې دغه فلم کې د ازدواج اړوند ګټور مسایل زده کولی شې. دا وګوره او هغه وګوره. د دغه اور ډوله ټکانونو په وسیله تاته کوچني ټکانونه درکوي او آرامه نه کیني او بیا روږدي کس هغه وخت بوازې پریږدي چې یاد کس د شهواتو او حرامیتوب په ډنډ کې غرق او ډوب کړي.

په داسې حال کې که چیرې د شیطان بې لارې کوونکې تګلارې ښکاره شي نو بیا بنده الله ﷻ ته په پناه وړلو د الله ﷻ، ملائیکو او پرښتو په ملګرتیا د هغه په شړلو کې برلاسي ترلاسه کوي، په همغه ډول چې زموږ پالونکي د شیطان پر وړاندې د ساتنې دغه لارې آسانه کړې دي او د لار موندنې پیغمبر ﷺ دغه لارې موږ ته په ډاګه کړې دي چې د یوې ډلې دعاګانو او اذکارو چې مسلمان هغه شپه او ورځ، د کور څخه وتلو او ننوتلو پرمهال، د خوب او بېدارۍ پر وخت او نورو کړنو د اجرا پر وخت تکراریږي او په کتابتونونو کې دغه ډول مسنونو دعاګانو کتابونه خورا ډېر دي. نو باید دغه ډول اذکار پر له پسې تکرار شي. که الله ﷻ وغواړي نو دغه لویه وسله به د دغه مکار دښمن او اماره نفس پر وړاندې ستاسو غوره ملګرې وي ترڅو تاسې خپل ځانونه د شیطان او نفس له بدۍ څخه پرې وساتئ.

**د شیطان پر وړاندې د ځان ساتنې هغه ذکرونه او دعاګانې چې د پیغمبر ﷺ څخه روایت شوې دي:**

سهار او مازدیګر مهال د آیة الکرسي لوستل، سهار او ماښام د اخلاص، فلق او ناس سورتونو درې څله لوستل او وروسته ورسره درود یوځای کول.

د مسجد څخه د وتلو وروسته درود او بیا دا ووایئ: «اللَّهُمَّ اعْصِمْنِي مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

د خوراک، څښاک او جامو اغوستلو پرمهال د الله ﷻ نوم تل په ژبه جاري وساتئ، ځکه دغه عمل شيطان له خوراک، څښاک او د ياد کس د عورت څخه شيطان شړي.

کور ته د ننوتلو پر وخت دا ووايئ: «اَعُوْذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَ سُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ» دغه ذکر کور ته د شيطان د ننوتلو خنډ جوړېږي.

د کور څخه د وتلو پرمهال دا ووايئ: «بِسْمِ اللهِ وَلَجنَا، وَ بِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَ عَلٰى رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا» دغه ذکر شيطان د ورځې په اوږدو کې د ويونکي شخص څخه شړي.

بيت الخلاء يا تشناب ته د ننه کېدلو پرمهال دا ووايئ: «بِسْمِ اللهِ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ».

د ويده کېدلو پرمهال دا درې ځلې ووايئ: «اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ» او د بقرې سورت دوه وروستي آياتونه او آيت الکرسي ووايئ.

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْکَ لَهُ، لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَايَمُوْتُ اَبَداً اَبَداً ذُوالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام بِيَدِهِ الْخَيْرِ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْر» دغه ذکر په ورځ کې سل ځله ولولئ ځکه چې دغه ذکر ستاسو او شيطان ترمنځ يو پياوړی پټنځای دی.

الله ﷻ ډېر ياد کړئ او د هغه له شر څخه الله ﷻ ته پناه يوسئ.

په کور کې د بقره سورت ولولئ. د مراويتوب، وهم او فکري سوچونو د چاپېرولو وخت کې اودس وکړئ او لمونځ ادا کړئ... ځکه دغه دوه شيان د شهوت بنه تکوونکي دي.

په حقيقت کې د دغه دعاګانو او اذکارو څخه لرې والی د ورځې په اوږدو کې د دې سبب کېږي چې شيطان پر انسان باندې برلاسی شي او د انسان ملګری شي، چې شيطان د دغه اذکارو او دعاګانو د نه ويلو له کبله د انسان سره هغه ډول ملګرتيا کوي چې بيا په ټولو کړنو کې ورسره ملګری وي ترڅو چې په پايله کې يې د فحشا او ګمراهی ډنډ ته غورځوي.

## ٦) وختي واده کول

دا اړينه بولم چې خپلو ځوانانو ته ووايم: ځوانانو کوښښ وکړئ ترڅو وختي واده وکړئ هڅه وکړئ ترڅو چې خپل مور او پلار ته قناعت ورکړئ او ورته ووايئ چې دغه عمل ستاسو د ملاتړ او د دين، روح او روغتيا په خاطر کوم.

اصل دين ته وګرځئ، هغه غوره کړئ او د کورنۍ پر وړاندې له مسؤليت او يا طلاق او يا نورو هغو بې لارې کوونکو مفهومونو څخه چې نن ورځ يې موږ د بېلا بېلو وسايلو څخه اورو او لولو، د خپل پالونکي څخه د لرې والي په خاطر او د ايمان د کمزورۍ له کبله يې په موږ کې نفوذ کړی دی، مه وېرېږئ.

پر خپل ټول توان سره د بې حجابه، سينګار کړيو ښځو څخه چې د دروغجنې آزادۍ ډنډورې غږوي او د ملګرو سره په پيسو، نوي موټر، آخرين ورځني موډ کې سيالي کوي لرې واوسئ... لرې واوسئ... لرې واوسئ... او نجونو ته وايم چې د دنيا پرسته مېړونو څخه لرې وساتئ، له هغو څخه چې په ښکاره ګناه کوي، فحشا ته يې مخه کړې وي. په عباداتو کې زياتی کوي او حرام کارونه آسانه نيسي. د درسونو د نه بشپړتيا له کبله د نېک او صالح انسان سره له ازدواج مخ مه اړوئ که څه هم ستاسې عمر کم

وي. او د هغه غولوونکو د شعار څخه ځانونه مه اغېزمنوئ چې د دروغجنې آزادۍ، د کور څخه بهر وتلو او بربنډتوب چیغې وهي. ځکه دغه سړي او ښځې چې ذکر شول د باور وړ نه دي چې وکولی شي د کور، آبرو، ناموس او اولادونو مسؤلیت پر غاړه واخلي او دغه ډله کسان څومره ډېر په ناځایې ډول د خیانت، بېلتون، مړاویتوب او انتقام لور ته خپل ځان او نور کشوي او په لویو ګناهونو لکه زنا باندې اخته کېږي.

مور او پلار ته دې دا قناعت ورکړه چې په تا کې اوس د ازدواج اړوند مسؤلیتونه پیدا کړي، ستا غوښتنه ومني او ستا سره د دغه غوښتنې د تحقق لپاره بدې راونغاړي. دا کار وکړه او واده وکړه مخکې تردې چې ستا هغه حوصله چې په شرعي ډول ستا د قانوني واده اړوند کړې پای ته ورسیږي او ونه شي کولی د هغو سره په حلاله یوځای شې، په داسې حال کې چې هغه ستا غوښتونکې او ته د هغه غوښتونکی یې چې په دغه ډول به وکولی شې پاکي، خوند او ډېره ګټه له ځان څخه وڅکې.

والدین باید په دغه کار کې له الله ﷻ څخه ووېرېږي او د ولور او مهر په کمولو سره په دغه لویه موخه کې د ځوانانو سره مرسته وکړي، چې دا مرسته په بېلا بېلو طریقو تحقق پیدا کولی شي چې له هغه جملې څخه یو د هغه مصرفونه او لګښتونو راټولول دي چې په بې ځایه کارونو لکه ګرانبیه موټر او بهرني سفرونو کې یې لګوي. دا کړنه د سالم مسؤلیت منلو او اولاد د ژوند سره د صحیح تعامل په صورت کې کېدی شي.

که چېرې کوم ځوان له غریبې کورنۍ څخه وي نو باید د هغه ښاغلو او سخي کورنیو چې نېک او صالح خلک په خپل زومولی قبلوي او غم یې د نجونو او لورانو مهر اخیستل نه وي اړیکه ټینګه شي او زه په کلکه والدینو ته وایم چې مخکې له دې چې د خپلو لورانو او زامنو د پاربدنې علت او سرچینه

پيدا کړئ او له حرامو څخه يې وژغورئ نو په دغه لارښوونو عمل وکړئ.

د هغه ځوان لپاره ځانګړې زېرې دي چې د دين او نفس د ساتنې لپاره زړ واده کوي، دغه زېرې د رسولﷺ څخه داسې روايت شوي دي، درې حقونه د الله ﷻ په غاړه دي چې ملاتړ يې وکړي، يو له هغه ډلې څخه هغه ځوان دی چې د خپلې پاک لمنی په خاطر واده کوي او له شک پرته چې واده د شهوتونو سره د مبارزې يوه پياوړې درملنه ده.

رسولﷺ فرمايي: «اې ځوانانو له تاسې څخه چې څوک د واده کولو توان لري، نو بايد واده وکړي، ځکه واده د سترګو پټولو او د عورت د ساتنې سبب ګرځي». او دا هغه نصيحت دی چې هر عاقل او پوه کس يې پېغلو نجونو او ځوانانو ته وړاندې کوي ترڅو د شرعي لارې خپل ځان خوندي کړي او د شهوت بل کړی شوی اور مړ کړي.

**۷) د نېکو خلکو له ډلې سره ملګرتيا او ځان نښلول**

انسان تر ډېره بايد د يوازېوالي څخه ځان وساتي او د نېکو خلکو سره ملګرتيا غوره کړي.

الله ﷻ فرمايي: [وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ] «آل عمران ۱۰۳» او د ځينو رواياتو په معنی کې داسې راغلي دي چې: د الله ﷻ لاس او ملاتړ له جماعت سره دی، او لېوه هغه پسه نشي خوړلی چې د رمې سره يوځای وي، بلکې هغه پسه خوري چې له رمې څخه لرې پاتې شوی وي.

او په بېلا بېلو رواياتو کې راغلي دي چې شيطان د هغه خلکو سره ملګری کېږي چې يوازې وي او کله چې دوه کسه شي له هغه څخه لرې ګرځي.

کله چې انسان هڅه کوي ترڅو د نېکو ملګرو او دوستانو سره يوځای شي

او داسې څوک پیدا نشي چې هغه د شر لور ته وهڅوي نو شیطان هم په هغه کې د ننوتلو لار نشي پیدا کولی او که الله ﷻ وغواړي په دغه ډول ثابت پاتې کېدی شي او که یوازې وي نو بیا حقیقت د دې برعکس دی.

نو د دغه کس لپاره غوره او ګټور دی چې د ټولنې د خیر او مرستې لپاره هڅه وکړي او یا په کومه درسي او علمي حلقه کې ګډون وکړي او د دغه ډول ډلې سره یوځای پرمخ حرکت وکړي، نو الله ﷻ به هم په دغه قدمونو کې برکت واچوي او له دغه روایت څخه مطلب همغه نېکه ډله ده چې د نېکمرغۍ او نېکۍ تحقق خپله دنده بولي، خو کله چې دغه ډول کسان شتون ونه لري نو له شک پرته چې بیا له بدو ملګرو څخه یوازېوالی غوره دی.

د هغه ځایونو له ډلې چې هلته زده کوونکي او زده‌کړیالان په هغه ځای کې د پوره پاملرنې څخه برخمن کېږي او په هغه کې صالح کسان پیدا کېږي هغه د قرآن د یادولو مرکزونه، پسرلني او دوبني ټولګي او یا هغه خیریه مؤسسې دي چې ځوانانو ته ښه فرصتونه برابروي او د دوی د ویښتابه لپاره هلې ځلې کوي.

**۸) د اوزګارتیا او بې کارۍ وختونه**

په رښتیا چې یو له هغو اساسي نعمتونو څخه چې انسان پکښې ډېر تاواني دی یو روغتیا ده او بل اوزګارتیا، یعنې داسې چې نیم ساعت داسې تېر کړې چې نه د دنیا لپاره او نه د دین لپاره کوم ګټور کار پکښې وکړې ځان وژغوره. که داسې ونه کړې نو دغه اوزګار وختونه به ستاسو لپاره یو داسې درد جوړ شي چې شیطان به دویم ځلې ستاسو ملګری شي او تاسو به هغه عمل ته ورتېل وهي چې تاسې ورڅخه د ځان ساتلو هڅه کوئ.

له تېرو برخو څخه موږ ته دا په ډاګه شوه چې د نکاح اړوند د پېغلو او

ځوانانو یې میلې له یوې خوا د ستونزو له کبله ده، خو له بل پلوه د بدو ملګرو شتون دی چې د دوی اوزګار وختونه یې له تباهۍ سره مخ کړي او دوی یې فساد ته هڅولي دي، چې له هغې ډلې څخه یې یو استمنا هم ده. الله ﷻ دې موږ او تاسې له دغه ډول بدیو او ناوړه کړنو څخه وساتې.

## ۹) ډیش انتنونه او ویډیویي فلمونه

په رښتیا سره چې ډیش انتنونه د ډېرې نوو اختراعګانو غوندې لکه تلویزیون او رادیو او... عمل کوي. که چېرې یې تاوان پر ګټه لوړ شي او په هغه کې د فساد او ضرر واقع کېدل په ثبوت ورسي، یا دغه وسیله په حرامو سره وکتل شي او تاسې په حرامو کې واقع کړي، نو بیا طبعاً په همغه ډول چې علماو یې په حراموالي فتوی ورکړې ده له شک پرته چې حرامېږي.

نن ورځ د دغه شبکو حقیقت هر کوچني او لوی، عاقل او ناپوه ټولو ته معلوم دی. د فساد او حرامو شیانو په خپرولو کې دومره وړاندې تللي چې اندازه یې نه لګي، نه یوازې دا بلکې له عقیدوي کږوالي رانیولې تر جنسي کږوالي او بې‌لارۍ چې زموږ د موضوع اصلي محور دی، پیل کړی او د دروغجنې آزادۍ په پلمه د دین، حیا او شرم څخه لرې پاتې دي او دا هرڅه یې له لاسه ورکړي دي، څه خو لا دا چې د هغه کسانو لپاره پکښې هم خواب دی چې په دغه دردوونکي حقیقت خپلې سترګې پټوي او د پرمختګ او تمدن په دروغجن ټینګار ورته بهانې جوړوي.

دا ممکنه نه ده چې دغه شبکې دې په خپلو اعلاناتو کې د ښځې انځورونه ونه کاروي، هغه هم هغه ډول انځورونه چې سوچه بربنډ او موخه یې د لیدونکو او مشتریانو جذب او توجه وي.

تر ټولو دردونکې مسئله بیا دا ده چې د ډېرې مسلمانانو پر وړاندې دا

طبيعي او معمولي خبره ده چې د تلويزيون د پردې ويندويانې او وړاندې کوونکو ښځو ته کتل ورته حرام نه ښکاره کيږي، په داسې حال کې دغه ښځې يا بربنډې دي يا يې تنګ، نازک، چسپ او لنډ لباس په تن وي او په دغه لباس کې يې د ناز او نخرو او د حيا او پاک لمنی د لمنځه وړونکو وسايلو څخه کار اخيستی وي او دغه خبره يوازې د سړو په حق کې نه ده بلکې د ښځو لپاره هم يو شيطاني جال ګرځېدلی او دښمنانو يې د کمزورې ټکي څخه ګټه پورته کړې ترڅو يې د عاطفي احساس څخه استفاده وکړي. له دغه ډول لارو دښمنان د يوې داسې وسلې په توګه کار اخلي (د عاشقانه کيسو په خپرولو او يا د سړيو د عورت په وړاندې کولو په بېلا بېلو لارو لکه فلم، سريال او هغه هم هغه سريالونه چې په کفري هېوادونو کې د هغوی د کلتور او فرهنګ مطابق چې هېڅ د اسلامي ټولنې د کلتور سره اړخ نه لګوي جوړ شوي وي وړاندې کوي، چې دا حقيقت ټولو ته منونکی دی چې هېڅ عاقل سترګې ورباندې نشي پټولی) د دغه واقعيت څخه د لا خبرتيا په هيله به تاسې ته يوه کيسه وړاندې کړم چې يوه پنځه کلنه ماشومه پکښې څه ډول غبرګون ښيي... دغه نجلی په بيړه سره د پلار لور ته ولاړه، په داسې حال کې چې پر مخ يې د حيرانتيا نښې له ورايه ښکارېدې، چيغه يې وکړه او پلار ته يې وويل: پلاره... پلاره... راشه پلاره هغې ښځې ته وګوره چې په تلويزيون کې ښکاري! په کوڅه کې روانه ده او يوه نرۍ تيکه يې پرڅان ده نوره ټوله بربنډه ده او سړي هم هغه ته ګوري. آيا هغه مسلمانه ده؟

پلار يې په چټکۍ سره ورته وويل: نه هغه کافره ده. برعکس چې دا منظره د يوه عربي تلويزيون له پردې څخه خپريدله.

په دغه وخت کې هغه د برېښنا په ډول دويمه پوښتنه وکړه: که کافره ده نو ولې دغه سړي چې هغې ته ګوري حيا نه کوي؟ آيا هر څوک د هغه په شان

کېدی شي؟ او نور سوالونه د دې باعث شول چې غیرتي پلار یې تلویزیون او دغه لعنتي وسیله له کوره لرې کړي (او خپل کور ترې پاک کړي).

دا د هغه نجلۍ کیسه ده چې پلار یې غواړي په هغه کې د اسلامي تربیې او روزنې مطابق د دین او پاک لمنۍ زړې وکري؛ خو کله چې هغه دیش انتن کور ته راوړي هغه څه یې چې په کې کرلي په څو ثانیو کې د هغه له فکر څخه وباسي، نو په همدې اساس په داسې حالاتو کې به د هغه ځوانانو حالت څنګه وي چې نوې ځوانۍ ته رسېدلي وي او دوی هر ډول فساد، جنسي پارونې او نور ورته مسایل په خپلو سترګو ویني، د دوی غبرګون به څه وي؟ دننه پایلې به یې د بهرنیو پایلو مخکې څه وي؟ د عقل خاوندان او هغه چاته چې امر شوی خپل ځان او کورنۍ له هغه اور څخه وساتي چې خس او خاشاک یې همدغه بدکاره خلک او تیږې دي له دغه ډول وسایلو څخه منعه کړي.

په غرب کې هم کله چې د دغه شبکو څخه د خپرېدونکو بې‌لاریو اوسط لوړ شو او لویې اغیزې لکه بې‌لارې، د سرک سر حرامیان، د جنین سقط او قتل، روږدیوالی، مراویتوب، ژور خپګان، ځان وژنه او تر ټولو خطرناک د ماشومانو په منځ کې ډول ډول فساد خپرېدل، دغه خلکو په خپله ولیدلې نو له دغه حالت څخه سخت په وېره کې شول او د اصلاح په لټه کې شول ترڅو دغه غلط وضعیت جبران کړي نو په خپلو بچیانو څارونکي شول او د ټولنیزو ډلو په شان یې ځانګړې وخت د دغه غلط حالت جبران ته ورکړ.

نو د حیرانتیا خبره نه ده چې غربي، کافره، بې دینه او ملحده کورنۍ چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ایمان نه لري راپاڅېږي او د دغه ډول حالاتو په قابو کولو کې یو بل ته لاس ورکوي.

د حيرانتيا خبره دا ده چې د هغو شبکو بې‌لارې کوونکې سريالونه په عربي[1] ژباړه کېږي او د اسلامي عربي هېواد له چاينلونو مسلمان نسل ته خپرېږي. بله جالبه دا ده چې په همدغه کفري شبکو کې يوه شبکه د عربي تلويزيون ځينې اسلامي سريالونه د کورنۍ او ټولنې اړوند هغوی ته يعنې په کفري هېواد کې وړاندې کوي ترڅو هغوی پرې د خپلې کورنۍ ساتنه وکړي.

په دغه حال کې هم ځينې مسلمانان په دې ټينګار کوي چې دغو شبکو ته اړتيا شته او د دوی په اصطلاح د دغه شبکو په تعقيبولو سره دوی پرمختګ کوي او که يې ونه ګوري نو وروسته به پاتې وي او ډېری ورځخه دفاع هم کوي.

که ورته وويل شي چې د دغه پروګرامونو پرځای نور ګټور پروګرامونه تعقيب کړئ او دا حرام يوې خواته وغورځوئ، نو دوی به ډول ډول هيلې او شيطاني بهانې درته وړاندې کړي. ځکه د دوی نفس د هغه څه په لټه کې دی چې دوی يې حقيقت پېژني، په ځانګړې توګه د دې ضمانت يا څوک کولی شي چې د فساد په دغه شبکو کې د يوې شبکې په پيدا کولو او لټولو کې د نوي ځوانان او پېغلې نورو شبکو ته سر ورښکته نه کړي. کله چې دغه ځوانان د دغه فساد او اور بلوونکو شبکو ځينې صحنې ويني، نو بيا طبيعي

---

[1] د دغه کتابګوټي ليکوال عرب دی نو ځکه يې عربي هېوادونه ياد کړي دي، له بده‌مرغه چې زموږ په هېواد کې يا د ترکي او هندي بې‌لارې کوونکو سريالونو ژباړه کېږي. زموږ د ډېری هېوادوالو په مهالويش کې د شپې له اوو بجو څخه تر لس بجو وخت دغه سريالونو ته ورکړی دی او که له همدغه ډله کسانو څخه په دغه مهالويش کې کوم سريال پاتې شي نو بيا يې د ورځې تکرار ګوري. د حيرانتيا خبره دا ده چې د کورنۍ سرپرست سره له ټولې نارينه او ښځينه کورنۍ دغه فساد خپروونکو سريالونو ته يوځای ناست وي، په دغه ډله خلکو کې نه د غيرت او نه د معنويت څرک ليدل کېږي، بچيان يې د ورځې د نورو خلکو د ناموسونو په تعقيبولو ورخ تېروي او ناخبره او بې‌لارې لونې يې د نورو انساني لېوانو د ښکار قرباني کېږي، ژباړن.

خبره ده چې تر پای پورې به یې تعقیبوي.

له بل پلوه ولې د دغه ډول عاقل او پوه سړي لرليد همدومره دی او بس؟ آيا دا هيله بيا کېدی شي چې ځوانان او پېغلې دې د ځوانی په پړاو کې چې يوازې هم وي هغه شهوت پاروونکې صحنې ونه گوري او دوی دې د گټورو پروگرامونو پلټنه وکړي؟

په خپله دغه موضوع کې چې ځوانان او پېغلې د دغه صحنو په بدلولو او را بدلولو کې د زنا لور ته مخه کوي، چې د هغو څخه تر ټولو کوچنی ضرر يې دا دی چې دوی هېڅ ډول ديني او اخلاقي کړنو ته پابند نه دي او دغه شبکې دوی د حيوانيت، پارونې او جنسي سوچونو لور ته بيايي.

نو په همدې اساس کله چې سريالونه او تلويزيوني فلمونه دوی عشق، زړه بايلنې او لنډه غرۍ او کوڅه ډبۍ ته هڅوي، نو د دغه بهرنيو فاسدو سريالونو حالت به څه وي؟

څه چې تېر شول د دغه شبکو اړوند هغه څه وو چې ټول حقيقت دی او دا د هغه اغېز يو څو صحنې وې چې د ټولنې په عادي خلکو کې څرگنديږي، نو هغه اغېزې چې د فحشا، بې‌ديني او استمنا (پټ عادت) په خپرولو کې په عام صورت تر سترگو کېږي څه دي؟ تر هغه وخته چې يو کس دغه ډول شبکې څاري نو د هغه د زهرو خوړلو باندې عادت کېږي چې بيا هېڅ درملنه کار نه ورکوي او تر ټولو خو بيا خطرناک حالت دا دی چې په دوی کې د حرامو کرکه ورو او په تدريج سره يې له ذهن څخه وځي، د دغه سريالونو او فلمونو تعقيبوونکي بيا له هرڅه ځان لرې کوي، يوازې دغه فلمونه گوري او بيا د دغه فلمونو سره گډ ژوند کوي.

## ۱۰) غزلې او موسيقي

غزلې او موسيقي د زنا پيغام راوړونکي دي چې شيطان هم له خدای څخه د دغه دوه شيانو غوښتنه کړې تر څو يې موسيقي آذان وي او غزلې او آوازونه يې لمونځ وي.

يو بنده په دغه دوو شيانو سره پر شيطان لمونځ ادا کوي. نو په همدې اساس شيطان د هغه سره مرسته کوي تر څو الله ﷻ هغه د محرماتو په کولو سره ذليل کړي.

د موسيقۍ او آواز په وسيله د ايمان خوند، د قرآن فهم او د بدن د غړو او جوارحو عاجزي له منځه ځي او د سخت زړي او تور زړي سبب ګرځي؛ نو دغه ډول يو کس بيا نه د الله ﷻ اطاعت کولی شي او نه له ګناه څخه ځان لرې ساتلی شي او د موسيقۍ سره د روږدېوالي مهر يې په زړه وهل کيږي. بيا نو لمونځ قضا کوي او يا لټي پکښې کوي، د جماعت څخه ځان غړوي، ټولنه د لويو او کوچنيو محرماتو په ډنډ کې ډوبوي، قرآن او په هغه عمل له سره پرېږدي، واجب په مکروه بدلوي او سنت په بدعت بدلوي.

په ټولنه کې د کورني او ناموس پر وړاندې بې‌غيرتي خپرېږي او په هغه کې د فساد، ګډا، ښځو او سړو يوځای والی (اختلاط) او هغه څه يې چې پايلې دي لکه (شراب، زنا، لواطت، مخدره توکي) رواج پيدا کوي. د موسيقۍ او غزلو په واسطه پاک لمني او حيا له منځه ځي، په زړونو کې اور بلېږي او احساسات له ولکې بهر وځي. نو په همدې اساس څوک چې په موسيقۍ او غزلو کې ډوب وي نو هڅه کوي چې د ځان د خړوبولو لپاره يوه لار، که څه هم د حرامې لارې، عشق، زړه بايلنې او سرګردانۍ له لارې وي ځانته پيدا کړي.

CS CamScanner

## وروره او درنې خورې...

په رښتیا چې موسیقي او غزلې د اسلامي ټولنې یو ناورین او د تباهی تر ټولو لوی عامل دی، بلکې له ځان سره نورې بلاوې هم راوړي. پر همدې اساس څوک چې غواړي د دغه عمل درملنه وکړي نو باید ځان ترې وژغوري ترڅو یې دین او دنیا سالمه پاتې شي، دا هم باید یاد کړم چې له موسیقی څخه باید ټول ځان پاک کړي...

د دغه موضوع اهمیت ته په کتو باید بل ځانګړی ځای غوره شي. ځکه دا هغه مهمه موضوع ده چې د استمنا سره نه بېلېدونکې اړیکې لري او لکه څنګه مو چې وویل د موسیقی څخه ځان ژغورل د استمنا څخه ځان ژغورل دي.

خو هغه څه چې تاسې یې په مخکې لرئ د هغه قدمونو خلاصه او غورچاڼ دی چې د احادیثو له مفهوم، د تېرو علماو له آثارو او د طبي او ټولنیزو ګټورو کتابونو څخه اخیستل شوي دي او ټول له علمي او واقعي تجروبو څخه برخمن دي.

دا منل شوې ده چې دغه قدمونه یوه دوه سره وسله ده. چې د دغه پټ عادت لپاره د درملنې غوره توکي دي، البته دا هغه وخت نور هم تحقق پیدا کوي چې انسان لاس په کار شي او د هغه د ترسره کولو هڅه وکړي او برعکس که چېرې د هغوی اړوند لټي وشي او عمل پرې ونه شي نو د دغه بلا د مهمو خپرېدونکو او د هغه سره د مبارزې د ناتوانی سبب به جوړ شي. نو هیله مو دا ده چې د هغوی اړوند معلومات ترلاسه شي، هغه عملي کړل شي او ګټه یې تر ټولو ورسېږي. تر څو که د الله ﷻ خوښه وي د هغه په وسیله الله ﷻ موږ ته ګټه ورسوي او د دغه بلا څخه د خلاصون او ژغورنې یو سبب جوړ شي.

## د دغه قدمونو غورچاڼ

### الف) کړنې او اعمال

**۱) د الله ﷻ څخه د لاندې لارو په وسیله کومک او مرسته غوښتل**

- د جنابت څخه تل د ځان پاکوالی او د تل لپاره په اوداسه اوسېدل.
- په مسجد کې د پنځه ګونو لمونځونو ادا کول په ځانګړې توګه د سهار او مازدیګر.
- د امکان تر حد او د وس مطابق د نفلو او مستحبو لمونځونو ادا کول.
- د الله ﷻ پر وړاندې د عاجزۍ وزر غوړول او دعا غوښتل.
- د ګناه تر سره کولو وخت کې د الله ﷻ څخه تلپاتې بښنه غوښتل او د الله ﷻ د رحمت څخه نه ناهیلې کېدل.
- لمونځ او ډېرې روژې نیول، چې دا دوه کړنې به خپله د شهوتونو پر وړاندې د ټینګښت او مقاومت تر ټولو غوره ملګرې دي.

**۲) د پرښتو سره د ملګرتیا لپاره د لارې برابرول په لاندې لارښوونو سره:**

- د اوسېدلو کوټې، موټر او نورو خونو څخه د انځورونو او مجسمو لرې کول.
- په بې ځایه کړنو کې نه ډوبېدل لکه، آوازونه، ګډا، فلمونه، نښه یي توکي او د مستۍ سامان آلات.
- په یوازې خونه او کوټه کې د ځان نه لوڅول په ځانګړې توګه د ښځو لپاره.
- د اوسېدلو په ځای کې د شرعي او مسنونو اذکارو او دعاګانو په وسیله

د شیطان شړل.

- په هغه ناستو او مجلسونو کې ګډون کول چې هلته پرښتې شتون لري لکه د دعا، لمانځه، د قرآن د لوستلو او د الله ﷻ د یاد ناستې او مجلسونه.

**۳) په مغزي حجرو کې د شته چتلتیا پاکول او د مغزي حجرو ساتنه په لاندې لارو سره:**

- عقل ته د دې اجازه نه ورکول چې په هر جنسي- او پاروونکي خیال کې ډوب شي.
- د موسیقۍ او غزلو څخه ډډه کول او د هغوی خپرولو ته له ګډا ځان ژغورل.
- د جنسي او شهواني فلمونو، انځورونو او ورځپاڼو څخه ځان په کلکه ساتل.
- د قرآن د هغه آیاتونو حفظ کول چې د حفظ سربېره د حافظې په پیاوړتیا کې مرسته کوي او د چتلیو ځای په دغه ډول ګټورو معلوماتو ډکول.
- هغه مهمو کارونو ته د عقل د یوې برخې ځانګړي کول چې د ټولو ښېګڼه پکښې نغښتې وي، لکه: د نړۍ د مسلمانانو د حال حقیقت، د الله ﷻ لور ته بلنه، د نورو سره مرسته ترڅو دوی لارمونندونکي شي او د عقل او پوهې په وسیله د حرامو کارونو سره مبارزه کول، نېک او غوره نصیحت کول، د مسکینانو، یتیمانو پر حال فکر کول او د خیر ښېګڼې له ټولنو سره مرسته کول او د اوزګار وختونو او فکرونو ډکول په داسې غوره فکرونو سره.
- مړستونونو (هډېرو) او روغتونونو ته ورتګ او د ناروغانو او مړو خلکو په حال فکر کول او د الله ﷻ د نعمتونو اړوند فکر کول او د هغوی پوره درک کول او د خپل فکر ډکول له دغو انګېزو څخه.

### ٤) د ښځو د فتنې پر وړاندې ټینګښت او مقاومت

- له دې څخه مطلب د ښځو فتنه د سړو پر وړاندې او همدارنګه د سړیو د چل او عورت فتنه د ښځو پر وړاندې چې د لاندې کارونو په ډول صورت نیسي.

- د هغه ځایونو څخه لرې اوسېدل چې هلته سړي او ښځې ټولیږي لکه بازارونه او... خو د اړتیا پرمهال، او سړي باید هڅه وکړي په هغه وخت کې دغه ځایونو ته ولاړ شي چې ښځې هلته کمې وي لکه سهار او یا مازدیګر مهال او ښځې هم باید هغه وخت لاړې شي چې سړي کم وي او که ځي هم باید محرم ورسره وي.

- کله چې فتنه منځته راځي او یو څوک پکښې راګیرېږي، نو هغه ته باید ونه ګوري که څه هم ښځه سینګار کړې او ډولي او بربنده وي او یاد سړي په جامه کې او یا موټر او یا... بل څه کې وي چې پاملرنه جلبوي. بلکه دغه وخت کې واجب ده چې خپلې سترګې ښکته واچوي ترڅو الله ﷻ د هغه فساد پرځای د ایمان خوند ځای پرځای کړي او بنده هم دغه خوند په خپل زړه کې احساس کړي.

- چاپېر خلکو لکه خپلوانو او ملګرو ته د ځانګړو مسایلو د بحث وخت او اجازه ورنه کړل شي، که څه هم دغه اړیکې شرعي او حلالې وي یا حرامې، ښځې هم باید دغه مسئلې ته ډېره پاملرنه وکړي او پوره په کلکه ډډه ترې وکړي او که چېرې ونشوی کولی نو د هغه له ملګرتیا دې لاس واخلي.

- سینګار کړیو ښځو ته د غیر مستقیم ډول کتلو څخه کلکه ډډه کول او یا د ښځو او سړیو د بدن د بېلا بېلو برخو له کتلو ځان ساتل که هغه

په تلویزیون کې وي، یا ورځپانه او یا ټولنیزو رسنیو کې... او په هر ډګر کې که وي ځان بې‌خبره تری ساتل. واده کول... واده... واده کول له دینداره کس سره.

**۵) د خوب او ویده کېدلو عادتونه؛ هغه څه چې لاندې وړاندې کېږي د عمل جامه ور واغوندئ:**

- یوازې او له نورو څخه لرې مه ویده کېږئ، ځکه دغه کړنه د شیطان لپاره ډول ډول لارې پرانیزي او دغه کړنه د سوچونو او پارونې لپاره یوه انګېزه ده.
- له اوداسه او پاکو جامو سره په پاک ځای کې ویده شئ او د جنابت په حالت کې د ویده کېدلو ځای ته مه ځئ.
- درې ځله معوذتین (ناس او فلق سورتونه) د اية الكرسي او خوب دعا سره یوځای ولولئ او بیا په ښي اړخ ویده شئ.
- پړمخې او په ګېډه مه ویده کېږئ، ځکه دغه کړنه پاروونکې وي او رسول ﷺ هم موږ ترې منعه کړي یو او دغه ډول ویده کېدل د الله ﷻ د قهر او غوسې سبب ګرځي.
- کله چې د خوب احساس نه کوئ او یا ورته میل نه لرئ، نو په بستره کې اوږده مه ویده کېږئ.
- کله چې له خوب څخه پاڅېږئ نو په چټکې سره پورته شئ او په خپله بستره کې تنبلي مه کوئ ترڅو له خوب څخه وروسته ستاسې شهوت ونه پارېږي.
- لوڅ او یا نیمه بربنډ او یا په نازک لباس کې مه ویده کېږئ.

- د ورېښمو له توټې، نازک لباس او نازکې رجايي ځخه چې په کم لمس سره يې پارونه کېږي. ګټه مه اخلئ.

- د هغه څه ځخه ګټه مه اخلئ لکه نن ورځ يې چې ځينې کسان د خوب پر وخت په غېږ کې نيسي، لکه: بالښت، لويه لانځکه او...

- د شپې وختي ويده شئ او سهار وختي پورته شئ او د ماښام او ماخوستن وخت منځ کې ځان خوب ته مه ورکوئ. او يا هغه خوب ځخه ډډه وکړئ چې ستاسې لمونځ له منځه وړي.

- د مسنون دعاګانو ځخه کومې چې درته آسانه دي يادې کړئ او د خوب پر وخت يې تکرار کړئ.

٦) د ډوډۍ خوړلو پر وخت عادتونه

- دا په ډاګه خبره ده چې ډکه ګېډه يو له هغو اسبابو ځخه ده چې شهوت پاروي؛ نو ښه خبره دا ده چې له ضرورت پرته ګېډه ډکه ونه ساتو.

- د دوشنبې او پنجشنبې ورځو او يا د دوشنبې، سه شنبې، پنجشنبې او يا جمعې د ورځو روژه ونيسئ، په دغه عمل دايمي والی وکړئ او يو په يو د هغه د نه اغېز له کبله هغه مه پرېږدئ. ځکه د ثواب لرلو سره سره د شهوت د غلبې سبب ګرځي.

- د پيشنمي او روژه ماتي پر وخت د خوندورو خوړو چې د وازدو، خوږو او نشايسته‌يي موادو او غوښو اندازه پکښې ډېره وي ډډه وکړئ، يا يې لږ اندازه مصرف کړئ او يا سپکې غذاګانې وخورئ.

- د ډوډۍ د وختونو کمول، د دې لپاره هېڅ دليل نشته چې يو ځوک دې د ورځې درې، څلور او تردې ډېر وخته ډوډۍ وخوري، بلکې د

دې پرځای باید د ډوډۍ وختونه منظم شي او یا لږ تر لږه کم شي.

- د هغه خوراکونو څخه ځان وساتئ چې په هغه کې مالګې ډېر شتون لري لکه سمندري خوراکونه (د ماهي غوښه او...) او مغزونه (بادام او پسته...).

- د نه لوږې پر وخت له ډوډۍ ډډه کول او د ډوډۍ څخه هغه وخت لاس اخیستل ترڅو چې پوره موړ نه وئ.

- د الله ﷻ نوم پر خوراک لوستل او په ښي لاس خوراک کول.

**۷) د ځان او یا لاس مینځلو پر وخت عادتونه**

- حمام ته د ننه کېدلو د دعا نه هېرول.

- د چټک حمام کولو هڅه او په داسې حال کې ډېر وخت نه تېرول چې په لاس او بدن مو صابون او یا شامپو موجوده وي او په دې سره ستاسې شهوت وپاریږي.

- په حمام کې ځان د غلطو سوچونو او جنسي فکرونو څخه ساتل چې پیلوونکی یې شیطان دی.

- د ځانګړي اندام مینځل په نیم ګرمو اوبو سره او د ډېرو یخو اوبو څخه ځان ساتل، همدارنګه د ډېرو ګرمو څخه هم.

- په چټکۍ سره د بدن وچول او په چټکۍ سره د لباس اغوستل او له حمام څخه وتل.

**۸) د وخت ښه په ګټه اخیستنه کې**

- ورځ دې سهار لمانځه ته په پورته کېدو سره پیلول او د سهربو لپاره د سهار لمونځ کول په جماعت سره غوره او مستحب دا ده چې له سهار لمانځه مخکې د شپې وروستي برخې لمونځ او دعا وکړئ او د نورو لپاره هم دعا وکړئ.
- د قرآن تلاوت او حفظ کول او د ګټورو دعاګانو او کتابونو يادول او لوستل.
- د درس او يا کار پيلولو مخکې ځان له لږ سپک تمرين او ورزش سره روږدي کړئ، ښه دا کړنه له دې غوره ده چې بيا له سهار لمانځه وروسته خوب ته وګرځئ خو که خوب ډېره غلبه درباندې وکړه نو بيا کم ويده شئ.
- د وخت او ځای مطابق له کار سره د ورځې تېرول که هغه مکتب وي، پوهنتون وي يا کوم د کار ځای او يا کمپنۍ او شرکت وي. د الله ﷻ نه د درېدلو د وېرې له کبله د بدو دوستانو او ملګرو او پارووټکو وسايلو څخه ځان ساتل.
- غرمه مهال ډوډۍ استراحت او نورو مهمو کارونو ته ځانګړی کړئ. د غرمې وروسته له قېلولې (سنت خوب) پرته بيا تر ماخوستن پورې مه ويده کيږئ.
- مازديګر هغه وخت دی چې بايد ډېره ګټه ترې واخيستل شي، په داسې ډول چې يو ښېرونکی کولی شي دغه وخت کې د انګليسي او کمپيوټر د زده کړې او يا نورو هغه کارونو ته چې د دنيا او آخرت د سرلوړۍ سبب ګرځي نيم ساعت ورکړل شي.
- ښه ځوانان د دغه کارونو او وختونو ټاکلو ته اړ دي. په همغه ډول

لکه څنګه چې دغه وخت کې په غوره ناستو، کنفرانسونو او غونډو، د دعاګانو او د الله ﷻ د ياد په ناستو کې ګډون د ايماني ملګرو سره يوځاى ډېر ارزښت لري، نو بايد د وخت تېرولو او په بې ځايه کارونو کې د هغه له لګولو څخه په کلکه ډډه وکړئ. مازديګر هغه وخت دى چې د هغه څخه په ګټه اخيستنه له تاسې يو توليدي مسلمان جوړوي، چې هم مو خير دين او هم خپلې تولنې ته رسېدى شي. غوره دا ده چې د وخت لپاره ښه کړنلاره جوړه کړو.

- يوازې بايد مور او زموږ کورنۍ د شپې (۱۰) بجو خوب باندې روږدي شو او ماښام مهال يوه سپکه ډوډۍ د خپلې کورنۍ سره وخورو.

- د پنجشنبې او جمعې ورځ د کورنۍ او خپلوانو د پوره احوال اخيستلو لپاره او همدارنګه د نورو ګټورو فعاليتونو لپاره ځانګړې کړو، کولى شو دغه ورځو کې آسانه لوبې او ورزشونه د اسلامي اصولو مطابق ترسره کړو، همدارنګه کولى شو د اونۍ په دغه مهمو وختونو کې ډېر وخت ګټورې مطالعې، د قرآن کريم تلاوت، د علماو ژوند ليکونو لوستلو او د شپې د فلمونو له کتلو ډډه وکړو، ترڅو دغه وخت بې ځايه تېر نشي او د يوې اونۍ هڅې مو په اوبو لاهو نشي.

- اسلامي کتابتونو ته تګ او د هغه موضوعګانو تاکل چې روح او روان ته ښه غذا برابروي او يو څه وخت د هغه لوستلو او اورېدلو ته ورکول.

- روغتونونو او يتيم خونو ته ورتګ او د سختو ناروغانو پوښتنه او پالنه کول، همدارنګه د عمر خوړلو او معلولينو پوښتنه کول او په اونيز يا مياشتني ډول يوځل د هديرې زيارت کول، ترڅو په خپل شته حالت شکر وويستل شي او د الله ﷻ ستاينه وکړل شي.

۹) ملګري

- ملګري هغه مهمه وسیله ده چې یو انسان له هېڅه څخه هر ډول اغېزمن کېدی شي.
- لکه څرنګه چې پخوانیو ویلي دي: ملګری د جاذبې یو خاصیت لري، که یو څوک له لمونځ کوونکي سره ملګری وي نو لمونځ به کوي او که له یوه سندر غاړي سره نو سندرې به وایي.
- په همغه ډول لکه په یو عربي شعر کې چې راغلي دي: «له یو چا څخه مه پوښته بلکې له ملګري یې وپوښته. په رښتیا چې د یو کس نسبت خپل ملګري ته کیږي» یعنې په دې معنا چې د یو چا د پېژندلو لپاره د هغه په ملګرو کې فکر وکړه چې له چا سره ناسته ولاړه لري.
- نو په همدې اساس که د یو چا ملګري بد خلک وي او د هغه ملګرتیا یې د پرمختګ سبب نشي جوړېدی، غوره او واجب ده چې له هغه څخه ځان وساتي او د هغه په ځای له داسې چا سره ملګرتیا غوره کړي چې نېک وي، له الله ﷻ وېرېږي، ملګری هڅوي، له الله ﷻ وروسته د ملګري سره د ژوند په مسایلو کې مرسته کوي. دغه ډول ملګري د دنیوي مصلحتونو سربېره د روحي ارامۍ سبب ګرځي او دغه ډول ملګري په ټولو دنیوي ملګریو کې بریالي تمامېدی شي. نو د دغه ډول ملګرو په پیدا کولو کې ټوله انرژي مصرف کړئ.
- بیا په ډېر تدریج سره یوازې په دې نیت لومړی ډلې ملګرو ته وګرځئ چې د هغوی هم اصلاح وشي، نه داسې چې تاسې بیا لومړي حالت ته وګرځئ. چې دا د الله ﷻ په مرسته او ستاسې په لاربښوونه کېدی شي.

CS CamScanner

**۱۰) ستا د راتلونکې لپاره**

- که چېرې د کار پیل سخت و او یا د عمل پایلې هیله بښونکې نه وې، نو مه ناهیلې کېږئ، بلکې باید هیله من او خوښ لیدي واوسئ، ځکه هیله مندي او خوښ لیدي تل بریالی وي او یو انسان ته د شیطان د ننوتلو لار همدا ناهیلي ده.
- کله چې یو څوک د سختیو او ستونزو پر وړاندې مقاومت کوي، بیا له ماتې سره مخ کیږي، نو بیا په هغه کې د ناتواني، تلپاتې کمزوري حس باید ژوندی نه شي بلکې باید راوګرځي او په نوو قدمونو سره پیل وکړي...
- دا باید هېره نه کړو چې الله ﷻ موږ بشپړ نه یو پیدا کړي نو که هرڅومره ډېر موږ غلطی وکړو باید دویم ځلي له خپل بښونکي پالونکي څخه مرسته وغواړو، ملګرتیا یې وکړو او استغفار ووایو.
- په درملنه او ځان ساتنه کې باید بېړه ونه کړو، ځکه دغه عادت هغه درد دی چې درملنه یې آسانه نه ده او باید په تدریج سره پرمخ ولاړ شو او باید په دغه تدریج او پرمختګ سره بیا شیطان ته د ننوتلو لاره ورنه کړو.

**که چېرې د تېرو ټولو هغو لارو چې د دغه عمل په درملنه کې وویل شول بیا هم د هغه پر وړاندې د ماتې سره مخ شوې نو بیا به څه کوې؟**

- که چېرې دې دغه کار په پیل کې ستونزه پیدا کړه نو اندېښنه مه کوه او پوه شه چې دا یو طبیعي امر دی... کله د مقاومت وړتیا لرې او کله یې نه لرې... کله د دې وړتیا لرې چې د جنسي- او شهواني فکرونو سره مبارزه وکړې او هغه له ځانه لرې کړې او کله دغه سوچونه په تا

برلاسي کيږي... مبارزه د کړۍ شکل لري... په تولیز ډول يې هغه وخت رېښې له بېخه ایستل کېدای شي چې په تدریج سره په پورته لارښوونو عمل وشي...

- هغه وخت څه کوې که کوږ شوې او خپل ځان دې په شهواتو کې ډوب ولید، هغه هم په داسې ډول چې د شهواتو پر وړاندې مبارزه کې مقاومت له لاسه ورکړې؟

- ستونزه نشته... شیطان ته د دې اجازه مه ورکوه ترڅو له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي او تا په وهم کې وغورځوي چې بیا به هېڅکله ونشې کولی استقامت وکړې، بلکې کله دې چې په دغه عمل لاس پورې کړ په لاندې لارښوونو عمل وکړه:

- له الله ﷻ څخه بښنه وغواړه او په توبې سره د هغه لور ته وګرځه. بیاوړی عزم وکړه او بیا د دغه عمل لور ته مه ګرځه او په دعا او خالصانه نیت سره د الله ﷻ د رحمت او بښنې دروازه ور وټکوه.

- له جنابت څخه غسل وکړه، اودس وکړه، نفل لمونځ ادا کړه او خپل ځان فرض لمانځه ته تیار کړه.

- له حلیم ذات څخه وغواړه چې د هغه شیطاني او نفسي وسوسو او سوچونو چې تا د بدۍ لور ته بیایي، استقامت وکړه او له هغه څخه مرسته وغواړه او په غوښتنه کې يې له خپل پالونکي رب څخه حیا مه کوه، څکه یوازې الله ﷻ تاسره مرستندوی واقع کېدی شي، فکر او عاطفه دې د هر ډول جنسي احساس او خوند څخه پاکه کړه، د دې پرځای د خپل ځان، پیغمبر، حورو او د الله ﷻ مینه په زړه کې پیدا کړه. مطمئن اوسه که چېرې خپل نیت د هغه لپاره خالص وګرځوې او

د هغه په لار کې استقامت وکړي او د لارموندنې غوښتونکی شي نو هغه ذات به ستا دعاګانې قبولې کړي. او الله ﷻ هېڅکله د خپلې وعدې خلاف عمل نه کوي. لکه څرنګه چې فرمايي: [وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ] «عنکبوت ٦٩». کوم کسان چې زموږ په خاطر مجاهده کوي او کړي، هغو ته به موږ خپلې لارې ورونښيو او په باوري ډول الله ﷻ د نېکو کارانو ملګری دی.

**پر له پسې دا په یاد ولره چې:**

- کله چې په کم عمر کې تاسې دغه عمل ترسره کوئ، په راتلونکي کې د جنسي پیاوړتیا او خوند څخه تر ډېره خوند نشئ اخیستلی.
- د دغه عمل په لومړیو کې مخه نیول آسانه دي ترڅو چې میاشتې او کلونه پرې تېر شي، ځکه د وخت په تېرېدو ستا د بدن وړتیا کمزوري کوي. نو په همدې اساس واجب ده چې په کم عمر کې دغه عمل ودرول شي او له هغه څخه ځان بې‌پروا شي او هېڅکله بايد دا ګمان ونه کړئ چې هر وخت تاسې وغواړئ بیا کولی شئ دغه عمل ودروئ، ځکه دغه کار بیا ډېر ستونزمن دی...
- په رښتیا که چېرې یو سړی په یوه شپه کې د ټول عالم ښځو ته لاس رسی ولري، راتلونکې ورځ به بیا هم د نورو ښځو په لټه کې شي، ځکه دا هغه میل دی چې درېدل نه لري. ترهغه چې دا کار ادامه ولري نو څه ګټه به ولري چې د دغه کس وخت پای ومومي او دی د ښځو په لټه کې په دغه عمل لاس پورې کړي؟ نو هغه به بیا په دغه دنیا کې خوند ترلاسه نه کړي او الله ﷻ به هم ترې راضي نه شي او هېڅکله به جنتي حورو ته لاس پیدا نه کړي.

- کله چې په دې هم پوره پوه یې چې جنسي او شهواني فکرونه حرام دي. او د کبیره او لویو ګناهونو څخه شمېرل کېږي. په داسې ډول چې د عامل کس د هلاکت سبب هم ګرځي. نو بیا ولې په هغه ډنډ کې خان غورځوې چې پایله یې بوازې پښېماني او د الله ﷻ له قهر څخه بل څه نه ده؟

- په رښتیا سره چې هرڅومره د سرو او ښځو ظاهري شکل او چال ورکوونکې ورتیا توپیر ولري، خو بیا هم د ټولو د جنسي اړیکو صورت یو ډول دی، نو ولې هغه حلالو ته چې په هغه کې ګټه. خوند او اجر دی او د هېڅ بل خوند سره د پرتلې وړ نه دی بسنه نه کوو؟ او ولې له واده کولو خان لرې ساتو؟

- په رښتیا هغه حرام عمل چې نن یو کس په هغه لاس پورې کوي (مثلاً زنا) هغه پور او قرض دی چې په ډېر لنډ وخت کې به ستا کورنی او اولاد دغه پور پرې کوي.

- کله شیطان دغه فکر منځته راوړي چې دغه عمل (استمنا) ډېر کوچنی کار دی او د له منځه وړلو لپاره یې کوم دلیل شتون نه لري؛ نو کله چې یو شخص دغه عمل ته لاس رسی پیدا کړي نو د روږدیوالي انګېزه به هم ډېر زر ورسره ملګرې شي، او دغه کار به ورته د زنا او نورو لویو ګناهونو پیلیزه وګرځي...

- کله شیطان د یو چا په ذهن کې دا خبره را برسېره کوي چې استمنا (خان خرړبونه) د اضافي منيو د بهر ایستلو لپاره یوه ضروري کړنه ده. اوس نو هر هغه څوک چې د ودې پړاو کې وي او په دغه عمل روږدي وي، نه یوازې چې اضافي مني به له لاسه ورکړي بلکې

ضروري اندازه منې به هم په دغه عمل سره له لاسه ورکړي...

- په ورځپاڼو کې د ښځو او سرو د پارونکو انځورونو او موضوعاتو خپرول او د خپل ځان د خوشحالولو په خاطر د هغې لیدل نه یوازې چې ستاسې د بې‌لارې سبب ګرځي بلکې د مالي ځوړنیا سره مو مخ کوي، په داسې حال کې چې د دغه ورځپاڼو او مجلو خاوندان د دروغو په خپرولو سره یوازې خلک مسخره کوي او دغه عمل یې د خلکو لپاره یو ذلیل کوونکی عمل دی.

- په رښتیا چې د فاسدو ښځو حقیقت یوازې او یوازې ځان پلورنه او بې‌بندوباري ده او د دوی حقیقت د هغه لوښي سره ورته دی چې بهر لورې یې په طلا او سرو زرو پوښلی وي او دننه پکښې خوسا او مردار توکي پراته وي.

- زموږ دښمنان قصداً جنسي فلمونه جوړوي چې ډېرې نجونې او ځوانان په هغوی باندې لګښت کوي ترڅو یې لاسته راوړي چې په پایله کې د سترې تباهۍ سره مخ کیږي. نو آیا د دغه ډول خلکو لپاره به د استمنا پرېښودل بیا آسانه کاروي؟

- د جنسي فلمونو او حرامو عکسونو او انځورونو له منځه وړل د استمنا په پرېښودلو کې یو مهم قدم دی. په دغې کړنې سره به تاسې نیمه لار ووهئ او د نیمې لارې وهلو فرصت به په لاس درشي او تاسې به دا هم ثابته کړئ چې ستاسې له دې څخه مطلب په خالص نیت سره د الله ﷻ راضي کول دي، الله ﷻ به هم د دې په بدل کې تاسې ته غوره، ښکلې او ګټور څه درکړي. نو همدا اوس پیل وکړه او خپل ځان ته له دغه ناوړه فلمونو، انځورونو او کلیپونو څخه نجات ورکړه او په دې

هکله هېڅ نوی فلم مه ګوره او له هغه کسانو سره دې اړیکه هم پرې کړه چې په دغه ډول فلمونو او انځورونو کتلو روږدي دي.

- کله چې یوه ښځه حیا او پاک لمني له لاسه ورکړي او په برېنډه او سینګار کړې توګه خپل وخت تېروي او په دغه ډول سرې خپلو لېدلو ته جلبوي، نو په دغه کړنو سره ټول د ښځینه توب او ښکلا ځانګړنې له لاسه ورکوي. په دغه وخت کې د لېوه صفته خلکو د ښکار سبب ګرځي د بې احترامۍ او تیرې قرباني کېږي او ډېرې داسې حالتونه هم پرې تېرېږي چې د مرګ هیله پکښې کوي ترڅو په دغه ډول خپلې ستونزې او مصیبتونه پټ کړي، دا یوه چیغه ده د مسلمانو خویندو د ویښتابه لپاره.

- په حقیقت کې هغه لارې چې شیطان سړو او ښځو ته د کتلو او د هغه د ستر او عورت په اړه خبرې کولو لپاره برابروي، یوازې هغه ډنډ دی چې دوی پکښې ورټیل وهي.

- شیطان داسې کار کوي ترڅو یو کس یوازې داسې ډنډ کې وغورځوي چې په ژبه یې د ښځې اړوند چیغې شروع شي خو کله چې ډوب خلک پوه شي او د ژغورنې هڅه وکړي نو بیا ګټه نه ورته رسوي او شیطان په دغه ډول چې څنګه وغواړي د یوې لمرۍ په ډول دوی هلاک کړي او کوږوالي ته یې ورسوي...

- کله چې څنګه یو کس په مبارزه پیل کوي او د دغه مبارزې اړوند سپارښتنو باندې عمل وکړي؛ نو مقابل لوري ته د شیطان فعالیت هم زیاتیږي او د دغه کس لپاره په حرامو کې د غورځېدلو موقع برابروي، هغه هم په داسې ډول چې له مخکې به یې هېڅ فکر نه وي کړی. دا

کار شیطان څکه کوي چې دغه کس په سمه لاره خپل تګ پیل کړی دی او شیطان هم هغه احساس کړی ده. نو د هغه د بې‌لاری لپاره د مخکې وخت څخه زیاته هڅه کوي.

- موږ دغه کس ته وایو: باید دغه لارې ته ادامه ورکړئ، له ټولو سپارښتنو څخه پیروي وکړئ، له شیطان څخه خان غافله وساتئ او د دغه دام پر وړاندې هم ځان پوه کړئ.

- ستاسې راتلونکی ژوند، فاسد عقل، شهواني او جنسي فکرونو او سوچونو او یا هغه کمزوري کس ته چې خپل وخت د حیواناتو په ډول په خوړلو، څښلو، ویده کېدلو او یوځای جوړه کېدلو تېروي اړتیا نه لري بلکې هڅې، سیالی او کوښښ ته اړتیا لري.

- په رښتیا چې الله ﷻ د هغه کس عمل چې یوازې د الله ﷻ د رضایت له کبله یې پر ځان دنیوي خوندونه پر ځان حرام کړي وي. د هغه څخه به یې هم په دنیا کې او هم په آخرت کې په غوره خوندونو ونازوي او تر ټولو غوره دا ده چې یو کس د ایمان خوند وڅکي. هغه هم هغه ډول خوند چې یو کس آرامی او نېکمرغی ته رسوي، چې پخوا د شهواني کړنو له کبله ترې محروم و. اې کاشکي یو خوان د نیکو ملګرو سره ملګرتیا غوره کړي ترڅو یې دغه ډول تلپاتې آرامی او نېکمرغی ته ورسوي.

- کله چې یو څوک هڅه وکړي او د دغه عمل په پرېښودلو باندې ثابت قدمه پاتې شي نو اجر یې د جنت له غټو سترګو لرونکو حورو څخه بل څه نه دی، هغه حورې چې صفت یې دلته نشي بیانېدلی او زموږ له تصور څخه لوړ څه دي.

- غوره ده چې د هغه ذهني انځور واخلو او د هغه په لاسته راوړلو کې د دغه ډول اعمالو په پرهېزولو سره هڅه وکړو. او تر هغې پورې چې د جنسي خیالونو او سوچونو پرځای باندې د دغه څو ثانیو خوند په بدله کې د تلپاتې او نه ختمېدونکو حورو خوند وڅکو. هغه خوند چې که د دې دنیا ټولو ښځو ته هم لاسرسی ولرو بیا هم تر هرڅه لوړ دی.

- د دې پرځای باید د جنتي حورو سره غېږ ونیول، له هغوی څخه مچو اخیستل او یوځای کېدل په ډېر ادب او سپېڅلي نیت سره په خپل ذهن کې داسې انځور کړو چې د الله ﷻ څخه د وېرې له کبله وې نه د دغه دنیا د خوند په ډول...

**په استمنا باندې روږدي کسانو ته وایم:**

- په رښتیا سره چې په کیلو مترو واټن وهل یوازې یوه پیل ته اړتیا لري. په تدریج سره پیل وکړه، له الله ﷻ څخه مرسته وغواړه، مراوی او کمزوری کېږه مه. څکه که الله ﷻ وغواړي او ته هم د دوزخ د اور څخه د خلاصون لپاره پیاوړې اراده ولرې، نو هېڅکله به د دغه عمل پرهېزودل درته ستونزمن نشي. دا زېری تا ته درکوم چې د دغه ازموینو پایلې چې مخکې په نورو کسانو باندې هم عملي شوې وې، قناعت ورکوونکې وې.

- داسې کسان هم شته چې د توبې مخکې له دغه عمل څخه تر پوزې راغلي دي، خو اوس الله ﷻ هغه د غوره او نمونه‌یي بنده‌ګانو په ډله کې داخل کړي دي.

- نو پیل وکړه او شک مه کوه. کله دې چې ګټه واخیسته او هغه آرامي دې ترلاسه کړه چې ته یې په لټه کې وې نو له تا څخه دوې غوښتنې لرم:

۱) له الله ﷻ څخه د دغه لیکنې او مقالې لیکوال او ټولو هغه کسانو ته چې د دې په څېړولو کې یې مرسته کړې، د ښې روغتیا او د دنیا او آخرت د نېکمرغۍ غوښتنه وکړه.

۲) د دغه لیکنې یوه نسخه هغه کسانو ته چې سخته اړتیا ورته لري ورکړه او دې کار کې لټي مه کوه.

په دې هیله چې ته هم د دغه لعنت کړل شوې ناروغۍ په درملنه او ځان ژغورنه کې د یو مرستندوی رول ادا کړې او له اړو خلکو سره مرسته وکړې.

ماخوستن ۸ بجې/ ۱۳۹۹/۸/٦

شاهين مارکيټ ۱۷ نمبر کوټه

ومن الله التوفيق

CamScanner